خلاصة القرآن

پشتو

مُخ القرآن

فی

ربط السور والامتیازات من الفُرقان

من افادات شیخ القرآن والحدیث قائد انقلاب محسود الزمان حضرت العلامه مولانا محمد طیب طاهری مدظله العالی امیر جماعت اشاعت التوحید والسنة العالیه

مرتب

احقر العباد عبدالواحد بن مولانا نور محمد غفرالله لهما
مدرس دارالعلوم تعلیم القران تور ډهیر (صوابی) صوبه سرحد پاکستان





عظیم الشان خوشخبری

★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیامیں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Storeاور Websiteسے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔



انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ



Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت "انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاون لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر ، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً فوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

WhatsApp:0320-1914145

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

بسم اللہ الرحمن الرحیم

مسخ القران
فی
ربط السور والامتیازات
من
الفرقان

من افادات شیخ القران والحدیث قائد انقلاب محسود الزمان
حضرت العلامہ مولانا محمد طیب طاہری مدظلہ العالی
امیر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ العالمیہ

مرتب

احقر العباد عبدالواحد بن مولانا نور محمد غفر اللہ لھما
مدرس دارالعلوم تعلیم القران تورڈھیر (صوابی) -
صوبہ سرحد پاکستان
Ph: 0938-528832

دکتاب نوم	مُخُّ القرآن
	فی ربط السور والامتیازات من الفرقان
ایڈیشن	طبع دوم
کال	۲۰۰۳ء
تعداد	۱۰۰۰
قیمت	
کمپوزنگ	گرافکس کمپیوٹر انسٹی ٹیوٹ
	آف انفارمیشن ٹیکنالوجی
	اسد مارکیٹ مردان
	فون :0931-73293

مرتب

احقر العباد عبدالواحد بن مولانا نور محمد غفر اللہ لھما

مدرس دارالعلوم تعلیم القرآن تور ڈھیر (صوابی)

صوبہ سرحد

تقریظ

شیخ القران والحدیث قائد انقلاب محسودالزمان حضرت العلامة مولانا محمد طیب طاهری امیر جماعت اشاعت التوحید والسنة العالمیه

الحمدلله الذی انزل علی عبده الکتب ولم یجعل له عوجا۔ والصلوة والسلام علی رسوله المصطفی۔ و علی اله و اصحابه اجمعین۔ اما بعد۔ مولوی عبدالواحد چه د علمی کورنئ سره تعلق ساتی د ورکوتوالی نه څما په درس کښې پاتې شوې دے او بیا دوره حدیث ئې هم څمونږ سخه کړې ده او ډېر وارې په دوره تفسیر کښې څما سخه ډېرکلونه شریک شوې دے۔ د ډېر محنت نه بعد ئې د قران کریم خلاصه لیکلې ده۔ ما دده مسوده ځائے په ځائے اوکتله ډېره مفیده ده اگرچه د انسان کتاب د خطاء، نه بچ نه دے خو د خضٗ نه بچ صرف د الله تعالیٰ کتاب عزیز دے۔

الله تعالیٰ دے د مرتب د کامیابئ ذریعه وګرځوی او الله تعالیٰ دے د مولوی عبدالواحد په علم، عمل کښې برکت کړی۔ آمین

احقر محمد طیب طاهری

۲۸۔۸۔۱۴۲۳

تقریظ

شیخ القران والحدیث استاذالعلماء بقیۃ السلف
داعی التوحید والسنۃ حضرت العلامہ مولانا
محمد یار بادشاہ صاحب مدظلہ العالی امیر
جماعت اشاعت التوحید و السنۃ (صوبہ سرحد)

الحمد للہ و کفی و سلام علیٰ عبادہ الذین اصطفی

اما بعد فقد رایت ھذہ الرسالۃ فی بعض المواضع فوجدتھا جیدۃ فی بیان الارتباطات والامتیازات و خلاصۃ السور فبارک اللہ لجامعھا مولانا عبدالواحد صاحب فی علمہ و عملہ و جعلھا ذخیرۃ کاملۃً لوالدیہ فی الاخرۃ

وانا الاحقر محمد یار بادشاہ صاحب
خادم القران والحدیث
جامعۃ الامام محمدطاھر
دارالقران پنج پیر (صوابی)

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث جامع المعقول والمنقول مولانا میر سمیع الحق صاحب امیر جماعت اشاعة التوحید والسنة افغانستان

الحمد لله الذی لم یزل ولا یزال حیا قیوما مدبرا سمیعا بصیرا۔ والصلوٰة والسلام علی رسوله الذی ارسله بالحق بشیراً و نذیراً ط و علیٰ اٰله واصحابه و اتباعه هم خلاصة العرب العرباء۔ و بعد ماد جناب فضیلت مآب محترم ورور مولانا عبدالواحد صاحب (حفظه الله) دَ مجموعه المسمٰی په مخ القرآن په ډیر مختصر وخت کښ اوکتله څکه چه په جریان د دورهٔ تفسیر القرآن دَ جون په میاشت کښ چه څه انتهائی مصروف ووم۔ او تفصیلی مطالعی ته فارغ نه ووم ان شاء الله چه دَ قرآن کریم د سورتونو ربطونه او امتیازات دَ حاضر دور دَ قرآن کریم زده کونکو لپاره لویه او مفید مجموعه ده۔

بارک الله فی مساعیه الله تعالیٰ دے مصنف ته د دے کتاب اجر دارین ورکړی۔

سمیع الحق

امیر جماعت اشاعة التوحید والسنة

افغانستان۔ ۲۴/۶/۲۰۰۳، ۲۵ ربیع الثانی

تقریظ

شیخ القران والحدیث بقیة السلف قاطع الشرک والبدعة حضرت العلامه مولانا محمد رفیق عرف (تنار) صاحب۔ مد ظله العالی

الحمدلله و کفٰی و سلام علٰی عباده الذین اصطفٰی

اما بعد فقد طالعت هذه العاجلة فی بعض المواضع فوجدتها جامعة للمناسبات والامتیازات بین السور التی لم توجد فی کثیر من التفاسیر و جامعة الخلاصة السور التی سماها "الشیخ محمد طاهر رحمه الله" بزبدة السور فجزی الله مصنفها مولوی عبدالواحد صاحب خیر الجزاء فی الدارین و نفع بها الطالبین و الطالبات

وانا الاحقر محمد رفیق

مهتمم دارالعلوم تعلیم القران

تورڈهیر (صوابی)

تقریظ

فصیح اللسان خطیب العصر شیخ القران والحدیث حضرت العلامه مولانا غلام حبیب صاحب مدظله العالی الحمدلله وحده والصلوة والسلام علی من لا نبی بعدهٗ

اما بعد بنده ناچیز پراز تقصیر د محترم فاضل مکرم اخی فی الله مولانا عبدالواحد صاحب مدظله العالیٰ مرتب کړے شوے رساله چه د قران کریم په سورتونو په مینځ کښې ربط او بیا د سورتونو په امتیازاتو باندے لیکلے شوے ده بنده د ځو سورتونو روابط او امتیازات اولوستل ماشاء الله په دے فن کښې ډیره فائده منده اوموندله۔ څکه چه ربطونه هم عجیبه طرز سره دی او امتیازات واقعی د امتیازاتونوعیت لری۔ ددے کتاب د لوستو نه پته لګی چه مولانا موصوف ډیر محنت کړے دے۔ مولائے کریم دِد مولانا دا محنت قبول کړی او دا کتاب دِ د عوامو او

خواصو د پاره فائده مند جوړ کړی او مولانا موصوف ته دِ الله د قران د خدمت نوره موقع هم نصیب کړی۔ زه خپلو دوستانو ته ددې لیک په ذریعه وئیل غوارم چه دا کتاب ضرور د خپلے کتب خانے زینت (خائست) اوګرځوی ځکه چه د ډېرو ملغلرو نه ډک کتاب دے۔ فجزاالله خیرالجزاء

وانا احقر غلام حبیب غفرله

جامعه جواهر القران لاشاعة التوحید السنة

والسنة ویسه (اټک)

فهرست

نمبر شمار	سورة	صفحه	نمبر شمار	سورة	صفحه
۱۰۷۔	قریش	۲۵۳	۱۱۲۔	لهب	۲۵۹
۱۰۸۔	ماعون	۲۵٤	۱۱۳۔	اخلاص	۲٦۰
۱۰۹۔	کوثر	۲۵٦	۱۱٤۔	فلق	۲٦۱
۱۱۰۔	کافرون	۲۵۷	۱۱۵۔	الناس	۲٦۲
۱۱۱۔	نصر	۲۵۸			

بسم الله الرحمن الرحيم

د ټول قران کریم اجمالي خلاصه:-

زده کړه دا خبره چه ټول قران په اعتبار د فهم او د مضامینو سره څلور حصے دے۔

(1) اوله حصه د سورة فاتحے نه تر سورة انعام پورے ده پدې کښے پنځه سورتونه دی۔ او په دے کښے مقصدی مسئله ذکر کوی (خالق لکل شی هوالله) (پیدا کوونکے د هر څه الله دے) (2) دویمه حصه د سورة انعام نه تر سورة کهف پورے ده په دے کښے دولس سورتونه دی۔ په دے کښے مقصدی مسئله ذکر کوی چه مربی (لکل شی هوالله) یعنی پالونکے د هر څه الله دے۔ (3) دریمه حصه د سورة کهف نه تر سورة سبا پورے ده۔ په دے کښے شپاړس سورتونه دی۔ په دے کښې مقصدی مسئله (مبارك فی کل شی هوالله) (برکت اچوونکے په هر څه کښے الله دے) ذکر کوی۔ بیا (4) څلورمه حصه د سورة سبا نه تر اخره پورے ده۔ په دے کښے یو اتیا (۸۱) سورتونه دی۔ او په دے کښے مقصدی مسئلے دوه ذکر کوی (۱) اثبات القیامت (۲) نفی د شفاعت قهری۔ د هرے حصے شروع په الحمدلله سره شویده۔ او په اخر کښے ئې دوه سورتونه په الحمدلله سره شروع کړل۔ ځکه چه په هغے کښے دوه مسئلے ذکر کوی۔



بسم الله الرحمن الرحيم

سورة فاتحه مكية نزلت بعد المدثر نزولا (۵) ترتيبا (۱)

وجه تقديم د سورة فاتحے په ټول قران کريم باندي:-

ټول قران کريم خلور حصے دے نو په سورة فاتحه کښے اشاره ده خلوروارو حصو د قران ته. په الحمدلله سره اشاره کوی اولې حصے د قران ته. په رب العالمين سره اشاره کوی دوهمې حصے د قران ته. په الرحمن الرحيم سره اشاره کوی دريمې حصے د قران ته. او په مالک يوم الدين سره اشاره کوی خلورمې حصے د قران ته. نو په دے اعتبار سره گويا چه سورة فاتحه اجمال شو او نور قران کريم د هغے تفصيل شو.

دويمه وجه:-

الله پاک يو سل خلور کتابونه رالېږلی دی. او د هغے ټولو خلاصه په خلورو کتابونو کښے ده. چه تورات، زبور، انجيل او قران دی. او بيا ددے ټولو خلاصه الله تعالیٰ په قرآن کښے ايخښے ده. او بيا د قران خلاصه الله په حوا ميمو سبعه کښے ايخښے ده. او بيا د هغے خلاصه الله په سورة فاتحه کښے ايخښے ده. او بيا د سورة فاتحے خلاصه الله په اياك نعبد و اياك نستعين کښے ايخښے ده. چه څوک سورة فاتحه په صحيح طريقے سره زده کړی نو ده د ټولو کتابونو لب لباب زده کړو.

دویمه وجه:۔

په دے سورة کښې مقاصد اربعه عالیه دی سره د اختصار د سورة نه اګر چه نورو سورتونو کښې هم شته خو په هغے کښې طوالت دے۔

دعویٰ د سورت:۔

دعویٰ د سورة فاتحے (ایاك نعبد و ایاك نستعین) ده۔ او بیان د مقاصدو اربعو عالیو۔

تقسیم د سورت:۔

سورة فاتحه درې حصے ده۔ اوله حصه د اول نه تر (مالك یوم الدین) پورے ده په دے کښې بیان د حقوق الله ذکر کوی۔ دویمه حصه کښې ایاک نعبد و ایاک نستعین۔ دریمه حصه د (اهدنا الصراط المستقیم) نه تر اخره پورے ده۔ اوله حصه کښې حقوق الله او پنځه صفات د الله ذکر کوی۔ یو اسم ذات چه الله دے او څلور اسماء صفتیه رب، رحمٰن، رحیم، مالک۔ دویمه حصه کښې عبادات دی۔ او په دریمه حصه کښې تخویف او بشارت دے۔

خلاصه:۔

سورة کښې بیان د مقاصد اربعه دے۔ اثبات التوحید، اثبات الرسالت، صداقت الکتاب او ایمان بالاخرت۔ سورة کښې طریقه د سوال ښائی چه د الله نه سوال کوے نو اول د الله حمد و ثناء بیان کړه بیا خان عاجز کړه په ایاک نعبد و ایاک نستعین سره۔ بیا به تر هغه سوال ....

اوکړے په اهدناالصراط المستقیم سره۔ سورة کښے د دریو فرقو بیان دے۔ منعوم "۱" علیهم "۲" مغضوب علیهم "۳" او ضالین

امتیازات د سورة فاتحے:-

☆ سورة ممتاز دے په اجمال د ټول قران کریم سره خکه قران خلور حصے وو په خلور واړو حصو کښے اشاره ده سورة فاتحے ته۔☆ سورة ممتاز دے چه ټول اسمانی علوم په سورة فاتحه کښے دی۔☆ سورة ممتاز دے په طریقے د سوال باندې۔ او زیات تفصیل په سمط الدرر کښے دے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة البقرة مدنية نزلت بعد المطففين نزولا (۸۷) ترتیبا (۲)

ربط د سورة بقرے د سورة فاتحے سره:-

۱۔ سورة فاتحه کښے وئیلی وو الحمدلله نو بقره کښے وجه د حمد ذکر کوی۔ چه حمد د الله خکه وایم چه مونږ ئي پیدا کړی یو۔ او زمونږ مشران ئي پیدا کړېدی۔ (یایها الناس اعبدو ا ربکم الذی خلقکم) (الخ ۲۱) (۲) فاتحه کښے وئیلی وو چه رب العالمین دّ عامو مخلوقاتو رب دے۔ نو بقره کښے تخصیص کوی چه (اعبدوا ربکم) چه ستاسو رب دے۔ (۳) فاتحه کښے وئیلی وو چه (رب العالمین) نو بقره کښے وائی (کیف تکفرون بالله) چه پالونکې خکه دے چه زه ئي د نشت نه شته کړے یمه او تربیت

هم زما کوی (و کنتم امواتا) (۲۸) (٤) فاتحه کښې ذکرکړی وو چه (الرحمان الرحیم) نو بقره کښې نمونې د رحمانیت او رحیمیت ذکر کوی (لااله الا هوالرحمان الرحیم) (۱٦۳) (٥) فاتحه کښې ذکر کړی وو (مالک یوم الدین) نو سورة البقره کښې نمونې د عذاب ذکر کوی چه څنګه دنیا کښې عذاب ورکوم نو دا رنګه اخرت کښې هم عذاب ورکوم۔ (٦) فاتحه کښې بیان د عبادت اکړو چه (ایاک نعبد) نو بقره کښې تشریح د عبادت او امر په عبادت باندې کوی چه (اعبدوا ربکم) (۲۱) (۷) فاتحه کښې دعویٰ ذکر شوې وه بغیر د دلائلو نه په (ایاک نعبد) سره نو بقره کښې په هغې دلائل ذکر کوی۔ (۸) فاتحه کښې سوال شوې وؤ (اهدناالصراط المستقیم) نوبقرې په اول کښې جواب د هغې سوال دې په (ذالک الکتاب) سره (۲) (۹) فاتحه کښې (صراط مستقیم) ذکر شو نو بقره کښې هغه زمانه د راتلو د (صراط مستقیم) ذکرکوی چه هغه میاشت د رمضان وه۔ (شهر رمضان الذی انزل فیه القران) (۱۸٥) (۱۰) فاتحه کښې بیان د منعوم علیهم ذکر کړۀ نو بقره په اول کښې صفات د منعوم علیهم ذکر کوی چه هغه متقیان دی۔ (۱۱) فاتحه کښې بیان د مغضوب علیهم ذکر شوې وو نو بقره په اول کښې د هغې بیان کوی چه (ختم الله علی قلوبهم) او د هغوی د اخرت حال ذکر کوی چه (ولهم عذاب عظیم) (۱۲) فاتحه کښې بیان د ضالینو شوې وو نو بقره کښې بیان د منافقینو کوی او د هغوی صفات بیانوی۔ (۱۳) فاتحه کښې بیان کړې وو چه ایاک نستعین خان کلک کړی د الله په دین باندې نو بقره کښې وائی (و استعینوا باالصبر والصلوٰة) (٤٥، ۱٥۳) (١٤) سورة فاتحه کښې پنځه نومونه د الله ذکر شؤ نو بقرة کښې پنځه قسمه مصارف د خیرات

....

ذکر کنی (یسئلونک ما ذا ینفقون) (۲۱۵) (۱۵) فاتحه کښې پنځه نو مونه
د الله ذکر شو نو بقره کښې پنځه دفعات ذکر کنی هغه چاته چه سودکوی۔
(۱٦) فاتحه کښې پنځه نو مونه د الله ذکر شو نو بقره کښې پنځه جوابونه
کوی د هغه چا چه الله لره نائبان نیسی (قالوا اتخذالله ولدا) (۱۱٦) (۱۷)
سورة فاتحه کښې مالک یوم الدین ذکر شو نو بقره کښې ذکر کنی چه د
عذاب د قیامت نه یره وکړئ (واتقوا یوما لا تجزی نفس عن نفس شیئا)
(۱۸) فاتحه کښې بیان د مغضوب علیهم وکړو نو بقره (٤۱) کښې د هغې
تفصیل کوی چه (و ضرب علیهم الزلة والمسکنته و باء و بغضب علی
غضب) (۱۹) فاتحه کښې بیان د دریو ډلو وو نو بقره کښې درې شرطونه
د ملا د توبې د پاره ذکر کوی۔ (۲۰) فاتحه کښې پنځه نو مونه د الله ذکر
شو نو بقره کښې پنځه اشیاء ذکر کوی د پاره د امتحان (ولنبلونکم بشئ
الخ) (۱۵۵) (۲۱) فاتحه کښې بیان د دریو ډلو وو نو بقره کښې درې
انعامات ذکر کنی په یو ایت کښې د پاره د صبرناکو صلوٰة، رحمت،
هدایت (۱۵۷) (۲۲) فاتحه کښې ذکر د دریو ډلو وو نو بقره کښې په نه
منونکو د مسئلې د توحید باندې درې قسمه لعنت ذکر کنی د الله ، د
فرشتو او د عام مخلوق (۱٦۱) (اولئک علیهم لعنت الله والملائکة والناس
اجمعین)۔ (۲۳) فاتحه کښې ذکر د دریو ډلو وو نو بقره کښې درې ځله
لفظ ویل ذکر کنی په یو ایت (۷۹) کښې (فویل اللذین الخ)۔ (۲٤) فاتحه
کښې بیان د درې ډلو وو نو بقره ایت نمبر ۲۷۲ کښې درې ځله لفظ انفاق
ذکر کنی په یو ایت کښې۔ (۲۵) فاتحه کښې اووه ایاتونه ذکر شو نو بقره
کښې اووه ځله لفظ یسئلونک ذکر کوی۔ (۲٦) فاتحه کښې پنځه نو مونه
د الله ذکر کړی وو نو بقره کښې پنځه دلائل ذکر کوی په اول ځل مسئلې د
....

توحید باندې-(۲۷) فاتحه کښ درے ډلے ذکر شوے نوبقره کښ درے خله خطاب ذکر کړې-بنی اسرائیلو ته (۲۸)

خلاصه د سورة بقرے:-

دعوی د سورة اثبات د مضامین اربعو- سورة څلور حصے دے- اوله حصه (ولما جاء هم) پورے په دې کښے سل ایتونه دی په دې کښے بیان د اثبات التوحید دے- دریمه حصه لیس البر پورے په دې کښے اوه اویا (۷۷) ایتونه دی په دې کښے بیان د اثبات الرسالت دے- دریمه حصه د ۱۷۷ نه تر ۲۵۳ پورے په دے کښے پنځه اویا (۷۵) ایتونه دی او په دې کښے بیان د مسئلے د جهاد دے- څلورمه حصه تر اخره پورے په دے کښے درې دېرش (۳۳) ایتونه دی په بیان د مسئلے د انفاق فی سبیل الله - تفصیل ئې دا دے چه اوله حصه درې بابونه ده- اول باب کښے شل ایتونه دی- اول کښے ترغیب ورکوی کتاب ته بیا پنځه اوصاف ذکر کوی- د مؤمنانو او د هغوی دوه حکمونه- یو د دنیا بل د اخرت- دنیاویحکم (علی هدی من ربهم) او د اخرت حکم(هم المفلحون)- بیا په دوو (۲) ایتونو کښے د دویمے فرقې کفارو بیان کوی د هغوی صفات دنیوی او حکم اخروی بیانوی دنیوی صفات (ختم الله علی قلوبهم) او اخروی حکم (ولهم عذاب عظیم)- بیا دیارلس (۱۳) ایتونو کښے بیان د منافقینو دے او د هغوی اوصاف او احکام اخروی بیانوی- حکم دنیوی (وما کانوا مهتدین) او اخروی حکم (ولهم عذاب الیم) اوبیا دوه یا درې مثالونه د وضاحت د پاره د فرق باطلو- دا باب بطور توتیه او تمهید دے د پاره د راتلونکې مسئلے د توحید- ځکه چه پس د هر کارخبر یا پس د مسئلے د

چه ته د
توحید نه درې ډلې جوړيږي منونکي، نهٔ منونکي او منافقان۔
دري ډلې اوپيژني۔ دويم باب د يوويشتم (۲۱) ايت نه تر يوکم څلوېښتم
ايت پورې دے۔ په دې کښې نورلس (۱۹) ايتونه دي۔ چه اول کښې
دعویٰ د توحيد ذکر کوی (يايها الناس اعبدو) په خطاب عام سره او پ
هغے پنځه دلائل۔ چه تاسو م پیدا کړي ئي۔ ستاسو مشران م پیدا کړې
دي، زمکه م درله فرش ګرزولې ده، اسمان م درله چت ګرزولې دے او د
اسمان نه درباندې اوبهٔ راوروم نو ثمره ئې پرے تفريع کړه چه (فلا
تجعلوا الله اندادا)۔ بيا اثبات د رسالت او دليل وحی په (ان كنتم فی ريب) -
سره او زجر (فان لم تفعلوا) سره۔ چه څوک د مسئلے خلاف کوی هغوی
ته زجر، رټنه او تخويف ورکوی او بيا بشارت کامله او څلور خبرے ذکر
کوی۔ ځای به درکړم، خوراک به درکړم، ملګرې به درکړم، هميشوالي
به درکړم بيا دفع د شبهے چه وارديد له په صداقت د کتاب باندې چه دا
څنګه کتاب دے۔ چه په دې کښې د رعد او برق ذکر دے۔ د هغے جواب -
(ان الله لايستحی) سره بيا د(کيف تکفرون) نه څلور نعمتونه د نشت نه م
شته کړې ئي۔ د دنيا منافع م ستاسو د پاره پيدا کړی دي۔ ستاسو نيکهٔ م
معزز د فرشتو ګرزولې وو او ستاسو نيکه نه لغزش شوې وو هغه م ورته
معاف کړے دے۔ دريمه باب د څلوېښتم (٤٠) ايت نه شروع کيږی تر
اخر د حصې پورې په دې کښې خطاب خاص دے پس د خطاب عام نه۔ او
په دې کښې درې پليتئ د يهودو ذکر کوی او د هغے په مقابله کښې درې
اوصاف خانسته د مؤمنانو ذکر کوی۔ د يهودو پليتئ ۱۔ تحريف (ولا
تشتروا باياتی ثمنا قليلا) (٤١) ۲۔ تلبيس الحق بالباطل۔ (ولا تلبسوا الحق
بالباطل) (٤٢) ۳۔ ترک عمل۔ (اتامرون الناس بالبر) (٤٤) ۔ ددے
....

مقابله کښې دي او صاف د مؤمنانو ذکر کوی صبر، صلوٰة (والستعینوا بالصبر والصلوٰة) (۴۵)، ایمان باالاخرت (الذین یظنون انهم ملقوا ربهم) (۴۶)۔ بیا دریم باب (یا بنی اسرائیل اذکرو) نه شپږ خطابات دی اول خطاب کښې اته نعمتونه او دوه عذابونه دی۔

اته نعمتونه:۔

(۱) نجات من فرعون ۔ (واذ نجینکم من الفرعون) ۴۹ (۲) نجات من الغرق۔ (و اذ فرقنا بکم البحر فانجینکم) ۵۰ (۳) اعطاء الکتاب۔ تیار کتاب م در اولیږه (واذا تینا موسی الکتاب) ۵۳ (۴) عفو من القتل ۵۴ (۵) (الحیات بعد الممات)۔ (ثم بعثنکم من بعد موتکم) ۵۶ (۶) تظلیل الغمام ۵۷ (۷) انزال المن والسلوىٰ ۵۷ (۸) انفجار العیون من الحجر ۶۰۔

دوه عذابونه:۔

(۱) نزول العذاب من السماء ۵۹ (۲) الذلة والهوان بسبب الکفران (۶۱) تتمه د خطاب کوی باالترغیب (ان الذین امنوا والذین هادوا) ۶۲۔ دویم خطاب، په دے کښې اووه (۷) پلیتئ د یهودو ذکر کوی دري د مشرانو او څلور د کشرانو دري د مشرانو دا دی (۱) نقض العهود ۶۳ (۲) حیل فی ذبح البقر ۶۷ (۳) قتل النفس ۷۲۔ څلور دکشرانو (۱) تحریف ۷۵ (۲) منافقت ۷۶ (۳) تقلید داراؤ د یهودو ۷۸ (۴) مخصصین لا نفسهم باالجنته ۸۰۔ دریم خطاب کښې انکار من الاوامر واتیان بالنواهی ۷۳۔ څلورم خطاب انکارهم من الانبیاء السابقین ۸۷۔ پنځم خطاب انکارهم من هذا النبی صلی الله علیه وسلم ۸۹ او شپږم خلاصه د ما سبقه۔

دویمه حصه د (قل من کان عدوالمجبریل) نه په دې کښې اثبات د

رسالت کوی او نهۀ اعتراضونه او د هغې جوابونه۔ اول اعتراض په راتلو د جبرئیل باندې چه مونږ ستا خبره څکه نۀ منو چه تاسره جبرئیل راځي۔ او هغه زمونږ دشمن دے هغه زمونږ د پخوانو تباهی کړېده قسما قسم عذابونه ئې هغوی ته رسولې دی نو د هغې پنځه جوابونه۔ (۱) دا کتاب چه نازل شوې دے په حکم د الله سره (۲) (مصدق لما بين يديه) (۳) (وهدی) دې کښې هدايت دے (٤) (وبشری)۔ او زېرې دے (٥) (من کان عدوالله)۔ دويم اعتراض چه ته د سليمانؑ صفائی بيانوې حال دا چه هغه جادوګر وو۔ جواب (وما کفر سليمان)۔ دريم اعتراض چه ته مونږ د سحر نه منع کوې او الله دوه فرشتې راليږلی دی۔ جواب (وما انزل علی الملکين)۔ څلورم اعتراض په اقوالو منقولو د نېکانو بنديګانو کښې چه ته مونږ د صحيح الفاظو نه منع کوې جواب(لاتقولوا راعنا)۔ پنځم اعتراض په نسخ باندې چه نن د يو خبره اوکړه او پرون دِ بله خبره کړېوه۔ جواب ماننسخ حاصل د جواب چه څه دَ الله د حکم تابع يم۔ ان الله مالک يفعل فی ملکه کيف يشاء۔ شپږم اعتراض اتخاذالولد۔ چه الله تابان نيولی دی ته مونږ د هغې نه منع کوې د هغې پنځه جوابونه (۱) (سبحنه) (۲) (بل له ما فی السموات والارض) (۳) (کل له قنتون) (٤) (بديع السموات والارض) (٥) (واذا قضٰی امرا فانما يقول له کن فيکون)۔ اووم اعتراض که ته رښتونې پېغمبر نې ستا په صداقت دِ الله مونږ سره خبرې اوکړی جواب (کذالک قال الذين من قبلهم) حاصل د جواب قانون په دې نه دے جاری چه يو مجازی بادشاه يو حکم جاری کوی نو عام اعلان کوی د هر چا کوځې ته نۀ ځی۔ نو حقيقی بادشاه به د هر چا کوځې له څنګه لاړ شی۔ دويم جواب دا دې چه الله هر چا سره خبرې کړېدی دا قران

....

خبري د الله دی۔ د اووم اعتراض او اتم اعتراض په مینځ کښې درې خبرے دی (۱) بیت الله توحید د پاره جوړ دے ولې پکښې تاسو شرک کوئ (وعهدنا الی ابراهیم) (۲) دویمه خبره دا ده چې دا پیغمبر مبشر د ابراهیمؑ دے نو ولې ئې نه منئ۔ (ربنا وابعث فیهم)۔ دریمه خبره چه توحید دین د انبیاؤ کلهم دے خصوصا ستاسو نیکونو پرې وصیت کړې دے نو ولې ترې انکار کوئ۔(ووصی بها) ۔ اتم اعتراض په تحویل د قبلے باندې چه ستا په خپله دین کښې شک دے کله یو خوا مخ کوے کله بل خواه۔ جواب (قل لله المشرق والمغرب)۔ نه په مشرق کښې ثواب شته نه په مغرب کښې زه د الله رضا لټومه۔ د الله په حکم منلو کښې ثواب دے۔ نهم اعتراض په طواف دَ صفا او مروه کښې چه په خپله د صفا او مروه نه طواف کوې چه په کښے مخکښې بوتان پراته وو۔ او مونږ د بوتانو دعبادت نه منع کوې۔ جواب (ان الصفا والمروة من شعائر الله)۔ بیا زجر او رټنه ورکوی کاتمینْ د حق ته۔ (ان الذین یکتمون ما انزلنا) الخ د الله پرې لعنت دے د فرشتو پرې لعنت دے د تمامو خلقو پرې لعنت دے۔ بیا د ملا د توبے درې شرطه۔ تابوا واصلحوا و بینوا۔ ددوه حصّو ختمېدو نه پس مسئله د توحید راوړی (والهکم اله واحد) دلته اثه دلائل او ترقی ده په ماسبقه(ومن الناس من یتخذ من دون الله اندادا) بیا جګړه په مابین د عابدینو او معبودینو کښې۔ (اذ تبرالذین اتبعوا) بیا بیان د محرمات (انما حرم علیکم المیتة)۔

دریمه حصه دَ (لیس البر) (۱۷۷) نه تر (یایهاالذین امنوا انفقوا) (۲۵۳) پورے ده۔ په دې کښې بیان د جهاد فی سبیل الله کوی۔ اول د جهاد د پاره درې منازل ذکر کوی۔ وړومبئ منزل تهذیب الاخلاق د مجاهد

تړننګ او د هغې لس صفات پنځه د عقیدې سره تعلق لري او پنځه د عمل سره ۱۷۷ ایت کښې ذکر کوی۔

اصول اربعه لسیاست المدنی د اصلاح د ملک دَ پاره څلور

قوانین:-

(۱) قصاص من الظالم (کتب علیکم القصاص) (۲) تقسیم الاموال بالقانون الشرعی۔ (کتب علیکم اذا حضر) (۳) مسئله د صوم لارتباط النفس(کتب علیکم الصیام) (٤) نهی عن الارتشی (لا تاکلوا اموالکم)۔ بیا دعویٰ د جهاد او انفاق او بیا مسئله دَ حج راوړی په مینځ کښې تنویرا علی ما سبقه ځنګه چه حج کښې مال،او بدن دواړه لګی دغه رنګ په جهاد کښې هم مال او بدن دواړه لګی۔ بیا(یسئلونک ماذا ینفقون) نه اتلس قوانین ذکر کوی د پاره د سمولو د خپل کور (۱) حکم د انفاق۔ د کور مشر به هغه خوک وی چه هغه به مال خرج کونکې وی (۲) حکم د مدافعت۔ چه مشر به مدافعت د کور کوی۔ (کتب علیکم القتال) (۳) نهی عن قتال فی اشهرالحرم (یسئلونک عن الشهرالحرام قتال فیه) (٤) نهی عن الخمر والمیسر (٥) اصلاح الیتمیٰ (یسئلونک عن الیتمیٰ) (٦) نهی عن النکاح المشرکات (لا تنکحوا المشرکت حتی یومن) (۷) نهی عن الافعال الممنوعه فی الحیض (یسئلونک عن المحیض) (۸) مقصد الجماع (نساءکم حرث لکم) (۹) تعظیم للّٰه قسم خوړل د الله په نوم (لا تجعلوالله عرضة لایمانکم) (۱۰) مسئله د (ایلاء للذین یولون) (۱۱) طلاق۔ (الطلاق مرتان) (۱۲) مسئلة الرضاع (والوالدات یرضعن) (۱۳) عدة المتوفی عنها زوجها (والذین یتوفون منکم و یذرون ازواجا) (۱٤)

....

حکم الخطبة (لا جناح علیکم فیما عرضتم) (۱۵) طلاق د غیر مدخول بها۔ (لا جناح علیکم ان طلقتم النساء) (۱٦) مسئلة الصلوٰة (حفظوا علی الصلوٰة) (۱۷) وصیت للازواج۔ (وصیة لازواجهم متاعا) (۱۸) حکم المتعه (وللمطلقت متاع باالمعروف) بیا مسئله دجهاد پرې تفریع کوی واقعه د جالوت او طالوت او بیا د امیر حرب د پاره دوه شرطه علم او جسم (همت)۔ بیا د (یایهاالذین امنوا انفقوا) نه څلورم حصه شروع کیږی۔ په دے کښے بیان د انفاق فی سبیل الله کوی او زجر ورکوی بخلاژ ته او ترغیب ورکوی منفقینو فی سبیل الله ته چه مال خرچ کړی۔ اول کښیدعوی ذکر کوی چه (الله لااله الاهو)۔ بیا دوه فرقے ذکر کوی یو اصحاب الغی، دویمه اصحاب الرشد۔ د اصحاب الغی مثال لکه د نمرود او د شیطان غوندے دے۔ د اصحاب الرشد مثال لکه د ابراهیمؑ او د عزیرؑ غوندې دے۔ بیا امثله ذکر کوی د پاره د منفقینو فی سبیل الله او د غیر منفقینو فی سبیل الله۔ د منفقینو فی سبیل الله مثال (الذین ینفقون اموالهم فی سبیل الله)۔ دویم مثال د منفقینو فی غیر سبیل الله دے لکه (فمثله کمثل صفوان)۔ بیا وروستو دوه نور مثالونه ذکر کوی د منفق فی سبیل الله مثال کمثل جنته بربوة دویم دغیر منفق فی غیر سبیل الله لکه (فاصبا بها اعصارفیه نارفاحترقت) بیا ترغیب ورکوی مال طیب ته۔ (یایهاالذین امنوا انفقوا من طیبا تُ ماکسبتم)۔ بیا بیان د سود او پنځه دفعے په سودخور لکوی۔ بیا ایت طویلا او په هغے کښے بیان د معاملاتو کوی۔ چه لین دین به څنګه کوی۔ بیا اخری رکوع کښے بیان دهغه څلورو مسئلو کوی کومې چه ټول سورت کښے وی۔ اوله حصه چې توحید هغه په (لِلّٰه ما فی السموٰت والارض) سره۔ ذکر کې دویم کښے رسالت په

امن الرسول) سره۔ دریم په(لایکلف الله نفسا) سره جهاد ذکر کړی
او انفاق پرے قیاس کوی۔

امتیازات د سورة بقرے:-

(۱) سورة بقره ممتاز ده په زرو اوامرو او زرو نواهیو سره۔ (۲)
سورت ممتاز دے په زیاتو پلیتو د یهودو (۳) سورت ممتاز دے په ذبح د
بقرے سره (٤) سورت ممتاز دے په واقع د طالوت اوجالوت سره (٥)
سورت ممتاز دے په اية الکرسی سره (٦) سورت ممتاز دے په هغه
امورو چه اصلاح د ملک په هغے سره کیږی (۷) سورت ممتاز دے په
هغه امورو چه اصلاح د کور په هغے سره کیږی (۸) سورت ممتاز دے په
مناظرے د حضرت ابراهیمؑ د بادشاه سره (۹) سورت ممتاز دے په اية
الطویله سره (۱۰) سورت ممتاز دے په سود او په هغه پنځو دفعو
د سودی باندې (۱۱) سورت ممتاز دے په بیان د امیر جوړولو سره (۱۲)
سورت ممتاز دے په تقسیم د حاجیانو سره څلورو قسمونو ته (۱۳)
سورت ممتاز دے په هغه لسو صفاتو باندې مجاهد ته په یو ایت کښے
(١٤) سورت ممتاز دے په تحویل د قبلے سره (۱٥) سورت ممتاز دے په
زیاتو انعاماتو د بنی اسرائیلو سره (۱٦) سورت ممتاز دے په فرضیت د
روژے سره (۱۷) سورت ممتاز دے په واقع د عزیرؑ باندے پس د مرګ نه
ژوندې کېدل (۱۸) سورت ممتاز دے په ژوندون د خر سره پس د مرګ
نه (۱۹) سورت ممتاز دے په مارغانو ژوندی کېدلو باندې (۲۰) سورت
ممتاز دے په قتل النفس باندې چه الله دنیا کښے ژوندے کړو (۲۱) سورت
ممتاز دے په واقع د بنی اسرائیلو چه الله هغه کسان ژوندې کړی وو دنیا

....

کیږي (ثم بعثنکم من بعد موتکم) (۲۲) سورت ممتاز دے په بیان د هغه امورو مهمؤ ثمانیو سره ځلور صراحتا او ځلور ضمنا۔ توحید سره قیامت ضمنا ذکر کوی۔ رسالت سره صداقت القران ضمنا ذکر کوی۔ جهاد سره تنظیم او انفاق سره آداب ضمنا ذکر کوی (۲۳) سورت ممتاز دے په زیاتو خطاباتو بنی اسرائیلو ته (۲٤) سورت ممتاز دے په درې ځله لفظ ویل سره په یو ایت کښې (۲۵) سورت ممتاز دے په بیان د ماشی باندې (۲٦) سورت ممتاز دے په تاثیر د سحر باندې (۲۷) سورت ممتاز دے په وصیت دابراهیمؑ باندے په توحید (۲۸) سورت ممتاز دے په هغه دریځیزونو په یو ایت کښې په حج کښې چه (فلا رفث ولا فسوق ولا جدال فی الحج)(۱۹۷)۔ (۲۹) سورت ممتاز دے په نکاح نه کولو د مشرکانو سره (۳۰) سورت ممتاز دے په حالت د حیض کښې په جماع نه کولو سره (۳۱) سورت ممتاز دے په زیاتو امثلو باندې د پاره د انفاق فی سبیل الله (۳۲) سورت ممتاز دے په درې ځله لفظ انفاق سره په یو ایت کښې ۲۷۲۔ (۳۳) سورت ممتاز دے په بیان د صفاتو د امیر حرب باندې (۳٤) سورت ممتاز دے په حرمت د سود سره (۳۵) سورت ممتاز دے په اووه ځله لفظ یسئلونک سره۔ (۳٦)سورة ممتاز دے په دوه ځله راتلو د دے آیت سره (واتقوا یوما لاتجزی نفس) الخ (۳۷)سورة ممتاز دے په طواف د صفا او مروة سره (۳۸) سورة ممتاز دے په شرطونو د توبے د مُلا (۳۹) سورة دے په دے چه څوک د جماعت نه خلق منع کوی نو هغه ظالم دے (ومن اظلم ممن منع مساجد الله) (٤٠) سورة ممتاز دے په دے چه یهود او مشرکان ډیر حریصان دی په خپل عمر باندے ایت(۹٦) (احرص الناس علی حیاة) (٤١)سورة ممتاز دے په دے چه بنی اسرائیلو په

من او سلوا (تیار رزق) سبزیات غوره کول نور هم زیات امتیازات موجود دی خو په دے اکتفاء کوم۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة آل عمران مدنية نزلت بعد انفال نزولا (٨٩) ترتيبا (٣)

ربط:-

(١) سورة بقره کښے څلور مضامين ذکر شو اثبات التوحيد، اثبات الرسالت، جهاد او انفاق فی سبیل الله۔ نو ا لعمران کښے هم دغه مضامين ذکر کوی باالترقی (٢) بقره کښے عجز د اله د یهودو ذکر شو نو ال عمران کښے عجز د اله د نصاراؤ ذکر کوی اله د یهود و بقره وه او اله د نصاراؤ عیسیٰ وو چه د هغوی عبادت به ئې کولو (٣) بقره کښے هغه قوانين ذکر شو چه په هغې سره اصلاح د مجاهد د ملک او د کور راتله نو ال عمران کښے هغه قوانين ذکر کوی چه هغے سره اصلاح د جماعت راځی (٤) بقره کښے چه کوم اعتراضونه په رسالت او د هغے جوابونه ذکر شوی وو نو ال عمران کښے نور اعتراضونه او د هغے جوابونه کوی (٥) بقره کښے دعویٰ د توحید څلور ځله ذکر وه نو ال عمران کښے اووه ځله ذکر کوی باالترقی (٦) بقره کښے زیات خطاب د مغضوب علیهم سره وو چه یهود وو نو ال عمران کښے زیات خطاب د ضالینٰ سره دے چه نصاریٰ دی (٧) بقره ئې ختمه کړه په دې جمله چه (فانصرنا علی القوم الکفرین) نو ال عمران کښې اول ئې هغه جمله راوړه چه منکر ئې کافر ګرځی (الله

....

لااله الا هو) نصرت د الله هغه خلقو سره دے چه دا مسئله منی (۸) بقره کښې مسئله د توحید ثابته کړه په ادله عقلیو سره نو ال عمران کښې مسئله د توحید په ادله ثلاثو سره ثابتوی (۹) دَ بقرے اختتام شوے وو په دعا باندې نو ال عمران هم په دعا ختموی (۱۰) بقره کښې د مشرکينو اعتراضونه ئې ذکر کړل چه الله نائبان نيولی دی او د هغے پنځه جوابونه ئې کړی وو نو ال عمران کښې په هغه شبه د نصاراؤ باندې د پنځو مشرانو اقوال ذکر کوی چه عیسیٰؑ اله نه دے (۱۱) بقره کښې مباهله وه يهودو سره ۹۵ ايت کښې نو ال عمران کښې مباهله د نصاراؤ سره ده ۶۱ ايت کښې (فمن حاجک) (۱۲) بقره هم په الم سره شروع وه نو ال عمران هم په الم سره شروع کوی (۱۳) بقره کښې د طالوت د ملګرو دعا ذکر وه ايت ۲۵۰۔ (ربنا افرغ علينا صبرا) نو الِ عمران کښې د نورو مسلمانانو يعنی د صحابو دعا ذکر کوی (ربنا اغفرلنا ذنوبنا) ايت ۱۴۷ (۱٤) بقره کښې وعده په توحيد د بنی اسرائيلو ذکر وه ايت ۸۳ (و اذ اخذنا ميثاق بنی اسرائيل لاتعبدون) نوال عمران کښې د عامو علماؤ نه الله وعده اغستے ده۔ په توحيد باندې (وَ اذ اخذالله ميثاق الذين) ايت ۱۸۷۔ (۱۵) بقره کښې بيان د اهل کتابو او د مشرکانو اوکړهٔ چه دوی نهٔ غواړی چه مسلمانانو ته خير ورکړېشی ايت ۱۰۵ نوال عمران کښې وائی چه خبر خو لا پريږده کنځل او بدې ردې به وريسې وائی ايت ۱۸۶۔ (۱۶) بقره کښې ذکر وو چه چا د توحيد نه انکار اوکړهٔ نو د هغه د پاره (اعدت للکفرين) ايت ۲٤ نو ال عمران کښې وائی چه چا د رسالت نه انکار

اوکړو نو هغه د پاره هم عذاب دے ایت ۱۳۱۔ (۱۷) بقره کښے د منفق
غیر فی سبیل الله مثال وو چه د هغه باغ داسې دے چه هوا راشي او هغه
باغ او سیزی ایت ۲۶۶ نو ال عمران ایت ۱۱۷ کښے ذکر کوی چه
فاهلکته) چه بالکل هلاک شی (۱۸) بقره کښے د عالم د توبې د پاره
درې شرائط ذکر کړی وو ایت ۱۶۰ نو ال عمران کښے دامی د توبې د
پاره دوه شرائط ذکر کوی ایت ۸۹ (۱۹) بقره کښے کاتمین حق باندې
لعنت د الله د فرشتو او د خلقو وو ایت ۱۵۹ نو ال عمران کښے لعنت د الله
دے په هغه چا چه مرتد شو ایت ۸۷ (۲۰) بقره کښے د ابراهیمؑ غوره والے
او وصیت په توحید ذکر شوی وو ایت ۱۳۲ کښے نو ال عمران ایت ۹۵
کښے وائی (فاتبعو ملة ابراهیم حنیفا) (۲۱) بقره کښے ترغیب وو مال
الطیب ته چه حلال مال اوکټه ایت ۲۶۷ نو ال عمران کښے وائی چه (لن
تنالوا البر) چه پاک مال خرچ کړه ایت ۹۲ (۲۲) بقره کښے وئیلی وو چه
(یختص برحمته من یشاء) ایت ۱۰۵ نو ال عمران کښے په نورو الفاظو
ذکر کوی په ترقی سره ایت ۷٤ کښے (۲۳) بقره کښے ذکر کړی وو چه
کاتم د حق سره به الله په اخرت کښے خبرے نه کوی ایت ۱۷٤ نو ال
عمران کښے وائی چه په احکامو د الله چا پیسے واخستے نو الله به ور سره
خبرے نه کوی ایت ۱۷۷ کښے (۲٤) بقره کښے ذکر وو (الحق من ربک)
ایت ۱٤۷ په تحویل د قبلے حق ثابت دے نو ال عمران کښے ذکر کوی چه
(الحق من ربک) چه د عیسیٰؑ عبدیت ثابت دے ایت ۶۰ (۲۵) بقره کښے
وئیلی وو چه مومنان پور ته کوم په اعتبار د دلیل باندې په کفارو ایت ۲۱۲

نو ال عمران کښې وائی چه عیسیٰؑ م پورته کړهٔ (انی متوفیک ورافعک او) د هغه ملګری م پورته کړل په اعتبارِ د دلیل سره ایت ۵۵ (۲۶) بقره کښې بیان کړی وو چه آدمؑ م بې موره او بې پلاره پیدا کړهٔ نو ال عمران کښې وائی چه عیسیٰؑ م بې پلاره پیدا کړهٔ ایت ۵۹ (۲۷) بقره کښې بشارت کامله وو منونکو د توحید ته نو ال عمران کښې ذکر کوی بشارت د پاره د خان بچ کوونکود دنیا نه ایت ۱۵ (۲۸) بقره کښې ذکر کړهٔ چه چا د صحابوؓ په شان ایمان راوړهٔ نو هدایت به او مومی ایت ۱۳۷ نو ال عمران کښې وائی چه هدایت به څکه مومی چه (لقد عفاالله عنهم) ایت ۱۵۵ (۲۹) بقره کښې ذکر شوی وو چه الله نبی علیه السلام د جنس ستاسو نه رااولېږهٔ ایت ۱۲۹ نو ال عمران کښې وائی چه پېغمبر رالېږل د الله احسان دے په خلقو باندې ایت ۱٦٤ (۳۰) بقره کښې وئیلی وو چه اهل کتاب غواړی کفر ستاسو ایت ۱۰۹ نو ال عمران کښې وائی چه منافقان غواړی چه (ودوا ما عنتم) آیت ۱۱۸ چه کوم شی باندې تاسو تنګېږئ هغه غواړی (۳۱) بقره کښې وئیلی وو چه چا په جادو باندې پېسے واخستے نو (ماله فی الاخرة من خلاق) ایت ۱۰۲ نو ال عمران کښې وائی چه چا په قسمونو او احکامو د الله پېسے واخستے نو (اولئک لا خلاق لهم) ایت ۷۷ (۳۲) بقره ایت ٦۱ کښې اووئیل چه کافرو به انبیاء وژل (و یقتلون النبیین بغیرالحق) نو ال عمران ایت ۲۱ کښې ترقی ده چه یوازې انبیاء نهٔ وژنی بلکې حق پرست هم وژنی (۳۳) بقره ایت ۱٤۰ کښې وئیلی وو چه (انتم اعلم ام الله) چه تاسو وائې چه ابراهیمؑ یهودی وو یا نصرانی نو ال

....

عمران ایت ٦٦ کښې ترقی ده چه والله یعلم وانتم لاتعلمون الله و
یهودی اونصرانی نۀ وو (٣٤) بقره ایت ١٩٦ کښې ونیلی وو
واتموا الحج والعمرة لله نو ال عمران ایت ٩٧ کښې وائی چه څوک
فرضیت د حج نه انکار کوی نو هغه کافر دے عقیدة (٣٥) بقره کښ
ونیلی وو چه واتموا الحج نو ال عمران کښې وائی چه حج په هغه چا فرض
دے (من استطاع الیه سبیلا) (٣٦) بقره ئې شروع کړے وه په فلاح
کامیابی د متقیانو باندې نو ال عمران ئې ختم کړۀ په فلاح باندې لعلکم
تفلحون (٣٧) بقره ئې شروع کړې وه په هغه دریې قسمه ډلو باند
مومنان، کفار او منافقان نو ال عمران ئې شروع کړۀ په هغه دوه ډلو باند
یو ډله زائغین دویمه ډله راسخین فی العلم۔ (٣٨) بقره کښې د اهلکتاب
پلیتی ذکر کړیوه تلبیس الحق بالباطل ایت ٤٢ نو العمران ایت ٧١ کښې
هم د غه پلیتی دیهودو ذکر کوی لم تلبسون الحق (٣٩) بقره کښې
تاکیدات او تحضیضات د ابراهیمؑ او د اسمعیلؑ ذکر کړی وو په دعا کښې
ایت ١٢٧ (انک انت السمیع العلیم) نو ال عمران کښې تاکیدات او
تحضیضات د عیسیٰؑ دنیا ذکر کوی (انک انت السمیع العلیم) ایت ٣٥
(٤٠) بقره کښې ادله عقلیه نقلیه من الملائکة ذکر کړۀ نو ال عمران کښې
ادله عقلیه نقلیه من الانبیاء ذکر کوی (٤١) بقره کښې بیان د جهاد شو
وو په بیان د امور ثلاثه تهذیب الاخلاق، سیاست المدنی او تدبیر منزل نو
ال عمران کښې زیات وضاحت وو د تاسیس جماعت چه د مؤحدینو
جماعت وی چه جهاد کوی۔ (٤٢) بقره کښې د پخوانو مجاهدینو بهادری

ذکر شوی وه چه طالوتیان وو نو ال عمران کښې ددې امت د مجاهدینو بهادری ذکر کوی چه اصحاب بدر دی۔ (۴۳) بقره کښې اووه خله لفظ یسئلونک ذکر کړو وو نو ال عمران کښې اووه خله مسئله د توحید ذکر کوی۔ (٤٤) بقره کښې نقصانات د سود ذکر شو نو آل عمران کښې وائی (لاتاکلوا الربوا) الخ (۱۳۰) سود مه خورې۔

دعوی:-

بیان د هغه څلورو مضامینو دے چه کوم بقره کښې ور باالترقی۔ (۱) اثبات التوحید (۲) اثبات الرسالت (۳) جهاد (٤) انفاق فی سبیل الله۔

تقسیم د سورت:-

سورة ال عمران درې حصې دې اوله حصه اول نه تر ایت ٦۳ پورې ده۔ دویمه حصه ایت ٦٤ نه تر ایت ۱۰۱ الی صراط مستقیم پورې۔ دریمه حصه د یایها الذین امنوا تقوالله ۱۰۲ نه تر اخره پورې۔۔ اوله حصه تر ٦۳ پورې په دې کښې اثبات د توحید او دا درې بابونه دی۔ اول باب کښې اوولس ایتونه دی د اول نه تر (والمستغفرین باالاسحار) پورې په دې کښې بیان د شپږو خبرو کوی۔ (۱) اوله خبره دعویٰ د توحید په هغې ادله ثلاثه (الله لااله الا هوا) ایت ۲ دویمه خبره تخویف دنیوی او اخروی۔ (ان الذین کفروا) ایت ٤۔ دریمه خبره دفع د شبهې چه وارده ده په عبدیت دعیسیٰ ایت ۷ څلورمه خبره تعلیم ورکوی مومنانوته په وخت دشبهاتو کښې (ربنا لا تزغ قلوبنا) ایت ۸۔ پنځمه خبره کثرت د مال او دولت بنده د الله د عذاب نه نه شی بچ کولے ایت ۱۰ (لن تغنی عنهم)۔ شپږمه خبره تزهید

من الدنیا او ترغیب الی الاخره یعنی مینه ختمول د دنیا نه او تیزی ورکول
په طرف د اخرت(زین للناس حب الشهوات) ایت ۱٤۔ دویم باب د
اتلسم ایت (شهدالله انه لااِله الا هو) نه تر ایت ۲٦(قل اللهم ملک
الملک) پورې پدې کښې هم بیان د شپږو خبرو دې۔ اول کښې دعوی د
توحید ایت ۱۸ ایت کښې دویمه خبره کښې دریم جواب، د شبهې د
نصاراؤ دې چه دا لفظ د ابن دس من البغات دې (ان الدین عندالله
الاسلام) ایت ۱۹۔ دریمه خبره نقطه ده په صداقت د پېغمبر باندې (فان
حاجوک فقل اسلمت) ایت ۲۰ څلورمه خبره پلیتی د اهل کتابو (ان
الذین یکفرون) انبیاء او حق پرست وژل ایت ۲۱ پنځمه خبره حال د
یهودو د الله د کتاب نه اعراض کول (الم ترالی الذین اوتوا نصیبا) ایت
۲۳۔ شپږمه خبره تخویف اخروی یعنی یره ورکول د اخرت نه (فکیف اذا
جمعنٰهم) ایت ۲۵۔ دریم باب د شپږیشتم ایت نه تر اخر د حصې ایت ٦۳
پورې۔ په دې کښې هم بیان د شپږو خبرو دې۔ اوله خبره دعوی د توحید
(قل اللهم ملک الملک) ایت ۲٦۔ دویمه خبره رټنه ورکوی مومنانو ته
په دوستی د کفارو سره (لایتخذ المومنون الکفرین) ایت ۲۸۔ دریمه
خبره تخویف اخروی یعنی یره د اخرت نه (یوم تجد کل نفس) ایت ۳۰
څلورمه خبره ترغیب ورکوی په اتباع د پېغمبر باندې (قل ان کنتم) ایت
۳۱ ۔ پنځمه خبره تفصیلی جواب په عبدیت د عیسیٰ او په هغې پنځه
اقوال د مشرانو ذکر کوی۔ ټول الله ته دی محتاج۔ د عیسیٰ نیا وائی
(انک انت السمیع العلیم) ایت ۳۵ مور ئې وائی (ان الله یرزق من یشاء
بغیر حساب) ایت ۳۷ او ماما ئې وائی (انک سمیع الدعا) ایت ۳۸
فرشتې وائی (الله یفعل ما یشاء) ایت ٤۰ (الله یخلق ما یشاء) ایت ٤۷
....

عیسیٰ پخپله وائی (ان الله ربی و ربکم فاعبدوه) ایت ۵۱ او درې دریش
نقطې په عبدیت د عیسیٰ چه هغه بنده دے او اله نۀ دے او د هغه د مور
عاجزی هم ذکر کوی۔ شپږمه خبره مباهله د نصاراؤ سره (ثم نبتهل
فنجعل) ایت ٦٠۔ اخر کښې بیا دعویٰ د توحید (و ما من اله الاالله) ایت
٦٣۔ دویمه حصه د ایت ٦٤ نه تر ایت ۱۰۱ پورے ده په دے کښې اثبات د
رسالت دے او پنځلس پلیتې د اهل کتابو ذکر کوی، اوله پلیتی اتخاذ
الاحبار والرهبان فی التحلیل والتحریم یعنی چه ملیانو او پیرانو به څه ته
حلال وئیل نو دوی به ورته حلال وئیل اګر که هغه به حرام وو او که هغوی
به څۀ ته حرام وے نو دوی به هم ورته حرام وے اګر که هغه به حلال وو
ایت ٦١ (تعالوا الی کلمة) الخ۔ دویم خباثت احتجاج باالباطل ایت ٦٥
(لم تحاجون فی ابراهیم) الخ دریمه پلیتی اضلال المؤمنین یعنی ګمراه
کول د مومنانو ایت ٦٩ (ودت طائفة) الخ څلورمه پلیتی کفر بایت الله
انکار کول په ایتونو د الله (لم تکفرون بایت الله) ایت ۷۰ پنځمه پلیتی
تلبیس الحق باالباطل ګډول د حق د باطل سره (لم تلبسون الحق باالباطل)
ایت ۷۱۔ شپږمه پلیتی تلبیس الدین علی الضعفاء ګډول د دین په هغه
کمزورو خلقو باندې (و قالت طائفة من اهل الکتب) ایت ۷۲ اوومه پلیتی
وصیت په هغه دین منسوخ باندې (ولا تومنوا الا لمن تبع دینکم) ایت ۷۳
اتمه پلیتی خیانت (ومن اهل الکتب من ان تامنه بقنطار) ایت ۷۵ نهمه
پلیتی تحریف (وان منهم لفریقا) ایت ۷۸ لسمه پلیتی افتراء علی العباد
الصالحین (وما کان لبشر) ایت ۷۹ یوولسمه پلیتی تولی عن کتاب الله
ایت ۸۱ (و اذ اخذالله میثاق النبین) ۸۱۔ دولسمه پلیتی ارتداد عن الدین۔
(کیف یهدی الله) ۸٦۔ دیارلسم خباثت افترا علی الانبیاء (کل الطعام کان
....

حلا) ۹۳۔ څوارلسمه پليتي تقديم القبله چه زموئږ قبله ستاسو د قبلې ...
مخکښې ده (ان اول بيت) ۹٦۔ پنځلسمه پليتي بندول خلقو لره د الله ...
کتاب نه (لم تصدون عن سبيل الله) ۹۹۔

دريمه حصه (يا يهاالذين امنوا تقوالله) ۱۰۲ نه تر اخره د سورت
پورې په دې کښې بيان د جهاد او انفاق في سبيل الله او د جماعت جوړولو
د پاره پنځه قاعدې ذکر کوی او بيا په هغې دوه واقعې ذکر کوی۔ اوله
قاعده ستاسو د ټولو عقيده به يو وی ۱۰۲۔ دويمه قاعده ستاسو قانون به
قران او سنت وی ۱۰۳۔ دريمه قاعده ستاسو ارکان به کار کوونکی وی
۱۰٤۔ څلورمه قاعده ستاسو ارکان به په جماعت خرچ کوونکی وی
۱۱۵۔ پنځمه قاعده د پاره د حفاظت د جماعت چه تاسو کښې به غير
رازدار نه وی او په دې علل عشره ذکر کوی ۱۱۸۔ او په دې دوه واقعې
تفريع کوی يو د اُحد بله د جنګ بدر۔ په جنګ احد کښې ستاسو تعداد
زيات وو ليکن تاسو کښې غير رازدار وو نو فتح په شکست بدله شوه
وقتي طور سره۔ او په بدر کښې تاسو کم وې په اعتبار د نفر سره ليکن
تاسو کښې غير رازدار خلق نه وو نو تاسو ته الله فتح درکړه۔ او سورت
کښې اووه خله دعوىٰ د توحيد ذکر کوی۔

امتيازات د سورة ال عمران:-

(۱) سورت ممتاز دې په بيان دپنځو اقوالو باندې د مريمؑ د مور،
مريم ، زکرياؑ ، فرشتې ، عيسیٰؑ (۲) سورت ممتاز دې په هغه نقطو د
عبديت د عيسیٰؑ باندې ۳۳۔ (۳) سورت ممتاز دې په ردد نصرانيت باندې

په دے کښې هغه شپږ اصول د نصرانیت ذکر کوی او په هغے رد کوی (٤) سورت ممتاز دے په بیان د قوانینو د جماعت باندې (٥) سورت ممتاز دے په مباهلے د نصاراؤ سره (٦) سورت ممتاز دے په صفائی د صحابه کرامؓ باندې (٧) سورت ممتاز دے په عجز داله د نصاراؤ باندې چه عیسیٰؑ دے (٨) سورت ممتاز دے په هغه ایت باندې چه په هغے کښې دعویٰ د توحید ادله ثلاثه او په ثمره د دلائلو باندې۔ (شهدالله انه لا اله الا هو) ۱۸۔ (۹) سورت ممتاز دے په هغه ایت چه په هغے کښے اووه څیزونه ذکر دی د سپکاوی د دُنیا ١٤۔ (١٠) سورت ممتاز دے په اقرار د انبیاؤ په تائید د پیغمبر کښے ۸۱۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په وعدے دعلماؤ د اهل کتابو باندې ۱۸۷۔ (۱۲) سورت ممتاز دے په پورته کولو د عیسیٰؑ باندې (انی متوفیک ورافعک الی) ۵۵۔ (۱۳) سورت ممتاز دے په هغه پنځلسو پلیتو د نصاراؤ باندې۔ (١٤) سورت ممتاز دے په خیانت کولو د اهل کتابو باندې ۷۵۔ (۱۵) سورت ممتاز دے په هغه شرائط د توبې دامی باندې۔ (١٦) سورت ممتاز دے په بیمارئ د حضرت یعقوبؑ باندې ۹۳۔ (۱۷) سورت ممتاز دے په وفات د نبی صلی الله علیه وسلم په دې الفاظو سره (وما محمد الارسول) الخ۔ (۱۸) سورت ممتاز دے په فضیلت د مریم په نورو ښځو باندې (و اصطفک علی نساء العلمین)۔



بسم الله الرحمن الرحيم

سورة نساء مدنية نزلت بعد ممتحنه نزولا ۹۲ ترتيبا ٤

ربط:-

(۱) ال عمران کښې پليتئ د يهودو ذکر کړے نو سورة نساء کښې زيات زواجر وركوى يهودو ته (۲) ال عمران ئې ختم کړو په تقوىٰ نو نساء ئې شروع کړه په تقوىٰ (۳) فاتحه کښې بيان د درېو ډلو شوې وو منعوم عليهم، مغضوب عليهم اوضالين نو بقره کښې زيات خطاب مغضوب عليهم سره وو ال عمران کښې زيات خطاب ضالين سره وو نو نساء کښې زيات خطاب منعوم عليهم سره دے۔ (٤) بقره او ال عمران کښې اصلاح د عقيدے اوکړه نو سورة النساء کښې اصلاح د معاشرے کوى اشاره ده چه اول اصلاح د عقيدے دۀ بيا وروستو اصلاح د معاشرے ده۔ (٥) ال عمران کښې جماعت جوړولو د پاره قوانين ذکر شوى وو نو نساء کښې معاشرے د پاره قوانين ذکر کوى۔ (٦) ال عمران کښې دامى د توبې د پاره دوه شرطه ذکر وو نو نساء کښې د منافق د توبې د پاره څلور شرائط ذکر کوى۔ (۷) ال عمران کښې بيان د عبديت د عيسىٰؑ ذکر شوې وو نو نساء کښې رد کوى په نصاراؤ باندې (۸) ال عمران کښې شکست د احد ذکر وو نو نساء کښې د واقعے د اُحد اجمال بيانوى (فمالکم فى المنافقين) ۸۸۔ (۹) ال عمران کښې بيان د خيژولو د عيسىٰؑ کړې وو (ورافعک الى) ۵۵۔ نو نساء کښې د هغے تفصيل کوى ايت ۱۵۷ کښې۔ (۱۰) ال عمران کښې

....

د صحابه کرام باره کښې ۱۵۵ کښ وئیلي رو (عفاالله عنهم) نو نساء کښې د هغې انعام ذکر کوی چه د انبیاؤ سرۃ ئې ملګری کړه ۶۹۔ (۱۱) ال عمران کښې د منافقانو وینا ذکر کړه چه (ما ماتو و ما قتلوا) ۱۵۶۔نو نساء کښې وائي (ولو کنتم في بروج مشیده) ۷۸۔ (۱۲) ال عمران کښې وئیلي رو (لاتاکلوالربوا) ۱۳۰ نو نساء کښې وائي چه هر قسمه مال په باطله طریقه سره مه خوره ۲۹۔ (۱۳) ال عمران کښې شهادت باالتوحید رو د الله او د فرشتو ۱۸۔ نو نساء کښې شهادیت باالکتاب ذکر کوی د الله او د فرشتو ۱۶۶۔ (۱۴) ال عمران کښې وئیلي وړ اتباع زما اوکی، الله به درسه مینه اوکړی (فاتبعوني) ۳۱۔ نو نساء کښې د پیغمبر اتباع د پاره شرائط ذکر کوی ۶۵۔ (۱۵) ال عمران کښې بیان د قتال اوشو نو نساء کښې وائي چه چا مسلمان قصداً قتل کړه په هغه پنځه دفعې ذکر کړی (ومن یقتل مومنا متعمداً) ۹۳۔ (۱۶) ال عمران کښې د پنځو مشرانو پیرانو اقوال ذکر کړی رو په توحید او په عبدیت د عیسیٰؑ باندې نو نساء کښې پنځ دفعې په هغه چا لګوی چا چه په توحید مومن مړ کړۀ ۹۳۔ (۱۷) ال عمران کښې بیان د مجاهدینو اوکړۀ نو نساء کښې فضیلت د مجاهدینو ذکر کوی۔ (۱۸) ال عمران کښې بیان د قتال اوشؤ نو نساء کښې د الله کتاب جاری کړه پس د فتح نه په ملک کښې ۱۰۵۔ (۱۹) ال عمران کښې وئیلي رو چه د ابراهیمؑ په باره کښې جګړه مۀ کوئ هغه یهودی، نصرانی او مشرک نۀ رو ۶۷۔ نو نساء کښې وائی (واتبع ملة ابراهیم حنیفا) حکم دے په اتباع د دین د ابراهیمؑ ۱۲۵۔(۲۰) ال عمران کښې بیان د عیسیٰؑ

....

اوکړو چه په کلمې دکن پیدا دے ٤٥۔ نو نساء کښې د هغے کلمې دکن وضاحت کوی ۱۷۱۔ (۲۱) ال عمران کښې دعوی د توحید ادله ثلاثه او ثمره د توحید وه په یو ایت کښې ۱۸۔ نو نساء په یو ایت کښې مقاصد اربعه ذکرکوی ۱۲٦۔ (۲۲) ال عمران کښې بیان د مقاصدو وو نو نساء کښې بیان د اعمالو کوی۔ (۲۳) ال عمران کښې وئیلی وو چه د جهنم نه بچ شی او جنت ته دننه شی نو دا کامیابی ده۔ (فمن زحزح عن النار) ۱۸۵ نو نساء کښې وائی چه د الله او د پیغمبر تابعداری د اوکړه نو کامیاب به شې ۱۳۔

دعوی د سورت۔ بیان د هغه امورو چه په هغے سره اصلاح د معاشرے راځی۔ تقسیم د سورت۔ سورة نساء درې حصے دہ۔ اوله حصه د اول نه تر ۵۷ ایت پورې ده دے کښې شپاړس (۱٦) احکامات ذکرکوی بین الرعیت۔ دویمه حصه ۵۸ ایت نه تر ۱۳۵ پورې۔ په دے کښې اتۀ احکامات ذکر کوی بین الراعی والرعیت۔ دریمه حصه د ۱۳۵ نه تر اخره پورے۔ په دے کښې د دریو ډلو بیان دے۔ اهل کتاب، منافقان، او مومنان

تفصیلي خلاصه:-

اوله حصه کښې شپاړس احکام دی (۱) اول حکم حفاظت اوکړئ د مالونو دیتیمانو (و اتوالیتمی اموالهم) ۲۔ (۲) حکم حفاظت د یتیمانو جینکو هغوئی ته مهرونو ورکړے (وان خفتم الاتقسطو فی الیتمی)۳۔ (۳) عامو ښځو ته د هغوی مهرونه ورکړئ٤۔ (و اتوالنساء صدقتهن نحله)۔ (٤) بې وقوفو ته مال مه ورکوئ (ولا تؤتوا السفهاء اموالکم) ۵۔ (۵) پنځم

....

حکم د عامو خلقو سره احسان اوکړی (للرجال نصیب مم ترک الوالدان) الخ ۷۔ (٦) مال په قانون د شرع تقسیم کړی ۔ (یو صیکم الله) ۱۱۔ (۷) ځان پاک کړے د بي حیائي نه۔ (والتی یاتین الفاحشه) ۱۵۔ (۸) په زوره پردئ ښځه په میراث مه اخلئ (لا یحل لکم ان ترثوالنساء کرها) ۱۹۔ (۹) د خپلو مشرانو بي ادبی مه کوئ یعنی د پلار منکوحو سره نکاح مه کوئ (ولا تنکحواما نکح اباء کم)۲۲۔ (۱۰) محرمات۔ خوارلس حرام کړے شوے ښځو سره نکاح ونه کړے۔ (حرمت علیکم امهتکم) ۲۳۔ (۱۱) منع کېدل د حرام مال نه (لا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل) ۲۹۔ (۱۲) په خپلو حصو صبر اوکړئ (ولا تتمنوا ما فضل الله) ۳۲۔ (۱۳) ایفاء العهود۔یعنی پوره کول د وعدو (فاتوهم نصیبهم) ۳۳۔ (۱٤) امیر بیت الرجل د کور او د ملک مشر به سړي وی (الرجال قوامون علی النساء) ۳٤۔ (۱۵) الصلح بین العشائر۔ صلح په مابین د قبیلو او د خلقو په مینځ کښې ۔ (و ان خفتم شقاق بینهما) ۳۵۔ (۱٦) مسئله د توحید او رد د شرک (واعبدوالله ولا تشرکوا به شیئا) ۳٦۔

دویمه حصه د ۵۸ نه تر ۱۳۵ پورے۔ په دې کښې اته احکامات ذکر کوی بین الراعی والرعیت اول حکم امیرانو بادشاهانو ته دے (ان الله یامرکم ان تودالامانات) ۵۸۔ او حکم رعیت ته دے په تابعداری (واطیعوالله واطیعوالرسول) ۵۹۔ دویم حکم تیار اوسی حکمَ د الله ته (خذوا حذرکم) دریم حکم قتال فی سبیل الله (فلیقاتل فی سبیل الله) ۸٤۔ (٤) احتیاط فی القتل (وما کان لمومن) ۹۲ ۔پنځم حکم اصلاح النیت (اذا ضربتم فی سبیل الله فتبینوا) ۹٦۔ (٦) الهجرة فی سبیل الله د الله په لار کښې هجرت کول (ومن یهاجر فی سبیل الله) ۱۰۱۔ (۷) صلوٰة السفر په

سفر کښې نمونځ کول (و اذا ضربتم فی الارض فلیس علیکم جناح
۱۰۱- (۸) چه کله ملک فتح شي نو ملک کښې به د الله کتاب جاري
کوي (انا انزلنا الیک الکتب) ۱۰۵- (۹) په دې روشنائي تنویراً علی (م
سبقه یستفتونک فی النساء)-

دریمه حصه:- ۱۳۵ نه تر اخره پورې- په دې کښې بیان دَ دریو
فرقو کوی (۱) مومنان (۲) منافقان (۳) اهل کتاب او دے دریو واړو ته
زجر دے باالتضعیف والتنصیف- دریو ایتونو کښې مومنانو ته، شپږو
ایتونو کښې منافقانو ته او دولسو ایتونو کښې اهل کتابو ته په اوله حصه
کښې- او په دریمه حصه کښې دوه آیاتونو کښې مؤمنانو ته اولس آیاتونو
کښې منافقانو ته او نهه آیاتونو کښې اهل کتابو ته- نو ټول زواجر په
سورة کښې مؤمنانو ته پنځه شو منافقانو ته درویش (۲۳) او اهل کتابو ته
یوویش (۲۱) شو-

امتیازات د سورة نساء:-

(۱) سورت ممتاز دے په اصلاح د معاشرے باندې (۲) سورت
ممتاز دے په مشرت د سړی باندې ۳٤- (۳) سورت ممتاز دے په حفاظت
دمالونو د یتیمانو باندې (٤) سورت ممتاز دے په حفاظت د مالونو د بې
وقوفو (۵) سورت ممتاز دے په مهر ورکولو ښځو ته (٦) سورت ممتاز
دے په مسئلے د میراث باندې (۷) سورت ممتاز دے په هغه خوارلسو
حرام کړو شوو ښځو په نکاح کولو باندې ۲۳- (۸) سورت ممتاز دے په
هغه څلورو طریقو باندې ښځو ته په پند ورکولو سره ۳٤- (۹) سورت
ممتاز دے په نه کولو د نمونځ په حالت د بې هوشی کښې ٤۳- (۱۰)

سورت ممتاز دے په هغه درې شرطونو د پاره د قبول د ایمان ٦٥۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په هغه ځلورو قسمو خلقو باندې چه الله غوره کړی دی په یو ایت کښے ٦٩۔ (۱۲) سورت ممتاز دے په بیان د قتل خطا او د قتل عمد کښے او په هغے باندې کفاره ۹۳۔ (۱۳) سورت ممتاز دے په پنځو دفعو باندې هغه چاته چه چا مومن مړ کړه په قصد سره د وجه د ایمان نه ۹۳۔ (۱٤) سورت ممتاز دے په بیان د فضیلت د مجاهدینو باندې ۹۵۔ (۱۵) سورت ممتاز دے په بیان د حکم د مانځه کولو په سفر کښے ۱۰۱۔ (۱٦) سورت ممتاز دے په باره د هغه چا کښے چه د الله سره شرک اوکړۀ هغه ته دوه ځله رتنه ده چه هغه الله نۀ معاف کوی بغیر د توبې ٤٨، ۱۱٦۔ (۱۷) سورت ممتاز دے په بیان د هغه ایت کښے چه هغے کښے مقاصد اربعه دی ۱۳٦۔ (۱۸) سورت ممتاز دے په بیان د توبې د منافق باندې ٤٦۔ (۱۹) سورت ممتاز دے په تشبیه د وحی کښے د نوحؑ سره ۱٦۳۔ (۲۰) سورت ممتاز دے په قوانینو د معاشرے د شپاړسو احکامو بین الرعیت (۲۱) سورت ممتاز دے په هغه اتو احکاماتو بین الراعی والرعیت (۲۲) سورت ممتاز دے په نه اغسلتو د مهر د خپلے ښځے نه چه اراده اوکړی د بدلولو د هغے ۔ (و ان اردتم استبدال زوج مکان زوج) (۲۳) سورت ممتاز دے په هغه یو ایت کښے چه یوولس حقوق ذکر کوی۔ (۱٤) سورت ممتاز دے په درې ځله زجر ورکولو سره مومنانو ته او هر یو ایت کښے نار ذکر کوی۔



بسم الله الرحمن الرحيم

سورة مائدة مكية نزلت بعد الفتح نزولا (۱۱۲) ترتيباً (۵)

ربط:-

(۱) نساء کښې اصلاح د معاشرے اوکړه نو مائده کښې بیان د حل او د حرمت کوی(۲) نساء کښې د تنظیم بیان اوشو نو مائده کښې هغه مسئله ذکر کوی چه د هغې د پاره د تنظیم ضرورت دے چه هغه رد د شرک فعلي او رد د نذر و نیاز دے (۳) نساء کښې رد د شرک اعتقادی اوکړهٔ نو مائده کښې زیات رد د شرک فعلي کوی۔ (٤) نساء ئې ختم کړے وو په یبین الله لکم ان تضلوا چه الله بیانوی نور احکام نو مائده کښې نور احکام ذکر کوی د حل او حرمت بیان د نذر و نیاز (۵) نساء کښې چه تا کوم لوظ اوکړهٔ (والذین عقدت ایمانکم) ۳۳۔ نو مائده کښې وائی (اوفوا باالعقود) ۱ ۔ پوره والې په لوظونو اوکړئ (٦) نساء ئې شروع کړے وه په خطاب عام سره (یاایها الناس) ۱۔ نو مائده ئې شروع کړه په خطاب خاص سره (یاایها الذین امنوا)۔ (۷) نساء کښې زواجر ذکر کړی وو یهودو ته نو مائده کښې وائی چه یهودو سره تعلق مهٔ ساتئ۵۱۔ (۸) نساء کښې حال د خائن ذکر کړے وو نو مائده کښې حال د سارق او سارقې ذکر کوی او د هغوی سزا چه (فاقطعوا ایدیهما) ۲۸۔ (۹) نساء ختم شوه په نفی د شرک فی التصرف او په عاجزئ د عیسیٰؑ او د فرشتو او چونکه شرک فی التصرف ذریعه د شرک فعلي وه نو مائده کښې رد د شرک فعلي کوی (۱۰) نساء کښې وئیلي وو چه ما په یهودو حرام کړی وو بعض څیزونه
....

قهراً ١٦٠۔ نو مائده كښې وائي (ياايها الذين امنوا لاتحرموا) حرام د الله حلال مۀ ګڼئ ١٨٧۔ (١١) نساء كښې اووئيل چه چا شرک اوكړه هغه ته معافي نۀ كيږي بغير د توبې نه ٤٨، ١١٦ نو مائده كښې سزا د مشرک ذكركوی (و من يشرک بالله فقد حرم الله عليه الجنة) ٧٤ (١٢) نساء كښې قران ته رڼا وئيلے وه ١٧٤ نو مائده كښې تورات او انجيل ته هم رڼا وائي ٤٤، ٤٦ (١٣) نساء كښې قران ته رڼا وئيلي وو ١٧٤ نو مائده كښې هم قران ته رڼا وائي ١٥۔ (١٤) نساء كښې وئيلي وو چه قران مِ رااوليږه په دې فيصله كوه ١٠٥ نو مائده كښې وائي چه توات مِ رالېږلې وو نو په هغې به انبياؤ فيصله كوله ٤٤۔ (١٥) نساء كښې وئيلي وو چه په قران فيصله كوه ١٠٥ نو مائده كښې وائي چه چا د الله په كتاب فيصله او عقيده وُنه ساتله نو هغه كافر، ظالم او فاسق دے ٤٤، ٤٥، ٤٦۔ (١٦)نساء كښې بيان د تيمم او طريقه د تيمم ذكر كړه ٤٣ نو مائده كښې د هغې وضاحت كوی چه د (منه) قيد ورسره زياتي كوی ٦ (١٧) نساء كښې ګواهي د محمدالرسول الله صلى الله عليه وسلم ذكر كړۀ و (جئنا بک على هولاء شهيدا) ٤١ نو مائده كښې ګواهي د عيسىٰؑ ذكر كوی (و كنت عليهم شهيدا ما دمت فيهم) ١١٧۔ (١٨) نساء كښې بيان د عيسىٰؑ او د هغه عاجزی ذكر كړۀ نو مائده كښې بيان د عيسىٰؑ او د هغه معجزات ذكر كوی ١١٠ (١٩) نساء كښې عاجزی د عيسىٰؑ ذكر كړه په دنيا كښې ١٧٢ نو مائده كښې عاجزی د عيسىٰؑ ذكر كوی په اخرت كښې ۔ (وكنت عليهم شهيدا) ١١٧۔ (٢٠) نساء كښې وئيلي وو چه دا قران رڼا ده ١٧٤ نو مائده كښې وائي چه دغه رڼا اورسوه خلقو ته (بلغ ما انزل اليک) ٦٧۔ (٢١) نساء كښې تمهيدوو د

پاره د حراموالي د شرابو نو مائده کښې صريحاً ذکر کړۀ چه دا حرام دی (انماالخمر والميسر) ۹۰۔

خلاصه د سورت

بيان د څلورو مسئلو دے (۱) تحريمات الله (۲) تحريمات العباد (۳) نذورالله (٤) نذورالعباد۔ تقسيم د سوړت : سورت لس حصے دے اوله حصه د اول نه تر پنځم ايت پورے۔ په دے کښې بيان د هغه څلورو مسئلو دے کوم چه مقصد د سورت دے (۱) تحريمات الله (۲) نذورالله (۳) تحريمات العباد(٤) نذورالعباد۔ دويمه حصه د شپږم ايت نه تر يوولسم ايت پورے په دې کښې امور مصلحه للمبلغ ذکر کوی۔ دريمه حصه دولسم ايت نه تر نوولسم ايت پورې په دې کښې مثال د ناقضينو د عهد ذکر کوی چه هغوی د الله وعدې ماتې کړې وی۔ څلورمه حصه د ۲۰ ايت نه تر ۲٦ پورے۔ په دې کښې مثال د متکاسلينو فی حکم الله ذکر کوی چه هغوی سستی کړے وه او دين ئې پټ کړے وو نو (يتيهون فی الارض) شول۔ پنځمه حصه د ايت ۲٦ نه تر ٤۰ پورے۔ په دې کښې سزا د ظالم سزا د سستو او ترغيب تبليغ ته۔ چه ډېر ظلم مه کوه په شان د قابيل او ډېر سستيږه مه په شان د هابيل باندې۔ شپږمه حصه د ايت ٤۰ نه تر ٥۰ پورے۔ په دې کښې پليتي د اهل کتابو ذکر کوی۔ اوومه حصه د ايت ٥۱ نه تر ٥۸ پورے په دې کښے تحديد او رټنه ورکوی مومنانو ته په موالات د اهل کتابو سره۔ (لا تتخذوا اليهود والنصرىٰ اولياء) ۔ اتمه حصه د ٥۸ نه تر ٦٦ پورے په دې کښے رټنه ورکوی علماء سوء ته۔ نهمه حصه د ٦٦ نه تر ۸٦ پورے په دې کښے تسلی نبيً عليه السلام ته او ترغيب فی

التبليغ۔ لسمه حصه د ۸٦ نه تر اخره پورے په دې کښې بیان د څلورو مسئلو کوم چه مقصد د سورت دے۔ تحریمات الله تحریمات العباد، نذورالله، نذورالعباد۔

امتیازات د سورة مائدے:-

(۱) سورت ممتاز دے په بیان د څلورو مسئلو تحریمات الله، تحریمات العباد، نذورالله، نذورالعباد۔ (۲) سورت ممتاز دے په اجماع د انبیاؤ سره په نفی د علم غیب باندې۔ (یو یجمع الله الرسل) (۳) سورت ممتاز دے په حالت د عیسیٰؑ په قیامت کښې ۱۱٦۔ (٤) سورت ممتاز دے په واقعې د دوو خامنو د ادم علیه السلامؑ (٥) سورت ممتاز دے په مثال د ناقضینو د عهد چه چا د الله وعدې ماتې کړی وی په دے الفاظو سره۔ (٦) سورت ممتاز دے په بیان د قسم باندې (۷) سورت ممتاز دے په بیان د خوانچے (مائدے) باندې۔(۸) سورت ممتاز دے په بیان د بحیرے، سائبې، د وصیلے او حام باندې (ما جعل الله من بحیره) ۱۰۳۔ (۹) سورت ممتاز دے په بیان د شرائطو د ښکار او د ښکاری باندې (یسئلونک ماذا احل لهم) ٤۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په بیان د ذبائحو د اهل کتابو باندې (۱۱) سورت ممتاز دے په بیان د کفارے د قسم باندې (۱۲) سورت ممتاز دے په بیان د فیصلې د الله په کتاب باندې او په دې الفاظو ثلاثو باندې چه چا د الله په کتاب فیصله او عقیده ونه ساتله ظالم فاسق او کافر دے۔ (۱۳) سورت ممتاز دے په بیان د غلاګو سړی او غلاګرے ښځے باندې ۳۸۔ (١٤) سورت ممتاز دے په بیان ددے چه چا شرک اوکړو نو په هغه جنت حرام دے (حرم الله علیه الجنة) ۷۲۔ (١٥) سورت ممتاز دے په هغه

یوولس خله بشاراتو باندې مبلغ ته (١٦) سورت ممتاز دے په حرمت
ښکار باندې په بیت الله کښې په حالت د احرام کښې (لا تقتلو الصيد
٩٥- (١٧) سورت ممتاز دے په دې خبره چه چا د الله کتاب په خپل خو
جاری نه کړۀ نو هغه په هیڅ دین کښې نۀ دے تورات وی که انجیل وی که
قران- (قل یاهل الکتب لستم علی شی) ٦٨- (١٨) سورت ممتاز دے
بیان ددے چه هر اسمانی کتاب یعنی تورات، انجیل او قران ته الله ر
وئیلے ده او قران مهیمن یعنی امین دے په نورو کتابونو باندې- (١٩
سورت ممتاز دے په نکاح د ښځو د اهل کتابو- (٢٠) سورت ممتاز دے
په راښکاره کولو د کفر د کافرو په دوه ایتونو باندې تاکیدا، (ولیزیدن
کثیرا)-٦٤،٦٧



بسم الله الرحمن الرحيم

سورة انعام مکیة نزلت بعد حجر نزولا ٥٥ ترتیبا ٦

ربط:-

(١) سورة مائده اول کښې رد د شرک فعلی وو او بیا وروستو رد د
شرک اعتقادی وو- نو انعام عکس د هغے دے یعنی اول رد د شرک
اعتقادی کوی بیا رد د شرک فعلی کوی (٢) مائده په اخر کښې وئیلی
چه (لله ملک السموٰت والارض و ما فیهن) نو د سورة انعام په اول کښې
اووے (الحمدلله) چه اختیار د الله چلیږی نو د الله حمد ادا کړه (٣) مائده
کښې نفی د علم غیب کړے وه د ټولو انبیاء علیهم السلام نه ١٠٩ نو

سورة انعام کښې نفي د علم غيب کوی د نبی علیه السلام نه ۵۰۔ (۴) مائده کښې وئیلی وو چه نذر و نیاز د غیر الله په نوم مۀ ورکوئ نو انعام کښې د هغې وجه ذکر کوی چه دا ټول ماته محتاج دی اؤ ماته عاجز دی۔ (۵) مائده کښې مسئله د توحید ثابت کړه نو انعام کښې په هغې دلائل عقلیه پېش کوی۔ (٦) مائده کښې مشرکینو پېغمبرؑ ته جادوګر وئیلی وو ۱۱۰ نو انعام کښې قران ته جادو وائی ۷۔ (۷) مائده کښې عجز د الله د نصاراؤ چه عیسیٰؑ وو ذکر کړه (کانا یاکلان الطعام) ۷۵ نو انعام کښې عجز د نورو مخلوقاتو ذکر کوی۔ (۸) مائده کښې بیان د مطالبې د مائدې (خوانچې) کړېوو (انزل علینا مائدة من السماء) ۱۱۴ نو انعام کښې په هغې تفصیل کوی (و هویطعم ولایطعم) ۱۴۔ (۹) مائده کښې بعض انعام محرمه ذکر کړی وو ۱۰۳ نو انعام کښې بعض محلله ذکر کوی ۱۴۲۔ (۱۰) مائده کښې وئیلی وو چه (لا تشتروا بایتی ثمناً قلیلا) زما په احکامو دنیا مۀ اخله ۴۴ نو انعام کښې پېغمبر وائی (لااسئلکم علیه اجرا) نه غوارم ستاسو نه په توحید او په قران څۀ عوض ۹۰۔ (۱۱) مائده کښې قران ته رڼا وئیلی وو ۱۵ نو انعام کښې وائی (فاتبعوه) تابع شی د رڼا ۱۵۳۔ (۱۲) مائده کښې وئیلی وو چه دا قران مخلوق ته اورسوه بلغ ما انزل الیک ۶۷ نو انعام کښې وائی چه پدې قران خلق اویروه۔ (وانذر به الذین یخافون) ۵۱۔ (۱۳) مائده کښې وئیلی وو چه تبلیغ اوکړه د قران ۶۷ نو انعام کښې وائی چه تبلیغ څکه اوکړه چه دا قران سړے دتیارو د شرک نه راوباسی (او من کان میتا فاحیینه) ۱۲۲۔ (۱۴) مائده کښې وئیلی وو چه مشرکان د هغه چا عبادت کوی چه مالکان د نفع او د ضرر نۀ دی (قل اتعبدون من دون الله) ۷۶ نو انعام کښې وائی چه عبادت خو لا پرېږده را ....

مدد شه هغه چا ته وائی چه مالکان د نفع اور د ضرر نه دی (قل اندعوا من دون الله مالاینفعنا ولایضرنا) ۷۱۔ (۱۵) مائده کښې وئیلي وو چه هغه شې اوخوری چه د الله نوم پرے یاد شی (فکلوا مما ذکراسم الله) ٤ نو انعام کښې وائی (ولا تاکلو ممالم یذکراسم الله) ۱۲۱۔ (۱۶) مائده کښې یوولس خله بشارت (زیرے) ذکر کړیوو مبلغ ته نو انعام کښې بوولس خله مسئله دتوحید ذکر کوی (۱۷) مائده کښې وئیلي وو چه نصاری شرک کوی عیسیٰ ته مددگار وائی (لقد کفرالذین قالوا) ۷۲۔ نو انعام کښې وائی چه دوی سره پدې شرک هیڅ دلیل نشته (مالم ینزل به علیکم سلطنا) ۸۱۔ (۱۸) مائده کښې وئیلي وو چه چا شرک اوکړو نوجنت پرې حرام دے نو انعام کښې وائی چه چا شرک اوکړو عمل ئې برباد دے (وحبط عنهم) ۸۸۔ (۱۹) مائده کښې یوولس بشارات ذکر کړهٔ مبلغ توحید ته نو انعام کښې یوولس وصیتونه د نبیؑ ذکر کوی ۱۵۱۔ (۲۰) مائده کښې د عیسیٰؑ نه خپل قوم مطالبه کړے وه د خوانچے (دسترخوان) ۱۱٤ نو انعام کښې د نبیؑ نه مطالبه کوی خپل قوم دیو معجزے۔ (لولا انزل علیه اية من ربه)۔

مقصد او خلاصه د سورة انعام:۔

سورت کښې بیان دتوحیددے او رد د شرک دے مفصل۔ سورت دوه حصه دے اوله حصه کښې ۱۱۷ ایتونه دی په دې کښې رد د شرک اعتقادی بجمیع اقسامه۔ شرک فی العلم شرک فی التصرف، شرک فی العبادت، شرک فی الدعا۔ دویمه حصه کښې رد د شرک فعلی کوی او سورت کښې رد په اقسامو اربعو د مشرکینو۔ مشرکین باالعباد الصٰلحین،

مشركين بالملئكة، مشركين بالجن، مشركين بالكواكب۔ سورت كښې شپږ امتحانات ذكر كوى اول امتحان۵۳۔ دويم ۵۵، دريم ۱۰۵ ـ څلورم ۱۱۲ـ پنځم ۱۲۳ـ شپږم ۱۲۹ـ سورت كښې اعتراضونه په قل قالوا سره۔ او يوولس څله دعوىٰ د توحيد ۱۰، ۱۷، ۱۹، ۴۵، ۱۰۰، ۱۰۲، ۱۰۶، ۱۵۱، ۱۶۲، ۱۶۳، ۱٦٤ او پدې باندې پنځويشت (۲۵) دلائل عقليه ذكر كوى او دوه څله رد د شفاعت قهرى۔

امتيازات د سورة انعام:-

(۱) سورت ممتاز دے په كثرت دَ ادله عقليو سره (۲) سورت ممتاز دے په تفصيلى رد د شرک او بجميع اقسامه (۳) سورت ممتاز دے په هغه زياتو شبهاتو د مشركينو په قل قالوا سره (٤) سورت ممتا دے په عقبات سته سره (۵) سورت ممتاز دے په مقابلے د ابراهيمؑ د خپل پلار سره په دے الفاظو سره چه ته گمراه ئى (٦) سورت ممتاز دے په رد د اقسامو اربعو د مشركينو باندې (۷) سورت ممتاز دے پدې چه ددے سورت نازلېدو په وخت كښې اويا زره (۷۰۰۰۰) فرشتے راغلے وے په جلب او استقبال كښې (۸) سورت ممتاز دے په يوولس څله مسئله د توحيد سره۔ (۹) سورت ممتاز دے په وژلو د اولاد خپل د مشركينو په نوم د غيرالله (قتل اولادهم شركائهم)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په يو ركوع كښې اووه څله گمراه او مشرک ونيلو سره د ابراهيمؑ خپل پلار او قوم ته۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په څلور څله لفظ (من اظلم) سره ـ (۱۲) سورة ممتاز دے په پنځه څله نفى د علم غيب سره (۱۳) سورة ممتاز دے په اُوه څله نفى د شرک فى التصرف سره۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة اعراف مكية نزلت بعد ص نزولا (٣٩) ترتيبا (٧)

ربط:-

انعام کښې مسئله د توحيد ثابته شوه په دلائل عقليو سره نو سوره اعراف کښې مسئله د توحيد ثابتوى په دلائل نقليو سره۔ (٢) انعام کښې اول رد د شرک اعتقادى کړے وو او وروستو رد د شرک فعلى وو نو اعراف کښې عکس د هغې دے اول رد د شرک فعلى بيا رد د شرک اعتقادى کوى۔ (٣) انعام کښې عقبات سته ذکر شو نو اعراف کښې د هغې نمونې ذکر کوى۔ (٤) انعام کښې د مشرکينو استهزاء ذکر شوه نو اعراف کښې تسلى ورکوى نبيؑ ته (٥) انعام کښې مسئله د توحيد ذکر شوه او انکار د مشرکينو ذکر شو نو اعراف کښې انجام د مشرکينو ذکر کوى۔ (٦) انعام ئې ختم کړے وو په دے دوو جملو باندې (ان ربک سريع العقاب و انه لغفورالرحيم) نو اعراف کښې چه د انعام غوندے اېتو نه ذکر کړى نو لا م پرې داخل کړى تفريعا على ما سبقه ۔ (٧) انعام کښې د نوحؑ ، موسىٰؑ او لوطؑ بيان وو اجمالا نو اعراف کښې د هغې تفصيل کوى۔ (٨) انعام کښې وئيلى وو چه چا شرک اوکړۀ نو عمل ئې برباد دے (ولوا شرکوا لحبط) نو اعراف کښې وائى چه چا تکذيب اوکړو په کتاب الله او په ورځ د اخرت نو عمل ئې برباد دے۔ (١٠) انعام کښې وئيلى وو چه

....

ابراهیمؑ ته ما ښودلي وو هغه دلائل د بادشاهي د اسمانونو او زمکو ۷۵ نو اعراف کښې وائي چه دا خلق په دغه دلائلو کښې ولې سوچ نه کوی (اولم ینظروا) ۱۸۵۔ (۱۱) انعام کښې وئیلي وو (افغیرالله ابتغی حکما) ۱۱٤ (قل اغیرالله ابغی ربا) ۱٦٤ چه بل رب نشته نو اعراف کښې وائي (قال اغیرالله ابغیکم الها) ۱٤۰۔ (۱۲) انعام کښې نفيَ د شفاعت قهری کړے وه چه ما سوا د الله نه څوک دوست او شفاعت کر نشته (لیس لها من دون الله ولي ولا شفیع) ۷۰ نو اعراف کښې وائي (فهل لنا من شفعاء فیشفعوا لنا) دوی به چغې وهي چه ایا مونږه د پاره څوک سفارشي شته چه مونږ له شفاعت اوکړی ۵۳۔ (۱۳) انعام کښې وئیلي وو چه کافر به په خپل خان گواهي ورکوی د کفر (و شهدوا علی انفسهم) ۱۳۰ نو اعراف کښې هم ذکر کوی چه کافران به په خپل خان گواهي د کفر ورکوی ۳۷۔ (۱٤) انعام کښې اووئیل چه (قل لا اسئلکم علیه اجرا) ووایه زه نه غوارم ستاسو نه په دې بیان او تبلیغ باندې څه اجر ۹۰ نو اعراف کښې مثال د هغه چا ذکر کوی چه هغه په دین باندې دنیا واخسته او دنیا ته ئې میلان اوکړهٔ د هغوی مثال دَ سپي دے ۱۷٦۔ (۱۵) انعام کښې وئیلي وو چه د مشرکینو سره څه دلیل نشته په رامدد کولو د غیر الله باندے (مالم ینزل به علیکم سلطنا) ۸۱ نو اعراف کښې هم ذکرکوی (مانزل الله بها من سلطن) چه دوی سره څه دلیل نشته ۷۱۔ (۱٦) انعام ٤۵ کښې وئیلي وو چه (فقطع دابرالقوم الذین ظلموا) نو اعراف کښې د هغې مثالونه ذکر کوی۔ (۱۷) انعام کښې وئیلي وو چه (ولقد ارسلنا) انبیاءِ م لیږلي وو نو قومونو خلاف اوکړهٔ ما په

عذاب اونیول ۴۲ نو اعراف کښې ذکر کوی چه انبیاء ؑ اولېږل نو قومونو خلاف اوکړه ما اونیول ۹۴۔ (۱۸) انعام کښې اووئیل چه ظالمان د الله په ایاتونو انکار کوی ۳۳ نو اعراف کښې ژانی چه چا انکار کړے دے نو ما تباه کړې دی د هغوی نمونې ذکر کوی ۱۳۶۔ (۱۹) انعام کښې ذکر کړی وو چه دا دے قران تابع شه ۱۵۵ نو اعراف کښې ذکر کوی چه تابع شه د داسې کتاب ۳ (۲۰) انعام کښې بیان او حالت د تاوانی ذکر کړه ۱۲ نو اعراف کښې نخښنه د تاوانی ذکر کوی ۹۔ (۲۱) انعام کښې حالت د اقوام مهلکو ذکر کړه ۶نو اعراف کښې حالت د اقوام مهلکو ذکر کوی بالترقی ۴۔ (۲۲) انعام کښې مکر د کفارو ذکر کړه نو اعراف کښې مکر نې ذکر کړه په قول د فرعون ۱۲۳۔ (۲۳) انعام کښې اووئیل چه پرېږده هغه کسان چه نیولې دے خپل دین توقی او عبثے (اتخذوا دینهم لعبا ولهو) ۷۰ نو اعراف کښې ترقی ده چه دا صفت د کفارو دے۔ (۲۴) انعام کښې اووئیل چه (تدعونه تضرعا و خفیه) ۶۳ نو اعراف کښې په هغے ترقی ده په دوه ځله سره۔ (۲۵) انعام کښې د ابراهیمؑ نه دلیل نقلی ذکر کړے وو په توحید باندې تفصیلاً ۷۴ نو اعراف کښې ترقی ده د ځلورو انبیاؤ نه دلائل نقلیه ذکر کوی په توحید۔ (۲۶) انعام کښې وئیلی وو (الحمدلله الذی خلق السمٰوت والارض) ۱ نو اعراف کښې په هغے ترقی چه (خلق السمٰوت والارض فی ستته ایام) ۵۴۔ (۲۷) سورة انعام ۱۵۲ کښې ذکر کړی وو چه (لا تکلف نفساالاو سعها) نو اعراف ۴۲ کښې هم د غه مضمون ذکر کئی (لانکلف نفسا الا وسعها)۔ (۲۸) سورة انعام کښې تکذیب ذکر شوے وو

نو اعراف کښې علت د تکذیب ذکر کړی چه عذاب دے۔ (۲۹) سورة
انعام ۱۱۰ کښې ذکر کړی وو (ونذرهم فی طغیانهم یعمهون) نو اعراف
۱۸۶ کښې هم دغه مضمون ذکر کړی۔ (۳۰) انعام کښې د نبیؐ تنګی ذکر
شوے وه (ان کان کبر علیکم اعراضهم) ۳۵ نو اعراف ۲ کښې تسلی ده
نبیؐ ته (۳۱) انعام کښې تعریف د قرآن ذکر شو نو سورة اعراف ۲ کښې
ترغیب ورکوی قران ته (اتبعوا ما انزل الیکم من ربکم)۔ (۳۲) انعام
کښې د موجودوؤ منکرینو بیان وشو نو اعراف کښې د سابقینو منکرینو
بیان کوی۔ (۳۳) انعام ٦ کښې وئیلی وو (مکنا هم فی الارض مالم نمکن
لکم) پخوا لره مې طاقت ورکړے وؤ نو اعراف ۱۰ کښې وائی تاسو ته مې
هم طاقت درکړے (ولقد مکناکم فی الارض) الخ۔ (۳٤) انعام ٤۸ کښې
ذکر کړی وو چه انبیاءؑ مې رالیږلی وو (فمن امن واصلح) نو اعراف ۳۵
کښې ترقی ده د امن په ځائے (فمن اتقیٰ و اصلح) ذکر کړی۔

خلاصه د سورة اعراف:-

سورت کښې بیان د دریو مسئلو دې په طریقې د لف نشر غیر
مرتب سره۔ (۱) تسلی نبی علیه السلام ته (۲) اتباع د ما انزل اوکړئ (۳)
بیان د توحید او رد د شرک او په دې درې واړو باندے واقعات ذکر کوی
په طریقې دلف نشر غیر مرتب سره (۱) تسلی نبیؐ ته په هغے د ټولو نه
وروستو واقعه د موسیٰؑ ذکر کوی چه هغه تکلیفونه برداشت کړل د
بادشاه نه د قبطیانو نه او د بنی اسرائیلو نه نو ته هم مسئله بیان کړه (۲)

اتباع د ما انزل اوکړئ نو پدې د ټولو .نه مخکښې واقعه د شیطان ذکر کوی چه شیطان اتباع د ماانزل اونۀ کړه نو ذلیل او رسوا شو او نورے یولس نمونے ذکر کئ (٣) چه بیان د توحید او رد د شرک دے په دې باندې واقعات د انبیائو ذکر کوی په مینځ د سورت کښے- نوحؑ، هودؑ، صالحؑ، شعیبؑ او د لوطؑ - او سورت کښے بیان کوی د هغه ملا چه دنیا ته ئې مېلان اوکړو او دین ئې پرېښودو لکه بلعم بن باعورا او سورت کښے بیان دے د هغه چا چه د الله د حکم خلاف ئې کړے وو لکه خالی والا او سورت کښے بیان دا اعراف والو دے-

امتیازات د سورة اعراف:-

(١) سورت ممتاز دے په زیات تفصیل د اصحاب السبت باندې (٢) سورت ممتاز دے په هغه ملا چه دنیا ته ئې مېلان اوکړو او دین ته ئې شاه کړه مثال ئې د سپی دے- (٣) سورت ممتاز دے په تجلی کولو باندې غر ته- (فلما تجلی ربه) (٤) سورت ممتاز دے په هغه نهۀ معجزاتو باندې په یو ایت کښے (٥) سورت ممتاز دے په بیان د اعراف والو باندې- (٦) سورت ممتاز دے په بیان د تختو د موسٰیؑ باندې (٧) سورت ممتاز دے په کامل والی د انسان په څلورو څیزونو سره (نهایت عفیف، نهایت حلیم، نهایت شجاع، نهایت عالم) (٨) سورت ممتاز دے په هغه دولسو نمونو د عذاب باندې- (٩) سورت ممتاز دے په صفت د نبی علیه السلام چه امی رو مخکښې د وحی نه او دا د هغه صفت دے- (١٠) سورت ممتاز دے په واقعاتو د انبیاؤ باندې مفصلاً-

....

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة انفال مدنية نزلت بعد البقرة نزولا (۸۸) ترتيباً (۸)

ربط:-

(۱) مخکښې سورتونو کښې مسئله د توحيد ثابته شوه په دلائل عقليو نقليو سره نو سورة انفال کښې حکم د قتال ذکر کوی (۲) سورة اعراف کښې مقابله وه کفارو سره په ژبه باندې نو سورة انفال کښې مقابله ده په توره باندې۔ (۳) سورة اعراف کښې شپږ واقعات د انبياؤ ذکر کړهٔ نو سورة انفال کښې ميدان جنګ د پاره شپږ قاعدے ذکر کوی۔ (٤) سورة اعراف کښې جګړه د فرعون د موسیٰؑ او د هغه د ملګرو سره ذکر کړه نو سورة انفال کښې جګړه د کفارو د نبیؐ او د هغه د ملګرو سره ذکر کوی۔ (٥) سورة اعراف کښې وئيلی وو چه د پخوانو کفارو مونږ م پرېکړې وو ۷۲ نو سورة انفال کښې وائی چه ددې امت د کفارو مونږ م پرېکړو ۷۔ (٦) سورة اعراف کښې وئيلی وو چه الله ياد کړه (واذکر ربک ۲۰۵ نو سورة انفال کښې په هغې ترقي کوی ۲۔ (۷) سورة اعراف کښې اوونيل چه کله دوی مست شول نو ما اونيول ۹۵ نو سورة انفال کښې په هغې ترقي ده ۲۸۔ (۸) سورة اعراف کښې مقاصد اربعه ذکر شول (توحيد، رسالت، صداقت د کتاب، ايمان بالاخرت) نو انفال کښې وائی چه څوک دا نهٔ منی جهاد ورسره اوکړه۔ (۹) سورة انعام کښې عقبات سته ذکر شول او سورة اعراف کښې په هغې شپږ دلائل نقليه ذکر شول نو انفال کښې شپږ قاعدے ذکر کوی د پاره د جهاد۔ (۱۰) اعراف کښې بيان

د اصولو وو نو انفال کښې بیان د احکامو کوی۔ (۱۱) سورة اعراف کښې
وئیلي وو چه د الله د کتاب تابع شه (اتبعوا ما انزل ۳) نو سورة انفال کښې
وائی چه د الله کتاب قبول کړئ (استجیبوا لله ۲٤)۔ (۱۲) سورة اعراف
کښې صالحؑ نه قوم مطالبه کړے وه د عذاب (یا صالح ائتنا ما تعدنا ۷۷) نو
سورة انفال کښې دَ الله نه کفارو د مکے مطالبه کړے وه د عذاب ۲۳ کښې
نو ترقي شوه۔ (۱۳) سورة اعراف کښې وئیلي وو (ما اغنی عنکم جمعکم
٤۸) ستاسو نه مال هغه عذاب دفع نۀ کړۀ نو سورة انفال کښې ذکر کوی
چه (انما اموالکم واولادکم فتنة)۔ (۱٤) سورة اعراف کښې جهاد د انبیاء
سابقینو ذکر شو نو سورة انفال کښې جهاد ددے امت ذکر کوی چه تاسو
هم جهاد اوکړئ۔ (۱۵) اعراف کښې سوابق (مقاصد اربعه توحید،
رسالت، صداقت قران، ایمان باالاخرت) ذکر شو نو سورة انفال کښې
لواحق ذکر کوی (جهاد، انفاق، تنظیم او آداب)۔

خلاصه د سورة انفال:-

سورت کښې اول درې اوامر ذکرکوی (۱) فاتقوالله (۲) اصْلحوا
ذات بینکم (۳) اطیعوالله ورَسوله۔ بیا پنځه صفات د مومنانو او د هغوی
حکم او بیا شپږ قاعدے د پاره د میدان جنګ او اوومه قاعده امیر ته۔ اوله
قاعده: چه میدان کښې به شانۀ کوے (فلا تولو هم الادبار ۱۵)۔ دویمه
قاعده: د الله او د پیغمبر تابعدار شی (اطیعوالله و رسوله ۲۰)۔ دریمه قاعده:
که ژوند د خوشحالي غواړئ نو د الله د کتاب او د سنتو د پیغمبر خبره
اومنه او د امیر خبره اومنئ (یاایهاالذین امنوا استجیبوالله وللرسول
۲٤)۔ څلورمه قاعده: چه خیانت مه کوی په اماناتو کښې (لاتخونوالله
....

والرسول ٢٧)۔ پنځمه قاعده: ته به د الله نه ډېر ویربږې (ان تتقوا الله یجعله لکم فرقانا ٢٩)۔ شپږمه قاعده: میدان جنګ کښې به الله ډېر یادوې (اذا لقیتم فئة فاثبتوا ٤٥)۔ اوومه قاعده: امیرانو ته پس د جنګ نه۔

امتیازات د سورة انفال:-

(١) سورت ممتاز دے په بیان د قوانینو د میدان جنګ باندې (٢) سورت ممتاز دے په بیان د دریو اوامرو په اول د سورت کښې (تقوىٰ، اصلاح ذات البین، تابعداری د الله او د نبیؐ)۔ (٣) سورت ممتاز دے په بیان د حکم د هغه انفال کښې او په مال نفل باندې۔ (٤) سورت ممتاز دے په بیان د هغه مشورے چه د نبیؐ د مرګ د پاره شوے وه۔ (٥) سورت ممتاز دے په بیان د اسرىٰ د بدر باندې۔ (٦) سورت ممتاز دے په بیان د مال غنیمت او د تقسیم د هغے کښې۔ (٧) سورت ممتاز دے په بیان د هغه دوو شرطونو باندې یا یو د هغه دوو نه چه هغه موجود وی نو عذاب به نهٔ راځی۔ (وما کان الله لیعذبهم)۔ (٩) سورت ممتاز دے په نفی د علم غیب باندې د عامو صحابو نه ٦٠۔ (١٠) سورت ممتاز دے پدې لفظ چه (فانبذ الیهم علی سواء)۔ (١١) سورت ممتاز دے په زرو فرشتو باندې چه راغلي وے په بدر کښې ٩ (انی ممدکم بالف من الملائکة)۔ (١٢) سورت ممتاز دے په ویشتلو د شګو باندې ١٧ (وما رمیت اذ رمیت) الخ۔ (١٣) سورة ممتاز دے په مطالبے د کفارو د مکے د عذاب د الله نه ٣٢۔ (١٤) سورة ممتاز دے په غضب د الله په هغه چاچه میدان جنګ کښې شاکړی (یعنی تیښته کوی)۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة توبه مدنية نزلت بعدالمائده نزولا (۱۱۳) ترتيبا (۹)

ربط:-

(۱) سورة انفال کښے بیان د جهاد وو نو سورة توبه کښے هم بیان جهاد کوی۔ (۲) سورة انفال کښے مسئله د قتال ذکر کړه نو سورة توبه کښے هغه ډله ذکر کوی چه هغوی سره قتال کیږی۔ (۳) سورة انفال کښے ترغیب وو جهاد ته او اوصاف د مومنانو نو توبه کښے هم برائت دے کفارو نه او نور اوصاف ذکر کوی د مومنانو۔ (٤) انفال کښے اوصاف وو د پاره د مومنانو نو توبه کښے اوصاف د منافقینو او د مومنانو ذکر کوی۔ (٥) انفال کښے بیان د جهاد وو نو توبه کښے کیفیت د جهاد ذکر کوی چه مشرک سره کوم وخت مقرر دے نو د هغه سره به څنګه جهاد کوے۔ (٦) سورة انفال کښے وئیلی وو چه د مشرک نمونځ نه قبلیږی (وما کان صلوتهم ۳۵) نو سورة توبه کښے ذکر کوی چه مشرک بیت الله جوړوی نو هغه هم نه قبلیږی (انما یعمر مسٰجدالله ۱۷)۔ (۷) سورة انفال کښے بیان د جهاد اوشو نو سورة توبه کښے علل د جهاد ذکرکوی۔ (۸) سورة انفال کښے خطاب وو پیغمبر پاک ته او د هغه ملګرو ته ۶۰ نو سورة توبه کښے خاص خطاب دے پیغمبرؑ ته ۱۰۱۔ (۹) سورة انفال کښے نفی د علم غیب وه د صحابوؓ نه نو سورة توبه کښے نفی د علم غیب ده د پیغمبر نه ۱۰۱۔ (۱۰) انفال کښے مسئله د جهاد ذکر کړه او قواعد سته ذکر کړه د پاره د جهاد نو توبه کښے مسئله د جهاد او تحضیضات سته ذکر کوی۔

(۱۱) انفال کښې ترغيب الى الجهاد وو ٦٠ نو توبه کښې زجر دے منافقانو ته په ځان نۀ تيارولو د جهاد باندې ٤٦ ـ (۱۲) انفال کښې مصارف د مال غنيمت ذکر کړه ٤١ نو توبه کښې مصارف د زکوٰة ذکر کوی ٦٠ـ (۱۳) انفال کښې وئيليوو چه مومنان د الله په کتاب مضبوطيږی ۲ نو توبه کښې په هغے ترقی چه مضبوطېدل بواځې نه دی بلکې خوشحاليږی پرې هم۔ (وهم يستبشرون ۱۲۳)ـ (١٤) سورة انفال کښې بيان د وعدې وو چه هغوی ته وعده او غورزوه (فانبذ اليهم ٦٢) نو سورة توبه کښې هم بيان د وعدې دے (کيف يکون للمشرکين عهد ۷) او دلته وائی چه وعده ئې نشته (لاايمان لهم)ـ (١٥) سورة انفال کښې ذکر کړۀ چه د دوی نمونځ نۀ قبليږی (وما کان صلوتهم) نو سوره توبه کښې ذکر کوی چه نمونځ نه قبلېدل خو لا پريږده جماعت ته ئې هم مۀ پريږده (انماالمشرکون نجس فلا يقربوا المسجدالحرام بعد عامهم هذا)ـ (١٦) سورة انفال کښې بندېدل د مشرکانو ذکر کړه د مسجد حرام نه (وهم يصدون عن المسجدالحرام ٢٤) نو سورة توبه کښې وائی چه (ما کان للمشرکين ان يعمروا مسجدالله ۱۷)ـ (۱۷) انفال کښې ذکر د منافقانو اوکړو او هغه چا چه په زړۀ ئے مرض وو نو توبه کښې د هغے تفصيل کوی۔ (۱۸) انفال کښې ذکر کړل چه جهاد وکړه نو توبه کښې وائی چه چا سره به جهاد کوے (قاتلوا الذين لايومنون باالله ۲۹)ـ

خلاصه د سورة توبې:۔

سورت کښې بيان د قتال دے او تقسيم د خلقو دے څلورو ډلو ته۔

سورت څلور حصے دے اوله حصه کښې اقسام د مشرکينو او اعلان د

....

قتال دے د هغوی سره۔ اوله ډله د مشرکینو او مشرکینو کښې څلور ډلې
(۱) مشرکین باالعهود الغیر الموقت هغه مشرکین چه هغوی سره وخت
مقرر نه دے (۲) دویم هغه مشرکین چه هغوی سره وخت مقرر دے
(فاتموا الیهم عهدهم) (۳) مشرکین مستامنین۔ (و ان احد من المشرکین
استجارک) (٤) مشرکین محاربین۔ په اوله حصه کښې د مشرکینو څلور
اقسام ذکر شو د اولې ډلې دا حصه د اول نه تر ۲۹ پورے ده۔ دویمه حصه
د ۳۰ نه تر ۳۸ پورے ده۔ په دې کښې د دویمې ډلې بیان کوی د اهل کتابو
او د هغوی دوه فرقې یهود او نصاریٰ۔ دریمه حصه ۳۸ نه تر ۹۰ پورے په
دې کښې د هغه دریمې ډلې بیان کوی د منافقین او د هغوی درې شپهتۀ
او صاف ناکاره ذکر کوی۔ څلورمه حصه د ۹۰ نه تر اخره پورې، په دې
کښې د هغه څلورمې ډلې بیان کوی د مومنانو او د هغوی او صاف ذکر
کوی۔ سورت کښې واقعه د هجرت او تحضیضات د قتال ذکر کوی۔
سورت کښې بیان د مومنانو دے درې قسمونو ته (مجاهدین، معذورین،
متکاسلین)

امتیازات د سورة توبې:-

(۱) سورتۀ ممتاز دے په نۀ لیکلو د بسم الله باندې په اول کښې۔
(۲) سورت ممتاز دے په درې شپهتۀ او صافو ناکارو باندې د منافقینو۔ (۳)
سورت مممتاز دے په زیاتو تحضیضاتو باندې جهاد ته۔ (٤) سورت
ممتاز دے په امن ورکولو باندے مشرکانو ته۔ (۵) سورت ممتاز دے په
تقسیم دخلقو سره اقسامو د مشرکانو ته او په احکامو د هغوی باندې۔

(٦) سورت ممتاز دے په بيان د يوم الحج الاكبر باندې (٧) سورت ممتاز دے په خرو بولو د حاجيانو باندې- (اجعلتم سقايته الحاج) (٨) سورت ممتاز دے په بيان د يوم الحنين باندې- (٩) سورت ممتاز دے په بيان د ذكر د هغه دولسو مياشتو باندے (ان عدة الشهور) الخ- (١٠) سورت ممتاز دے په بيان د صحابيت د ابوبكرؓ باندې - (١١) سورت ممتاز دے په بيان د غارثور باندې- (١٢) سورت ممتاز دے په بيان د مصارفينو د زكوٰة باندې په يو ايت كښے- (١٣) سورت ممتاز دے په نه اودريدلو د قبر د منافقينو او په نه كولو د جنازه د منافقينو باندې٨٤- (١٤) سورت ممتاز دے په بيان د هغه درې كسانو باندې چه د جهاد نه پاتې شوى وو (كعب ابن مالك، مراره بن ربيعه، هلال بن اميه ١١٨)- (١٥) سورت ممتاز دے په بيان د مسجد ضرار باندے- (١٦) سورت ممتاز دے په تلو د علم پسې (فلولا نفر من كل فرقة) الخ- (١٧) سورت ممتاز دے په اويا ځله استغفار باندې (سبعين مرة) الخ- (١٨) سورة ممتاز دے په هغه ډلې د ابولبابهؓ باندې- (١٩) سورة ممتاز دے په ډېر حرص د پېغمبر باندې په خپل امت ١٢٨- (٢٠) سورة ممتاز دے په شر مولو د كفارو هر كال يو ځل يا دوه ځل ١٢٦- (٢١) سورة ممتاز دے په يو ايت كښے چه ناكاره مليان او پيران چه خلق منع كوى د الله د كتاب نه او مالونه ئې خورى (ان كثيرا من الاحبار والرهبان) الخ ٣٤- (٢٢) سورة ممتاز دے په داغ وركولو د مال سره-



بسم الله الرحمن الرحيم

سورة یونس مکیة نزلت بعد اسراء نزولا (٥١) ترتیبا (١٠

ربط:-

(۱) هر کله چه توبه کښې مسئله د جهاد ذکر کړه نو یونس کښ
هغه خلق ذکر کوی چه هغوی سره جهاد کیږی۔ (۲) سورة توبه کښ
جهاد باالسیف وو (توره) نو سورة یونس کښې جهاد باللسان (په ژبه) ذ
کوی۔ (۳) دَ سورة توبې په اخر کښې مسئله د توحید ذکر کړه (لااله
هو) نو سورة یونس کښې ددې مسئلې وضاحت کوی۔ (٤) توبه کښ
مسئله د توحید ثابت کړه درې خله نو یونس کښې په هغې ادله ذ
کوی۔ (٥) سورة توبې اختتام اوشو په صداقت د پېغمبر باندې ۱۲۸ نو
یونس په اول کښې اثبات د رسالت کوی یعنی صداقت د پېغمبر۔ (
توبه کښې مسئله د توحید ذکر کړه نو یونس کښې انجام د هغه چا ذکر
کوی چه انکار نې کړې ددې مسئله نه۔(۷) توبه کښې بیان د جهاد اوکړ
نو یونس کښې مقصد د جهاد ذکر کوی چه جهاد به ددې مسئلې د توح
د پاره وی۔ (۸) سورة توبه کښې زجر وو منافقانو ته په اعراض کولو
ایتونو د الله نه ۱۲٤ نو سورة یونس کښې اعراض د کفارو ذکر کوی د الله
د کتاب قران نه (و اذا تتلی ۱۵)۔ (۹) سورة توبه کښې نفی د شرک فی
العلم وه ۱۰۱ (و ممن حولکم) نو سورة یونس کښې دوه قسمه مشرکین
رد کوی شرک فی العلم (لا تدع من دون الله ۱۰۲)، شرک فی التصرف

(و ان یمسسک الله بضر ۱۰۷)۔ (۱۰) دَ سورة توبې په اخر کښې مسئله د توحید ثابته شوه چه دا مسئله او منئ نو یونس کښې ذکر کوی چه دا مسئله فرعون او نهٔ منله نو تباه شو۔ (۱۱) توبه کښې بیان د جهاد او د مسئلې د توحید اوشو نو یونس کښې زیرې ورکوی هغه چا ته چه چا دا دواړه اوکړهٔ (لهم البشری ٦٤)۔ (۱۲) سورة توبه کښې وئیلی وو چه منافق په دنیا خوشحالیږی او جهاد ته نهٔ ځی ۳۷ نو سورة یونس کښې په هغې ترقی ده چه (واطمانوابها) چه زړهٔ ئې لګولې دنیا پورې۔ (۱۳) توبه کښې وئیلی وو چه منافق په دنیا خوشحالیږی او جهاد ته نهٔ ځی ۳۷ نو یونس کښې سپکاوې او مثال د دنیا پیش کوی ۲٤۔ (۱٤) سورة توبه ختمه شوه په ذکر د رسالت د نبیؑ نو سورة یونس هم ختم شو په ذکر الرسالت۔

خلاصه د سورة یونس:-

سورت دوه حصې دې اوله حصه د اول نه تر ۷۰ پورې پدې کښې بیا بیا اثبات د مقاصدو اربعو عالیو دې۔ او مشهوره شبهه د مشرکینو چه مونږ دوی ته وایو او دوی زمونږ سوال پیش کوی الله ته ۱۸ دویمه حصه ۷۰ نه تر اخره پورې په دې کښې تخویف دې په ذکر د امم سابقینو سره۔ دوه واقعې د تخویف یو دانا بت۔ دوه په تخویف یو د نوحؑ د قوم او بل د موسیٰؑ د قوم او یو واقعه دانا بت د قوم د یونسؑ۔

امتیازات د سورة یونس:-

(۱) سورت ممتاز دې په هغه مشهورې شبهې چه (هولاء شفعاء نا

....

عندالله ١٨)۔ (٢) سورت ممتاز دے په اخری وینا باندې په جنت کښے د
جنتیانو ١٠۔ (٣) سورت ممتاز دے په هغه کلمے باندے چه په وخت د
هلاکت کښے فرعون وئیلے وه (امنت به ٩٠)۔ (٤) سورت ممتاز دے په
هغه وینا د کفارو باندې چه بدل کړه دا قران (أیت بقران غیر هذا) ١٥۔
(٥) سورت ممتاز دے په هغه دریو واقعاتو باندې دوه د تخویف او یو دانا
بت۔ (٦) سورت ممتاز دے په تعریف د ولی باندې۔ (٧) سورت ممتاز
دے په دعا د موسیٰ باندې په هلاکت د فرعون (ربنا اطمس ٨٨)۔ (٨)
سورت ممتاز دے په اوچت غورزولو د فرعون باندې ٩٢۔ (٩) سورت
ممتاز دے په پنځه خله پدې الفاظو چه (الیه مرجعکم جمیعا)۔ (١٠)
سورت ممتاز دے په تفریعاتو باندے پس د دلائلو نه۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة هود مکیة نزلت بعد یونس نزولا (٥٢) ترتیباً (١١)

ربط:۔

(١) سورة یونس کښے ترغیب الی القران وو نوسورة هود هم
شروع شو په ترغیب الی القران باندے یعنی دواړه سورتونه ئې شروع
کړۀ په ترغیب الی الکتاب باندې۔ (٢) سورة یونس ذوات الراء نه وو نو
سورة هود هم دَ ذوات الراء نه دے۔
(٣) په سورة یونس کښے انکار د مشرکینو ذکر کړۀ نو په سورة هود
کښے د هغوی حالت ذکر کوی۔ (٤) سورة یونس کښے دلائل عقلیه وو په
....

توحید نو په سورة هود کښې دلائل نقلیه ذکر کوی په توحید باندې۔ (۵) سورة یونس کښې نفی د شرک فی التصرف او نفی د شرک فی الدعا اوشوه نو سورة هود کښې نفی د شرک فی العبادت او نفی د شرک فی العلم ذکر کوی۔ (٦) سورة یونس کښې وئیلی وو چه زه د الله د عذاب نه یریږم که ما دا مسئله بیان نهٔ کړه انی اخاف ۱۵ نو سورة هود کښې صالحؑ هم دغه بیان کوی۔ (۷) سورة یونس کښې وئیلی وو چه زه د الله د عذاب نه یریږم که ما دا مسئله بیان نهٔ کړه ۱۵ نوپه سورة هود کښې وائی چه که خلقو دا مسئله او نه منله نو زهٔ یریږم د الله د عذاب نه پدې خلقو باندې ۳۔ (۸) سورة یونس کښې اعتراض د مشرکینو ذکر کړے وو (ائت بقران غیر هذا ۱۵) نو سورة هود کښې تسلی ده چه خیر دے که اعتراض کوی نو هیڅ پرواه مکوه ۱۲۔ (۹) یونس کښې تزهید من الدنیا او سپکاوے د دنیا ذکر کړهٔ ۷ نو هود کښې ذکر کوی چه که څوک دنیا غواړی په دین باندې نو دنیا به ورته ورکړم خو اخر کښې به ورته اُورروی ۱۵۔ (۱۰) سورة یونس کښې مطالبه وه د مشرکینو نه د یو سورة ۳۸ نو سورة هود کښې مطالبه ده د مشرکینو نه د لسو سورتونو ۱۳۔ (۱۱) سورة یونس کښې وئیلی وو چه ظالم هغه څوک دے چه په الله باندې دروغ جوړه وی او د الله په کتاب ۱۷۔ نو سورة هود کښې هم دغه مضمون ذکر کوی چه لوئ ظالم هغه څوک دے چه په الله دروغ جوړوی۔ (۱۲) سورة یونس کښې ذکر کړه چه آیا تهٔ مړو ته خبرے اورولے شے (افانت تسمع الصم ٤٢) نو سورة هود کښې په هغے ترقی چه دوی کښې طاقت د اوریدلو هم نشته او د

....

سورة یونس کښې وئیل لیدلو هم۔ (ماکانوا یستطیعون السمع ۲۰)۔ (۱۳) سورة یونس کښې وئیل
وو چه د مشرک نه به مددګاران ورک شی ۳۰ نو سورة هود کښې د
ذکر کوی چه د مشرک نه به خپل مددګاران ورک شی ۲۱۔ (۱٤) سورة
یونس کښې هارون او موسیٰ دواړو ته وئیلی وو چه (وما نحن لک
بمومنین ۸۷) نو سورة هود کښې هودؑ ته وائی (وما نحن لک بمومنین)
(۱۵) سورة یونس کښې نوحؑ وئیلی وو چه تاسو ټول زما د مرګ
بندوبست اوکړئ او ما ته مهلت مه راوکوئ ۷۱ نو سورة هود کښې وائی
حضرت هودؑ چه زما د مرګ بندوبست اوکړئ او ماته مهلت مه راکوئ
۵۵۔ (۱٦) سورة یونس کښې وئیلی وو چه نوحؑ په الله توکل کړے دی
(فعلی الله توکلت ۷۱) نو سورة هود کښې وائی چه (فتوکل علیه) چه تا
هم په الله خان او سپاره ۱۲۳۔ (۱۷) سورة یونس کښې اثبات د قیامت وو
(الیه مرجعکم ٤) نو سورة هود کښې هم اثبات د قیامت کړی ٤ نو د
دواړو سورتونو په خلورم ایت کښې اثبات د قیامت دے۔ (۱۸) سورة
یونس کښې وئیلی وو چه انسان نه تکلیف لرے شی نو د الله خلاف کوی
۱۲ نو سورة هود کښې په هغے ترقی ده چه د دوی نه تکلیف لرے شی نو
دے ناامیده او ناشکره شی۔ (۱۹) سورة یونس کښې پېغمبرؐ ته جادوګر
وئیلی وو ۲ نو سورة هود کښې قیامت ته جادو وائی ۷۔ (۲۰) سورة
یونس کښې مطالبه د معجزے کړے وه (لولا انزل علیه اية من ربه) نو
سورة هود کښې مطالبه کوی د پېغمبر نه چه تاسره دِ خزانے راشی یا دِ په
تا فرشتے راشی ۱۲۔

خلاصه د سورة هود:-

سورت کښې بیان د څلورو مسئلو دے اوله مسئله چه العبادة لله وحده چه عبادت د الله اوکړه دویمه مسئله چه عالم بکل شی هوالله ـ الله عالم الغیب دے ـ دریمه مسئله ترغیب فی التبلیغ۔ څلورمه مسئله تسلی۔ په دې څلورو مسئلو اووه واقعات د انبیا علیهم السلام ذکر کوی۔ په اوله مسئله چه العبادة لله وحده پدې د څلورو انبیاء واقع ذکر کوی۔ نوحؑ، صالحؑ، هودؑ او شعیبؑ۔ چه ټولو دا چغے وهلے وے (یقوم اعبدوالله مالکم من اله) غیره۔ په دویمه مسئله (عالم بکل شی هوالله) په دې د دوو انبیاء علیهم السلامٔ واقعه ذکر کوی۔ د ابراهیمؑ او لوطؑ۔ چه دا دواړه د فرشتو د حال نه خبر نه وو۔ په دریمه اور څلورمه مسئله چه ترغیب فی التبلیغ دے او تسلی ده پدې باندې واقعه د موسیٰؑ ذکر کوی چه هغه زړه نه ور تنگ کړے او مسئله ئې بیان کړے وه۔

امتیازات د سورة هود:-

(۱) سورت ممتاز دے په بیان ددے چه (کان عرشه علی الماء) (۲) سورت ممتاز دے په وینا د نوحؑ خپل ځوی ته چه (لا عاصم الیوم) چه د بچ کیدو ځائے نن نشته۔ (۳) سورت ممتاز دے په دریو الفاظو باندې ابراهیم ته په ژبه د فرشتو سلام، رحمت او برکت۔ (٤) سورت ممتاز دے په وینا او قول د لوطؑ خپل قوم ته (اواوی الی رکن شدید)۔ (۵) سورت ممتاز دے په وینا د قوم د صالحؑ خپل پیغمبر ته چه صالحؑ دے (قد کنت فینا مرجوا)۔ (٦) سورت ممتاز دے په بیان ددے څلورو مسئلو باندې۔ (۷) سورت ممتاز دے په مطالبے د لسو سورتونو باندې۔ (۸) سورت

ممتاز دے په بائیکاټ د کفارو په نورو الفاظو باندې (لاترکنوا الی الذین ظلموا) ۔ (۹) سورت ممتاز دے په عجل حنیذ باندې۔ (فجاء بعجل حنیذ)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په وینا د قوم د هودؑ باندې خپل پیغمبر ته۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په وینا د الله باندې نوحؑ ته چه (لن یومن من قومک) چه ستا د قوم نه نور څوک ایمان نه راوړی۔ (۱۲) سورت ممتاز دے په هغه څلورو مسئلو باندې په یو ایت کښې اخری ایت۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة یوسف مکیة نزلت بعد هود نزولا (۵۳) ترتیباً (۱۲)

ربط:-

(۱) سورة هود کښې دا مسئله ذکر کړه چه عالم الغیب صرف یو الله دے نو سورة یوسف کښې په هغے باندې مسئله د یعقوبؑ پېش کوی۔ (۲) سورة هود په اخر کښې ونیلی وو (فاا عبده) نو سورة یوسف ٤٠ کښې د هغے بیان کوی (ماتعبدون من دونه الا اسماء) او یوسفؑ د عبادت چغے وهلے وے۔ (۳)سورة هود کښې تسلی وه نبی علیه السلام ته نو سورة یوسف کښې پرې واقعه د یوسفؑ بیانوی۔ (٤) سورة هود کښے ترغیب فی التبلیغ وو نو سورة یوسف کښے په هغے تفصیلی واقعه د یوسفؑ ذکر کوی۔ (۵) سورة هود شروع هم په ترغیب الی القران باندې وو نو سورةیوسف هم په ترغیب الی القران شروع شو۔ (٦) سورة هود هم ذوات الراء نه وو نو سورة یوسف هم ذوات الراء نه دے۔ (۷) سورة هود کښې ونیلی وو چه (فتوکل علی الله) په الله ځان او سپاره نو په سورة یوسف

کښې په هغې واقعه د یعقوبؑ او د یوسفؑ ذکر کوی چه خان نبي الله ته سپارلے وو۔ (۸) سورة هود کښې حضرت ابراهیمؑ او بی بی ته زیرے ورکړے وو په اسحاقؑ او په یعقوبؑ سره خو ذکر د یعقوبؑ اجمالاً وو۔ نو سورة یوسف کښې د یعقوبؑ حال ذکر کوی تفصیلاً ۔ (۹) سورة هود کښې بیان کړے وو چه انبیاءؑ مسئله د توحید په میدانونو کښې بیان کړے وه نو سورة یوسف کښې وائی چه په جیلونو کښې هم بیان کړے وه۔ (۱۰) سورة هود کښې د اثبات د توحید د پاره واقعه د انبیاؤ ذکر کړه نو سورةیوسف کښې واقعه د یوسفؑ ذکر کوی په اثبات د توحید باندې۔ (۱۱) سورة هود کښې امتحانات د انبیاء علیهم السلام ذکر شول نو سورة یوسف کښې امتحان د یوسفؑ او د یعقوبؑ ذکر کوی۔ (۱۲) سورة هود کښې نجات او کامیابی د انبیاؤ ذکر کړهٔ نو سورة یوسف کښې کامیابی د یوسفؑ ذکر کوی۔ (۱۳) سورة هود په اخره کښې اوونیل (الیه یرجع الامر کله) نو سورة یوسف کښې واقعه د یوسفؑ ذکر کوی چه په کومه طریقه نې توحید بیان کړے وو چه په جهل کښې دے او چغے وهي۔

خلاصه د سورة یوسف:۔

سورة یوسف تفریع او تشریح د سورة هود دے۔ سورت کښې تسلی ده نبی علیه السلام ته چه حالک کحال یوسف۔ څنګه چه یوسفؑ خپلو ورونو د خپل ملک نه شړلې وو نو دا رنګه تا به هم مشرکین مکه د مکې نه اوباسي۔ او څنګه چه یوسفؑ دړې ورځې کوهی کښې تېرے کړے وے نو ته به هم دړې ورځې په غار کښې تیره وے۔ څنګه چه یوسفؑ باندې ورونو الزام د غلا لګولې وو نو دا رنګه منافقین به ستا په بی بی

الزام لګوی۔ څنګه چه یوسفؑ په لاره په یره تله چه عزیز مصر واخستو دے به راسره څه کوی نو دا رنګه ستاتلل به هم د هجرت د مکے نه مدینے ته په یره باندې وی۔ څنګه چه یوسفؑ په پردی وطن کښے آباد شوے وو۔ نو ته به هم په پردی وطن کښے ابادیږې۔ څنګه چه یوسفؑ خپلو رونړو ته وئیلی وو (لا تثریب علیکم الیوم)۔ په تاسو نن ملامتیا نشته نو ته به هم مکے والو ته وائے (لا تثریب علیکم الیوم) او بیا ورته نبیؐ وئیلی وو۔ او سورت کښے په څلورو قسمونو د شرک باندې رد دے۔ (۱) شرک فی العلم (۲) شرک فی التصرف (۳) شرک فی الدعا (٤) شرک فی العبادت په شرک فی العلم واقعه د یعقوبؑ پېش کوی چه د خپل څوی د حال نه خبر نه وو۔ او شرک فی التصرّف شرک فی الدعا او شرک فی العبادت باندې واقعه د یوسفؑ پېش کوی چه د خپل ځان اختیار ئې نه وو۔ چه ځان ئې خلاص کړے وے اود عبادت چغے ئې وهلے دی۔

امتیازات د سورة یوسف:-

(۱) سورت ممتاز دے په تفصیلی واقعه د یوسفؑ باندې۔ (۲) سورت ممتاز دے په خوب د بادشاه باندې۔ (۳) سورت ممتاز دے په خوب د جیلیانو باندې۔ (٤) سورت ممتاز دے په بیان د مکر د ښځو باندې۔ (۵) سورت ممتاز دے په هغه دوه قسمه محبت باندې چه یو محبت جائز وو چه د یعقوبؑ د یوسفؑ سره وو او بل محبت ناجائز وو چه د زلیخے د یوسفؑ سره وو۔ (٦) سورت ممتاز دے په تفصیلی تسلی نبیؐ ته۔ (۷) سورت ممتاز دے په ژړا او مکر د وروڼو د یوسفؑ باندې۔ (۸) سورت ممتاز دے په پېمانې د بادشاه باندې (صواع الملك)۔ (۹) سورت ممتاز دے په هغه غنو او وچو وږو باندې۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په بیان

هغه اووه غواګانو تپو او څربو باندې۔ (١١) سورت ممتاز دے په بیان د هغه طعام راوړونکے باندې چه ماثر دے (ونمیر اهلنا) دے۔ (١٢) سورت ممتاز دے په بیان د خوب د یوسفؑ باندې۔ (١٣) سورت ممتاز دے په غسلو د عزیز مصر یوسفؑ لره۔ (١٤) سورت ممتاز دے په بیان د پورته کولو تخت ته د بادشاهی یعقوبؑ او په اهل د هغه د مور او پلار د یوسفؑ باندې۔ (١٥) سورت ممتاز دے په بیان د یعقوبؑ خپلو ځامنو ته چه (لا تدخلوا من باب واحد)۔ چه ټول په یو دروازه مه ننته کیږئ۔ (١٦) سورت ممتاز دے په خوب د یوسفؑ باندې په یولسو ستورو باندې۔ (١٧) سورت ممتاز دے په قمیض د یوسفؑ باندې۔ (١٨) سورت ممتاز دے په بینا د یعقوبؑ باندې یوسفؑ ته په خوب نه بیانولو سره وروڼو ته۔ (١٩) سورت ممتاز دے په تدبیر د الله د یوسف د پاره (کذالك کدنا لیوسف)۔ (٢٠) سورت ممتاز دے په بصیرت سیاسی د یوسفؑ باندې۔(٢١) سورة ممتاز دے په وزارت د یوسفؑ باندے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة رعد مدنية نزلت بعد محمد نزولا (٩٦) ترتيباً (١٣)

ربط:-

(١) هر کله چه سورة هود او سورة یوسف کښې مسئله د توحید ثابته شوه په ادله عقلیو نقلیو سره۔ نو سورة رعد کښې په هغې مسئله د توحید تفریع کوی (له دعوة الحق)۔ (٢) سورة یوسف کښې نفی د شرک فی العلم ذکر شوه چه یعقوبؑ د خپل خوی د حال نه خبر نه شو نو سورة رعد کښې وائی چه (عالم الغيب و الشهادة)۔ په هر څه پوهه یو الله دے (الله

....

ادله عقلیه نقلیه ذکر شو نو سورة

یعلم ما تحمل)۔ (۳) سورة یوسف کښې ذکر کوی۔ (٤) سورة یوسف کښې

رعد کښې په هغې نور دلائل عقلیه ذکر کوی۔ تنبیهات ذکر کوی مع

مسئله ذکر شوه سره د دلائلونه نو رعد کښې وو په ترغیب الی

الدلائل والزواجر۔ (٥) سورة یوسف ئې شروع کړې نو رعد ئې

القران باندې او ختم کړې ئې هم وو په ترغیب الی القران۔

شروع کړو په ترغیب الی القران۔ (٦) سورة یوسف ئې شروع کړې وو

په حروفو مقطعاتو نو سورة رعد ئې هم شروع کړو په حروفو مقطعاتو۔

(۷) سورة یوسف کښې وئیلی وو چه دا قران احسن القصص دے، خائسته

بیان دے نو سورة رعد کښې وائی چه پدې خائسته بیان د انسان زړه

مضبوطیږی (الابذکرالله) ۲۸۔ (۸) سورة هود او سورة یوسف کښې

مسئله د توحید ذکر شوه مع الدلائل نو سورة رعد کښې مثال ذکر کوی د

مسئلې د توحید ۱۷۔ (۹) سورة یوسف کښې ذکر کړه (وخروا له سجدا)

دوی ټول الله ته په سجده پرهوتل۔ سورة رعد کښې وائی چه (لله یسجد)

یواځې هغوی نه ټول دالله تابعدار دی۔ (۱۰) سورة یوسف کښې وئیلی وو

(فکاین من ایة) چه د الله ډیر دلائل دی خو د دلائلو اجمال وو او تفصیل ئې

وو نو سورة رعد کښې د هغې دلائلو تفصیل کوی۔ (۱۱) سورة یوسف

کښې اووئیل (قل هذه سبیلی ۱۰۸) چه دے کتاب ته خلق رابله۔ نو سورة

رعد کښې وائی چه چا د الله کتاب ته خلق راوبلل نو فرشتې به د دنیه کیږی

دوی ته په هره دروازه او ورته به وائی۔ (سلم علیکم بما صبرتم فنعم عقبی

الدار ۲۳)۔ (۱۲) یوسف کښې تخویف او امتحان د یوسفؑ ذکر شو نو

رعد کښې زیرے ورکوی (مثل الجنة التی و عدالمتقین ۳۵)۔ (۱۳) سورة

یوسف کښې ئې مکر د ښځو او د ورونو د یوسفؑ ذکر شو نو سورة رعد

کښې مکر د کفارو ذکر کوی ٤٢۔ (١٤) سورة یوسف کښې ذکر کړه چه څوک خان د بې حیائۍ نه بچ کوی او صبر کوی په تکلیفونو باندې (انه من یتق و یصبر ٩٠)۔ نو سورة رعد کښې وائی (یمحوا الله مایشاء ویثبت) د حیاناک او صبرناک سړی د زړه نه الله غلط څیزونه لرې کوی او توحید پکښې الله رب العزت ثابتوی۔

خلاصه د سورة رعد:-

سورت کښې نفی د شرک فی الدعا ده۔ چه (له دعوة الحق)۔ لائق د رامدد شے صرف الله دے او پدې باندې پنځه دلائل پیش کوی۔ (١) خالق د هر څه زه یمه اسمانونه او زمکے ما پیدا کړی۔ (٢) پوهـ په هر څۀ باندې زه یمه۔ (الله یعلم ما تحمل کل انثی ٦) (٣) ساتونکې د هر څۀ زه یمه (له معقبت من ١١)۔ (٤) متصرف د هر څۀ زه یمه (هوالذی یریکم البرق)۔ (٥) ټول مخلوق ماته محتاج دے (یسبح الرعد بحمده) ان که رعد فرشته ده خما تابع ده۔ نو مسئله پرې تفریع کړی (له دعوة الحق) او مثال په مسئلے د توحید باندې (انزل من السماء ماء) او درې ځله مسئله د توحید۔

امتیازات د سورة رعد:-

(١) سورت ممتاز دے په بیان د رعد فرشتے باندې۔ (٢) سورت ممتاز دے په مثال د پاره د مسئلے د توحید۔ چه باران اوشي د هغے نه ولے روانې شی۔ (٣) سورت ممتاز دے پدې چه څوک غیرالله رامدد کوی د هغه مثال په شان د هغه چا دے چه د اوبو په غاړه ولاړ وی چه وائی اے اوبو راشئ (الاکباسط کفیه)۔ (٤) سورت ممتاز دے په هغه پنځو دلائلو

....

باندې په جدا طریقې سره۔ (٥) سورت ممتاز دے په بیان ددے چه د الله په
کتاب باندې اطمینان راځی (الابذکرالله تطمئن القلوب)۔ (٦) سورت
ممتاز دے په ګواهی د الله او د فرشتو باندې په صداقت د پیغمبر باندې په
اخری ایت کښے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة ابراهيم مكية نزلت بعد نوح نزولا (٧٢) ترتيباً (١٤)

ربط:-

(١) سورة رعد کښے مسئله ښکاره شوه په دلائل عقليو نقليو وحی
سره د زواجر وامثلو او تنبیهاتو سره۔ نو سورة ابراهیم کښے تنبیه د پاره د
منکرینو د مسئلے او تخویف (یره) په واقعاتو د اُمم سابقو باندې لکه قوم
نوح او قوم صالح۔ (٢) سورة رعد کښے مسئله ذکر شوه (له دعوة الحق)
سره د دلائلو عقليو نقليو نو سورة ابراهیم کښے ترغیب فی التبلیغ دے۔
(٣) سورة رعد کښے اجمال ذکر شو د واقعاتو د انبیاؑ او د قومونو د
هلاکت ٣٢ نو سورة ابراهیم کښے تفصیل د هغے دے۔ (٤) څنګه چه
سورة رعد شروع وو په ترغیب الی القران باندې نو سورة ابراهیم هم
شروع شو په ترغیب الی الکتاب باندې۔ (٥) څنګه چه سورة رعد ختم
شوے وو په ترغیب الی القران باندې نو سورة ابراهیم ئې شروع کړو په
ترغیب الی الکتاب باندې۔ (٦) سورة رعد کښے اوصاف د مومنانو ذکر
شو ٢٢ نو په سورة ابراهیم کښے د هغے د پاره زیرې دے (و ادخل الذین
امنوا ٢٣)۔ (٧) سورة رعد کښے یو مثال ذکر کړو نو سورة ابراهیم کښے

دوه مثاله ذکر کوی یو د کلمے د توحید او یو د کلمے د شرک۔ (۸) سورة رعد کښې ذکر کړه چه په دنیا مستي کوی او په دنیا خوشحالیږی ۲٦ نو سورة ابراهیم کښې وائی چه دنیا غوره کوی په دین باندې او دین نه خلق بندوی نو هغه په گمراهۍ ښکاره کښې دے (الذین یستحبون الحیوة الدنیا ۳)۔ (۱۰) سورة رعد کښې ذکر کړه چه معجزے دالله په اختیار کښې دی ۳۸ نو سورة ابراهیم کښې هم وائی چه معجزے د الله په اختیار کښې دی ۱۱۔ (۱۱) سورة رعد کښې وئیلي وو (توکلتُ) پیغمبر وائی ما توکل کړے دے په الله باندې ۳۰۔ نو سورة ابراهیم کښې وائی چه تاسو هم په الله باندے خان وسپارے ۱۲۔ (۱۲) سورة رعد کښې ذکر کړې وو چه غیرالله ته چغے وهي نو گمراه دے ۔١٤ نو سورة ابراهیم کښې وائی چه عمل ئې په شان د ایرو دے او په گمراهۍ لرے کښې دے ۱۸۔ (۱۳) سورة رعد کښې سلام د فرشتو ذکر شو په جنتیانو نو سورةابراهیم کښې سلام د الله او د فرشتو ذکر کوی په جنتیانو۔ (١٤) سورة رعد کښې ذکر کړه چه نمر او سپوږمی د الله تابعداردی نو سورة ابراهیم کښې په هغے ترقی ده چه دائبین همېشه تابعدار دی ۳۳۔ (۱۵) سورة رعد کښې ۳ ایت کښې دلیل ذکر کړے وو نو سورة ابراهیم کښې په هغے تفصیل کوی ۳۲۔

خلاصه د سورة ابراهیم:۔

سورت کښې ترغیب فی التبلیغ او تذکیر بایّام الله او یره منکرینو ته او څلور څله لفظ د الم ذکر کوی۔ اول الم نه بعد جدال المشرکین مع الانبیاء دویم الم نه بعد جدال المشرکین فیما بینهم۔ جگړه د مشرکینو په خپل مینځ کښې۔ دریم الم نه بعد الامثلة للفریقین امثله د فریقینو یو مثال

د موحد او د کلمې د توحید (الم ترکیف ضرب الله مثلا)۔ دویم مثا
مشرک او د کلمې د شرک (مثل کلمة خبيثة)۔ څلورم الم نه بعد زج
تخویف او دلیل نقلی د ابراهیم۔

امتیازات د سورة ابراهیم:۔

(۱) سورت ممتاز دے په کیخودلو د لاسونو د کفارو په خلو د انې
باندې(فرد وا ایدیهم ۹)۔ (۲) سورت ممتاز دے په مثال د عمل
مشرک باندې چه ددوی مثال په شان د ایرو دے۔(کر ما الشتدت ۱۸
(۳) سورت ممتاز دے په تفصیلی جګړه د شیطان د خپلو مریدانو سر
(وقال الشیطن لما قضی الامر) (٤) سورت ممتاز دے په هغه دوو مثالو
باندې یو مثال د مواحد او د توحید دویم مثال د مشرک او د شرک
هغه۔ (۵) سورت ممتاز دے په قول ثابت چه قران دے په دنیا او اخر
کښې (باالقول الثابت فی الحیوة الدنیا)۔ (٦) سورت ممتاز دے
پرېخودلو د خپل اولاد په خوشي بیابان کښې ۳۷۔ (۷) سورت ممتاز د
په دعا د ابراهیمؑ باندې په شکر ایستلو د خپل اولاد (الحمدلله الذی و هـ
لی۴۰)۔ (۸) سورت ممتاز دے په هغه لوئي مکر باندې چه د هغې
غرونه جرقیدل (و ان کان مکرهم ٤٦)۔ (۹) سورت ممتاز دے په څو
څله لفظ الم باندې۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په دلیل نقلی سره د ابراهیم
نه تفصیلاً۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په هغه لباس د جهنمیانو باند
(سرابیلهم من قطران۵۰)۔ (۱۲) سورت ممتاز دې په شکر ایستلو
نعمتونو باندې چه چا شکر اوویستو نو زه به ورته نعمتونه زیات کړم۔ (ا
لئن شکرتم لا زیدنکم)۔

....

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة حجر مكية نزلت بعد يوسف نزولا (٥٤) ترتيبا (١٥)

ربط:-

(١) سورة ابراهيم شروع شوے وو په تعريف د كتاب باندې يا په ترغيب الى القران باندې نو سورة حجر هم شروع شو په ترغيب الى القران باندې- (٢) سورة ابراهيم ختم شوے وو په ترغيب الى القران نو سورة حجر شروع شو په ترغيب الى القران- (٣) سورة ابراهيم كښې تذكير بايام الله او ترغيب فى التبليغ ذكر شو نو حجر كښې تخويف او زجر منكرينو ته يعنى تفصيل د ايام الله كوى- (٤) سورة ابراهيم كښې انكار د مجرمانو ذكر كړهٔ ٤٩- نو سورة حجر كښې عذاب د مجرمانو ذكر كوى ٥٨- (٥) سورة ابراهيم كښې مسئله ذكر شوه نو سورة حجر كښې په هغے دلا ئل- (٦) سورة ابراهيم شروع وو په ذوات الراء نو سورة حجر هم شروع شو په ذوات الراء- (٧) سورة ابراهيم كښې جګړه د شيطان ذكر شوه د مريدانو سره په قيامت كښې ٧٢- (وقال الشيطن لما) نو سورة حجر كښې انكار ذكر كوى د شيطان د الله د حكم نه ٣١- (٨) سورة ابراهيم كښې حال د ابراهيمؑ ذكر كړه نو سورة حجر كښې د مېلمنو د ابراهيمؑ بيان كوى (و نبئهم عن ضيف ابراهيم)- (٩) سورة ابراهيم كښې حال د كفارو ذكر كړو چه مكرونه ئې كړى وو (وان كان مكرهم ٤٦) نو سورة حجر كښې وائى چه كافى يم زه تا لره چه دوى كوم مكرونه كوى (انا كفيناك المستهزئين)- (١٠) د سورة ابراهيم اختتام په مسئلے د توحيد ....

اوشو ۵۲ نو د سورة حجر اختتام په رد د شرک او په مسئلے د تر
کوی ترقی شوه په ماسبقه۔ (۱۱) د سورة ابراهیم اختتام په مسئ
توحید اوشو ۵۲۔ نو سورة حجر کښے منزل د مبلغ ذکر کوی چه جنن
ورته ورکوم ۴۵۔ (۱۲) سورة ابراهیم کښے مثال د کفارو ذکر کړه چه ن
نې تباه دے (اعمالهم کرماد ۱۸) نو سورة حجر کښے افسوس د کف
ذکرکوی په قیامت کښے (ربما یود ۲)۔ (۱۳) سورة ابراهیم کښے ول
وو چه په جنتیانو به سلام وی ۲۳ نو سورة حجر کښے ترقی چه سلا
امن دواړه به وی۔ (۱۴) سورة ابراهیم کښے بیان د اممو سابقینو او
(وضربنالکم الامثال ۴۵) نو سورة حجر کښے هغه کسان ذکرکوی
هغوی د الله سره مددګاران نیولی وو (ویجعلون مع الله ۹۶)۔ (۱۵) سو
ابراهیم کښے اوے چه دا قران سرے د تیارو نه رااوباسی ۲ نو سو
حجر کښے وائی چه تیارو نه خلق څکه رااوباسی چه ما محفوظ کړے د
(انا نحن نزلنا الذکر) ۹۔ (۱۶) سورة ابراهیم کښے مکر ذکر کړه نو سو
حجر کښے وائی چه پس د مکر او تدبیر نه مِ هلاک کړل۔

خلاصه د سورة حجر:-

سورت کښے انذار د پاره د مجر مینو ذکرکوی په واقعاتو د سابقینو بالله
او سورت درې حصے دے۔ اولهحصه د اول نه تر ۱۵ پورے پدې کښ
زجر منکرینود قران او رسالت ته۔ دویمه حصه د ۱۶ نه تر ۲۷ پورے پد
کښے ادله عقلیه په توحید باندې۔ دریمه حصه تر اخره پورے پدې کښ
بیان د اقوامِ مهلکو او تخویف د پاره د مجرِ مینو۔

امتیازات د سورة حجر:-

(۱) سورت ممتاز دے په بیان د مقتسمینو باندې ۹۰- (۲) سورت ممتاز دے په بیان د سبع مثانی باندې (سبعا من المثانی)- (۳) سورت ممتاز دے په بیان ددے چه عبادت به کوے تر مرګه پورے (واعبد ربک)- (٤) سورت ممتاز دے په واقعے د مستهزئینو باندې (اناکفینك المستهزئین) ۹۵- (۵) سورت ممتاز دے په نمونو د عذاب د سابقینو باندې- (٦) سورت ممتاز دے په حفاظت د قران باندې- (انا نحن نزلنا الذکر و انا له لحافظون) ۹- (۷) سورت ممتاز دے په هغه الفاظو د ابراهیم علیه السلام چه په خلهٔ ئې وئیلی وو (انا منکم وجلون)-

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة نحل مکیة نزلت بعد الکهف نزولا (۷۰) ترتیباً ۱٦

ربط:-

(۱) سورة حجر کښې نزول د عذاب وو په امم سابقینو باندې نو د سورة نحل کښې وائی چه په تاسو هم عذاب راځی (اتٰی امرالله ۱)- (۲) د سورة حجر اختتام وو باالتوحید نو سورة نحل کښې وائی چه دا مسئله اومنئ ګنی نو عذاب به دربانذې راولم- (۳) سورة حجر کښې ترغیب وو قران ته نو سورة نحل کښې هم ترغیب الی الکتاب دے- (٤) سورة حجر شروع شوے وو په تعریف الی الکتاب نو سورة نحل هم شروع شو په تعریف الی الکتاب باندې- (۵) سورة حجرکښې وئیلی وو چه (فاصدع

بما تؤمر ٩٤) نو سورة نحل کښې وائي چه تا ترې بائيكاټ اوكړه
مصيبتونه به راځي نو په هغې به صبر کوې۔ (٦) سورة حجر کښې اوو
چه ستا سينه تنګيږي په اعتراضونو نو سورة نحل کښې وائي چه (وا
ولا تحزن) مه تنګيږه صبر کوه۔ (٧) سورة حجر اختتام شوې په مس
د توحيد باندې نو سورة نحل کښې په هغې ادله عقليه نقليه ذکر کو
(٨) د سورة حجر کښې حال د تباهئ د کفارو ذکر کړه نو سورة نحل کښ
حال او مثال د اعمالو د کفارو ذکر کوی ٩٢۔ (٩) سورة حجر کښې
ابراهيمؑ بيان اوکړه چه يواځې مهدان کښې ولاړ دے او بيان کوی۔ نو سو
نحل کښې وائي چه يواځې دے خو الله ورته ډله وائي (ان ابراهيم كان ا
١٢٠)۔ (١٠) سورة حجر کښې حال د کفارو ذکر کړو د تباهي په ډ
کښې نو سورة نحل کښې علت د تباهئ ذکر کوی ٢٧۔ (١١) سورة حج
کښې ونيليوو (ادخلوها بسلم امنين ٤٦)۔ نو سورة نحل کښې ترقي ده چ
فرشتے به ورته سلام وائي ٣٢۔ (١٢) سورة حجر کښې ونيلي وو (وجعل
لكم فيها معايش٢٠) چه تاسو لره مو ژوند درکړو او رزق نو سورة نح
کښې وائي چه پدې رزق او ژوند ما بعض غوره کړی دی په بعض ٧١
(١٣) سورة حجر کښې وئيلي وو چه مشرکان د الله سره بل مددګار راما
کوی ٩٦ نو سورة نحل کښې وائي چه مددګار بل نشته مددګار يو دے
٢١۔ (١٤) سورة حجر کښې اوونيل چه خلق د غرونو نه خان ته کورو
جوړوی (و تنحتون من الجبال) نو سورة نحل کښې ذکر کوی چه مچيا
غرونو نه خان ته کورونه جوړوی (ان اتخذی من الجبال ٦٨)۔ (١٥) سو
حجر کښې بيان د ابراهيمؑ اوکړه نو سورة نحل کښې وائي چه (ان اتبع م
ابراهيم حنيفاً ١٢٣)۔

خلاصه د سورة نحل:-

سورت کښې رد د شرک دے مطلقا یعنی فعلي او اعتقادي۔ او اثبات د توحید دے په ادله عقلیو نقلیو او وحیو سره۔ سورت شپږ بابه دے۔ اول باب د اول نه تر ۲۲ پورے پدې کښې صرف دلائل عقلیه ذکر کوی اول مسئله بیا دلائل عقلیه۔ یا اول او اخر مسئله او په مینځ کښې دلائل۔ دویم باب د ۳۵ پورے پدې کښې زواجر او بشارات ذکر کوی۔ دریم باب ٤۷ پورے پدې کښې دلیل وحی اور دلیل نقلی اجماعي ذکر کوی په اثبات د توحید۔ څلورم باب تر ٦۵ پورے پدې کښې ذکر کوی چه ټول خما تابع دی۔ پنځم باب تر ۸۳ پورے په دې کښې دا ذکر کوی چه نعمتونه ټول د الله د طرفه دی۔ شپږم باب تر اخره پورے پدې کښې تخویف او مختلف حالات ذکرکوی د قیامت۔

امتیازات د سورة نحل:-

(۱) سورت ممتاز دے په کثرت د ادله عقلیو متنوعو باندې۔ (۲) سورت ممتاز دے په بیان د مچۍ باندې۔ (۳) سورت ممتاز دے چه چا ایمان او عمل صالح اوکړهٔ نو حیات طیبه به ورله ورکوم۔ (٤) سورت ممتاز دے چه ابراهیمؑ ته الله ټولګې ونیلے دے۔ (۵) سورت ممتاز دے په بیان د هغه بې وقوفے ښځے باندې چه سحار (صبائی) به ئې کار اوکړو نو مابنام به ئې خراب کړو۔ (لاتکونوا کاالتی)۔ (٦) سورت ممتاز دے په بیان د هغه مثالینو باندې چه معبود باطل معبود برحق دے۔ (۷) سورت ممتاز دے په هغه زېرى دجینی باندې۔ (۸) سورت ممتاز دے په کثرت د نعمتونو باندې۔ (۹) سورت ممتاز دے پدې چه تاسو ئې رامدد کوئ دالله

نه بغير نو(اموات غير احياء)۔ مړي دي او ژوندي نه دي۔ (۱۰) سور
ممتاز دے په شفا د کبين باندې۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په هغه ا
ٰیت باندې چه په هغے کښے درې اوامر او درې نواهي دي۔ (ان
يامربالعدل والاحسان و ايتاء ذی القربی و ينهی عن الفحشاء)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة بني اسرائيل مكية نزلت بعد القصص نزولا (۵۰) ترتيبا (۱۷

ربط:۔

(۱) سورة نحل شروع شوے وو په راتلو د عذاب او په تخويفا
باندے بيا په مسئلے د توحيد سره۔ نو سورة بني اسرائيل عکس د هغ
دے اول کښے مسئله د توحيد بيا راتلل د عذاب او تخويف۔ (۲) سور
نحل کښے ذکرکړه چه د الله عذاب راځي په مجرمينو باندې (اتی امرالله
۱) نو سورة بني اسرائيل کښے هغه اسباب د عذاب او نمونے د مجرمين
ذکر کوی۔ (۳) سورة نحل کښے بيان د عذاب دُنياوی وو ۸۸ نو سورة بني
اسرائيل کښے بيان د عذاب اخروی دے ۹۷۔ (٤) سورة نحل کښے ذکر
کړه چه په سبب د مطالبے د مشرکينو عذاب راغلے وو چه هغه قحط
سالي وه نو سورةبني اسرائيل کښے ذکر کوی چه په سبب د مطالبے د
مشرکينو په معجزاتو سره عذاب راغلے وو۔ (۵) سورة نحل ئې ختم کړ
په زيري باندې نو دَ سورة بني اسرائيل اختتام هم په زيري کوی۔ (۶)
سورة نحل کښے بيان د اصحب السبت وو اجمالاً ۱۲٤ نوپه سورة بني
اسرائيل کښے دَ اصحب السبت بيان او د بني اسرائيلو د شريعت ذکر

کوی۔ (۷) سورة نحل کښې اثبات د توحید وو په ادله عقلیو متنوعو سره نو سورة بنی اسرائیل کښې وائی چه تا توحید بیان کړه نو راشه اوس دربانديې سیل کوم واقعه د معراج۔ (۸) سورة نحل په اخر کښې ذکر کړه چه (واصبر) کلک شه یعنی تسلی نبیؑ ته نو سورة بنی اسرائیل کښې وائی چه صبر د اوکړو نو سیل دربانډِ کوم۔ (۹) سورة نحل کښې اووے (جعل لکم السمع ۸۷) چه اسباب د فهم م درکړی دی دا استعمالوه۔ نو د سورة بنی اسرائیل ایت ۳۶ کښې وائی چه د هغے اسبابو به تپوس کیږی (ان السمع والبصر)۔ (۱۰) سورة نحل کښې په مسئله د توحید بانديې ادله متنوعه ذکر شو نو سورة بنی اسرائیل کښې وائی چه د الله حمد اووایه۔ (و قل الحمد لله ۱۱۱)۔ (۱۱) په سورة نحل کښې ذکر کړهٔ (ادع الی سبیل ربک بالحکمة ۱۲۵) نو سورة بنی اسرائیل کښې وائی چه دعوت څکه ددے کتاب خلقو له ورکوه چه دے کښې هدایت دے ۹۔ (۱۲) نحل کښې اووے چه الله رامدد کړئ څکه چه یو دے ۲۲ نو سورة بنی اسرائیل کښې وائی چه ته کله یو الله رامدد کوئ نو خلق به نفرت کوی۔ (و اذا ذکرت ربک فی القران وحده ولو علی ادبارهم نفورا)۔

خلاصه د سورة بنی اسرائیل:-

سورت کښې دَ عذاب د راتلود پاره څلور اسباب ذکر کوی۔ اول سبب شرک مستمره۔ چه همېشه شرک څوک کوی په هغه د الله عذاب راځی پدې واقعه د قوم نوحؑ ذکر کوی۔ دویم سبب د عذاب هتک د شعائرالله یعنی بې عزتی د عزتمندو خایونو د الله۔ نو پدې واقعه د قوم صالحؑ ذکر کوی چه هغوی د هغه معجزے بې عزتی اوکړه نو الله پرې

....

عذاب راوستو۔ دریم سبب د عذاب انبیاء او حق پرست شرل د ملک
پدې واقعه او حالت د مکې والو پېش کوی۔ چه هغوی نبیؐ اوشړه نو
پرې عذاب راوستو۔ څلورم سبب د عذاب استهزاء په انبیاؤ او ...
پرستو پورې کول۔ پدې واقعه د فرعون ذکرکوی چه هغه په موسیٰ
پورې تو قے او استهزاء کوله نو الله تباه برباد کړو۔ او په مینځ د سورت
کښې امور مصلحه د پاره د دفعې د عذاب ذکر کوی ۲۵۔

امتیازات د سورة بني اسرائیل:-

(۱) سورت ممتاز دے په واقعې د معراج باندې۔ (۲) سورت ممتاز
دے په بیان د تهجدو باندې۔ (۳) سورت ممتاز دے په بیان د لګولو د
عملنا مې په خټ پورې ۱۳ (طائره فی عنقه)۔ (٤) سورت ممتاز دے په
جمع کولو د انسانانو او پیریانو د پاره د راوړلو د یو سورت (قل لئن
اجتمعت ۸۸)۔ (۵) سورت ممتاز دے په بیان د هغه څلورو امورو باندې
چه مرتکب د هغې مستحق د عذاب ګرځي۔ (٦) سورت ممتاز دے په
هغه اخری ایت باندې چه په هغې کښې رد په مشرکانو، په مجوسو او په
یهودو باندې دے په یو ایت کښې، (الحمدلله الذی)۔ (۷) سورت ممتاز
دے په بیان د فضول مال خرچ کولو باندې۔ (۸) سورت ممتاز دے په
پنځویشت اوامرو او نواهیو باندې۔ (۹) سورت ممتاز دے په حاضرېدو د
فرشتو په وخت د صبا کښې قران ته (ان قران الفجر کان مشهودا)۔ (۱۰)
سورت ممتازدے په اکرام د انسانانو باندې چه ما عزتمندی ورکړېده
انسان ته(ولقد کرمنا بني ادم) ۷۰۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په هغه دریو
اجزاؤ د عبادت باندې په یو ایت کښې (اولئک الذین یدعون یبتغون
۵۷)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة كهف مكية نزلت بعد الغاشيته نزولاً ٦٩ ترتيباً (١٨)

ربط:-

(۱) هر كله چه په سورة بنی اسرائیل کښې پاکي د الله بیان شوه چه (سبحان الذی اسریٰ بعبده) نو سورة کهف کښې وائی چه د شریکانو نه پاک دے نو د الله حمد اووایه۔ (الحمدلله الذی۱)۔ (۲) سورة بنی اسرائیل ئې ختم کړے وو په رد د شرک نوکهف کښې زجر ورکوی مشرکانو ته (و ینذرالذین قالوا تخذالله ولدا)۔ (۳) سورة بنی اسرائیل کښې اووئیل چه چا ته عملنامه په ښی لاس ملاؤ شی نو دے به خپله عملنامه لولی ۷۱ (فاولئک یقرء ون کتٰبهم) نو سورة کهف کښې وائی چه دے به خپله عملنامه کښې هر شي حاضر مومی که وړه گناه ده که لویه او که نیکی ده ۴۹۔ (ووجدوا ما عملوا حاضرا)۔ (٤) سورة بنی اسرائیل کښې اووئیل چه د کفارو په زړونو مِ مهرونه لگولی دی قران نه اوری ۴٦ (و جعلنا علی قلوبهم اکنه) نو سورة کهف کښې په هغے ترقی ده (انا جعلنا علی قلوبهم اکنة ۵۷)۔ (۵) سورة بنی اسرائیل کښې بیان د آدمؑ او د شیطان اوکړو او انکار د شیطان ئې ذکر کړۀ ٦۱ نو سورة کهف کښې جنس د شیطان ذکر کوی (کان من الجن ۵۰)۔ (۷) سورة بنی اسرائیل کښې معجزات د موسیٰؑ اجمالاً ذکر کړه او تباهی دِ فرعون ئې ذکر کړه ۱۰۱ نو سورة کهف کښې تفصیل د واقعے د موسیٰؑ کوی ٦۰۔ (۸) سورة بنی

....

اسرائیل کښې وئیلي وو ما تاسو ته دنیا کښې ډېر مال او اولاد درکړے دے
۶ نو سورة کهف کښې وائی چه اعتماد به وربانديږ نه کوی ٤٦ څکه چه
(المال والبنون)۔ (۹) سورة بنی اسرائیل کښې اووئیل (و لقد صرفنا في
هذا القران ٤١) قران کښې ما بیان کړے دے چه ددے نه پندواخلي نو
دوی نفرت کوی نو سورة کهف کښې په هغے ترقي چه نفرت لا څه کوي
اکثر خلق به بیان د قران کښې جګړے کوی (وکان الانسان ٥٤)۔ (۱۰)
سورة بنی اسرائیل کښې شرل د انبیاؤ او د حق پرستو ذکرکړل چه هغوی
شرلي وو ۷٦ نو سورة کهف کښې وائی چه شړه ئې مه دوی سره خان صبر
کړه او دوستي ورسره اوکړه ۲۸۔ (۱۱) سورة بنی اسرائیل کښې اووئیل
چه تاسو ما په مالونو او بچو مضبوط کړي ئې ٦ نو سورة کهف کښې
وائی چه چا په مالونو او اولاد باندې فخریه اوکړه نو الله به ئې تباه کړی
لکه باغ والو چه فخر اوکړه نو الله تباه کړه ۳٤ (انا اکثر منك مالا و ولدا)۔

خلاصه د سورة کهف:-

سورت کښې بیان د دوو مسئلو دے یو نفی د شرک فی العلم بل
سپکاوے د دنیا۔ اوله مسئله چه نفی د شرک فی العلم ده پدې څلور
واقعې ذکر کوی اوله واقعه د اصحاب کهف چه ۳۰۹ کاله ئې په غار کښې
تېر کړل او دا پته ورته نه وه چه مونږ څو مره وخت تېر کړے دے پدې غار
کښې چه (لبثنا یوما او بعض یوم) او قران وائی (ولبثوا فی کهفهم ثلث
مائة) دویمه واقعه ذکرکوی د نبیؑ چه پیغمبر د صبا په حال پوهـ نه شو (ولا
تقولن لشئی انی فاعل ذالک غدا) دریمه واقعه چه موسیٰؑ ژوندې پیغمبر

....

دے او په ظاهر کارونو د حضرت خضرؑ باندې نه پوهیږی او حضرت خضرؑ وائی (وما فعلته عن امری)۔ څلورمه واقعه د ذوالقرنین ذکر کوی چه د ټولې دنیا بادشاه دے د قوم په ژبه نه پوهیږی د ترجمان په ذریعه ورسره خبرے کوی۔ (لایکادون یفقهون قولا)۔ اولې مسئلے حل راواوباسئ په پنځه وجوهو سره (قل الله اعلم بما لبثوا له غیب السموات والارض ۲۶) ۔ دویمه مسئله سپکاوے د دنیا په د دریو وجوهو سره (۱) دا دنیا به درنه واخستے شی لکه څنګه چه د باغ والو نه باغ واخستے شو (۲) ددے دنیا وخت ډیر لږ دے (۳) دا دنیا به تا باندې وبال شی یعنی ددے دنیا به تا نه تپوس کیږی۔ (ووضع الکتاب فتری المجرمین)۔

امتیازات سورة کهف:-

(۱) سورت ممتاز دے په نفی د شرک فی العلم باندې مفصل۔ (۲) سورت ممتاز دے په واقعے د اصحاب کهفو باندې۔ (۳) سورت ممتاز دے په واقعے د حضرت خضرؑ باندې۔ (٤) سورت ممتاز دے په واقعے د ذوالقرنین باندې۔ (۵) سورت ممتاز دے په واقعے د هغه باغ والو چه فخر ئې کړے وؤ په مال باندې۔ (٦) سورت ممتاز دے په سپکاوی د دنیا په هغه دریو وجوهاتو باندې۔ (۷) سورت ممتاز دے په بیان د هغه جوړولو د دېوال باندې (ان ینقض فاقامه)۔ (۸) سورت ممتاز دے په بیان د هغه ماتولو د کشتئ باندې ۷۱ (فانطلقا حتی)۔ (۹) سورت ممتاز دے په بیان د وژلو د هغه زلمی باندې ۷٤ (فقتله)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په لس خله لفظ احد باندې۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په طلب کولو د طعام د هغه کلی

....

والو نه (استطعما اهلها)۔ (۱۲) سورت ممتاز دے په جوړولو د قبرستان په اصحابکهفو باندې ۲۱ (لنتخذن عليهم مسجدا)۔ (۱۳) سورت ممتاز دے په سپي د اصحاب کهفو باندې۔ (و کلبهم باسط) ۔ (۱٤) سورت ممتاز دے په غار د اصحاب کهفو باندې (فاوٗ الى الكهف)۔ (۱۵) سورت ممتاز دے په بيان د هغه بند باندې چه ذوالقرنين جوړ کړے وو۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة مريم مكية نزلت بعد فاطر نزولاً (٤٤) ترتيباً (۱۹)

ربط:۔

(۱) سورة کهف کښې نفی د علم غيب اوشوه د هغه چوڼ شوو مخلوقاتو نه چه عالم په هر څه يو الله دے۔ نو سورة مريم کښې عجز د چوڼ شوو مخلوقاتو ذکرکوی۔ (۲) سورة کهف ختم شوے وو په توحيد باندې نو سورة مريم کښې د غه دعوىٰ د توحيد مضبوطولو د پاره واقعات د انبياؤ ذکر کوی۔ (۳) سورة کهف کښې اوونيل څه (انهم فتية ۱۳) چه ما اصحاب کهف مضبوط کړل نو سورة مريم کښې په هغے ترقی چه يواځې اصحاب کهف نه هر هغه څوک چه طلب د هدايت کوی نو زهٔ ئې مضبوطوم۔ (٤)سورة کهف کښې اوونيل چه (اتخذالله ولدا ٤) الله نائبان نيولی دی نو سورة مريم کښې د الله نوم بدلوی په رحمٰن چه مهربان بادشاه نائبان نيولی دی۔ (اتخذالرحمٰن والدا ۸۸)۔ (۵) سورة کهف کښې اوونيل چه (مالهم به من علم ۵) دوی سره په غيرالله رامدد کولو هيڅ دليل نشته نو سورة مريم کښې وائی چه دليل خو لا پريږده قريبه ده چه

اسمانونه راپورته کړي او ز مکه وچوي د وجه د بابا را مدد کولو نه ۹۰۔ (٦) سورة کهف کښې حال د هغه باغ والو ذکر کړۀ چه هلته به هم الله ما غوره کوی او مال به راکوی (ولئن رددت الى ربى ٣٦) نو سورة مريم کښې په هغې ترقي چه يواځې باغ والا نه هر کافر دا تمنا کوی (افرء يت الذى ٧٧)۔ (٨) سورة کهف کښې اووئيل چه اصحاب کهف جدا شول د مشركانو نه ١٦ نو سورة مريم کښې وائى چه اصحاب کهف يواځې نه وو جدا شوى ابراهيمؑ هم جدا شوے وو د خپل پلار نه (فلما اعتزلهم وما يعبدون ٤٨)۔ (٩) سورة کهف کښې بيان د موسیٰؑ ذکر کړے وو تفصيلاً نو سورة مريم کښې اجمال د واقعے د موسیٰؑ ذکر کوی۔ (١٠) سورة کهف کښې وئيلى وو (المال والبنون زينته الحيوة الدنيا) او باقى صرف نيک اعمال باتې کيږی ٤٦ نو سورة مريم کښې هم دغه مضمون ذکر کوی بالترقى ٧٦۔ (١١) کهف په اخر کښې دعویٰ د توحيد ذکر کړۀ نو د سورة مريم په اخر کښې هلاکت د هغه چا ذکر کوی چه هغوی خلاف ددے مسئلے د توحيد کړے دے۔ (١٢) د سورة کهف په اول کښې وئيلى وو چه کتاب مې راليږلے دے نو سورة مريم کښې وائى چه قران مې راليږلے دے پلې خلق اويروه او زيرے هم ورکړه ٩ (لتبشربه المتقين و تنذر به قوما لدا)۔

خلاصه د سورة مريم:۔

سورت دوه حصے دے اوله حصه کښې ٦٣ ايتونه دى او پلې کښې عجز د انبياؤ او د حضرت مريم ذکر کوی۔ دويمه حصه ٦٤ نه تر اخره پورے پلې کښې عجز د فرشتو۔ زجر او تخويف ورکوی۔ او سورت

....

کښې عجز د هغه چوڼ شور مخلوقاتو ذکر کوی۔ خلاصه د سورت راوباسی ٦٥ کښې (فاعبده واصطبر لعبادته) عبادت د الله کوه او کلک اوسه په عبادت د الله باندې۔

امتیازات د سورة مریم:-

(۱) سورت ممتاز دے په راتلو د جبرئيلؑ حضرت مریم ته (فارسلنا اليها ۱۷)۔ (۲) سورت ممتاز دے په اشاره کولو د زکریاؑ خپل قوم ته یعنی په اشاره باندې بیان قوم ته۔ (۳) سورت ممتاز دے په سپینېدلو د وېښتو او په کمزور والی د هډوکو د زکریاؑ یعنی په خپلے عاجزۍ۔ (انی و هن العظم)۔ (٤) سورت ممتاز دے په خبرو کولو د عیسیٰؑ په حالت د ماشوموالی کښې (انی عبدالله)۔ (٥) سورت ممتاز دے په هغه درد د ولادت د حضرت مریم باندې۔ (٦) سورت ممتاز دے په ذکر د حضرت مریم چه (فلن اکلم الیوم انسیا۔(۷) سورت ممتاز دے په هغه درېو حالتونو کښې سلامتیا په حضرت عیسیٰؑ او په یحیٰیؑ باندې۔ (۸) سورت ممتاز دے په ذکر د حضرت ادریسؑ په دې الفاظو سره چه (ورفعنه مکاناً علیا)۔ (۹) سورت ممتاز دے په عجز د فرشتو چه هغوی وائی مونږ ښکته قدم نه شو کېخودے مګر په حکم د الله۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په نفی د شرک فی التصرف تفصیلاً چه د هغه چوڼ شوو مخلوقاتو په لاس کښې هیڅ اختیار نشته۔ (۱۱) سورت ممتاز دے پدې الفاظو چه (هو علی هین) په دوه ځله سره۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة طٰهٰ مكية نزلت بعد مريم نزولا (٤٥) ترتيباً (٢٠)

ربط:-

(۱) سورة کهف کښې نفی د علم غیب اوشوه د انبیاؤ نه نو سورة مریم کښې نفی د شرک فی التصرف اوشوه نو په سورة طٰهٰ کښې تشجیع یعنې بهادری ورکوی په تبلیغ د مسئلے باندې- (۲) سورة مریم کښې عجز د انبیاؤ ذکر شو نو سورة طٰهٰ کښې وائی چه تش عاجز نه دی بلکې تکلیفونه پرې راغلے وو نو د ځان نه ئې تکلیف هم نه شو لرے کولی- (۳) سورة مریم کښې ذکر کړه چه موسیٰ ته م اواز کړے وو د طرفه د کوه طور نه ۵۲ نو سورة طٰهٰ کښې وائی چه بنی اسرائیلو نه م وعده اخستے وه په کوه طور کښې- (٤) سورة مریم کښې ذکر کړه چه زېرے او یره په قران باندې ورکړه ۹۷ (فانما یسر نه بلسانک) نو سورة طٰهٰ کښې وائی چه زېرے ځکه ورکړه چه دا د وعظ کتاب دے (الا تذکرة لمن یخش ۳)- (۵) سورة مریم کښې ذکر کړل چه ډېر مې هلاک کړی نو ته څه کشار د خپے اور ے ۹۸ نو سورة طٰهٰ کښې وائی چه کشار خو لا پرېږده بلکې کش د سینے به نه اوری- (فلا تسمع الا همسا)- (٦) سورة مریم کښې ذکر کړه چه موسیٰ مخلص پېغمبر دے- (مخلصا وکان رسولا نبیا) نو سورة طٰهٰ کښې وائی چه مخلص شو نو الله وائی چه غوره مې کړه د پاره ددے مسئلے (و انا اخترتک ۱۳)- (۷) سورة مریم کښې وئیلی وو چه شفاعت به نه کیږی نګر مو حدینو د پاره ۷۸ نو طٰهٰ کښې وائی چه فائده مند د شفاعت به هغه

....

خوک وی چه الله ترې راضي وی۔ (ورضی له قولا)۔ (۸) سورة مریم
کښې وئیلی وو چه نېک عملونه غوره دی هغه به پاتې کیږی ۷۶ نو سورة
طٰهٰ کښې وائی چه چا نېک عمل اوکړو د هغوی د پاره اوچتې درجې دی
(لهم الدرجات العلی ۷۵)۔ (۹) سورة مریم کښې ذکر کړه چه مجرمان به
جهنم ته تږی روان شی (و نسوق المجرمین ۸۶) نو سورة طٰهٰ کښې وائی
چه مجرمان به پورته کړو مونږ په قیامت کښې خړ سترګی او هم تږی
۱۰۲۔ (۱۰) سورة کریم کښې وئیلی وو چه د الله په عبادت کلک شه ۶۵
نو سورة طٰهٰ کښې په هغې ترقی چه یواځې ته نه بلکې خپل اهل هم خان
سره کلک کړه د الله په عبادت باندې (وامر اهلک ۱۳۲)۔ (۱۱) سورة
مریم کښې وئیلی وو چه اسماعیلؑ به خپل اهل ته حکم کوو په صلوة
(نمونځ) او زکوٰة سره ۵۵ نو سورة طٰهٰ کښې پیغمبر ته الله وائی چه ته هم
حکم کوه ۱۳۲۔ (۱۲) سورة مریم کښې بیان د هغه قومونو کړیوو چه الله
هلاک کړل ۹۷ نو سورة طٰهٰ کښې هم هلاکت د هغه چا ذکر کوی چه چا
خلاف کړے دے ۱۲۸۔

خلاصه د سورة طٰهٰ:-

سورت کښې دوه مسئلې ذکر کوی (۱) ابتلوا باالمصائب (۲)
تشجیع فی التبلیغ۔ پدې باندې درې واقعات ذکر کوی۔ (۱) موسٰیؑ (۲)
ساحرین (۳) آدمؑ چه هغوی تکلیفونه برداشت کړل۔

امتیازات د سورة طٰهٰ:-

(۱) سورت ممتاز دے په ذکر د طٰهٰ سره۔ (۲) سورت ممتاز دے په

وحي باندې په هغه وادی مقدسه کښې موسیٰ ته۔ انني انا الله۔ (۳) سورت ممتاز دے په هغه دعا د موسیٰؑ باندې خپل خاته او خپل وررو ته په هغه اووه امرونو سره۔ (رب اشرح لی)۔ (٤) سورت ممتاز دے په هغه وخت او ځائې مقرر کولو د مناظرے د موسیٰؑ کښې چه یوم الزینه دے۔ (٥) سورت ممتاز دے په سېزلو د موسیٰؑ هغه سخی لره۔ (٦) سورت ممتاز دے په ذکر د سامری باندې چه (لامساس)۔ (۷) سورت ممتاز دے پدې باندې چه چا د الله د کتاب نه اعراض اوکړو نو ژوند به ئې تنګ کرم۔ (۸) سورت ممتاز دے پدې باندې چه چا د الله د کتاب نه اعراض اوکړو نو روند به ئې راپاسوم ۔(من اعرض من ذکری) الخ۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة الانبياء مكية نزلت بعد ابراهيم نزولا (۷۳) ترتيباً (۲۱)

ربط:-

(۱) سورة طٰهٰ کښې ذکر کړه ابتلوا باالمصائب نو سورة انبیاء کښې اکرام دانبیاؤ ذکر کوی۔ (۲) سورة کهف کښې نفی د شرک فی العلم او سورة مریم کښې نفی د شرک فی التصرف او سورة طٰهٰ کښې ابتلوا باالمصائب ذکر کړه نو سورة انبیاء کښېنفی د شرک فی الدعا کوی۔ (۳) سورة طٰهٰ کښې ابتلاء په موسیٰؑ او په ساحرینو ذکر کړه نو سورة انبیاء کښې د نورو انبیاؤ ابتلاء ذکر کوی۔ (٤)د سورة طٰهٰ په اخر کښې اوونیل (قل کل متربص) هر یوانتظار کوی د خپل انجام نود انبیاء په اول کښې

....

ذکر کوی (اقترب للناس) هغه وخت د انتظار او د حساب نژدے دے۔ (۵)
سورة طٰه کښے وئیلی وو چه چا زما د کتاب نه اعراض اوکړو نو ژوند به ئې
تنګ کړم ۱۲٤ نو سورة انبیاء کښے وائی چه اعراض خو لا پرېږده عبث
ئې ګڼی (هم یلعبون ۲)۔ (٦) طٰه کښے ذکر کړه چه موسیٰ هغه سحر
سیزلے وو ۹۷ نو سورة انبیاء کښے ذکر کوی چه ابراهیمؑ د خپل قوم هغه
بوتان مات کړی وو ۵۸۔ (۷) سورة طٰه کښے موسیٰؑ ته مشرکانو وئیلی وو
چه (فمن ربکما یٰموسی ٤۹) نو سورة انبیاء کښے د رب بیان کوی (بل
ربکم)۔ چه رب ستاسو رب د اسمانونو او د زمکو دے ٥٦۔ (۸) سورة
طٰه کښے وئیلی وو چه چا زما ذکر نه اعراض اوکړو نو ژوند به ئې تنګ
کړم ۱۲٤ نو سورة انبیاء کښے د ذکر تفصیل کوی۔ (و هذا ذکر ٥٠) ذکر نه
مردا قران دے او قران کښے الله خبر اچولے دے۔ (۹) سورة طٰه کښے ذکر
کړه چه ډېر قومونه مې تباه کړی دی ۱۲۸ نو سورة انبیاء کښے علت د
هلاکت ذکر کوی چه (کانت ظالمةً) هغه مشرکان وو ۱۱۔ (۱۱) سورة
طٰه کښے تفصیلی واقعه د موسیٰؑ او د هارونؑ ذکر کړه نو سورة انبیاء کښے
دئے دواړو بیان کوی اجمالاً بطور دلیل نقلی۔

خلاصه د سورة انبیاء:-

سورت کښے نفی د شرک فی الدعا ده او پدې باندې واقعات او
حالات د انبیاؤ ذکر کوی۔ سورت شپږ بابونه دے۔ اول باب د اول ایت نه
تر ۱۵ پورے پدې کښے صرف تخویف او مقاصد اربعه ذکر کوی۔ دوېم
باب ۲۹ پورے پدې کښے اثبات د توحید دے په ادله عقلیو سره او زجر
بالشرک۔ دریم باب ٤۷ پورے پدې کښے اثبات د توحید او د رسالت په
ادله عقلیو سره د زجر نه۔ څلورم باب ۹۵ پورے پدې کښے انعام ذکر

کوی د انبیاؤ په احوالو د انبیاؤ باندې- پنځم باب ۱۰۴ پورې پدې کښې بشارت مومنانو ته او تخویف مشرکانو ته- شپږم باب تر اخره پورې پدې کښې بشارت دنیوی د پاره د موحدینو- حاصل د سورت: (انهم کانوا یسرعون فی الخیرات و یدعوننا رغبا و رهبا و کانوا لنا خشعین)-

امتیازات د سورة انبیاء:-

(۱) سورت ممتاز دے په زیات عجز د ټولو انبیاؤ باندې- (و کانوا لنا خشعین)- (۲) سورت ممتاز دے په ذکر د رحمة للعلمین سره نبیؐ ته- (۳) سورت ممتاز دے په ماتولو د بوتانو دابراهیمؑ د خپل قوم- (فجعلهم جذاذا)- (٤) سورت ممتاز دے په برابروالی د اُور په ابراهیمؑ باندې کونی بردا- (٥) سورت ممتاز دے په بیان د هغه فیصلے د (غنم القوم) باندې (د قوم گډے خوړلے وے په هغه فصل کښې)- (٦) سورت ممتاز دے په بیان د دعا د ایوبؑ باندې- (مسنی الضرا)- (۷) سورت ممتاز دے په دعا د یونس علیه السلام باندې- (وذالنون اذا ذهب مغاضبا)- (۸) سورت ممتاز دے په هغه درې شرطونو باندې په دعا کښې- لکه په دعا د یونسؑ په یو ایت کښې-

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة حج مدنیة نزلت بعد نور نزولا (۱۰۳) ترتیباً (۲۲)

ربط:-

(۱) سورة انبیاء کښې جګړه د مشرکینو ذکر کړه په انکار د قیامت باندې نو سورة حج کښې جګړه د مشرکینو ذکر کوی په انکار د توحید

....

باندې۔ (۲) سورة انبياء کښې رد د شرک اعتقادی وو نو سورة حج کښې رد د شرک فعلي دے۔ (۳) سورة انبياء کښې احوال الانبياء او عزت د انبياء ذکر کړه نو سورة حج کښې احوال د منکرينو ذکر کوی۔ (٤) سورة انبياء کښې رد د شرک اعتقادی وو نو سورة حج کښې په هغے باندې ادله عقليه او امثله د مشرکينو ذکر کوی۔ (٥) سورة انبياء کښې بيان د قيامت وو نو سورة حج کښې يو جزو د قيامت راخلی چه چړق به راځی ۱۔ (٦) سورة انبياء کښې مسئله ذکر کړے وه (الهکم اله واحد ۱۰۸) نو سورة حج کښې هم په دغه الفاظو مسئله ذکر کوی (الهکم اله واحد ۳٤)۔ (۷) سورة انبياء اختتام ئې کړے وو په مسئلے د توحيد باندې (الهکم) نو سورة حج کښې په هغے ترقی يعنی حج ختموی په مسئلے د توحيد او په اعمال صالحو۔ (فاعبدوا ربکم، اقيموا الصلوة)۔ (۸) سورة انبياء شروع شوے وو په تخويف باندې نو د سورة حج شروع هم په تخويف باندې اوشوه (ان زلزلة الساعة ۱)۔ (۹) سورة انبياء کښې بيان د الله د کتاب شوے وو چه دے کښې ما خبر اچولے دے (وهذا ذکر مبارک) نو سورة حج کښې علامه د هغه چا ذکر کوی چه د الله د کتاب نه انکار کوی او بد پرې لګی ۷۲۔ (۱۰) سورة انبياء کښې ونيلی وو چه عذاب به راځی نو سورة حج کښې خبردارے د عذاب ذکر کوی۔ (۱۱) سورة انبياء کښې اوونيل چه ډير م هلاک کړی دی (وکم قصمنا ۱۱) نو سورة حج کښې د هغه هلاک کړے شوے قومونو ذکر کوی (قوم نوحؑ، قوم هودؑ، قوم عاد، قوم مدين)۔ (۱۲) سورة انبياء کښې ونيلی وو چه کفار مِ هلاک کړل نو حج کښې په هغے ترقی چه هغوی مِ هم تباه کړل او د دوی کورونه او کويان هم شاړ پاتې شول ٤٥۔ (۱۳) سورة انبياء کښې ونيلی وو (ولقد اتينا ابراهيم رشده)

نو سورة حج کښې وائي (ولقد بوانا)۔ خائے مقرر کړے وو بیت الله کښې۔

خلاصه د سورة حج:۔

سورت کښې رد د شرک فعلي سره دا مثلو او دلائل عقليو نه او وضاحت د هغه څلورو مسئلو کوی۔ (۱) تحريمات الله (۲) تحريمات العباد (۳) نذورالله (٤) نذورالعباد۔ دوه صحيح دی۔ تحريمات الله، نذورالله دوه غلط دی تحريمات العباد، نذورالعباد او سورت کښې اوامر دی حاجیانو صاحبانو ته۔

امتيازات د سورة حج:۔

(۱) سورت ممتاز دے په اوامرو باندې حاجیانو ته۔ (۲) سورت ممتاز دے په مثال د مچ باندې۔ (۳) سورت ممتاز دے په بیان د راتلو حج ته په هغه تازی اور تېز رفتاره اوښه باندې (علٰی کل ضامر)۔ (٤) سورت ممتاز دے په سزا ورکولو په نفس ارادے د ظلم په بیت الله کښې۔ (ومن يرد فيه بالحاد) ۔ (۵) سورت ممتاز دے په بیان د مختلفو عبادتخانو باندې لکه د یهودو د نصارىٰ د صابینو او د مسلمانانو۔ (٦) سورت ممتاز دے په بیان د حملے کولو په بیانوونکی د قران باندې ۷۲ (یکادون یسطون) الخ۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة مؤمنون مكية نزلت بعد الانبياء نزولا (٧٤) ترتيباً (٢٣)

ربط:۔

(۱) سورة حج کښې رد د شرک فعلي اوکړو نو سورة مؤمنون کښې رد د شرک اعتقادی کوی۔ (۲) سورة حج کښې او صاف المشرکین

ذکر شو نو سورة مؤمنون کښې اوصاف المومنین ذکر کوی اللہ۔ (۲
سورة حج کښې مهیب شان او سختی د قیامت ذکر شه(ان زلزلة الساع
نو سورة مؤمنون کښې هغه صفات او اعمال ذکر کوی چه د سختی
پرې نجات مومی۔ (٤) سورة حج کښې تخلي ذکر کړه یعنی خان
ناکاره صفات لرے کړه نو سورة مؤمنون کښې تحلي ذکر کوی یعنی خان
خائسته کړه په هغه ښو صفاتو باندې۔ (٥) سورة حج کښې رد د شرک
وو مکمل نو سورة مومنون کښې ادله ذکر کوی په توحید او په رد
شرک۔ (٦) مخکښې سورتونو کښې بیان د عقائدو وو نو سورة مومنون
کښې بیان د اعمالو کوی۔ (٧) سورة حج کښې ذکر کړه چه مهلت
مجرمینو ته ورکړے وو نو بیا م اونیول ٤٨ نو سورة مومنون کښې هم
وائی چه تاسو ته هم مهلت درکوم ٥٥ (٨) حج کښې زواجر ذکر کړۀ نو
سورة مومنون کښې ادله عقلیه ذکر کوی۔ (٩) سورة حج کښې ذکرکړ
چه مخ ئې وران کړے وو د الله په کتاب باندې ٧٢ نو سورة مومنون کښې
وائی چه اخرت کښې به ئې هم مخ وران وی ١٠٤۔ (١٠) سورة حج کښې
پیدائش د انسان ذکرکړے ووه نو سورة مومنون کښې په هغې ترقی ده په
پیدائش د انسان باندې ١٢۔ (١١) سورة حج کښې ذکر کړل چه خوک
غیرالله ته چغې وهی نو دوی لره مچ هم نه شی پیدا کولی ٧٣ نو سورة
مومنون کښې په هغې ترقی ده چه مچ خو لا پریږده دلیل ورسره نشته په
رامدد کولو د غیرالله باندې ١١٧۔ (١٢) سورة حج کښې مسئله د توحید
ذکر کړه چه چا مسئله د توحید بیان کړے ده نو سورة مومنون کښې وائی
چه هغه کامیاب دے (قد افلح المومنون ١)۔ (١٣) سورة حج کښې مسئله
ذکر شوه چه چا د مسئلې خلاف کړې دے نو سورة مومنون کښې وائی
....

هغه ناکامیاب دے (لا یفلح الکافرون)۔

خلاصه د سورة مومنون:۔

سورت پنځه بابونه دے۔ او اثبات د توحید دے په درې قسمه دلائلو سره عقلي، نقلي، وحي۔ او نفي د شرک اعتقادی او د شرک فعلي او صفات د موحدینو ذکر کوی او د هغوی اکرام۔

امتیازات د سورة مومنون:۔

(۱) سورت ممتاز دے په بیان ددے چه دَ مشرکانو د پاره سهوا د شرک نه نور اعمال هم دی۔ (ولهم اعمال)۔ (۲) سورت ممتاز دے په رامددکولو د غیرالله باندې دلیل نشته د مشرک سره۔ (لابرهان له به)۔ (۳) سورت ممتاز دے په نهٔ کولود خبرو د الله د مشرکانو سره چه الله به ورته وائی۔ (اخسئو فیها)۔ (٤) سورت ممتاز دے په ځائې ورکولو باندې عیسیٰ او مور د هغه ته اوچت ځائې۔ (واوینهما الی ربوة)۔ (۵) سورت ممتاز دے په بیان د هغه ونې باندې چه راالوزی د طورسینا غر نه۔ (٦) سورت ممتاز دے په هغه پخکړی د زیتون باندې (وصبغ للاکلین)۔ (۷) سورت ممتاز دے په پیدائش د انسان باندې پدې الفاظو سره چه (فکسونا العظام لحما)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة نور مدنية نزلت بعد الحشر نزولا (۱۰۲) ترتیبا (۲٤)

ربط:۔

(۱) سورة مومنون کښې تحلی ذکر کړه چه ځان مزین کړه په ښو اوصافو نو سورة نور کښې تخلي ذکر کوی چه ځان نه ناکاره اوصاف لرې

کړه۔ (۲) سورة مومنون کښې ذکر کړۀ چه مومنان هغه دی چه خپل
خانونه بچ کوی د زنا نه نو سورة نور کښې هم د هغه چاحالت ذکر کوی
چه هغه زنا کوی۔ (۳) سورة مومنون کښې ذکر کړه چه مومنان هغه دی
چه خپل ځان بچ کوی د بدی نه نو سورة نور کښې طریقه د ساتلو دې
حیائي نه ښائي (یغضوا من ابصارهم ۲۹)۔ (٤)سورة مومنون کښې ذکر
کړی وو چه (لایفلح الکفرون) کامیاب نه دی کافر نو سورة نور کښې هغه
احکام ذکر کوی چه سړی ئې په خپل ځان جاری نه کړی نو کامیاب نه
دے۔ (٥) مخکښې سورتونو کښې اعتراضات په انبیاؤ ذکر کړل نو سورة
نور کښې الزام او اعتراض په بی بی دَ نبیؑ ذکر کوی۔ (٦) سورة مومنون
کښې د نوحؑ د بی بی تباهی ذکر کړه اشارة (فاذا ستویت انت و من معک)
نو سورة نور کښې صفائی د بی بی د نبیؑ ذکر کوی۔ (۷) سورة مومنون په
اخر کښې مسئله د توحید ذکر کړه نو بیا ئې اوونیل چه(لا برهان له به)
چه مشرک غیرالله رامدد کوی خو دلیل ورسره نشته نو سورة نور کښې
د هغې مثالونه ذکر کوی چه څوک غیرالله رامدد کوی۔

خلاصه د سورة نور:-

څلور اصول او اووه آداب ذکر کوی د پاره د دفع د فحشاء۔ اول
اصل: په ظالم به رحم نه کوئ۔ (لاتاخذکم بهما رافة ۲)۔ دویم اصل: د
ناکاره خلقو سره مه یو ځانې کیږئ یا د ناکاره مجلس نه بچ شئ۔(الزانی
لاینکح الا زانیه ۳)۔ دریم اصل: چا چه نېکان خلق بدنام کړل هغوی ته
اتیا کوړې ورکړے۔ (والذین یرمون المحصنت ٤)۔ څلورم اصل: مسئله
د لعان او د هغې د پاره څلور ګواهان د ښځې د طرفه او څلور د سړی د
طرفه ٦، ۷۔ او بیا اووه اداب۔ (۱) پردی کور ته مه ځئ بې اجازته
(لاتدخلوا بیوتا ۲۷)۔ (۲) سړی به پردو ښځو ته نه ګوری ۳۰ (یغضوا من

ابصارهم)۔ (۳) ښځې به نۀ ګوري پردو سړو ته ۳۱۔ (یغضض ن من ابصارهن)۔ (٤) ښځه به خپل نمائش او زینت پردو خلقو ته نه ښکاره کوي ۳۱ (۵) بې ودونو ته ودونه اوکړئ ۳۲۔ (٦) هغه غلامان چه ستاسو نه ځان ازادول غواړي هغوی اذاد کړئ ۳۳ (والذین یبتغون الکتب)۔ (۷) په جینکو زور مکوئ دبې حیایئ (لاتکرهوا فتیتکم علی البغاء ۳۳)۔ او بیا درې مثاله پیش کوي۔

امتیازات د سورة نور:۔

(۱) سورت ممتاز دے په پاکوالې د عائشې رضی الله عنها باندې۔ (۲) سورت ممتاز دے په بیان د هغه چا چه هغوی بدنام کړل پاک خلق هغوی ته اتیا کوړې ورکړئ (فاجلدوهم ثمنین جلدة) ٤۔ (۳) سورت ممتاز دے په دې چه زنا کارو خلقو سره مه یو ځای کیږئ ۳۔ (الزانی لا ینکح)۔ (٤) سورت ممتاز دے په بیان د هغه چا چه چا زنا اوکړه هغه ته سل دُرے ورکړئ (مائة جلدة ۲)۔ (۵) سورت ممتاز دے په مسئلے د لعان باندې ۶، ۷۔ (٦) سورت ممتاز دے چه چا پاک خلق بدنام کړل د هغوی ګواهي چرے مه قبلوئ ٤۔ (لاتقبلوهم شهادة ابداً)۔(۷) سورت ممتاز دے په هغه لسو دفعاتو باندې چه چا صحابه او نېکان خلق بدنام کړل۔ (۸) سورت ممتاز دے چه پردی کور ته مۀ ځئ بې اجازته ۲۷ (لاتدخلوا)۔ (۹) سورت ممتاز دے چه پردو ښځو ته مۀ ګورئ ۳۰ (یغضوا من ابصارهم)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے چه ښځه به هم سړو ته نۀ ګوري ۳۱۔ (۱۱) سورت ممتاز دے چه ښځې به خپل زینت او نمائش نۀ ښکاره کوي بغیر د خپلو محارمو نه ۳۱ (لایبدین زینتهن)۔ (۱۲) سورت ممتاز دے چه بې ودونو ته ودونه اوکړئ ۳۲۔ (۱۳) سورت ممتاز دے هغه غلامان چه ځان آزادول غواړي هغوی ازاد کړئ ۳۳۔ (١٤) سورت ممتاز دے چه په

جينكو د بې حيايۍ زور مه كوئ (د بې حيايۍ خائې ته نے مه ليږے) ۳۳
تكرهوا) ـ (۱۵) سورت ممتاز دے په درې وختونو د پردے بانديې (الم
عورات لكم ۵۸)ـ (۱۶) سورت ممتاز دے په هغه درې مثالونو بانديې
جدا طريقې سره يو د مومن او د وه مثاله د كفارو ـ (۱۷) سورت مم
دے په هغه درې قسمه خناورو په يو ايت كښے چه په زمكه گرځي (فمنه
من يمشي ۴۵)ـ (۱۸) سورت ممتاز دے په بيان د گلي بانديې په شان
غرونو چه دا گلي الله چاته رسوى او چا نه ئې اړوى ۴۳ـ (۱۹) سور
ممتاز دے په بيان د هغه خوراک بانديې چه يو خائې خورى او كه خا
خان له خورئ ـ (ان تاكلوا جميعا او اشتاتا ۶۱)ـ (۲۰) سورت ممتاز دے
په بيان دهغه بوډيگانو زنانو بانديې كه هغوى غټ څادر پرې نو خبر دے
(والقواعد من النساء ۶۰)ـ (۲۱) سورت ممتاز دے په بيان د خپل كور نه
د دننه كېدلو په وخت د سلام اچولو ۶۱ـ (۲۲) سورة ممتاز دے په ۲۵
ضمائرو بانديے بنځو مؤمنانو ته په يو آيت كښې ۳۱ـ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة فرقان مكية نزلت بعد يٰس نزولا (۴۲) ترتيبا (۲۵)

ربط:ـ

(۱) سورة نور كښے رد د فحشاء اوكړه يعني اصلاح د معاشرے نو
سورة فرقان كښے اصلاح د عقيدې كوى ـ (۲) سورة نور كښے تخلي دا
چه خان نه ناكاره او صاف لرے كړه نو سورة فرقان كښے تحلي ذكر كوى
چه خان خائسته كړه په هغه ښو صفاتو ـ (۳) سورة نور كښے بيان د هغه
ناكاره صفتونو اوكړو نو سورة فرقان كښے انجام د هغه چا ذكر كوى چه

خان ئې د ناکاره صفتونو نه بچ کړه او ځان ئې مزین کړو په او صافو
خائسته باندې ۷۵- (٤) سورة نور کښې عمل د فحشاء رد کړه نو سورة
فرقان کښې بې حیائۍ د عقیدې رد کوی چه اعتراضات دی په نبیؑ باندې-
(۵) سورة نور کښې هغه څیزونه ذکر کړهٔ چه انسان سره ښه نهٔ ښکاری نو
سورة فرقان کښې هغه اعتراضونه ذکر کوی چه انسان سره ښه نهٔ
ښکاری- (٦) سورة نور کښې دعویٰ ذکر کړے وه په اخر کښې (ان لله ما
فی السموت والارض) نو سورة فرقان کښې په هغے ترقی ده ۲- (۷) سورة
نور کښې وئیلی وو چه کور ته دننه کیږې نو سلام اچوه ځکه پدې کښې
خیر او برکت دے ٦١ نو سورة فرقان کښې ذکر کوی چه برکت اچوونکے
الله اُومنه ځکه هغه قرانٓ رالیږلے دے او په هغے کښې خیر اچولے دے-
(۸) سورة نور کښې مثالونه د کفارو ذکر کړهٔ چه کفار تباه دی نو سورة
فرقان کښې د هغوی حال ذکر کوی په قیامت کښې ۲۷- (۹) سورة نور
کښې امثله د کفارو ذکر کړه چه عمل ئې برباد دے ۳۹، ٤٠ (اعمالهم
کسراب، لم یکدیراها) نو سورة فرقان کښې وائی چه د کفارو عمل به
اوګرځوم په شان د ګرد و غبار نو ستلی شوی باندې ۲۳- (۱۰) سورة نور
په اخر کښې اثبات د رسالت ذکر کړو (لا تجعلوا دعاء الرسول ٦۳) نو
سورة فرقان په اول کښې اعتراضات د مشرکینو په اثبات د رسالت ذکر
کوی ٤،۵،٦- (۱۱) سورة نور کښې ذکر کړهٔ چه عالم بکل شی هوالله
دے- نبیؑ ته د خپلے بی بی پته نه وه- (والله یعلم وانتم لاتعلمون ۱۹) نو
سورة فرقان کښې بل قسم د شرک رد کړی چه نفی د شرک فی البرکات
ئے- (۱۲) سورة نور کښې ذکر کړل چه چا نیکان بدنام کړل هغوی
لعنتیان دی ۲۳ نو سورة فرقان کښې ترقی ده چه یوائې لعنتیان نه دی
....

سورة نور کښې وئيلي وو چه قران
بلکې ګمراهان هم دی ۱۷ (۱۳) سورة نور کښې وئيلي وو چه قران
رالیږلے دے ۳٤ نو سورة فرقان کښے بیان د پیغمبر کوی په قیامت کښ
په هغه خلقو چه قران ئې نه دې زده کړے او نه ئې پرې عمل کړے دے
(و قال الرسول یا رب)۔ (۱٤) سورة نور کښے ذکر کړه چه زیتون ز
کښے م خیر اچولے دے ۳۵ نو سورة فرقان کښے ذکر کوی چه برک
اچوونکے زه یم څکه چه یواځې زیتون ؤنه کښے م خیر نه دے اچول
بلکې قران م رالیږلے دے نو په هغے کښے م هم خیر اچولے دے (تبارک
الذی نزل الفرقان ۱)۔

خلاصه د سورة فرقان:-

سورت کښے نفی د شرک فی البرکات او مقاصد اربعه مرارا بعن
بیا بیا اعتراضات د مشرکینو په اثبات د رسالت باندې او رد د شرک
اعتقادی اوپه اخر کښے اوصاف المومنین۔

امتیازات د سورة فرقان:-

(۱) سورت ممتاز دے په اووه خله لفظ ضلالت باندې۔ (۲) سورت
ممتاز دے په لفظ د نسبا او صهرا باندې ۱٤ ـ (۳) سورت ممتاز دے
درې خله لفظ برکت باندې۔ (٤) سورت ممتاز دے پدې الفاظو د پیغمبر
باندې (و قال الرسول یا رب)۔ (۵) سورت ممتاز دے په بیانولو د قران چ
دالولے جهاد دے۔ (جهادا کبیر ۱۲)۔ (٦) سورت ممتاز دے پدې چه
شرک اوکړه نو د هغه د عمل مثال په شان د ګرد و غبار دے نو ستل
شوے۔ (فجعلنه هباء منثورا)۔ (۷) سورت ممتاز دے په چیچلو د لاسو
د ظالمانو په قیامت کښے ۲۷ ـ (۸) سورت ممتاز دے په شپږ خله لفظ
سره په یو ایت کښے په رد د شرک ۳ (۹) سورت ممتاز دے په دعا

پخوالي د سترګو د خپل اولاد او د بي بي په دين کښې۔ (١٠) سورت ممتاز دے پدې چه ځان په هغه الله او سپاره چه په هغه باندې زوال نه راځي (وتوکل على الحى ٥٨)۔ (١١) سورت ممتاز دے په راوړلو د (فسئل به) په مابين د دوو نومونو د الله کښې چه يو رحمٰن دے بل خبير دے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة شعراء مكية نزلت بعد الواقعة نزولا (٤٧) ترتيباً (٢٦)

ربط:-

(١) سورة فرقان ني شروع کړے وو په ترغيب الى القران نو سورة شعراء ني هم شروع کړه په ترغيب الى القران۔ (٢) سورة فرقان کښې نبيﷺ ته ساحر وئيلي وو ٨ نو سورة شعراء کښې موسٰیؑ ته جادوګر وائي ٣٤۔ (٣) سورة فرقان کښې نبيﷺ ته جادوګر وئيلي وو نو سورة شعراء کښې شعيبؑ ته جادوګر وائي ٦٥۔ (٤) سورة فرقان کښې وئيلي وو چه (لا اسئلكم عليه من اجر) ٥٧ نو سورة شعراء کښې په هغے ترقي چه پنځه خله وائي (لا اسئلكم عليه من اجر)۔ (٥) سورة فرقان کښې اروه خله لفظ ضلالت ذکر کړه نو سورة شعراء کښې اووه دعاګانې د حضرت ابراهيمؑ ذکر کوي۔ (٦) سورة فرقان کښې استهزاء د مشرکينو ذکر شوه په نبيﷺ باندې نو شعراء کښې تسلي ورکوي نبيﷺ ته په اعتراضاتو د مشرکينو۔ (٧) سورة فرقان کښې اعتراضونه د مشرکينو ذکر شول نو سورة شعراء کښې تخويف ورکوي مشرکينو ته۔ (٨) سورة فرقان په اخر کښې وئيلي وو (فقد كذبتم) يعني تخويف وو نو سورة شعراء کښې د هغے مثالونه ذکر کوي په اروه واقعاتو سره۔ (٩) سورة فرقان کښې مسئله ذکر کړه ٦٨ (فلا تدعو ....

د هغه چا حالت ذکر کوی چه غیر
مع الله) نو سورة شعراء کښې
رامدد کوی چه هغه له به عذاب وی۔ (۱۰) سورة فرقان کښې نفی
شرک فی البرکات مسئله ذکر شوه نو سورة شعراء کښې نفی د شرک
فی الدعا ذکر کوی ۲۱۳۔ (۱۱) سورة فرقان کښې الله مجرمانو ته وئیل
وو چه تاسو گمراهان ئې (ء انتم اضللتم عبادی) نو سورة شعراء کښې
مجرمان خان ته پخپله وائی چه مونږ گمراهان یو ۹۷۔ (۱۲) سورة فرقان
کښې اووه خله لفظ ضلالت ذکر شو نو سورة شعراء کښې اووه واقعات
ذکر کوی د انبیاء او د هغې د قومونو چه انبیاء م خلاص کړل او د هغوی
قومونه چه گمراهان وو هغوی م تباه کړل۔ (۱۳) سورة فرقان کښې دلائل
عقلیه وو پدې چه برکت اچوونکے زه یم نو سورة شعراء کښې پدې دلائل
نقلیه ذکر کوی۔ (۱٤) سورة فرقان کښې بیان د موسیٰ اجمالاً وو ۳۵ نو
سورة شعراء کښې بیان د موسیٰ تفصیلاً کوی۔ (۱۵) سورة فرقان کښې
اعتراضونه وو د مشرکینو په رسالت نو سورة شعراء کښې مطالبه
مشرکین کوی د عذاب ۱۸۷۔ (۱٦) سورة فرقان کښې وئیلی وو چه دا قرآن
قرآن د خان نه جوړ شوے دے ٤ نو سورة شعراء کښې وائی چه دا قرآن
جبرئیل راوړے دے (نزل به الروح الامین ۱۹۳)۔ (۱۷) سورة فرقان کښې
وئیلی وو چه مالکان د نفع او ضرر نه دی ۳ نو سورة شعراء کښې په هغې
تفصیل کوی چه حضرت ابراهیم علیه السلام خپل قوم ته وئیلی وو
(او ینفعونکم او یضرون)۔

خلاصه د سورة الشعراء:۔

سورت کښې تسلی ده نبیؐ ته او دوه مسئلې ذکر کوی۔ یو نجات

المومنين دويم هلاک الجاحدين او پدې باندې اووه واقعات د انبياؤ او د مغې د قومونو ذکرکوی۔ چه انبياء م خلاص کړل او د هغوی قومونه م تباه کړل۔ د نجات مصداق لکه انبياء عليهم السلام شول او د هلاک الجاحدين مصداق د هغوی قومونو چه خلاف ئې کړے وو۔

امتيازات د سورة الشعراء:-

(۱) سورت ممتاز دے په پنځه ځله پدې لفظ باندې۔ (قل لا اسئلکم عليه من اجر)۔ (۲) سورت ممتاز دے په زيات ذکر د رب العلمين باندې۔ (۳) سورت ممتاز دے په وينا د فرعون موسیٰؑ ته۔ (الم نربک فينا وليدا ۱۸)۔ (٤) سورت ممتاز دے په بيان دفرعونيانو په دے قول باندے (انا لجميع حاذرون ٥٦)۔ (٥) سورت ممتاز دے په اووه دعاګانو د حضرت ابراهيمؑ باندې(و اذا مرضت فهو يشفين)الخ۔(٦) سورت ممتاز دے په ذکر د شعراء باندې۔ (۷) سورت ممتاز دے پدې قول د فرعون باندې۔ (ان هو لاء لشر ذمة قليلون)۔ (۸) سورت ممتاز دے پدې وينا د موسیٰؑ د ملګرو باندې (قال اصحب موسیٰ انا لمدرکون)۔ (۹) سورت ممتاز دے پدې الفاظو باندې (فکان کل فرق کاالطودالعظيم)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے پدې باندې چه (اتبنون بکل ريع اية تعبثون) په هر لوړ ځائيه ئې منارے جوړولے۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په اتۀ ځله پدې الفاظو باندې چه (فاتقوا الله و اطيعون) ۔ (۱۲) سورت ممتاز دے پدې چه يقيناً دا شاعران به هرهکنده کښې حيران پراتۀ دی۔ (فی کل واد يهيمون)۔ (۱۳) سورت ممتاز دے په راتلو د شيطان په هر يو دروغجن او ګنهګار باندې (هل انبئکم ۲۲۲)۔ (١٤) سورت ممتاز دے پدې الفاظ د لوطؑ په باره د خپل

قوم کښې (انی لعملکم من القالین)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة نمل مکية نزلت بعد سورة شعراء نزولا (٤٨) ترتيباً (٢٧)

ربط:-

(١) دَ سورة شعراء په اول کښې ترغيب الی القران وو نو سورة نمل
په اول کښې هم ترغيب الی القران دے۔ (٢) سورة شعراء کښې اوونيل
چه نجات زه ورکوم نهکانو ته او مجرمان هلاکوم نو سورة نمل کښې
وائی چه دا خکه چه زه په هغے باندې پوهه يم۔ (٣) سورة شعراء په اخر
کښې نفی د شرک فی الدعا وه (لاتدع مع الله ٢١٣) نو سورة نمل کښې
نفی د شرک فی العلم ذکر کوی چه موسیٰؑ او سليمانؑ عالم الغيب نه وو
٦٥۔ (٤) سورة شعراء په اخر کښې اوونيل (سيعلم الذين ظلموا ٢٢٧) نو
سورة نمل کښې نمونه د هغے ذکر کوی چه د صالحؑ او د لوطؑ د قتل تدبير
ئې اوکړو نو هغه قومونه مِ تباه کړل۔ (٥) سورة شعراء کښې موسیٰؑ ته
جادوګر وئيلی وو ٣٤۔ نو سورة نمل کښې معجزو د موسیٰؑ ته جادو وائی
(٦) څنګه چه سورة نمل ترتيباً پس د سورة شعراء نه دے نو نزولاً هم پس
د شعراء نه دے۔ (٧) سورة شعراء کښې فرعون ساحران راجمع کړی وو د
پاره د مقابلے د موسیٰؑ نو سورة نمل کښې بلقيس خپل اراکين د مشورے
راجمع کوی د پاره د هغه خط د مرغئ چه هغے راوړے وُو۔ (٨) سورة

شعراء کښې حکم د الله دے موسیٰ او هارونٌ ته چه لاړ شی بیان د مسئلے اوکړی فرعون ته ۱۵ نو سورة نمل کښې حکم د سلیمانٌ دے مرغۍ ته په خط اُولو سره۔ (اذ هب بکتابی ۲۸)۔ (۹) سورة شعراء کښې اووه دلائل نقلیه ذکر شوی وو نو سورة نمل کښې دلائل عقلیه نقلیه دواړه ذکرکوی۔ (۱۰) سورة شعراء کښې اووئیل چه قران د الله له طرفه جبرئیلٌ راوړے دے (نزل به الروح الامین ۱۹۳) نو سورة نمل کښې وائی چه (ان اتلو القران) دغه قران به وایم چه د الله له طرفه جبرئیلٌ راوړے دے ۹۲۔ (۱۱) سورة شعراء کښې اووئیل چه هلاک الجاحدین کفار م تباه کړل نو سورة نمل کښې وائی چه (قل الحمدلله ۵۹)۔ چه کله کفار تباه شی۔

خلاصه د سورة نمل:-

سورة نمل کښې دوه مسئلے ذکر کوی۔ یوه مسئله چه عالم په پټو څیزونو باندې زه یم۔ دویمه مسئله چه بچاؤ او سلامتیا زه ورکوم او په هره یو مسئله دوه دوه واقعے ذکر کوی ۔ اوله مسئله چه عالم په هر څهٔ زه یمه بلې واقعه د موسیٰ او بله د سلیمانٌ۔ چه موسیٰ د خپلے امسا نه خبر نه شو چه الله ورته اووے امسا او غورزوه نو موسیٰ په یره شو الله ورته وائی نه یریږه۔ د خپلے امسا نه خبر نهٔ شو پیغمبر۔ دویمه واقعه د سلیمانٌ د بلقیس د مملکت نه خبر نهٔ شو ددے دواړو واقعو خلاصه ذکر کوی (قل لایعلم من فی السمٰوت والارض الغیب الی الله ۶۵) کښې دویمه مسئله چه سلامتیا زه ورکوم په هغے دوه واقعے ذکر کوی۔ یو د صالحٌ او دویمه د لوطٌ چه د هغوی دواړو باره کښې قوم تدبیرونه اوکړل۔ نو الله وائی چه

هغوی م تباه کړل (قوم ونه) او دوی م بچ کړل. ددې خلاصه ذکر کړی
سلام علی عباده الذین اصطفی) ۵۹ کښې.

امتیازات د سورة نمل:-

(۱) سورت ممتاز دے په تبسم او خندا د سلیمان باندې د وج
هغه وینا د میږی نه (فتبسم ضاحکا من قولها). (۲) سورت ممتاز دے ب
تحفے لیږلو د بلقیس سلیمانؑ ته. (۳) سورت ممتاز دے په مملکت
بلقیس (٤) سورت ممتاز دے په بیان د نمل (میږی) باندے. (۵) سورت
ممتاز دے په بیان د هدهد باندې. (٦) سورت ممتاز دے په بیان د هغ
بنګلے د سلیمانؑ باندې. (۷)سورت ممتاز دے په (بسم الله الرحمان
الرحیم) باندې. (۸) سورت ممتاز دے په راوړلو د هغه تخت د بلقیس
باندې. (۹) سورت ممتاز دے په پنځه خله لفظ (ء اله مع الله)سره. (۱۰)
سورت ممتاز دے په بیان د هغه نهو ډلو باندې (و کان فی المدینة تسع
رهط). (۱۱) سورت ممتاز دے په بیان د ذکر د هغے دابے باندې (واخر
جنا دابة من الارض ۸۲). (۱۲) سورت ممتاز دے پدې الفاظو چه (ان اتلوا
لقران) ماته حکم شوے دے په لوستلو د قران باندې.



بسم الله الرحمن الرحيم

سورة قصص مكية نزلت بعد النمل نزولا (٤٩) ترتيباً (٢٨)

ربط:-

(۱) سورة قصص چه څنګه ترتيباً پس د سورة نمل نه دے نزولاً هم پس د نمل نه دے۔ (۲) سورة نمل شروع شوے وو په ترغيب الى الكتاب۔ نو سورة قصص هم شروع شو په ترغيب الى الكتاب۔ (۳) سورة نمل په اخر كښے ذكر كړه چه (ان اتلوالقران) نو سورة قصص كښے تسلى ده څكه چه په بيان د قران كښے تكاليف راځى۔ (٤) سورة نمل كښے ذكر كړه چه انبياء م خلاص كړل نو سورة قصص كښے وائى چه براځې انبياء نه بلكې د هغوى تابعدار هم ما خلاص كړل لكه بنى اسرائيل۔ (٥) سورة نمل كښے ذكر كړل چه عالم الغيب او بچاؤ والا زه يم نو سورة قصص كښے د هغے نمونه ذكر كوى لكه موسىٰ او بنى اسرائيل م خلاصكړل۔ او فرعونيان م تباه كړل۔ (٦) سورة نمل ختم شوے وو په حمد باندې نو سورة قصص كښے علت د حمد ذكر كوى چه ظالمان م تباه كړل۔ (۷) سورة نمل په اخر كښے ترغيب الى القران وو نو سورة قصص ئې شروع كړو په ترغيب الى القران باندې۔ (۸) سورة نمل كښے پنځلس دلائل عقليو نه وروستو مطالبه وه د دليل د مشرك نه (هاتوا برهانكم ٦٤) نو سورة قصص كښے هم پس د دلائل عقليو نه مطالبه ده د مشرك نه (قل هاتوا برهانكم ٧٥)۔ (۹) سورة نمل كښے نفى د شرك فى العلم د

موسیٰ نه او د سلیمانؑ نه نو سورة قصص کښې ترقی ده په نفی د شرک فی العلم (یعلم ماتکن صدورهم) ۱٦۱ او نفی د شرک فی الدعا (لا تدع مع الله) ۸۸۔ (۱۰) سورة نمل کښې مسئله ښکاره شوه نو سورة قصص کښې تشجیع ورکوی چه دا مسئله بیان کړه۔ (۱۱) سورة نمل ئې ختم کړې وو په دعوىٰ د توحید (قل الحمدلله) نو سورة قصص هم ختموی په دعوىٰ د توحید او په رد د شرک باندې۔

خلاصه د سورة قصص:-

سورت کښې تسلی ده نبیؐ ته او مومنانو ته۔ نبیؐ ته تسلی ده په واقعه د موسیٰؑ باندې او مومنانو ته تسلی ده په واقعه د بنی اسرائیلو باندې۔ سورت دوه حصې دې اوله حصه ٤۳ پورې پدې کښې تفصیلی واقعه د حضرت موسیٰؑ ذکرکوی د هغه د پیدائش او د هغه د پیغمبرئ۔ دویمه حصه ٤۳ نه تر اخره پورې پدې کښې اثبات د رسالت مقاصد اربعه۔ زجر منکرینو ته او سپکاوې د دنیا۔

امتیازات د سورة قصص:-

(۱) سورت ممتاز دې په بندولو د پینو د موسیٰؑ د نورو ښځو نه سیوا د خپلې مور نه۔ (۲) سورت ممتاز دې په داخلېدو د موسیٰؑ هغه کلی ته په وخت د غرمې کښې۔ (۳) سورت ممتاز دې په سوک د موسیٰؑ باندې۔ (٤) سورت ممتاز دې په مشورې د مرګ د موسیٰ باندې۔ (۵) سورت ممتاز دې په اوبه کولو د ګډو د لوڼو د شعیبؑ باندې۔ (٦) سورت ممتاز دې په هغه دوو لوڼو (لوربانو) د شعیبؑ باندې۔ (۷)
....

سورت ممتاز دے په هغه وخت مقرر کولو د مزدورئ باندې۔ (۸) سورت ممتاز دے په قول د شعیبؑ باندې حضرت موسیٰؑ ته چه (نجوت من القوم الظلمین)۔ (۹) سورت ممتاز دے په هغه خزانو د قارون باندې۔ (ان مفاتحه لتنوء باالعصبة)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په هغه خلقو چه افسوس ئې کولو په هغه مرتبے د قارون باندې ۸۹۔ (یلیت لنامثل) الخ (۱۱) سورت ممتاز دے په دننه کولو د قارون او په کور د هغه په زمکه کښے چه قارون ئې ژوندې دننه کړو په زمکه کښے (فخسفنا به و بداره الارض) ۸۱۔ (۱۲) سورت ممتاز دے په پټې لګولو په زړه د مور د موسیٰؑ باندے (لولا ان ربطنا علی قلبها ۱۰)۔ (۱۳) سورة ممتاز دے په دوه ځله لفظ د (ویکانه) سره۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة عنکبوت مکیة نزلت بعد الروم نزولا (۸۵) ترتیباً (۲۹)

ربط:۔

(۱) سورة قصص کښے ابتلاء د انبیاؤ ذکر شوه نو سورة عنکبوت کښے ابتلاء المومنین او تسلی مومنانو ته ذکر کوی۔ (۲) سورة قصص اختتام په اثبات د توحید وو نو سورة عنکبوت کښے تشجیع فی التبلیغ ذکر کوی۔ (۳) سورة قصص کښے ترغیب الی الهجرت وو (ان الذی فرض علیک القران) نو سورة عنکبوت په اخر کښے هم ترغیب الی الهجرت ذکر کوی ۵۷۔ (٤) سورة قصص کښے ابتلاء د بنی اسرائیلو ذکر شوه د فرعون نه نو سورة عنکبوت کښے ابتلاء د مومنانو ذکر کوی د

....

سورۃ قصص کښے ابتلاء د
مور پلار د ناکاره ملیانو او پیرانو نه ۔ (۵) سورۃ قصص کښے ابتلاء د
پخوانو مومنانو ذکر کړه نو سورۃ عنکبوت کښے ابتلاء ددے امت د
مومنانو ذکر کوی۔ (٦) سورۃ قصص کښے تسلی وه نبیؐ ته نو سورۃ
عنکبوت کښے تسلی ذکرکوی مومنانو ته۔ (۷) سورۃ قصص کښے نفی د
شرک فی الدعا اوشوه (لاتدع مع اللہ) الخ نو سورۃ عنکبوت کښے
ترغیب ورکوی دے مسئلے ته چه دا مسئله بیان کړه۔ (۸) سورۃ قصص
کښے هلاکت د فرعون او د هامان ذکر شو نو سورۃ عنکبوت کښے د
نورو قومونو هلاکت ذکر کوی۔ (۹) سورۃ قصص کښے د منکرینو
شبهات ذکر کړل نو سورۃ عنکبوت کښے د منکرینو تباهی ذکر کوی۔
(۱۰) سورۃ قصص په اخر کښے اوونیل (لا تدع مع اللہ) الخ نو سورۃ
عنکبوت کښے ذکر کوی چه مسئله بیانوه نو په دے مسئله کښے به
امتحانات راځی او په هغے صبر کوه۔ (۱۱) سورۃ قصص کښے د قبطی
عمل ته د شیطان عمل اوونیل نو سورۃ عنکبوت کښے د نورو ناکاره خلقو
عمل ته د شیطان عمل وائی ۳۸۔ (۱۲) په دواړو سورتونو کښے ذکر کوی
چه حرم شریف د امن ځائې دے۔ (۱۳) سورۃ قصص کښے بیان د اللہ د
مور د موسیٰؑ ته چه (لا تخافی ولا تحزنی ۷) نو سورۃ عنکبوت کښے بیان
د فرشتو دے لوطؑ ته چه (لا تخف ولا تحزن ۳۳)۔

خلاصه د سورۃ عنکبوت:-

سورۃ عنکبوت کښے تسلی ده مومنانو ته په ذکر د واقعاتو اربعه د
انبیاء علیهم السلام، د حضرت نوحؑ، ابراهیمؑ، لوطؑ، شعیبؑ او هلاک
الجاحدین، هلاکت د قومونو لکه فرعون، هامان، قارون، عادیان

ئمودیان، سورت کښې درې امتحانات دی۔ وخت د امتحان او کیفیت د امتحان۔ یو امتحان د نفس، نفس به دِ آرام غواړی د هغې ماخذ شپږم ایت کښې (من جاهد فانما یجاهد لنفسه)۔ دویم امتحان د مور پلار له طرفه۔ مور پلار به دِ منع کوی د مسئلې د توحید نه۔ (و ان جاهدک لتشرک بی ۸)۔دریم امتحان د ناکاره ملیانو له طرفه د هغې ماخذ ۱۲ ایت کښې چه دا مسئله مه بیانوه گناه زما په غاړه۔ (اتبعوا سبیلنا و لنحمل خطیکم)۔ وخت د امتحان پدې واقعه د نوحؑ ذکر کوی۔ چه همېشه دا مسئله بیان کړه نوحؑ نهنیم سوه کاله (۹۵۰) کاله بیان کړېده۔ (فلبث فیهم الف سنة الاخمسین عاما ۱٤)۔ کیفیت د امتحان۔ رنګ به ئې څنګه وی په هغې واقعه د ابراهیمؑ چه اُور ته به دِ غورزوی۔ (اقتلوه او حرقوه ۲٤) او په اخر د سورت کښې وسوسې د شیطان او مثال د جولاګې ذکر کوی۔

امتیازات د سورة عنکبوت:۔

(۱) سورت ممتاز دے په امتحاناتو باندې مومنانو ته۔ (۲) سورت ممتاز دے په خلاصولو د ابراهیمؑ د سیزلو د اُور نه پدې الفاظو سره (فانجه الله من النار)۔ (۳) سورت ممتاز دے په عنکبوت باندې (وان اوهن البیوت) الخ ٦۹۔ (٤) سورت ممتاز دے په وخت د مسئلې د توحید باندې او پدې واقعه د نوحؑ چه نهۀ نیم سوه کاله ئې مسئله بیان کړې ده ۱٤ ۔(٥) سورت ممتاز دے په دعا د لوطؑ باندې۔ رب انصرنی الخ ۳۰۔ (٦) سورت ممتاز دے په هغه څلور قسمه عذابونو باندې په یو ایت کښې چه هغه قومونه الله تباه کړی۔ ٤۰ (فکلا اخذنا) الخ۔ (۷) سورت ممتاز دے په څلور خله بشاراتو باندې تاکیداً۔ (۸) سورت ممتاز دے په اخر د

سورت کښې په وسوسو د شيطان باندې۔ (۹) سورت ممتاز دے په دې
ليکلو د خط په لاس خپل د نبي باندې۔ (ولا تخطه بيمينک۔ (۱۰) سورت
ممتاز دے چه څوک کوشش کوي په دين کښې او جهاد في سبيل الله
کښې نو هغه ته به لارے اسانې کړم (والذين جاهدوا فينا) الخ۔ (۱۱)
سورت ممتاز دے په بندولو د نمونځ د بې حيائۍ او د منکر نه پلې الفاظو
باندې۔ (ان الصلوة تنهى عن الفحشاء والمنكر)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة روم مكية نزلت بعد الا نشقاق نزولا (٨٤) ترتيباً (٣٠)

ربط:-

(۱) سورة عنکبوت کښې ترغيب الى القران او تسلي وه نبي ته نو
سورة روم کښې بشارت مومنانو ته ذکر کوي۔ (۲) سورة عنکبوت کښې
ابتلاء مومنانو ته ذکر شوه۔ نو سورة روم کښې بشارت مومنانو ته ذکر
کوي پس د مصيبتونو نه چه کاميابي به ستاسو وي۔ (۳) سورة عنکبوت
کښې امتحانات په مومنانو ذکر کړه نو سورة روم کښې هغه مسئله د
توحيد ذکر کوي چه په هغې امتحانات راځي۔ (٤) سورة عنکبوت کښې
ذکر کړل چه مومنان مو خلاص کړل او ظالمان مو تباه کړل ١٥ نو سورة روم
کښې د هغې تفصيل کوي ٢٤۔ (٥) سورة عنکبوت ئې شروع کړے وو په
جهاد او ختم کړے هم وو په جهاد باندې نو سورة ئې شروع کړو په نصرت
د مومنانو باندې چه جهاد تاسو اوکړئ نو زه به ستاسو امداد کوم۔ (٦)
سورة عنکبوت کښې دلائل ذکر شول په توحيد باندې او سوچ کول په

اطرافو د جهان او په پیدائش د نفوسو کښې مجمل وو یعنی مختصر وو
۲۰ (فانظرو کیف بدا الخلق)۔ نو سورة روم کښې د هغې تفصیل کوی
(اولم یسیروا فی الارض ۹) (۷) سورة عنکبوت کښې اووئیل چه په
(البیلو د قران کښې رحمت او مودت دے۔ (ان فی ذالک لرحمة ۵۱) نو
سورة روم کښې وائی چه په جوړے د انسانانو کښې رحمت او مودت دے
په ښځه او خاوند کښې) (و جعل بینکم مودة و رحمة) ۲۱۔ (۸) سورة
عنکبوت کښې ابراهیمؑ ته بشارت ورکړے شو په بچی باندې (ولما جاء ت
رسلنا) نو سورة روم په اول کښې نبیؐ او صحابه کرامؓ ته بشارت ورکوی په
امداد۔ او په شکست دکفارو باندې۔ (۹) سورة عنکبوت کښې امتحانات
او مصائب ذکر شول نو سورة روم کښې وائی (فاصبر) ۶۰ صبرکوه په
مصائبو باندې۔ (۱۰) سورة عنکبوت کښې مثال د جولاگی ذکر کړو نو
روم کښې مثال د مشرک ذکر کوی چه خان له په شریک باندې
خوشحاله نه ئې او ماسره شریکان پیدا کوے (ضرب لکم مثلا ۲۸)۔
(۱۱) سورة عنکبوت کښې اُووئیل چه امتحانات دِ تیر کړل نو سورم روم
کښې وائی چه هغه چا چه مصائب برداشت کړل نو (فهم فی روضة
یحبرون) دوی به په جنت کښې خوشحاله وی ۱۵۔

خلاصه د سورة روم:۔

سورت کښې بشارت دے نبی صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو ته۔
او په اثبات د توحید باندې اوولس دلائل عقلیه ذکر کوی۔

امتیازات د سورة روم:۔

(۱) سورت ممتاز دے په دوو لفظونو په مابین د ښځې او خاوند

کښې۔ (مودقو رحمة) ۲۱۔ (۲) سورت ممتاز دے په پیدائش د انسان
هغه کمزوری شی نه په جدا قسم الفاظو سره (الله الذی خلقکم من ضعف
۵٤)۔ (۳) سورت ممتاز دے په دې چه خان له شریک نه غوره کوے
ماله شریک غوره کوے (ضرب لکم مثلاً ۲۸)۔ (٤) سورت ممتاز دے په
فرضیت د هغه پنځو نمونځونو پدې قسم الفاظو سره (فسبحن الله حین
تمسون الخ ۹۷، ۱۸)۔ (۵) سورت ممتاز دے پدې چه انسان د دنیا په
کارونو ښه پوهیږی او دین نه خبر نهٔ دے۷۔ (٦) سورت ممتاز دے په لفظ
د روم باندې۔ (۷) سورت ممتاز دے په هغه دوو فتحو باندې په یو ورځ چه
یو د قیصر فتحه او بله د جنګ بدر فتحه۔ (۸) سورت ممتاز دے په
رالیږلو د دلیل د مشرک نه چه دا دلیل به خبرې اوکړی دوی سره پدې
شرک باندې پدې الفاظو سره (ام انزلنا علیهم سلطنا ۳۵)۔ (۹) سورت
ممتاز دے پدې چه پیداکول د مخلوقاتو په قیامت کښې په الله ډیر اسان
دی (وهوا هون علیه ۲۷)۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة لقمن مکیة نزلت بعدالصفت نزولا (۵۷) ترتیبا (۳۱)

ربط:- (۱) روم کښې اثبات د توحید وو په دلائل عقلیو باندې نو سورة
لقمان کښې په هغې دلائل عقلیه نقلیه او وحییه ذکر کوی۔ (۲) سورة روم
کښې بشارت وو مؤمنانو ته نو سورة لقمان کښې هغه مسئله ذکر کوی
چه هغه سبب د بشارت ده چه مسئله د توحید ده۔ (۳) سورة روم اختتام
....

شویبوو په ترغیب الی القران نو سورة لقمن په اول کښې ترغیب الی القران دے۔ (٤) سورة روم په اول کښې بشارت وو مؤمنانو ته نو سورة لقمن په اول کښې اوصاف د مؤمنانو ذکر کوی او د هغوی کامیابی۔ (٥) سورة روم کښې اثبات د توحید، رسالت او تسلی وه نبیﷺ ته نو سورة لقمن کښې وائی چه (واصبر)۔ صبر به کوے۔ (٦) سورة کښې اوونیل چه دے مشرکانو سره دلیل نشته په رامدد کولو د غیرالله باندې ۳۵۔ نو سورة لقمن کښې وائی چه دلیل خو پرېږده (اروني ماذا خلقوا) څۀ ئې پیدا کړی دی ۱۱۔(۷) سورة روم کښې اوونیل (ولئن جئتهم ۵۸) نو سورة لقمن کښې وائی (اذا تتلی علیه آیاتنا ولی مستکبرا)۔ (۸) سورة روم کښې اوونیل (وهوالذی یبدؤالخلق ۲۷) نو سورة لقمن کښې وائی (ما خلقکم ۲۸) نو دے دواړو سورتونو کښې وائی راپورته کول په الله ډیر اسان دی۔ (۹) سورة روم کښې ذکر کړه چه انسان ته تکلیف اورسی نو ماته چغې وهی نو چه بیا پرې خوشحالی راشی نو شرک کوی (واذا مس الناس ۳۳) نو سورة لقمن کښې وائی (واذا غشیهم موج ۳۲)۔ (۱۰) سورة روم کښې واقعه او قصه د هغه دوو شریکانو ذکر کړه چه د یو بل په شرکت باندې خفه دی ۲۸ (هل لکم) الخ نو سورة لقمن کښې واقعه او قصه د حضرت لقمان ذکر کوی او د هغه وصیت خپل بچی ته۔

خلاصه د سورة لقمن:۔

سورت کښې ادله ثلاثه دی په اثبات د توحید، عقلی، نقلی او وحیی برهان د امور مصلحو دے د حکیم الدنیا نه او نفی د شرک او ترغیب الی القران او مطالبه د دلیل د مشرک نه۔

....

امتیازات د سورة لقمن:-

(۱) سورت ممتاز دے په نقلی باندې د لقمان حکیم نه۔ (۲)
سورت ممتاز دے په دولسو اوامرو او نواهیو باندې د لقمان حکیم
خپل خوئی ته۔ (۳) سورت ممتاز دے په هغه پنځو خبرو باندې په یو ا
کښې چه په هغے خاص یو الله عالم دے۔ (علم الساعة، ینزل الغیث، یعلم
ما فی الارحام، ماذا تکسب غدا، بای ارض تموت)۔ (٤) سورت ممتا
دے پدې الفاظو چه پلار به خوی ته بدله نشی ورکولے او نه خوی پلار ته
(لا یجزی والد ۳۳)۔ (٥) سورت ممتاز دے په پیدائش او پوره کېدو
ستاسو الله ته پشان د ساه اخستلو دی یا د نفس یو دی۔ (٦) سورت ممتاز
دے په قلمونو د ټولو ونو او په اووه دریابونو باندے۔ (٧) سورت ممتاز
دے پدې الفاظو باندې(واسبغ علیکم نعمه ظاهرة و باطنة) ۲۰۔(۸
سورت ممتاز دے پدې الفاظو باندې (و من الناس من یشتری
لهوالحدیث) ٦۔(۹) سورت ممتاز دے پدې چه ناکاره په اوازونو کښې
اواز د خر دے۔(ان انکرالاصوات لصوت الحمیر) ۱۹۔



بسم الله الرحمن الرحيم

سورة الم السجده مكية نزلت بعد المومنون نزولا (۷۵) ترتيباً (۳۲)

ربط:-

(۱) سورة لقمٰن کښې مسئله د توحيد ذکر شوه په ادلو سره نو سورة الم سجده کښې مبدا او منشا د شرک او شبهه د شرک ذکر کوی۔ (۲) سورة لقمٰن اول کښې ترغيب وو قران ته نو سورة الم سجده اول کښې هم ترغيب دے قران ته۔ (۳) سورة لقمٰن نې ختم کړے وو په نفی د علم غيب باندې چه عالم بکل شی هوالله۔ (ان الله عنده) الخ نو سورة الم سجده کښې د هغے حاصل ذکر کوی (فلا تعلم نفس ۱۷)۔ (٤) سورة لقمٰن کښې زيرے وو کفارو ته په عذاب دردناک نو سورة الم سجده کښې د هغه عذاب علت ذکر کوی چه عذاب به ورله څکه وی چه په غوږونو نې قران نه وو اوريدلے او په سترګو نې نه وو کتلے ۹۔ (۵) سورة لقمٰن کښې ذکر کړل چه د قران نه اعراض کوی (اذا تتلی عليه) ۷ نو سورة الم سجده کښې حکم د هغه چا ذکرکوی چه د الله د کتاب نه اعراض او استکبار کوی چه دا سړے لوئے ظالم دے۔ (و من اظلم ممن ذکر بايت ربه) ۲۲ ۔ (٦) سورة لقمٰن کښې پيدائش د اسمانونو ذکر کړۀ۔ (خلق السموت بغير عمد ۱۰) نو سورة الم سجده کښې ترقی ده چه پيدائش د اسمانونو او زمکو شپږو ورځو کښې دے۔ (الله الذی خلق السموت والارض ٤)۔ (۷) لقمٰن په اول کښې حروفمقطعات وو نو سورة

....

الم سجدے په اول کښے هم حروف مقطعات دی۔ (۸) سورة لقمٰن کښ
ذکر کړل چه کله کفارو ته اووئیلے شی تابع شی زما د کتاب نو کفار وائ
مونږ د خپل پلار نیکهٔ تابع کیږو (و اذا قیل لهم اتبعوا ما انزل الله ۲۱) و
سورة الم سجده کښے وائی چه زما د کتاب نه تابع کیږی نو اعراض ئې
اوکړه ۳۰۔ (۹) سورة لقمٰن کښے دلیل نقلی وو د لقمان حکیم نه
مسئلے د توحید باندې نو سورة الم سجده کښے دلیل نقلی دے د موسیٰ
نه ۲۳۔ (۱۰) سورة لقمٰن کښے ذکر کړهٔ چه الله درباندې نعمتونه پوره
کړی (و اسبغ علیکم نعمه ۲۰) نو سورة الم سجده کښے د نعمتونو بیان
کوی۔ چه الله باران اوکړی په هغے سره فصلونه رااوباسی (انا نسوق الماء
الخ ۲۷)۔ (۱۱) سورة لقمٰن کښے وئیلی وو (انزل من السماء) الخ
نو سورة الم سجده کښے په هغے ترقی ده چه فصلونه پدې باران رااوخی او
د خناورو او ستاسو خوراک دے (تاکل منه انعامهم و انفسهم ۲۷)۔ (۱۲)
سورة لقمٰن کښے دلائل د توحید ذکر شول چه اصل اول وو توحید او بیان
د معاد اوشو چه اصل ثانی دے۔ نو سورة الم سجده کښے اصل ثالث ذکر
کوی چه بیان د نبوت دے۔ (ام یقولون افتراه ۳)۔

خلاصه د سورة الم سجدے:-

نفی د شفاعت قهری چه جر او مبدا د شرک دهٔ۔ او ترغیب قرآن
نه دے اول:- او دلائل عقلیه ذکر کوی او دلیل نقلی دے د موسیٰ
تخویف، زجر او بشارت دے سورت کښے۔

امتیازات د سورة الم سجدے:-

(۱) سورت ممتاز دے پدې چه الله داسې نعمتونه تیار کړی دی چه
....

دهغې تذکره د چا په ذهن کښې نه راځي۔ (فلا تعلم نفس ما اخفي لهم) الخ۔ (۲) سورت ممتاز دے په عذاب قبر باندې پدې الفاظو سره۔ (ولنذيقنهم من العذاب الادنى ۲۱)۔ (۳) سورت ممتاز دے په ملک الموت باندې چه اسم جنس دے۔ (٤) سورت ممتاز دے پدې چه (متى هذا الفتح) الخ۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة احزاب مدنية نزلت بعد آل عمران نزولا (۹۰) ترتيباً (۳۳)

ربط:-

(۱) سورة الم سجده کښې نفي د شفاعت قهري وه نو سورة احزاب کښې تخصيص دے نبيؐ ته او مؤمنانو ته په تابع دارئ د احکامو د الله۔ (۲) سورة الم سجده کښې نفي د شفاعت قهري او مسئله د توحيد ثابته شوه نو سورة احزاب کښې درې مثالونه ذکر کوي د پاره د وضاحت۔ (۳) سورة الم سجده کښې امر وو نبيؐ ته چه (فاعرض عنهم) نو په اول د احزاب کښې اجتناب دے د کافرو نه (فلا تطع الکفرين والمنافقين)۔ (٤) سورة الم سجده کښې پيدائش د اسمانونو او زمکو ذکر شو په شپږو ورځو کښې۔ في ستته ايام ٤۔ نو سورة احزاب کښې امانت د اسمانونو او زمکو ذکر کوي چه دوي خيانت نه دے کړے په امانت کښې ۷۲۔ (۵) سورة الم سجده کښې رد د شرک وو نو سورة احزاب کښې رد د رسم باطل کوي۔ (٦) سورة الم سجده کښې ونيلي وو چه (تنزيل الکتب ۲)

....

دالله له طرفه راغلے دے نو سورة احزاب کښے وائی چه دغه کتاب
رالیږلے دے نو دا یاد کړئ۔ (واذ کرن مایتلی فی بیوتکن ۳۴)۔ (۷) سو
الم سجده کښے ذکر کړه چه د مجرمانو نه بدله اخلم ۲۲(انا
المجرمنین منتقمون) نو سورة احزاب کښے د بدلے اغستلو یو نمونه
کوی د بنو قریظو او د کفارو۔ (۸) سورة الم سجده کښے وئیلی وو چه
زما د توحید بیان کړے او په هغے صبر کړے نو هغه م مشران کړل ۲۴
سورة احزاب کښے وائی چه د هغوی گناهونه م معاف کړل ۷۱ (۹) سو
الم سجده کښے د مخکښے قومونو هلاکت ذکر کړه نو سورة احزاب
کښے دده امت د کفارو هلاکت ذکر کوی۔

خلاصه د سورة احزاب:-

سورت کښے تحضیض علی التبلیغ یعنی تیزی په بیان د مسئلے د
توحید او ځلیریشت (۲۴) خطابات دولس نبیؑ ته او دولس امت د نبیؑ ته
او درې مثالونه دی د پاره د وضاحت د مسئلے د توحید۔ (۱) څنگه چه یو
خیته کښے دو زړونه نشی کېدے نو په یو عالم کښے دوه خدایان نشی
کېدے۔ (ما جعل الله لرجل من قلبین فی جوفه)۔ (۲) څنگه چه پردئ ښځه
مور نشی کېدے نو غیر مددگار مددگار نشی کېدے۔ (ما جعل
ازواجکم)۔ (۳) څنگه چه متبنی ځونی نشی کېدے نو غیر پېغمبر پېغمبر
نشی کېدے۔ (ما جعل ادعیاکم) الخ۔

امتیازات د سورة احزاب:-

(۱) سورت ممتاز دے په ۲۴ خطاباتو باندې۔ (۲) سورت ممتاز
دے په واقعه د جنگ خندق باندې۔ (۳) سورت ممتاز دے په واقعه د

جنگ احزاب باندې۔ (٤) سورت ممتاز دے په اسم د حضرت زيد باندې۔ (٥) سورت ممتاز دے په بيان د درېو مثالونو باندې۔ (٦) سورت ممتاز دے په اصناف اربعو زوجاتو باندې نبئ ته۔ (٧) سورت ممتاز دے په ذکر د متبنی باندې۔ (٨) سورت ممتاز دے په دوچند سزا ورکولو د ازواجو د نبیؐ ته که راتلل ئې اوکړل په بې حيايۍ باندې۔ (٩) سورت ممتاز دے په نه کولو د خيانت د اسمانونو او زمکو په امانت کښې۔ (١٠) سورت ممتاز دے چه نبیؐ د بالغو هلکانو پلار نه دے د يو کس د ستاسو نه۔ ماشو موالي کښې وفات شوی وو۔ (١١) سورت ممتاز دے په لفظ د خاتم النبين باندې۔ (١٢) سورت ممتاز دے په نکاح د نبیؐ د حضرت زينبؓ سره چه دا نکاح الله تړلے ده۔ (زوجنکها لکی لا يکون) الخ۔ (١٣) سورت ممتاز دے په دننه کېدو د کور د نبیؐ ته د پاره د طعام (الا ان يوذن لکم الی طعام)۔ (١٤) سورت ممتاز دے پدې چه (وکان باالمو منين رحيما ٤٣)۔چه خاص مهربان دے الله په مؤمنانو په اخرت کښې۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة سبا مكية نزلت بعد لقمان نزولا (٥٨) ترتيباً (٣٤)

ربط:۔

(١) سورة احزاب کښې رد د شرک اوشو مکمل او په هغې درې مثالونه ذکر شول نو سورة سبا کښې وائی (الحمدلله) هر کله چه حاجت روا الله دے نو ډ ستائينې لائق هم الله دے۔ (٢) سورة احزاب کښې عاجزی

د نبیؐ ذکر کړه نو سورة سبا کښې ترقي ده چه عاجزي د انبیاؤ، جناتو
نیکانو ذکر کوی۔ (۳) سورة احزاب کښې مسئله د توحید ثابته کړی
مثالونو باندې نو سورة سبا کښې هغه شبهه د مشرکینو رد کوی
څلورو وجوهو سره۔ (٤) سورة احزاب په اخر کښې صفات د
ذکر کړه۔ غفور او رحیم ۷۳ نو سورة سبا ئې شروع کړو په صفاتو د
باندې(وهو الحکیم الخبیر)۔ چه حکیم او خبیر۔ (۵) سورة احزاب کښې
تپوس د کفارو ذکر کړو د نبیؐ نه د قیامت (یسئلک الناس عن الساعة ٦٣
نو سورة سبا کښې انکار د کفارو ذکر کوی د قیامت نه۔ (وقال الذین
کفروا لا تاتینا الساعة)۔ (٦) سورة احزاب کښې د کفارو حالت ذکر کړ
چه قیامت به وی کنه ٦٣ نو سورة سبا کښې قسم په قیامت ذکر کوی چ
(قل بلی وربی ۳) چه خامخا به راځي۔ (۷) سورة احزاب کښې خیانت
کفارو ذکر کړو په امانت کښې و (حملها الانسان ۷۲) نو سورة سبا کښې
انکار د کفارو ذکر کوی د قران نه څکه دا قران هم یو امانت دې (وقال
الذین کفروا لن نؤ من) الخ ۳۱۔ (۸) سورة احزاب کښې ذکر کړۀ که د نبي
زوجاتو بې حیائي کړې وې نو دوچند عذاب به ورته ورکړې شوې ل
۳۰ (من یات منکن) الخ نو سورة سبا کښې وائی چه چا ایمان راوړ
عمل صالح ئې اوکړو نو دوچند بدله به ورته ورکړې شي اخرت کښې
یواځې بدله نه بلکې بالاخانو کښې به وی۔ (وهم فی الغرفات امنون ۳۷)
(۹) سورة احزاب کښې وئیلې وو چه لعنت د الله دِ وی په کفارو (ان الله
لعن الکفرین ٦٤) نو سورة سبا کښې وائی چه لعنت به یواځې نه وي
بلکې طوقونه به ورله اچولې شي (و جعلنا الاغلل الخ) ۳۳۔ (۱۰) سورة
احزاب کښې نفی د علم غیب اوکړه د نبیؐ نه چه کفارو تپوس اوکړ

(يسلك الناس عن الساعة ٦٣) نو سورة سبا کښې نفي د علم غيب کوي د جناتو نه (فلما خر تنبيت الجن ان لو كانوا يعلمون الغيب) الخ ١٤۔ (۱۱) سورة احزاب کښې الله حکم کړې وو چه زماکتاب ياد کړئ (واذکرن ما يتلی ٣٤) نو سورة سبا کښې انکار د کفارو ذکر کوی د دغه قران نه چه الله پرې حکم کړې۔(وقال الذين كفر والن نؤ من بهذا القران -(۳)

خلاصه د سورة سبا:-

سورت کښې بيان د مقاصد اربعو دے۔ توحيد، رسالت، صداقت الکتاب، ايمان بالآخرت او سورت کښې شبهه د مشرکينو ده او د هغے جرے رااوباسی په څلورو وجوهو سره۔ (۱) مالکان م نه دی (۲) برخه دار م نه دی۔ (۳) طاقت ني راباندې نه چليږی۔ (٤) په زوره راباندې خبره نشي منلے او د سورت درې بابونه دی اول باب د اول نه تر ۹ ايت پورے پلې کښې بيان د مقاصد اربعو دے، دويم باب د ۹ نه تر ۲۱ ايت پورے پلې کښې عجز د انبياؤ، جناتو او بادشاهانو ذکر کوی، دريم باب د ۲۲ نه تر اخره پورې پلې کښې رد د شرک او شبهه د مشرکينو ذکر کوی۔
سورت کښې عجز د انبياؤ، د جناتو، د نيکانو او د فرشتو ذکر کوی۔

امتيازات د سورة سبا:-

(۱) سورت ممتاز دے په هغه شبهے د مشرکينو سره او د هغے په څلورو جوابونو سره۔ (۲) سورت ممتاز دے په خوړلو د وينو هغه امساد سليمانٔ لره۔ (۳) سورت ممتاز دے په تابع کېدلو د هوا د سليمانٔ پلې الفاظو سره چه (غدوها شهرو رواجها شهر)۔ (٤) سورت ممتاز دے په

....

کارونو د جناتو د سلیمانؑ د پاره۔ (یعملون له ما یشاء من محاریب) الخ۔
(۵) سورت ممتاز دے په هغه دوو باغونو باندې په ملک سبا کښې (جنتن عن یمین و شمال)۔ (۶) سورت ممتاز دے په هغه بند سیل العرم باندې
(۷) سورت ممتاز دے په بدلېدو د هغه دوو باغونو بنو په دوو باغونو خرابو باندې (وبدلنهم بجنتیهم جنتین ذواتی اکل خمط) ۔ (۸) سورت ممتاز دے په راوستو د لړیوالی په مینځ د سفرونو کښې۔ (بعد بین اسفارنا)۔ (۹) سورت ممتاز دے په هغه خاص کسب د داؤدؑ باندې په نرمېدو د اوسپنو (والناله الحدیدا) او په جوړولو د کړو باندې (و قدرفی السرد)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے پدې الفاظو سره په باره د نبیؐ کښې (وما ارسلنک الا کافة للناس)۔ (۱۱) سورت ممتاز دے پدې چه موجوده کفار لسمے حصے د پخوانو کفارو ته نۀ رسی۔ (وما بلغوا معشار)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة فاطر مکية نزلت بعد فرقان نزولاً (۴۳) ترتیباً (۳۵)

ربط:-

(۱) سورة سبا شروع وو په حمد باندې نو سورة فاطر ئې هم شروع کړو په حمد باندې۔ (۲) د سورة فاطر اخر مرتب دے په سورة سبا باندې (۳) سورة سبا کښې رد د شرک اوکړو نو سورة فاطر کښې اثبات د توحید کوی په هغے ادله عقلیه۔ (۴) سورة سبا کښې د سلیمانؑ، داؤدؑ عاجزی ذکر کړه نو سورة فاطر کښې وائی چه ټول مخلوق ماته محتاج دی (یایها الناس انتم الفقراء الی الله ۱۴)۔ (۵) سورة سبا کښې ذکر کړې

چه اختیارات د الله جلیبزی د بل چا اختیار نشته نو سورة فاطر کښې
وائي چه حمد د الله اووایه خکه اختیارات د الله جلیبزی۔ (الحمدلله الذی
له ما فی السموت) الخ ۱۔ (٦) سورة سبا کښې نفی د شفاعت قهری وو په
وسیلقاتو د انبیاؤ باندې نو سورة فاطر تفریع دے په سورة سبا باندې چه
الحمدلله۔ (۸) سورة سبا کښې اوونیل دغه نیکان بندیګان واکداران نه
دی (لا یملکون مثقال ۲۲) نو سورة فاطر کښې وائی چه (ما یملکون من
قطمیر) په اندازے د پوستکی د کجوري هم اختیار نې نشته ۱٤ (۸) سورة
سبا کښې ذکر کړی وو (قل اروني الذین) الخ ۲۷ نو سورة فاطر کښې د
هغې تفصیل کوی ٤۰۔ (قل ارء یتم شرکاء کم)۔ (۹) سورة سبا کښې
وونیل چه موجوده کفار لسمے حصے د پخوانو کفارو ته نشی رسیدے
هغه د تباه کړی وو ٤٥ نو سورة فاطر کښې بیا هغه مضمون د هلاکت د
پخوانو ذکر کوی (کانوا اشد منهم قوة ۲٤)۔ (۱۰) سورة سبا کښې نفی د
علم غیب اوکړه د جناتو نه ۱٤ نو سورة فاطر کښې وائی چه عالم الغیب
صرف یو الله دے۔ (ان الله عالم غیب السمٰوت والارض ٤۸)۔

خلاصه د سورة فاطر:-

سورة فاطر کښې درې خله مسئله د توحید او په هغې دیارلس دلائل
عقلیه او عاجزی د مخلوقاتو او تسلی ده نبیؐ ته۔ درے خله مسئله د توحید
۱۔۲۔۱۳

امتیازات د سورة فاطر:-

(۱) سورت ممتاز دے په هغه درې قسمه خلقو باندې چه الله غوره
کړی دی د پاره د کتاب خپل په یو ایت کښې ۳۲ (ثم اورثنا الکتب الخ)۔

(۲) سورت ممتاز دے په هغه قسما قسم تو تو د غرونو باندې (و م
الجبال جدد بیض ۲۷)۔ (۳) سورت ممتاز دے پدې الفاظو باندې چه ذ
نه ډیره یره علماء کوی (انما یخشی الله من عباده العلماء ۲۸)۔ (
سورت ممتاز دے په پورته کولو د کلمے طیبے عمل صالح لره (ال
یصعدالکلم الطیب) (یعنی کلمه عمل صالح پورته کوی الله ته۱۰)۔ (
سورت ممتاز دے په وزرو د فرشتو باندې (اولی اجنحة)۱۔ (۶) سورت
ممتاز دے په ورکولو د دو مره عمر چه انسان پکښې پند اخستے شی(اول
نعمرکم مایتذکر)۔ (۷) سورت ممتاز دے په نیولو د شیطان په دشمن
سره (فاتخذوه عدوا)۔ (۸) سورت ممتاز دے پدې الفاظو د جنتیانو باندې
چه هغوی به وائی (الحمدلله الذی اذهب) الخ۔ (۹) سورت ممتاز دے
پدې چه الله انسان ته کو مه فائده ورکوی د هغے بندوونکے نشته او که بند
کړی نو څوک ورکوونکے نشته (ما یفتح الله للناس من رحمة ۲)۔ (۱۰)
سورت ممتاز دے په رابللو د غیرالله اکر که هغه غیرالله خپلوان وی خو
دده بوج نشی لرے کولے (وان تدع مثقلة الی حملها) الخ ۱۷۔ (۱۱)
سورت ممتاز دے په سزا د بدعملئ په اهل ګ هغه (یعنی په کوونکی د
بدعمل باندې)(ولا یحیق المکرالسیئ الا باهله)۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة یس مکیة نزلت بعد الجن نزولا (۴۱) ترتیباً (۳۶)

ربط:-

(۱) سورة سبا کښې نفی د شفاعت قهری اوکړه نو سورة فاطر کښې
په هغے دلائل عقلیه ذکر کړل نو سورة یس کښې په هغے دلیل نقلی د
صاحب یس نه ذکر کوی۔ (۲) سورة فاطر کښې اثبات د رسالت وو او
....

زجر رو منکرینو د رسالت ته نو سورة یاس کښې تاکید دے په رسالت باندې- (۳) سورة فاطر کښې چه څنګه دلائل وو په اعتبار د خلق السموت و تسخیر الشمس سره نو سورة یس کښې دلائل په اعتبار د خلق السمٰوت تسخیر الشمس او قمر سره دی- (٤) سورة فاطر کښې دریې خله مسئله د توحید ثابته شوه نو یس کښې د هغه چا انجام ذکر کوی چه چا د مسئلے نه انکار کړے- (٦) سورة فاطر کښې ذکر کړی وو چه عزت د الله سره دے ۱۰ نو سورة یس کښې د هغے مثال ذکر کوی چه صاحب یس نې عزتمند کړو (و جعلنی من المکرمین ۲۷)- (۷) سورة فاطر کښې ذکر کړی وو چه چا تدبیر کړے دے د حق پرستو نو الله هغه تدبیر والا په خپله تباه کړی ٤۳ نو سورة یس کښې ددے یو نمونه ذکر کوی- چه هغه صاحب یس نې قتل کړو نو الله هغوی تباه کړل په یو ځل (الا صیحة واحدة)- (۸) سورة فاطر کښې وئیلی وو (والذین اتقوا) ۷ نو سورة یس کښې په هغې زیادت (فبشره بمغفرة ۱۱) او عزتمند رزق به وی- (۹) سورة فاطر کښې اووئیل چه باران اوکړم نو زمکه تازه شی ۹ نو سورة یس کښې وائی چه مړی هم ژوندی کوم (انا نحن نحی الموتی ۱۲)- (۱۰) سورة فاطر کښې اووئیل چه شیطان ستاسو دشمن دے (فاتخذوه عدوا ٦) نو سورة یسن کښې وائی چه د شیطان عبادت مه کوئ ٦۰- (۱۱) سورة فاطر کښې دریې ځله مسئله د توحید ذکر کړه نو سورة یس کښې دریې ځله لفظ صیحه ذکر کوی دریې ځله چغه په کفارو څکه چه توحید نې او نه مانه (۱۳) سورة فاطر کښې اووئیل چه کفار به چغې وهی (وهم یصطرخون فیها) نو سورة یس کښې نمونے د چغو ذکر کوی-

خلاصه د سورة یس:-

سورت کښې دلیل نقلي دے د صاحب یسن نه په مسئلے د توحید چه پخواه هم یو ځوان چغه وهلے وه میدان کښې ولاړ وو (ء اتخذ من دونه الهة ۲۳) او درې خله لفظ صیحه او حقیقت د انسان ذکر کوی- (اولم یرالانسان انا خلقنه من نطفه ۷۱) او دلائل عقلیه-

امتیازات د سورة یس:-

(۱) سورت ممتاز دے په واقعے د صاحب یسن باندې- (۲) سورت ممتاز دے په کرامت د صاحب یسن باندې (وجعلنی من المکرمین)- (۳) سورت ممتاز دے په درې خله لفظ صیحه باندې- (٤) سورت ممتاز دے په جداوالی د مجرمانو باندې پدې الفاظو چه (وامتازوالیوم ایهاالمجرمون ۵۹)- (۵) سورت ممتاز دے په بلېدلو د اُور د هغه شنې ونې نه (الذی جعل لکم من الشجر الاخضر نارا ۸۰)- (٦) سورت ممتاز دے په مهر لګولو د دوی په خولو باندې الیوم نختم الخ ٦٥)- (۷) سورت ممتاز دے په هغه الفاظو باندې د خلقو چه پاسیږی د قبرونو نه (من بعثنا من مرقدنا) الخ- (۸) سورت ممتاز دے چه نمر روان دے خپل مقام ته خاص پدې الفاظو سره (والشمس تجری لمستقرلها)-



بسم الله الرحمن الرحيم

سورة صفت مکية نزلت بعد انعام نزولا (۵٦) ترتیباً (۳۷)

ربط:-

(۱) سورة سبا، سورة فاطر او سورة یس کښې نفي د شفاعت قهري ذکره نو سورة صافات کښې ترقي ده۔ (۲) سورة یس ئې ختم کړے وو په عنوان د تسبیح باندې (فسبحن الذی) نو سورة صفت اختتام هم په عنوان د تسبیح باندې کوی۔ (۳) سورة یس کښې اثبات د رسالت وو نو سورة صفت کښې مقصد د اثبات الوسل ذکر کوی۔ (٤) سورة یس کښې تخویف وو اجمالاً په هلاکت د اقوام مکذبو باندې نو سورة صفت کښې د هغې تفصیل کوی۔ (۵) سورة یس کښې عجز د نمر او د سپوږمۍ ذکر شو نو سورة صفت کښې د نورو مخلوقاتو عاجزی ذکر کوی۔ (٦) سورة یس کښې ذکر کړی وو چه کفار به د قبرونو نه راپاسی نو وائی (یه یاویلنا من بعثنا) الخ چا د آرام ګاه نه پاڅولو ۵۲ نو سورة صفت کښې وائی چه قیامت کښې به هم کفار وائی (قالوا یویلنا) الخ ۲۰۔ (۷) سورة یس کښې انکار د کفارو ذکر کړے وو د قیامت نه (قال من یحی العظام ۷۸) نو سورة صفت کښې انکار د کفارو ذکر کوی په قیامت کښې ۱٦، ۵۳۔ (۸) سورة یس کښې سلامتیا ذکر شوه د الله له طرفه جنتیانو ته سلام (قولا من رب الرحیم ۵۸) نو سورة صفت کښې سلامتیا ذکر کوی دالله له طرف نه په تولو انبیاؤ باندې ۱۸۱۔ (۹) سورة یس کښې بیان د زیری وو چه (فیها فاکهة ۵۷) نو سورة صفت کښې پدې بشارت باندې ترقی ده ٤٢۔ (۱۰)
....

سورة یس کښې ذکر کړې وو (لایستطیعون نصرهم ۷۵) نو سورة صفت کښې وائی (مالکم لاتنا صرون ۳۵)۔

خلاصه د سورة صفت:-

سورت کښې عجز د هغه چونړ شوو مخلوقاتو دے دریې ځله عجز د فرشتو او عجز د نهو انبیاؤ او دوه ځله عجز د جناتو دے۔

امتیازات د سورة صفت:-

(۱) سورت ممتاز دے په خوب لیدلو د ابراهیمؑ په حلالولود ځپل بچی (انی اریٰ فی المنام)۔ (۲) سورت ممتاز دے پدې قول د الله باندې ابراهیمؑ ته (فدیناه بذبح عظیم ۱۰۷)۔ (۳) سورت ممتاز دے په بعل بت باندې۔ (اتدعون بعلاً ۱۲۵)۔ (٤) سورت ممتاز دے په قرعه اندازې باندې (فکان من المدحضین)۔ (۵) سورت ممتاز دے په تیرولو د ماهی حضرت یونسؑ لره (فالتقمة الحوت) الخ۔ (٦) سورت ممتاز دے پدې چه حضرت یونسؑ تسبیحات بیان کړے نه وے نو تر قیامته پورې به د مهی په خیټه کښې وے (للبث فی بطنه الی یوم یبعثون)۔ (۷) سورت ممتاز دے په زر غونېدو د هغه وُنې د کدو په یونسؑ باندې (و انبتنا علیه شجرة من یقطین ۱٤٦)۔ (۸) سورت ممتاز دے په لیږلو د یونسؑ یو لاکه خلقو ته یا ددے نه زیات ۱٤۷۔ (۹) سورت ممتاز دے په منلو د یونسؑ هغه کشتئ ډکے نه (اذابق) الخ ٤۰۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په باقی پاتې کېدلو د اولاد د حضرت نوحؑ باندې په دنیا کښې (و جعلنا ذریته هم الباقین ۱۷۷)۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په جوړولو د منارے د پاره د سیزلو د حضرت ابراهیم (ابنواله بنیانا) الخ۔ (۱۲) سورت ممتاز دے په هغه وُنے (درخت) باندې

....

چاړ او وخي په مینځ د جهنم کښې او د هغې غونچې به په شان د سرونو د شیاطینو وی۔ (۱۳) سورت ممتاز دے په وینا د اسماعیلؑ خپل پلار ته چه یاابت افعل ماتؤمر ۱۲)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة ص مكية نزلت بعد قمر نزولا (۳۸) ترتيباً (۳۸)

ربط:-

(۱) سورة صفت ئې ختم کړے وو په توحید باندې نو سورة ص کښې په توحید باندې ادله نقلیه ذکر کوی په احوالو د انبیاؤ باندې۔ (۲) سورة سبا کښې نفی د شفاعت قهری وو باالوجوه الاربعه نو سورة فاطر کښې په هغې دلائل عقلیه وو نو سورة یس کښې په هغې دلیل نقلی وو نو سورة صفت کښې عجز د چونې شوو مخلوقاتو ذکر کړۀ نو سورة ص کښې په هغې ترقی ده چه ابتلوه باالمصائب۔ (۳) سورة صفت کښې د نهۀ انبیاؤ حالات ذکر شو نو سورة ص کښې د لسو انبیاؤ حال ذکر کوی۔ (٤) سورة صفت کښې استکبار د مشرکینو ذکر کړے وو ۳۵ نو سورة ص کښې استکبار د شیطان ذکر کوی ٧٤۔ (۵) سورة صفت کښې استکبار د مشرکینو ذکر کړۀ د توحید نه نو سورة ص کښې ترقی ده چه دوی یوازے استکبار نه وو کړے بلکې کشرانو ته ئې وئیل چه ځئ (ان امشوا واصبروا) الخ (٦) سورة صفت کښې جګړه د مشرکینو ذکر کړه نو سورة ص کښې جګړه د دهغې جګړے تفصیل کوی ٦٢۔ (٧) سورة صفت کښې جګړه د مشرکینو ذکر کړه په خپل مینځ کښې نو سورة ص ....

مشرکینو د انبیاؤ سره ذکر کوی۔ (۸) سورة صفت کښے کفارو اووئیل
مونږ سره څه ذکر وے نو مونږ به مخلصین بندیګان وے (لو ان عند
ذکر من الاولین) الخ ۱۶۸ نو سورة ص اول کښے وائی چه ذکر بانډے کفر
اوکړو چه کله راغے (والقران ذی الذکر) ۲۔ (۹) سورة صفت کښے
اووئیل چه (ان هذا الا سحر مبین ۱۵) نو سورة ص کښے وائی (وقال
الکافرون هذا ساحر کذاب) ترقی پرې کوی۔ (۱۰) سورة صفت نې ختم
کړے وو په توحید ۱۷۰ نو سورة ص کښے وائی (قل هو نبو عظیم ۶۷)
(۱۱) سورة صفت کښے اووئیل فرشتے وائی (انا لنحن الصافون ۱۶۵) نو
سورة ص کښے وائی (فسجد الملئکة) الخ ۷۳ د صف تړلو نه وروستو
سجده اوکړه۔ (۱۲) سورة صفت کښے اووئیل (و اذا راو ایة
یستسخرون ۱۴) نو سورة ص کښے وائی (اتخذنٰهم سخریا ۶۳)۔ (۱۳)
سورة صفت کښے ذکر کړی وو (و عندهم قصرت الطرف عین ۴۸) نو
سورة ص کښے په ښځے باندې ترقی ده (و عندهم قصر الطرف اتراب ۵۲)۔
(۱٤) سورة صفت کښے اووئیل چه کفار به زقوم خوری او ګرمې اوبه به
څکی۔ (لاکلون من شجر ۶۶) نو سورة ص کښے وائی چه قسم قسم
عذابو نه به وی (حمیم و غساق) الخ (۱۵) سورة صفت کښے اووئیل چه دا
قران سحر مبین دے نو سورة ص کښے وائی (ان هذا الا اختلاق) چه دا ئے
خان نه جوړ کړے دے۔

خلاصه د سورة ص:۔

ابتلوا باالمصائب او سورت کښے د لسو انبیاؤ حالات دی، دریو
انبیاء تفصیلا او اووه انبیاؤ اجمالاً۔

امتیازات د سورة ص:-

(۱) سورت ممتاز دے په تعجب د مشرکینو په وینا د پیغمبر باندې- (۲) سورت ممتاز دے په راتلو د هغه جهګړه کوونکو باندې داؤدؑ ته د پاره د فیصلے- (۳) سورت ممتاز دے په پدې چه (انا جعلنک خلیفة) الخ- (٤) سورت ممتاز دے په چاپې کولو د اسونو- (اذ عرض علیه بالعشی) الخ- (۵) سورت ممتاز دے په غوختلو د معجزے باندې د سلیمانؑ چه (وهب لی ملکا ۳۵)- (٦) سورت ممتاز دے په غسل کولو د ایوبؑ په هغے چینے یخے کښې- (هذا مغتسل بارد)- (۷) سورت ممتاز دے په وهلو د چوبنک (جارو) سره بی بی د ایوبؑ (و خذ بیدک ضغثا ٤٤)- (۸) سورت ممتاز دے په وینا د کافرو باندې په قیامت کښې چه (کنا نعدهم من الاشرار ٦٢)- (۹) سورت ممتاز دے په هغه نیم ګړے جو سے په اولاد د سلیمانؑ- (۱۰) سورت ممتاز دے په پدې قول د حضرت سلیمانؑ چه (ردوها علی فطفق مسحا) الخ-

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة زمر مکیة نزلت بعد سبا نزولا (۵۹) ترتیبا (۳۹)

ربط:-

(۱) سورة سبا کښې نفی د شفاعت قهری وو، سورة فاطر کښې په هغے دلائل عقلیه وو، سورة یس کښې په هغے دلیل نقلی وو، سورة صفت کښې عاجزی وه، سورة ص کښې ابتلاء وه په هغوی نو سورة زمر تفریع دے په مخکښې سورتونو باندے چه (فاعبدالله مخلصا له الدین)- (۲) سورة ص ختم وو په ترغیب الی القران (ان هو الا ذکر للعلمین) نو سورة

....

زمر ئې شروع کړو په ترغیب الی القران ۱۔ (۳) سورة ص او سورة صفت کښې مسئله د توحید ذکر کړه (وما من اله الا الله الخ) نو سورة زمر کښې په هغې دلائل عقلیه ذکر کوی۔ (٤) سورة ص کښې بیان د پېدائش د آدمؑ وو ۲ نو سورة زمر کښې اول بیان د اولاد د پېدائش د آدمؑ ذکر کوی (یخلقکم فی بطون الخ ٦)۔ (۵) سورة ص کښې د جنتونو بحث وو چه دروازې به ئې بیرته وی ۵۰ نو سورة زمر کښې دهغې وضاحت کوی چه د پخوا نه به کولاؤ شوی وی ۷۳۔ (٦) سورة ص شروع وو په ترغیب الی القران (والقران ذی الذکر) نو سورة زمر هم شروع شو په ترغیب الی القران ۱ (۷) سورة ص کښې اعتراض د مشرکینو ذکر کړے وو چه (اجعل الالهة الها واحدا الخ ۵) نو سورة زمر کښې بل اعتراض د مشرکینو ذکر کوی۔ (۸) سورة ص کښې د پېغمبر خبره ذکر کړه چه (لا اسئلکم علیه من اجر ۸٦) نو سورة زمر کښې وائی چه هر څۀ د پاره د الله کوه (مخلصا له الدین)۔ (۹) سورة ص کښې احوال د مخلوق ذکر شول د مبدا نه تر معاد پورې نو سورة زمر کښې وائی د جوسے نه تر روحه پورے زما اختیار چلیږی۔ (الله یتوفی الانفس) الخ۔ (۱۰) سورة ص کښې وئیلی وو (وما من اله الخ ٦۵) نو سورة زمر کښې وائی چه الله لره نائبان نشته ٤ خکه (هوالواحد القهار)۔ (۱۱) سورة ص کښې بیا د نیکانو او بدانو ذکر وکړو نو سورة زمر کښې د هغوی ډلے ذکر کوی۔ (وسیق الذین کفروا الخ)۔

خلاصه د سورة زمر:-

سورت تفریع دے په مخکښې سورتونو باندې۔ چه هر کله انبیاء

....

عاجز دی او د خان نه مصیبت نه شی لرے کولے نو دلته وائی چه (قل انی امرت ان اعبدالله مخلصا له الدین) سورت کښې مشهوره شبهه د مشرکینو چه دوی مونږ الله ته نزدے کوی په درجه کښې۔ (ما نعبدهم الا لیقربونا الی الله زلفی ۳) سورت کښې دریٓ خله دعویٰ د توحید ده او په هغے باندې وره دلائل عقلیه زجر او تخویف منکرینو ته او بشارت مومنانو ته۔

امتیازات د سورة زمر:-

(۱) سورت ممتاز دے په هغه مشورے شبهے د مشرکینو چه دوی مونږ الله ته نزدے کوی په درجه کښې (ما نعبدهم ۳)۔ (۲) سورت ممتاز دے په شړلو د کفارو باندے جهنم ته پدې الفاظو (وسیق الذین کفروا الی جهنم زمرا)۔ (۳) سورت ممتاز دے په بوتلو د مؤمنانو باندې جنت ته (وسیق الذین اتقوا الخ)۔ (٤) سورت ممتاز دے په دې چه (والارض جمیعا قبضته الخ) ۔ (٥) سورت ممتاز دے په اغستلو د روحونو باندې بیا بیرته روح راپریږدی چه فیصله د مرگ نه وی شوے او هغه بل روح حصار کړی چه فیصله د مرگ شوی وی په هغے باندې۔ (الله یتوفی الانفس٤٢)۔ (٦) سورت ممتاز دے چه کفار په وحدانیت د الله تنگیږی. (واذا ذکرالله وحده٤٥) ۔ (۷) سورت ممتاز دے په مثال د مشرک باندې (ضرب الله مثلا رجلا ۲۹) په دے الفاظو سره۔ (۸) سورت ممتاز دے پدې چه الله خائسته کتاب رالیږلے (الله نزل احسن الحدیث ۲۳)۔ (۹) سورت ممتاز دے پدې چه مخلصا او الخالص مینځ کښې دوه خله دین راوړے دے (فاعبدالله مخلصا له الدین الا لله الدین الخالص)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے چه (واشرقت الارض بنور ربها) په دے الفاظو باندے چه زمکه به رڼا او برق وکړی۔

....

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة مومن مكية نزلت بعد زمر نزولاً (٦٠) ترتيباً ٤٠

ربط:-

(۱) سورة زمر ئي شروع کړے وو په ترغيب الى القران نو سورة
مومن ئي هم شروع کړو په ترغيب الى القران ۲- (۲) سورة زمر اخر
کښے حال د فرشتو ذکر کړے وو چه پاکی بيانوی (و ترى الملئکة- الخ
۷۵) نو سورة مومن کښے ترقی ده چه بوازے پاکی د الله نه بيانوی بلکې
مومنانو له دعاګانې هم غواړی (الذين يحملون العرش ۷)- (۳) سورة
زمر ئي ختم کړے وو په حمد باندې چه د الله حمدونه اووايه (و قيل
الحمدلله) نو سورة مؤمن کښے علت د حمد ذکرکوی- حمد د الله ځکه
اووايه چه قران ئي رالیږلے دے (تنزيل الكتب ۲)- (٤) سورة زمر کښے
نفی د شرک فی العبادت اوشوه نو سورة مومنکښے تفريع ده په هغې
باندے (فادعوالله مخلصين له الدين)- (٥) سورة زمر کښے هغه شبهه رد
شوه په ادله سبعو باندے نو سورة مؤمن کښے هغه مسئله ذکر کوی چه په
هغے شبه کیږی- (فادعوالله مخلصين له الدين ١٤)- (٦) سورة زمر کښے
د کفارو استکبار ذکر کړه د قران نه او انکار د قران نه (استكبرت و كنت
من الكافرين ٥٩) نو سورة مومن کښے بله علامه د کفارو چه جګړه به
کوی په ايتونو دالله کښے- (ما يجادل فی ايت الله ٤)- (۷) سورة زمر ئې
ختم کړے وو په حمد باندې (و قيل الحمدلله) نو سورة مومن اخر کښے
هم وائي چه حمد د الله وايه (والحمدلله)- (۸) سورة زمر ئي ختم کړے وو
....

په حمد باندې نو سورة مومن کښې وائی (فتبارک الله رب العلمین) چه وکتونه اچوی نو د هغه حملونه وایه۔ (۹) سورة زمر کښې اوونیل چه واعبدالله مخلصا له الدین) نو سورة مومن کښې هم وائی (فادعوالله مخلصین له الدین) یعنی یوازې د الله عبادت کوے۔ (۱۰) سورة زمر کښې زیې خله مسئله د توحید ذکر کړه نو سورة مومن کښې اووه خله دعویٰ د توحید ذکرکوی۔

خلاصه د سورة مومن:-

سورت کښې اووه ځله اثبات د توحید دے په ادله عقلیو نقلیو او وحیو سره۔ او طریقه د بیان ده په سورت کښې۔ او تقریر درجل مومن۔

امتیازات د سورة مومن:-

(۱) سورت ممتاز دے په (یعلم خائنة الاعین) باندې۔ (۲) سورت ممتاز دے په بیان درجل مومن باندې۔ (۳) سورت ممتاز دے په دوه ځله لفظ وحده باندې۔ (٤) سورت ممتاز دے په پنځه ځله لفظ یا قوم سره درجل مومن۔ (٥) سورت ممتاز دے په لفظ (افوض امری) یعنی تفویض الی الله باندې۔ (٦) سورت ممتاز دے په ځلور ځله لفظ جدال باندې۔ (۷) سورت ممتاز دے په دعا غوختلو د فرشتو باندې مومنانو ته۔ (۸) سورت ممتاز دے په وینا د فرعون باندې چه (انی اخاف ان یبدل دینکم الخ) چه موسیٰ ستاسو دین ورانوی۔ (۹) سورت ممتاز دے په پېش کولو د عذاب په فرعونیانو باندې سحر او ماښام (النار یعرضون علیها غدوا و عشیا ٤٦)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په تدبیر کولو د فرعونیانو باندې د پاره درجل مومن چه زر کسان ئې ورپسې لیږلی وو (فوقه الله سیات ما مکروا ٤٥)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة حم السجده مكية نزلت بعد مومن نزولا (۶۱) ترتيباً (٤١)

ربط:-

(۱) سورة مومن کښے ترغيب الى القران وو نو سورة حم السجد
اول کښے هم ترغيب الى القران دے۔ (۲) سورة حم السجده چه ترتی
پس د سورة مومن نه ده نو نزولاً هم پس د سورة مومن نه ده۔ (۳) سورة
مومن کښے مسئله د توحيد ثابته شوه نو سورة حم السجده کښے په هغ
څلور اعتراضات ذکر کوی۔ (٤) سورة مومن کښے د کفارو جګړه ذکر
کړه (ما يجادل ٤) نو سورة حم السجده کښے د هغوی د جګړو بيان کوی
۵۔ (۵) سورة مومن کښے وئيلی وو چه (کانوا اکثر منهم قوة الخ ۸۲) لوی
طاقتور خلق ما تباه کړل نو سورة حم السجده کښے علت د هغے هلاکت
بيانوی چه (کانوا بايتنا يجحدون ۱۵)۔ (٦) سورة مومن کښے وئيلی ول
چه عاديان، ثموديان او قوم نوح مې تباه کړل ۳۱ نو سورة حم السجده ۱۵
کښے علت د هغے هلاکت چه (فاما عاد فاستکبروا) الخ۔ (۷) سورة
مو ن کښے د ثموديانو بيان کړے وو د هلاکت ۳۱ نو سورة حم السجده
کښے علت د هلاکت د ثموديانو ذکر کوی (فاما ثمود فهد ينهم الخ ۱۷)۔
(۸) سورة مومن کښے اوونيل چه (فتبارک الله رب العلمين ٦٤) نو سورة
حم السجده کښی د برکت يوه نمونه ذکر کوی چه (وجعل فيها رواسی من
فوقها و بارک فيها ۱۰) زمکه کښے الله خير اچولے دے۔ (۹) سورة
مومن کښے جګړه او تکذيب د کفارو ذکر کړے وو په باره د قران کښے
٦۹ (الم تر الى الذين يجادلون الخ) نو سورة حم السجده کښے د کفارو بل

حال ذکر کوی چه قران مه اوریٔ۔ (و قال الذین کفر والا تسمعوالهذا القران ۲۶)۔ (۱۰) سورة مومن کښې بیان د قران والو ذکر کړے وو چه فرښتے ورته دعاګانے غواړی ۷ نو سورة حم السجده کښې ورله بشارت ورکوی فرشتے (تتنزل علیهم الملئکة ۳۰)۔ (۱۱) سورة مومن کښې ویلی وو چه موسیٰؑ له مِ تورات ورکړے وو (ولقد اتینا موسیٰ الهدی ۵۳) نو سورة حم السجده کښې وائی چه هغے خلقو خلاف کړے وو (فاختلف فیه ٤٥)۔ (۱۲) سورة مومن په اول کښې دوه نومونه د الله ذکر کړهٔ یو العزیز بل العلیم نو سورة حم السجده په اول کښې دوه نور نومونه دالله ذکر کوی چه رحمن او رحیم دے۔ ځکه چه دنیا کښې مهربانی عامه ده رحمن دے۔ او اخرت کښې مهربانی خاصه ده په مومنانو باندې نو الرحیم دے۔

خلاصه د سورة حم السجدے:-

اعتراض ۱۔ مونږ ستا په خبره نه پوهیږو مونږ خپلے وظیفے ته بربېږده۔ (و قالوا قلوبنا فی اکنة ٥)۔ جواب : (انما الهکم اله و احد فاستقیمو الیه)۔ زه یو خبره کوم ستا په ژبه ئې کوم راځی چه ټول یو شو او د الله کتاب زده کړو۔ دویم اعتراض: زمونږ خدایان یا مددګاران مونږ نه ضرر رسوی په خوب کښې۔ جواب: (وقیضنالهم قرنا ۲۴) دا خدایان نه راځی دا شیطانان دی او ستا عقیده خرابوی۔ (۳) که دا کتاب ریښتونے وے نو دا به په بله ژبه راغلے وے (وقال الذین کفروا لولا فصلت آیاته)۔جواب که دا کتاب په بله ژبه کښې راغلے وے نو تاسو به پکښې بیا اعتراض کولو چه پیغمبر عربی دے او قران عجمی دے (ء اعجمی و

....

نو په يو ځل به راغلے وو باندي عربي)- (٤) که دا کتاب ريشتونے وے
مسئله مونږ ته په يو ځل بيان کړه جواب: (ولقد اتينا موسٰى الکتب
فاختلف فيه) - موسٰى عليه السلام ته مِ په يو ځل کتاب ورکړے وو به هغے
کښے خلاف شوے وو-

امتيازات د سورة حم السجدے:-

(۱) سورت ممتاز دے په څلورو اعتراضونو باندي او د هغے په
جوابونو باندې- (۲) سورت ممتاز دے په وينا د اسمان او د زمکے چه
دوارو اووئيل چه مونږه تابعدار يو (قالتا اتينا طائعين ۱۱)- (۳) سورت
ممتاز دے په وينا د کفارو چه قران مه اورئ- (لا تسمعوا الهذا القران
۲٦)- (٤) سورت ممتاز دے په وينا د کفارو په قيامت کښے چه وائی به الله
هغه دوه قسمه خلق راته اوښايه چه مونږه ئې د خپو لاندې کړو (نجعلهما
تحت اقدامنا ۲۹)- (٥) سورت ممتاز دے په هغه دريو صفاتو باندې د
مبلغ په يو ايت کښے چهٔ الله دين ته خلق رابلی او دوېم عمل صالحکوی
او درېم اقرار کوی چه زه دَ مسلمانانو نه يم (و من احسن قولا ممن دعا الی
الله ۳۳)- (٦) سورت ممتاز دے پدې الفاظو چه (مايقال لک الا ما قد قيل
الخ ٤۳)- (۷) سورت ممتاز دے چه قران ته څوک باطل نشی راتلے نه
مخکښے نهٔ وروستو (لاياتيه الباطل ٤۲)- (۸) سورت ممتاز دے په دې
خصلت سره چه دا خوی د صبر نهٔ اخلی مګر خاوند د برخې لوئ (و ما
يُلقٰها الا ذوحظ عظيم ۳٥)- (۹) سورت ممتاز دے په ګرځېدو د هغه
دشمن باندې په شان د دوست مهربان (کانه ولی حميم ۳٤)- (۱۰

سورت ممتاز دے په پیدا کولو د اسمانونو او زمکو په دوو ورځو کښے۔ (لی یومین الخ)۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په حکم کولو باندې په هر اسمان کښے د مناسب کار د هغے۔ (و اوحی فی کل اسماء امرها ۱۲۔ الخ)

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة شوریٰ مکیة نزلت بعد حٰم السجده نزولا (٦٢) ترتیباً (٤٢)

<u>ربط:-</u>

(۱) سورة مومن کښے مسئله ذکر کره (فادعوالله مخلصین له الدین) نو سورة حم السجده کښے په هغے باندې استقامت ذکر شو (ثم استقاموا) ۳۰ نو سورة شوریٰ کښے په هغے مسئله اعتراضات ذکر کوی دی۔ (۲) سورة شوریٰ ځنګه چه ترتیباً پس د سورة حم السجده نه دے نو نزولاً هم پس د سورة حم السجدے نه دے۔ (۳) سورة حم السجده کښے په مسئله د توحید د مشرکینو څلور اعتراضات ذکر شول نو سورة شوریٰ کښے دې نور اعتراضات ذکر کوی د مشرکینو۔ (٤) سورة حم السجده کښے امر وو په مضبوطوالی باندې (فاستقیموا ٦) نو سورة شوریٰ کښے هم امر دے په استقامت (واستقم کما امرت ۱۵)۔ (٥) سورة حم السجده کښے وحی فی السماء ذکر شوه (حکم کول په اسمان کښے)۔ (و اوحی فی کل سماء امرها ۱۲) نو سورة شوری کښے وحی نبیؐ ته ذکر کوی (وکذالک اوحینا الیک ٥٢)۔ (٦) سورة حم السجده کښے وحی

....

خاص نبیؐ ته کوی (یوحٰی الی ٦) نو سورة شوریٰ کښې وحی د علو...
ذکر کوی۔ (شرع لکم من الدین الخ ۱۳)۔ (۷) سورة حم السجده کښ...
جنتونو بحث وو چه (وابشروا باالجنة ۳۰) نو سورة شوریٰ کښې تر...
چه په جنتونو د باغیچو کښې به ئې او دا فضل د الله دے (فی روضات ال...
الخ ۲۲)۔ (۸) سورة حم السجده کښې بیان د وحی اوکړه ٦ نو س...
شوریٰ کښې درې طریقې د وحی ذکر کوی۔ (ما کان لبشر ان یکلم الله...
۵۱)۔ (۹) سورة حم السجده کښې دوه نومونه د قران ذکر شول شفا...
هدی ٤٤ (قل هوا للذین امنوا هدی و شفاء)۔ نو سورة شوریٰ کښې...
دوه نومونه د قران ذکر کوی چه نور او میزان دے (ولکن جعلنه نورا...
۵۳)۔ (۱۰) سورة حم السجده کښې ذکر کړل چه مشرکان وائی (قلو...
فی اکنة ۵) نو سورة شوریٰ کښې وائی چه (کبر علی المشرکین ماتدعو...
الیه ۱۳)۔ (۱۱) سورة حم السجده کښې بیان د فرشتو وو چه مومنانو...
به زړے ورکوی چه (الاتخافوا ولا تحزنوا ۳۰) نو سورة شوریٰ کښې...
د فرشتو چه مومنانو له بخښنه غواړی (و یستغفرون لمن فی الارض...
(۱۲) سورة حم السجده اول کښې ترغیب وو قران ته نو سورة شو...
کښې هم ترغیب دے قران ته اول کښې۔ (۱۳) سورة حم السجده کښ...
ذکر کړی وو چه انسان نا امیدی کوی (فیؤس قنوط ٤۹) نو سورة شو...
کښې وائی چه انسان ناشکری کوی۔ (فان الانسان کفور ٤۸)۔

خلاصه د سورة شوریٰ:۔

سورة شوریٰ کښې درې نور اعتراضونه او د هغې جوابو...
اعتراض (۱) د غه خبره ته کوے پخوا چا نه ده کړے دهغې دوه جوابو...

جواب (۱) وکذالک ښنګه چه تاته حکم کولے شی د غسے مخکښنے انبیاؤ ته هم حکم شوے وو۔ جواب(۲) تفصیلاً (شرع لکم من الدین ۱۳) اعتراض.(۲) تول کتابونه ستا خلاف دی د هغے پنځه جوابونه ایت ۱۰ (وما اختلفتم فیه من شئ فحکمه الی الله) دویم جواب (فلذالک فادع الخ ۱۵) دریم جواب (الله الذی انزل الکتب ۱۷)څلورم جواب (استجیبوالربکم ۴۷) پنځم جواب (و کذالک او ... ا الخ ۵۲)۔ اعتراض (۳) تول ملیان ستا خلاف دی د هغے دوه جوابونه (۱) (وما تفرقوا الا من بعد ما جاء هم العلم بغیا بینهم)۱۴ ۔ دویم جواب (ام لهم شرکاء ۲۱)۔

امتیازات د سورة شوریٰ:-

(۱) سورت ممتاز دے په درې اعتراضونو او د هغے په جوابونو باندې مفصل۔ (۲) سورت ممتاز دے په اقسامو د وحی باندې۔ (۳) سورت ممتاز دے په نۀ پوهېدلو د بیان د دین چه زه به بیان ښنګه کوم (وما کنت تدری ماالکتب ۵۲)۔ (٤) سورت ممتاز دے په ورکولو د هلکانو او جینکو باندې (یهب لمن یشاء اناثا و یهب لمن یشاء الذکور)۔ (۵) سورت ممتاز دے په رالیږلو د میزان باندې۔ (الله الذین انزل الکتب بالحق والمیزان ۱۷)۔ (٦) سورت ممتاز دے چه رحمت رالیږم پس د ناامیدی د خلقو نه پدې الفاظو (هوالذی ینزل الغیث الخ)۔ (۷) سورت ممتاز دے په دې چه الله غوندے مثل نشته۔ (لیس کمثله شی)۔ (۸) سورت ممتاز دے چه په مشرکینو بیان ددے مسئلے سخت لګی۔ (کبرعلی المشرکین ما تدعوهم الیه۱۳)۔ (۹) سورت ممتاز دے په کتلو د مجرمینو په ښکته سترګو باندې۔ (ینظرون من طرف خفی)۔ (۱۰)

سورت ممتاز دے په ډوبېدو د کشتو په سبب د ناکاره اعمالو د خلقو

یوبقهن بما کسبوا الخ)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة زخرف مكية نزلت بعد شورىٰ نزولاً (٦٣) ترتيباً (٢)

ربط:۔

(۱) مخکښې سورتونو کښې شبهات د مشرکینو ذکر کړل

سورة زخرف کښې بله شبهه د مشرکینو ذکر کوی۔ (۲) سورة شوریٰ

کښې اثبات د توحید وو په دلائل عقلیو نقلیو سره نو سورة زخرف کښې

هم دلائل عقلیه نقلیه دی۔ (۳) سورة شوریٰ کښې ترغیب الی القران

اول نو سورة زخرف اول کښې هم ترغیب دے قران ته۔ (٤) سورة شوریٰ

نې ختم کړے وو په ترغیب الی القران ۵۲ نو سورة زخرف نې شروع

په ترغیب الی القران۔ (۵) سورة زخرف چه څنګه ترتیباً پس د سورة

شوریٰ نه دے نو نزولاً هم پس د سورة شوریٰ نه دے۔ (٦) سورة شوریٰ

کښې بیان د جنت کړے وو اجمالاً ۲۲ نو سورة زخرف کښې تفصیل

جنت کوی(کنتم و ازواجکم ۷۰)۔ (۷) سورة شوریٰ کښې اوونیل

قران م رالیږلے دے او هغه ربنا ده ۵۲ (و کذالک او حینا الیک الخ)

سورة زخرف کښې وائی چه زه به د قران تپوس کوم په قیامت کښې۔ (انه

لذکرلک ٤٤ الخ)۔ (۸) سورة شوریٰ کښې د ابراهیمؑ، موسیٰؑ، عیسیٰؑ

بیان شوے وو اجمالاً ۱۳ نو سورة زخرف کښې تفصیل کوی د هغوی

دبیان۔ (۹) سورة شوریٰ کښې ذکر کړی وو چه دریابونو کښې کشتئ

په شان د غرونو (و من اياته الجوار الخ ۳۲) نو سورة زخرف کښې وائي
وجعل لكم من الفلک ۱۳) چه په هغې کشتو کښې سورلي کوی او زما د
نعمت شکریه ادا کړی۔ (۱۰) سورة شوری کښې ذکر کړی وو چه (ان
الانسان لكفور ۴۸) نو سورة زخرف کښې ترقي ده چه (ان الانسان لكفور
مبين ۱۵)۔ (۱۱) سورة شوری کښې اوونیل چه باران کوم پس د هغې نه
چه خلق نااميد شي (من بعد ماقنطوا ۲۸) نو سورة زخرف کښې ترقي ده
چه باران کوم ددې د پاره چه هغه کلې پرې تازه کړم (فاحيا به الارض
۱۱)۔

خلاصه د سورة زخرف:۔

سورة زخرف کښې بله اتمه شبهه د مشرکینو چه دوی زمونږه سفارش کوی د الله سره د هغې جواب کوی ۸۶ (ولا يملک الذين يدعون من دونه الشفاعة)۔ چه شفاعت کبری قیامت کښې شفاعت دحکم به کوی الله۔اؤ رومبی شفاعت به پیغمبر کوی او په سورت کښې واړه واړه اعتراضات او د هغې جوابونه۔

امتیازات د سورة زخرف:۔

(۱) سورت ممتاز دے په هغه خاص شبهې د مشرکینو باندې۔ (۲) سورت ممتاز دے په دعا غوختلو د سورلۍ باندې (سبحان الذين سخرلنا الخ)۔ (۳) سورت ممتاز دے په باره د ؤینا د ابراهیمؑ کښې چه (وجعلها كلمة باقيه ۲۸)۔ (٤) سورت ممتاز دے پدې قول د کفارو باندې چه (لولا نزل هذا القران على رجل من القريتين عظيم ۳۱)۔ (۵) سورت ممتاز دے پدې چه کفارو لره ما دروازې او هر شے د سرو سپینو جوړ کړے وے که

(٦) سورت ممتاز
خلق ټول نه کافران کېدلے (لبيوتهم سقفا من الخ)۔ (۷) سورت ممتاز
پدې الفاظو چه (و من يعش عن ذکر الرحمان الخ)۔
پدې چه داقران ستا او ستا د قوم د پاره شرافت دے او ددے قران به تپوس
کيږي۔ (۸) سورت ممتاز دے په هغه نوم د فرشتے چه په جهنم مقرر
چه کفار به واني (يا مالک ۷۷)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے پدې قول د
عليه السلام باندې چه (ان کان للرحمن ولد فانا اول العبدين)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة دخان مكية نزلت بعد زخرف نزولا (٦٤) ترتيباً (٤٤)

ربط:-

(۱) سورة زخرف ئې شروع کړے وو په ترغيب الی الکتب
سورة دخان ئې هم شروع کړو په ترغيب الی القران۔ (۲) سورة زخرف
کښې شبهه د مشرکينو ذکر کړے وه چه دوی زمونږ سفارش کوی
جواب ئې سورة زخرف کښې کړے وو۔ چه دا مالکان د سفارش نه
۸٦ نو سورة دخان کښې بل جواب کوی چه دوی اوری نه پوهه نه
مالکان به څه رنګه شي۔ (انه هو السميع العليم ۷)۔ (۳) سورة زخرف
ختم کړے وو په وعيد او تهديد باندې نو دَسورة دخان په ابتداء کښې
او يره ورکوی (انا کنا منذرين ۳)۔ (٤) سورة زخرف په اخر کښې د
قول ذکر کړۀ په باره د خپل قوم کښې چه (يٰرب ان هؤلاء الخ ۸۸) نو سورة
دخان کښې د موسیٰؑ قول ذکر کوی په باره د خپل قوم کښې (فدعاربه
هؤلاء ۲٤)۔ (۵) سورة زخرف کښې نبیؑ ته وئيلی وو چه (فاصفح عنهم

۱۸۔ نو سورة دخان کښې موسیٰ وائی خپل قوم ته (ان لم تومنوا لی فاعتزلون) تاسو زما نه بیرته شئ ۲۱۔ (٦) سورة زخرف کښې شبهات ذکر کړه د مشرکینو نو سورة دخان کښې نمونې د عذاب ذکر کوی دنیوی او اخروی۔ (٧) سورة زخرف کښې بشارات او زیری ذکر کړل مومنانو ته ۷۰ نه تر ۷٤ پورې نو سورة دخان کښې په هغې ترقی ده چه مونږه به یوازې نهٔ وی بلکې حورې به ورسره یو ځائې کړم او قیمتی ریښم به ورته واچوم ۵۳، ۵٤۔ (۸) سورة زخرف کښې هلاکت د فرعون ذکر کړهٔ نو سورة دخان کښې تفصیل د هلاکت د فرعون ذکر کوی۔ (۹) سورة زخرف کښې اووئیل چه (وانه لذکر لک ٤٤) د شرافت کتاب دے نو سورة دخان کښې وائی چه قران مِ رالیږلے په شپه د خیر کښې قران د برکتونو کتاب دے (انا انزلناه فی لیلة مبرکة) چه دغه شپه د قران په وجه خیر او برکت والا شوه۔ (۱۰) سورة زخرف کښې وئیلی وو چه د متقیانو دوستانه به همیشه وی اخرت کښې بغیر د کافر نه (الا خلا یومئذ بعضهم بعض عدو الا المتقین ٦٧) نو دخان کښې وائی چه د کفارو دوستانه به یو بل ته فائده نهٔ ورکوی۔ (یوم لایغنی مولی عن مولی ٤١)۔ (۱۱) سورة زخرف کښې قران ته سحر وئیلی وو (لما جاء هم الحق الخ ۳۰) نو سورة دخان کښې نبیٌ ته په خپله مجنون وائی (معلم مجنون ١٤) په خپله مجنون دے او قران ئې سحر دے۔ (۱۲) سورة زخرف کښې ذکر کړی وو چه دوستانه د کفارو به ختم شی اخرت کښې بغیر د متقیانو نه ٦٧ نو سورة دخان کښې د متقیانو تفصیل کوی (ان المتقین فی جنت و عیون ۵۱)۔ (۱۳) سورة زخرف کښې وئیلی وو چه (انتم و ازواجکم تحبرون ۷۰) چه تاسو او ستاسو بیبیانې به خوشحاله شی په دننه کښې د جنت ته۔ نو ......

سورة دخان کښې وائی چه د دنيا بيبيانې يواځې نه بلکې هغه حورې به ور سره يو ځائې کوم (و زوجنهم بحور عين ٥٤)-

خلاصه د سورة دخان:-

سورت کښې شبهه د مشرکينو چه کېدے شی زمونږ سوال ورو واوری نو د هغې جواب (انه هوالسميع العليم ٦)- تخويف دنيوی په هلاکت د فرعون او د قوم تبع او تخويف اخروی او بشارت اول کښې ترغيب قران ته-

امتيازات د سورة دخان:-

(۱) سورت ممتاز دے په هغه مشهورې شبهې د مشرکينو- (۲) سورت ممتاز دے په فيصله کولو په دې شپه کښې (فيها يفرق کل امر حکيم)- (۳) سورت ممتاز دے په (يوم تاتی السماء بدخان مبين) يعنې قحط سالئ باندې- (٤) سورت ممتاز دے په وينا د کفارو چه (معلم مجنون)- (٥) سورت ممتاز دے په پرېخودلو د درياب ولاړ- (وا ترک البحر رهوا ٢٤)- (٦) سورت ممتاز دے په نعمتونو د دنيا په فرعون باندې (کم ترکو امن جنت الخ ٢٥ تا ٢٧)- (٧) سورت ممتاز دے په نه ژړلو د اسمانونو او زمکو په هلاکت د فرعون (فما بکت عليهم السماء)- (٨) سورت ممتاز دے په جوش وهلو د ابو په ګېډو د جهنميانو کښې (کالمهل يغلی فی البطون ٤٥)- (٩) سورت ممتاز دے په يو ځائې کولو د حورو د جنتيانو سره- (وزوجنهم بحور عين ٥٤)- (١٠) سورت ممتاز دے په دوستی د کفارو په فائده نه ورکولو- (يوم لا يغنی مولی عن مولی شيئا ٤١)-

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة جاثیه مکیة نزلت بعد دخان نزولا (٦٥) ترتیباً (٤٥)

ربط:-

(۱) سورة دخان شروع وو په ترغیب الی القران نو سورة جاثیه هم شروع کړه په ترغیب الی القران۔ (۲) سورة دخان کښې نهمه شبهه د مشرکینو ذکرکړې وه نو سورة جاثیه کښې لسمه شبهه د مشرکینو ذکر کوی۔ (۳) سورة دخان په اخر کښې اوونیل چه قران م آسان کړے۔ (فانما یسرنه بلسانک الخ ٥٨) نو سورة جاثیه کښې وائی دغه الله لره حمدونه دی چه قران ئې اسان کړے (فللّه الحمد رب السموت ٣٦)۔ (٤) سورة دخان کښې ذکر کړه چه فرعون حضرت موسیٰ پورې استهزاء او توقې کړې وې نو ما تباه کړل نو سورة جاثیه کښې وائی چه یواځې فرعون نه هر هغه څوک چه استهزاء پېغمبر او قران پورې کوی نو زه ئې تباه کوم۔(واذا علم من ایاتنا شیئا الخ ٩)۔ (٥) سورة دخان کښې مسئله ذکر کړه چه (لا اله الا هو یحی و یمیت ٨) نو سورة جاثیه کښې وائی دغه الله لره حمدونه دی او لوئی والے دے چه ژوندی کول او مړه کول کوی۔ (فللّه الحمد، وله الکبریا الخ ٣٦)۔ (٦) سورة دخان کښې عذاب د مجرمینو ذکر کړه نو سورة جاثیه کښې علت د عذاب ذکر کوی چه دا عذاب به ځکه وی دے مجرمانو ته چه (ذلکم بانکم اتخذتم ایت الله هزوا الخ ٣٥)۔ (٧) سورة دخان کښې بیان د جنتونو وو مومنانو ته نو سورة جاثیه کښې وائی چه دا دننه کېدل جنتونو ته دا لویه کامیابی د ه۔ (ذالک

هوالفوزالمبين ۳۰)۔ (۸) سورة دخان کښې اوونيل چه بنی اسرائیل
غوره کړي وو (لقد اخترنهم علی علم الخ ۲۲) نو سورة جاثيه کښې
چه ما غوره کړي وو(وفضلنهم علی العلمين) ۱٦۔ (۹) سورة دخان کښې
اوونیل چه قران م د خیر شپه کښې راليږلے نو قران کښې خير او برکت
دے۔ (ان انزلنه فی ليلته مباركة ۳) نو سورة جاثيه کښې وائی چه دا قران
هدايت او رحمت هم دے د خلقو د پاره (هذا بصائر للناس هدیً ورحمة
الخ) ۲۰۔ (۱۰) سورة دخان کښې ذکر کړې وو چه دننه کېدل جنت ته دا
الله فوز عظيم دے۔ (ذالک هوالفوز العظیم ۵۷) نو سورة جاثيه کښې
ترقي ده چه دا کاميابي به د الله خلق ويني۔ (ذالک هوا الفوزالمبين ۳۰)
(۱۱) سورة دخان کښې د کفارو انکار ذکر کړے وو د قيامت نه (ان هی الا
موتتنا الاولیٰ ۳۵) نو سورة جاثيه کښې هم انکار د قيامت ذکر کړے
کفارو چه دے کفارو سره پدې څه دليل نشته ۲٤۔

خلاصه د سورة جاثيه:۔

سورت کښې لسمه شبهه د مشرکينو ذکر کوی چه زمونږ زوړ دين دے
او ستاسو نوے دين دے۔ مونږ د خپلو مشرانو د هغه زوړ دين تابعدار يو۔
جواب: تاسو د خواهش تابع يئ او مونږ د الله د حکم تابع يو۔ (ثم جعلنک
علی شريعة من الامر فاتبعها)۔

امتيازات د سورة جاثيې:۔

(۱) سورت ممتاز دے په هغه خاص شبهې د مشرکينو۔ (۲)
سورت ممتاز دے په لفظ جاثيه باندې ۲۸۔ (۳) سورت ممتاز دے په برابر

والی د ژوند او د مرګ د کفارو په شرک او کفر کښې۔ (٤) سورت ممتاز
دے په برابروالی د ژوند او د مرګ د مومنانو په تابعدارئ کښې۔ (٥)
سورت ممتاز دے په رابللو د هر امت په طرف د خپلے عملنامے (کل امة
تدعی الی کتابها ۲۸)۔ (٦) سورت ممتاز دے په بیان کولو د قران یا د
عملنامو په اعمالو د خلقو باندې (هذا کتابنا ینطق الخ ۲۹)۔ (۷) سورت
ممتاز دے په وینا د کفارو چه نۀ هلاکوی مونږ لره مګر زمانه (ومایهلکنا
الا الدهر ٢٤)۔ (۸) سورت ممتاز دے په پوهېدلو د یو انسان د الله په
کتاب او پس د پوهېدو نه توقف کوی د الله په کتاب پورې (اتخذها هزوا
۹) په دے الفاظو سره۔ (۹) سورت ممتاز دے چه کوم یو سړے به ایمان
راوړی پس د بیان د الله او په ایتونو د الله پدې الفاظو سره چه (فبای حدیث
بعدالله و ایا ته یومنون)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په تابعدارئ د اسمانونو
او زمکو د پاره د فائدے د خلقو چه دا ټول د الله د طرفه اوګڼئ پدې الفاظو
سره چه (جمیعا منه ۱۳)۔ (۱۱) سورت ممتاز دے پدې درې نومونو د
قران باندے په یو ایت کښې۔ بصائر، هدی، رحمت، (هذا بصائر للناس و
هدی و رحمة ۲۰)۔ (۱۲) سورت ممتاز دے په غوره والی د بنی اسرائیلو
په نورو خلقو په هغه پنځو ځیزونو باندې په یو ایت کښې۔ کتاب، حکم،
نبوت، رزق من الطیبات، (فضلنهم علی العالمین ۱٦)۔ (۱٤) سورت ممتاز
دے په مخ اړولو د هغه کسانو نه چه په قیامت عقیده نه ساتی ١٤۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة احقاف مكية نزلت بعد الجاثية نزولا (٦٦) ترتيباً (٤٦)

ربط:-

(۱) سورة جاثيه اول کښې ترغيب وو قران ته نو سورة احقاف هم اول کښې ترغيب دے قران ته۔ (۲) مخکښې سورتونو کښې شبهات د مشرکينو ذکر کړل نو سورة احقاف کښې بله شبهه د مشرکينو ذکر کوی۔ (۳) سورة جاثيه شروع شوے وه په (العزيز او الحکيم) باندې نو سورة احقاف ئې هم شروع کړو په (العزيز او الحکيم) باندې۔ (٤) سورة جاثيه ختم شوے وه په (العزيز او الحکيم) باندې نو سورة احقاف ئې شروع کړو په (العزيز او الحکيم) باندې۔ (٥) سورة جاثيه ئې ختم کړے وه په توحيد باندې (فللّه الحمد) نو سورة احقاف ئې شروع کړو په توحيد او په توبيخ د مشرکانو په شرک د هغوی باندې۔ (٦) سورة جاثيه کښې دليلی وو چه (ما خلق السموت والارض بالحق ۲۲) نو سورة احقاف کښې ترقی ده (ما خلقنا السموت الخ ۳)۔ (۷) سورة جاثيه کښې ذکر کړی وو (و اضله الله علی علم ۲۳) نو احقاف کښې وائی (و من اضل ممن يدعوا من دون الله) (ډېر ګمراه دے هغه څوک چه غېرالله رامدد کوی ٥)۔ (۸) دَ سورة جاثيې اختتام ئې کړے وو په توحيد (فللّه الحمد ۳٦) نو دَ سورة احقاف اختتام کوی په تسلی باندې خکه چه دا مسئله کوے نو تکليف به راځی نو په هغې به صبر کوے (فاصبر کما صبر ۳٥)۔ (۹) سورة جاثيه کښې اول ......

چه (ختم علی سمعه و قلبه الخ ۲۳) چه دا څیزونه ئې په صحیح ځائې استعمال نه کړهٔ نو الله پرې ورله مهر اولګلونو سورة احقاف ٤٦ کښې وائی چه ما ورله سترګې، زړهٔ او غوږونه ورکړی وو لیکن هغه دوی په ځائې استعمال نه کړل نو هغه سترګو هغه زړهٔ او هغه غوږونو ورله فائده ورنهٔ کړه (فما اغنی عنهم الخ ۲٦)۔ (۱۰) سورة جاثیه کښې ذکرکړهٔ چه پرمخې بهٔ پراتهٔ وی په زنګونونو باندې نو سورة احقاف کښې وائی چه واخې پرمخې به نهٔ وی بلکې ړاندهٔ او کاڼهٔ به هم وی۔ (۱۱) سورة جاثیه کښې اووئیل چه چا کفر اوکړو او اعراض نې اوکړو د کتاب نه نو دا مجرمان دی۔ (و کنتم قوما مجرمین ۳۱) نو سورة احقاف کښې وائی چه مجرمان نهٔ (اولئک فی ضلل مبین) بلکه دا خلق په ګمراهئ ښکاره کښې هم دی ۳۲۔ (۱۲) سورة جاثیه کښې نفی د شرک فی التصرف وه۔ (لله ملک السموت والارض ۲۸) نو سورة احقاف کښې نفی د شرک فی العلم او فی الدعا ذکر کوی چه عالم الغیب صرف الله دے۔ (انما العلم عندالله۔ و من اضل ممن یدعوا من دون الله)۔

خلاصه د سورة احقاف:-

سورت کښې یوولسمه شبهه چه په لمنواوڅنګونو د دوی کښې یعنی غیرالله کښې څمونږه خیر اور برکت دے او نزدے والے دے الله ته۔ جواب ۲۸ (فلولا نصرهم الذین اتخذوا من دون الله قربان الهة)۔ هغه عادیانو چه مددګاران نیولی وو په نزدیکت سره نو ولې د الله عذاب نه خلاصی نهٔ کړل۔ سورت کښې مطالبه ده د دلیل د مشرک نه او دلیل ....

....

عقلي دے او ترغیب ورکوی اعمال صالحو ته۔

امتیازات د سورة احقاف:-

(۱) سورت ممتاز دے په لفظ د احقاف باندې۔ (۲) سورت مم
دے په وینا دجناتو په وخت د لوستلو د قران چه چپ شی۔ (انصتوا الخ)
(۳) سورت ممتاز دے چه کله ئې بیان واورېدلو د نبی علیه السلام ن
واورېده خپلو قومونو ته یره ورکوونکی۔ (ولو الی قومهم منذرین)۔ (۴)
سورت ممتاز دے په وینا د جناتو چه هغوی اوونیل چه راالبېولے شوے
کتاب پس د موسیٰ نه۔ (انا سمعنا کتابا أُنزل الخ)۔ (۵) سورت ممتاز دے
په پناه ورکولو هغه جناتو ته د جهنم نه چه داد توحید مسئله ئې اومنله
۳۱۔ (٦) سورت ممتاز دے په راتلو د وریځې مخامخ د دوی هغه کندے
ته (فلما راوه عارضا مستقبل اودیتهم)۔ (۷) سورت ممتاز دے په وینا
عادیانو چه کله ئې وریځ اولیده نو هغوی ونیل (هذا عارض ممطرنا)۔ (۸)
سورت ممتاز دے په هغه دېرشو(۳۰) میاشتو په موده د رضاعت باندې
(ثلثون شهرا)۔ (۹) سورت ممتاز دے په هغه دوه قسمه اولاد باندې نیک
عمله او بدعمله۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په وینا د نبی علیه السلام چه
ماته پته نشته چه ما سره به دنیا کښې څه کیږی او تاسو سره به څه کیږی
(ما ادری ما یفعل بی ولا بکم)۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په درې قسمه
دلائلو او په مطالبے د دلیل د مشرک نه په یو ایت کښې (اروني ماذا خلقوا
من الارض ٤)۔ (۱۲) سورت ممتاز دے په فریاد کولو د مور او پلار الله ته
د پاره د خوئی۔(وهما یستغیثٰن الله)

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة محمد مدنية نزلت بعد الحديد نزولاً (۹۵) ترتیباً (۴۷)

ربط:-

(۱) سورة احقاف کښې شبهه د مشرکینو ذکر کړه نو سورة محمد کښې وائی چه مسئله نه منی او شبهه کوی نو (فضرب الرقاب)- جهاد اوکړئ کافرو سره- (۲) سورة احقاف اخر کښې ترغیب الی القران ذکر کړه (هذا بلغ للناس) نو سورة محمد کښې د هغه چا حالات ذکر کوی چه قران نهٔ منی او انکار د قران نه کوی- (۳) سورة احقاف اخر کښې بیان د کفارو اوکړو چه جهنم ته به پېش شی (یوم یعرض الذین کفروا علی النار ۳۴) نو سورة محمد اول کښې وائی چه جهنم ته به پېش کیږی ځکه چه (اضل اعمالهم) ۱- (٤) سورة احقاف کښې مسئله د توحید ذکر شوه په ادله عقلیو سره نو سورة محمد کښې ترغیب الی الجهاد کوی- (۵) سورة احقاف کښې بیان د جنت اوکړو نو سورة محمدؐ کښې د جنت او د هغې د نهرونو بیان کوی ۱٤- (٦) سورة احقاف کښې ذکر کړه چه عادیانو د هود علیه السلام اتباع او نه کړه نو تباه شو نو سورة محمدؐ کښې وائی چه یوازې عادیان نه بلکې هر هغه څوک چه د پیغمبر خلاف کوی نو عمل ئې برباد دے- (۷) سورة احقاف کښې ذکر کړهٔ چه څوک غیرالله رامدد کوی نو هغه گمراه دے (و من اضل ۵) نو سورة محمدؐ کښې وائی چه څوک غیرالله رامدد کوی او کفر ئې اوکړو نو هغه گمراه دې او عمل ئې برباد دے- (الذین کفروا و صدوا عن سبیل الله اضل اعمالهم ۱)-

خلاصه د سورة محمدؐ:-

سورت کښې ترغیب الی الجهاد او احوال د منافقینو۔ سورت دوه حصې دې اوله حصه د اول نه تر ۱۹ پورې پدې کښې ترغیب جهاد ته او زېرې مومنانو ته او اخر کښې په جهاد باندې دعوىٰ د توحید تفریع کړی (فاعلم انه لااله الاالله)۔ دویمه حصه ۲۰ نه تر اخره پورې پدې کښې احوال د منافقینو او اخر کښې ترغیب ورکوی انفاق ته۔

امتیازات د سورة محمدؐ:-

(۱) سورت ممتاز دے په هغه څلورو قسمو نهرونو باندې په جنت کښې (مثل الجنت التی وعدالمتقون ١٤)۔ (۲) سورت ممتاز دے په هغه دری قسمه خلقو باندې په یو ایت کښې چه عمل ئې برباد دے کفار، چه خلق بنده وی د الله د دین نه، چه خلاف کوی د پېغمبر۔ (ان الذین کفروا ۳۲)۔ (۳) سورت ممتاز دے پدې چه الله تاسو نه ټول مال غوختلے دے چه زما لاره کښې خرچ کړئ نو (تبخلوا ۳۷)۔ (٤) سورت ممتاز دے په بیان د هغه چا چه مجلس علمی کښې ناست وی څان نهٔ پوهه کوی (ماذا قال انفا ١٦)۔ (۵) سورت ممتاز دے په تفریع کولو مسئله د توحید پس د جهاد نه (فاعلم انه لااله الاالله ١٩)۔ (٦) سورت ممتاز دے په شان د خوراک کولو د څناورو او جهنم ئې ځائ دے (یاکلون کماتاکل الانعام)۔ (۷) سورت ممتاز دے په بیان د فدیې او د احسان په یو ایت کښې (و اما منا بعد واما فداء ٤)۔ (۸) سورت ممتاز دے پدې چه کفارو سره به تر هغې پورې جنګ کوے چه اوزار دجنګ کیږدی۔ یا سامان د شرک

گیږدي- (حتی تضع الحرب اوزارها ٤)- (٩) سورت ممتاز دے په
زړجونو د کفارو باندې په وهلو د مخونواو کوناتو باندې- (یضر بون
وجوههم و ادبارهم ٢٧)- (١٠) سورت ممتاز دے په کتې کولو د قلمو د
جهنمیانو په سبب د اړولو کړ مواوبو سره په جهنم کښے ١٥ (و سقوا ماء
حمیما)- (١١) سورت ممتاز دے په خوشبوئې دجنت سره ٦ (ویدخلهم
الجنه عرفهالهم)- (١٢) سورت ممتاز دے په اشراطو د قیامت سره (فقد
جاء اشراطها ١٨)-

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة فتح مكية نزلت بعد الجمعه نزولا (١١١) ترتيباً (٤٨)

ربط:-

(١) سورة محمدؐ کښے بیان د جهاد وو نو سورة فتح کښے بیان د
فتح کوی او بشارت نبیؐ او مومنانو ته- (٢) سورة محمدؐ کښے توحید
تفریعا ذکر وو (فاعلم انه لااله الا الله ١٩) نو سورة فتح کښے هم مسئله د
توحید تفریعا ذکر کوی باالترقی دوه خایه- (و تسبحوه بکرة و اصیلا
١٤)- (٣) سورة محمدؐ په اخر کښے ذکر کړل (ان تتولو یستبدل قوما
غیرکم) نو سورة فتح کښے د هغے مثال ذکر کوی لکه صحابه رضوان الله
علیهم اجمعین- (٤) په دواړو سورتونو (سورة محمد او سورة فتح) کښے
د مومنانو مخلصینو او مشرکانو او منافقینو ذکر دے- (٥) سورة محمدؐ
کښے امر باالا استغفار وو (فاستغفر لذنبک١٩) نو سورة فتح کښے ذکر د
وقوع د مغفرت دے (لیغفر لک الله ما تقدم من ذنبک)- (٦) سورة

محمدؐ کښې زجر وو منافقانو ته په سستی په جهاد کښې نو سورة
کښې هم زجر دے۔ (۷) سورة محمدؐ کښې بیان د جنتونو او نهرونو وو
نو سورة فتح کښې وائی چه د غه جنت ته به داخلیږی صرف مومنان
مو منانې ښځې (لیدخل المومنین والمومنات ۵)۔ (۸) سورة محمدؐ کښې
اوونیل چه منافقانو او مشرکانو عمل برباد دے ۱، ۲۸، ۳۲ نو سورة
کښې وائی چه غضب د الله او لعنت د الله دے په دوی ځکه چه عمل
برباد دے۔ (۹) سورة محمد کښې بیان د منافقانو اوکړۀ چه هغه به
کیږی او ستا نه به تېختة کوی (ان الذین ارتدوا علی ادبارهم ۲۵) نو سورة
فتح کښې وائی چه صحابه به تاسره بیعت کوی (ان الذین یبایعونک
۱۰)۔ (۱۰) سورة محمد اول کښې بشارت وو مومنانو ته (والذین امنوا
عملوا لصلحت ۲) نو سورة فتح اخر کښې هم بشارت دے۔ (۱۱) سورة
محمد کښې بیان د جهاد وو نو سورة فتح کښې بیان د تائید او عزت
پیغمبر دے۔ (و توقروه ۹)۔

خلاصه د سورة فتح:-

سورت کښې بیان د فتح بشارت للمومنین او سورت تفریع دے
په سورة محمدؐ باندې۔

امتیازات د سورة فتح:-

(۱) سورت ممتاز دے په بیعت الرضوان باندې۔ (۲) سورت ممتاز
دې په ډېرو فتوحاتو او غنائمو باندې لکه فتح مکه، صلح حدیبیه، فتح
خیبر، فتح فارس (۳) سورت ممتاز دے په خوب د نبی صلی الله علیه
وسلم باندې۔ (٤) سورت ممتاز دے پدې چه صحابوؓ سره ئې لازم کړې

ره (کلمة التقوی وکانوا احق بها ۲٦)۔ (۵) سورت ممتاز دے په حلق او په قصر د سر باندې۔ (٦) سورت ممتاز دې په صفاتو د صحابو باندې چه دا صفات موجود وو په تورات او په انجیل کښې۔ (۷) سورت ممتاز دې په هغه مثال باندې د فصل چه اول تېغ وی بیا غټ شي۔ (کزرع اخرج شطئه)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة حجرات مدنية نزلت بعد مجادله نزولا (۱۰٦) ترتيباً (٤۹)

ربط:-

(۱) سورة فتح کښې بیان د بشارت وو او تنظیم وو نو سورة حجرات کښې اداب د تنظیم ذکرکوی۔ (۲) سورة فتح کښې کلمة التقوی ذکر کړه نو سورة حجرات کښې وائی چه (ان اکرمکم عندالله اتقکم ۱۳)۔ (۳) سورة فتح ئې ختم کړے وو په لفظ د امنوا باندې۔ (وعدالله الذین امنوا الخ ۲۹) نو سورة حجرات ئې شروع کړو په لفظ د امنوا باندې (یایها الذین امنوا)۔ (٤) سورة محمد کښې مضمون د جهاد باندې دعوی د توحید تفریع کړه (فاعلم انه لااله الاالله ۱۹) نو سورة فتح کښې بشارت او فتح باندې د موسی د توحید تفریع کړے ده (و تسبحوه بکرة و اصیلا ۹) نو سورة حجرات کښې په ادابو د تنظیم باندې دعوی د توحید تفریع کوی په اخر کښې (ان الله یعلم غیب السموت والارض ۱۸)۔ (۵) سورة فتح کښې بیان د قتال وو کفارو سره نو حجرات کښې بیان د قتال دے د بغاة (باغیانو سره) ۱ (٦) په دواړو سورتونو کښې اکرام او عزت دپېغمبر

منافقانو ته په سستی نو سورة
پاک دے۔ (۷) سورة فتح کښے زجر وو منافقانو ته په سستی ۱٤۔ (۸) سورة فتح کښے اوونیل چه
حجرات کښے هم زجر دے په سستی
صحابه کرام سره کلمة التقویٰ لازم کړے وه ۲٦ نو سورة حجرات کښے
وائی چه د صحابوؓ زړونه الله خالص کړی وو د تقویٰ د پاره (امتحن الله
قلوبهم للتقویٰ ۳)۔ (۹) سورة فتح ئې ختم کړے وو په زیری باندې نو
سورة حجرات اخر کښے هغه مسئله د توحید ذکر کوی چه د هغے په
سبب زیرے ملاویږی (ان الله یعلم غیب السمٰوٰت ۱۸)۔ (۱۰) سورة فتح
کښے اوونیل چه محمدؐ رسول د الله دے ۲۹ نو سورة حجرات کښے وائی
چه څوک د محمدؐ بې عزتی کوی او خبره ئې نه منی نو عمل ئې برباد
دے (ان تحبط الخ ۲)۔ (۱۱) څنګه چه فتح مصدر وو په تعظیم او عزت د
پیغمبرؐ باندې نو سورة حجرات هم مصدر دے په تعظیم او عزت د پیغمبر
باندې۔

دعویٰ د سورة حجرات:-

اصلاح المعاشره والجماعة لبیان القواعد السبعه۔

امتیازات د سورة حجرات:-

(۱) سورت ممتاز دے پدې چه د الله او د پیغمبر د حکم نه مخکښے
مه څئ۔ (لاتقدموا بین یدی الله و رسوله ۱ ۔ (۲) سورت ممتاز دے پدې
چه د خان شهرت مکوه د پیغمبر د طریقے شهرت اوکړه (لاترفعوا
اصوتکم ۲)۔ (۳) سورت ممتاز دے پدې چه د صحابو زړونه الله خالص
کړی وو د تقویٰ د پاره ۳۔ (٤) سورت ممتاز دے په اواز کولو اخوا د
کوټے یا د پردے نه۔ (من وراء الحجرات ٤)۔ (۵) سورت ممتاز دے پدې
....

چه بې اعتباره راشي نو تحقيق کوه ٦ (٦) سورت ممتاز دے پدې چه الله ايمان غوره کړے او کفر او فسوق او عصيان ئې بد ګڼلے مومنانو ته ۷۔ (۷) سورت ممتاز دے په قتال کولو باندې ثالیثینو سره۔ (۸) سورت ممتاز دے پدې چه يو قوم به بل قوم پورې ټوقې نه کوی ۱۱۔ (۹) سورت ممتاز دے پدې چه بد نوم مه اخلئ يو بل ته ۱۱۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په خان ساتلو د ډېر عمل کولو نه په ګمان باندې۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په بيان د غيبت باندې۔ (۱۲) سورت ممتاز دے په بيان ددے چه شعوبا او قبائل دے په يو ايت کښې۔

خلاصه د سورة حجرات:-

سورت کښې اووه اداب دی د پاره د تنظیم۔ اوله قاعده چه د الله تعظيم به کوئ لا تقدموا ۱ دويم د پيغمبر د طريقې شهرت اوکړه د خپل ځان شهرت مکوه (لا ترفعوا اصواتکم ۲)۔ دريم چه بې اعتباره په يو خبره راشي نو د هغه خبرې تحقيق کوه۔ (ان جاء کم فاسق بنبأ)۔ څلورم دوو کسانو (قبيلو) مينځ کښې صلح کوه۔ (و ان طائفتن من المومنين اقتلوا)۔ پنځم يو قوم دے بل قوم پورے خاندی نه (لايسخر قوم من قوم)۔ شپږم ځان اوساتی د ډېر ګمان کولو نه په عمل، غيبت او جاسوسيمۀ کوئ۔ (ان بعض الظن اثم) الخ۔ اووم عزت مند ستاسو نه الله ته پرهيزګار دې ۱۳۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة ق مکیة نزلت بعد مرسلات نزولا (۳٤) ترتیباً (۵۰)

ربط:-

(۱) هرکله چه سورة حجرات کښې اداب د معاشرے ذکر کړل نو سورة ق کښې اثبات دقیامت کوی چه معاشره دِصحیح کړه نو الله به هغے اجر درکړی قیامت کښې - (۲) سورة حجرات اخر کښې اوویل (ان الله یعلم غیب السموت الخ) چه بره او ښکته خبردار زه یم نو سورة ق کښې وائی چه یوازې بره او ښکته خبردار نه بلکې ستا په زړهٔ هم خبردار یم (یعلم ما توسوس به نفسه ۱٦)- (۳) سورة حجرات کښې بیان د تقویٰ اوکړه ۱۳ نو سورة ق کښې منزل د تقویٰ ذکر کوی ۳٤- (٤) سورة حجرات کښې اوویل چه د پیغمبر خلاف او بې ادبی مه کوئ ۲ کنی عمل به مو برباد شی نو سورة ق کښې وائی چه چا د انبیاؤ تکذیب او خلاف کړیدے الله تباه کړی دی ۱٤- (۵) سورة حجرات اخر کښې مسئله د توحید تفریعا ذکر کړه (الله غیب السموت والارض) نو سورة ق کښې په هغے دلائل عقلیه ذکر کوی- (٦) سورة حجرات کښې اوویل چه (لا یسخر قوم من قوم) توقې مه کوئ نو سورة ق کښې وائی چه چا انبیاؤ پورې توقې کړی دی الله تباه کړی دی- (۷) سورة حجرات کښې بیان د جهاد اوکړه نو سورة ق کښې اثبات د قیامت کوی اشاره ده دې خبرې ته چه جهاد پدې عقیده کوئ چه یو ورځ به راځی نو ماله به به پورې الله اجر راکړی-

خلاصه د سورة ق:-

سورت کښې اثبات د قیامت دے باالامثله او هلاکت د هغه قومونو

....

هلاک شوو او دلائل عقليه په دعوی د توحيد باندې۔

امتیازات د سورة ق:-

(۱) سورت ممتاز دے په تعجب کولو د کفارو په اثبات دقيامت باندې۔
(۲) سورت ممتاز دے په بيان د حبل الورید باندې۔ (۳) سورت ممتاز دې په هغه دوو فرشتو باندې چه يو سائق او بلشهيد۔ (٤) سورت ممتاز دے په (مايلفظ من قول الالديه رقيب عتيد) باندې۔ (۵) سورت ممتازدے په لرے کولو د هغه پردو د انسان نه په قيامت کښے (فکشفنا عنک)۲۲۔
(٦) سورت ممتاز دے په هغه وينا د فرشتو باندې چه وائی به دا مجرم دې ماسره تيار ۲۳۔ (۷) سورت ممتاز دے په هغه دوو طريقو باندې د پاره د زده کړے د علم۔ (کان له قلب الخ ۳۷)۔ (۸) سورت ممتاز دے په هغه دوو فرشتو چه ناستی دی په خی او گس طرف باندې ۱۷۔ (۹) سورت ممتاز دے په وينا د الله باندې جهنم ته چه (هل امتلات و تقول هل من مزيد ۳۰)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په پوهېدلو د وسوسے د انسان باندې (ونعلم ما توسوس به نفسه ۱٦)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة ذاريات مكية نزلت بعد الاحقاف نزولا (٦٦) ترتيباً (٥١)

ربط:-

(۱) سورة ق کښے اثبات د قيامت وو چه (کذالک الخروج) نو سورة ذاريات کښے په هغے ترقی ده انما توعدون الخ۔ (۲) سورة ق
....

کښې په اثبات د قيامت باندې دلائل عقليه ذکرشول په اعتبار د
السموت والارض سره نو سورة ذاريات هم په اثبات د قيامت دلائل
ذکر کوی په اعتبار د خلق السموت سره۔ (۳) سورة ق کښې بيان د
قومونو هلاک شوو کړے وو اجمالاً نو سورة ذاريات کښې تفصيل
هغوی د هلاکت کوی۔ (۵) سورة ق کښې تخويف دنيوی وو په هلاکت
باندې نو سورة ذاريات کښې هم تخويف دنيوی دے۔ (٦) سورة ق کښې
بشارت وو مومنانو ته ۳۵ نو سورة ذاريات کښې هم بشارت دے مومنانو
ته۔ (۷) سورة ق کښې وئيلی وو (فهم فی امر مريج ۵) نو سورة ذاريات
کښې وائی چه دوی په وينا لفی قول مختلف کښې دی ۸۔ (۸) سورة ق
کښې وئيلی وو (افلم ينظروا الخ ٦) نو سورة ذاريات کښې وائی (والسماء
ذات الحبک ۷)۔ (۹) سورة ق کښې وئيلی وو (والارض مدد نها ۷)
سورة ذاريات کښې وائی (و فی الارض ايت للموقنين ۲۰)۔ (۱۰) سورة
کښې وئيلی وو (نعلم ما توسوس به نفسه ۱٦) نو سورة ذاريات کښې وائی
(وفی انفسکم ۲۱)۔ (۱۱) سورة ق کښې وئيلی وو (و نزلنا من السماء ماء
۹) نو سورة ذاريات کښې وائی (و فی السماء رزقکم ۲۲)۔ (۱۲) سورة ق
کښې د عاديانو بيان کړے وو اجمالاً ۱۳ نو سورة ذاريات کښې د هغې
تفصيل کوی ۴۱۔ (۱۳) سورة ق کښې د نوحؑ د قوم بيان کړې وو ۱۲ نو
سورة ذاريات کښې په هغوی د عذاب بيان کوی ۴٦۔ (۱٤) سورة ق کښې
وئيلی وو (افلم ينظرو الی السماء ٦) نو سورة ذاريات کښې په هغې ترقی
۴۷۔ (۱۵) سورة ق کښې وئيلی وو (والارض مدد نها) ۷۔ نو سورة ذاريات
کښې وائی (والارض فرشنها) ۴۸۔ (۱٦) سورة ق کښې وئيلی وو (الذی
جعل مع الله ٦٦) نو سورة ذاريات کښې امر دې چه (لا تجعلوا مع الله الها

۵۱)۔ (۱۷) سورة ق کښې وئیلي وو (فذکر بالقران) ٤۵ نو سورة ذاریات کښې په هغې ترقي ده (و ذکر فان الذکری تنفع المومنین) ۵۵۔ (۱۸) سورة ق کښې وئیلي وو چه ما انسانان پېداکړي (ولقد خلقناالانسان (۱۶) نو سورة ذاریات کښې د انسان د پېدائش مقصد ذکر کوي (وما خلقت الجن والانس الخ ۵٦)۔ (۱۹) سورة ق کښې ذکر د قیامت د جزا او سزا، د جنت او د نارا وکړهٔ نو سورة ذاریات اول کښې په هغې باندې شواهد پېش کوي چه دا قیامت او جنت او نار ریشتیا دي۔

خلاصه د سورة ذاریات:-

سورت کښې اثبات القیامت بالشواهد او ادله عقلیه ثلاثه تخویف مجرمانو ته او بشارت مومنانو ته۔

امتیازات د سورة ذاریات:-

(۱) سورت ممتاز دے پدې چه اسمان خاوند د ستورو دے ۷۔ (۲) سورت ممتاز دې په قول مختلف باندې یعنی چه تاسو په وینا کښ وړه کښې ئې ۸۔ (۳) سورت ممتاز دې په دې (بالاسحار هم یستغفرون ۱۸)۔ (٤) سورت ممتاز دې پدې چه (و فی السماء رزقکم ۲۲)۔ (۵) سورت ممتاز دے په عجل سمین باندې یعنی په هغه څخې خورب ۲٦۔ (٦) سورت ممتاز دے په وهلو د مخ خپل د هغه بي بي د ابراهیمؑ د وجه د تعجب نه ۲۹۔ (۷) سورت ممتاز دے پدې الفاظو سره چه (فما وجدنا الخ ۳٦)۔ (۸) سورت ممتاز دے پدې بیان چه موجوده کفار د پخوانو کفارو په نقش قدم داسې روان دی چه ته به وائې چه هغوی دوی ته وصیت کړے۔ (اتواصو به ۵۳)۔ (۹) سورت ممتاز دے په بیان د مقصد د پېدائش

د انسانانو او پیریانو د پاره د عبادت ٥٦۔ (١٠) سورت ممتاز دے پ مختلف حالاتو او شواهدو په راتلو د قیامت باندې په اول کښې لګ بادونه، فرشتے او کشتۍ۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة طور مكية نزلت بعد الم السجدة نزولا (٧٦) ترتيباً (٥٢)

رېط:-

(١) سورة ق کښې اثبات د قیامت وو (کذالک الخروج) نو سورة ذاریات کښې اوونیل (انما توعدون لصادق) نو سورة طور کښې وائی (ان عذاب ربک لواقع)۔ (٢) سورة ذاریات کښې ادله عقلیه ذکر کړل په اعتبار د خلق السموت والارض سره نو سورة طور کښې دلیل ذکر کوی په اعتبار د فنا سره۔ (٣) سورةق او سورة ذاریات کښې دلائل عقلیه وو په اثبات دتوحید نو سورة طور کښې دلائل ثلاثه ذکر کوی۔ عقلی، نقلی او وحیی۔ (٤) سورة ق او په سورة ذاریات کښې شرک علت د جهنم ذکر کړه (الذی جعل مع الله)۔ (لا تجعلوا مع الله) نو په سورة الطور کښې توحید علت د جنت ذکر کوی۔ (انه هوالبر الرحیم)۔ (٥) سورة ذاریات کښې امثله ذکر کړۀ په اثبات القیامت باندې نو سورة طور کښې ادله ثلاثه ذکر کوی په اثبات القیامت باندې۔ (٦) دواړو سورتونو په اول کښې صفات او حال د متقیانو ذکر کوی۔ (٧) سورة طور او سورة ذاریات دواړو سورتونو کښې امر دے نبیؐ ته په تذکیر باالقران (و ذکر) او سورة طور کښې وائی (فذکر)۔ (٨) دواړو سورتونو (سورة طور ، سورة ذاریات)

....

کښې امر دے نبیؐ ته په اعراض کولو باندې د هغه خلقو نه چه هغوی وائی (قول مختلف) ٨۔ (٩) سورة طور او سورة ذاريات دواړو سورتونو کښې نهايت وعيد دې د پاره د کفارو۔ (١٠) دواړو سورتونو شروع په شواهدو باندې ده ليکن سورة ذاريات کښې شواهد بالرياح وو چه فائده مند دی د پاره د انسان په دنيا کښې او سورة طور کښې شواهد باالکتاب دی لکه تورات، قران او انجيل نو دا فائده مند دی د پاره د انسان په اخرت کښې۔ (١١) سورة ذاريات ئې ختم کړے وو په لفظ ويل باندې د پاره د کفارو (فويل للذين کفروا ٦٠) نو سورة اول کښې لفظ ويل راوړو د پاره د دروغجنو چه يوازې کفارو ته به ويل نه وی بلکې دروغژنو ته هم ويل دې ١١۔ (١٢) سورة ذاريات کښې ذکر کړل چه (والسماء بنينها ٤٧) نو سورتة طور کښې په هغې ترقی چه دغه اسمان به روان شی (يوم تمورالسماء ٩)۔ (١٣) سورة ذاريات کښې په يو ايت کښې دوه نومونه د الله پاک ذکرکړل چه (ان الله هوالرزاق الخ ٥٨) نو سورة طور کښې دوه نور نومونه د الله ذکر کوی په يو ايت کښې ٢٨ (انه هوالبرالرحيم)۔ (١٤) سورة ذاريات کښې اوونيل چه د مومنانو صفت دا دې (وباالاسحارهم يستغفرون ١٨) نو سورة طور کښې ترقی ده چه حمد ورسره هم وايه يوازې استغفار مه وايه (و سبح بحمد ربک ٤٨)۔

خلاصه د سورة طور:۔

سورة طور کښې اثبات د قيامت دے باالترقی او زجر منکرينو د قيامت اورسالت ته پنځلس خله ام سورت کښې سبب د تلو جنت ته ذکر کوی چه توحيد دے۔

....

امتيازات د سورة طور:-

(۱) سورت ممتاز دے په بيت المعمور باندې- (۲) سورت ممتاز دے په رق منشور باندې- (۳) سورت ممتاز دے په پنځلس خله لفظ باندې- (٤) سورت ممتاز دے په هغه خبرو د مومنانو په جنت کښے خپل مينځ کښے- (اناكنا قبل فى اهلنا مشفقين ۲٦)- (٥) سورت ممتاز دے پدې الفاظو باندې چه (فلياتو بحديث مثله) ۳٤- (٦) سورت ممتاز دے په تابعدارئ د خوئ د خپل پلار باندې په درجه کښے ۲۱-

بسم الله الرحمن الرحيم

سورةنجم مكية نزلت بعد الاخلاص نزولا (۲۳) ترتيباً (۵۳)

ربط:-

(۱) سورة طور کښے اثبات د قيامت وو او علت د عذاب وو شرک نو سورة نجم کښے رد د شرک ئې شروع کړو چه شرک دومره لوئے مرض دے چه په سبب د هغے انسان جهنم ته غورزيږی- (۲) سورة طور کښے استهزاء د نبیؑ مره شوے وه نو سورة نجم کښے اثبات د رسالت دے- (۳) سورة طور ئې ختم کړے وو په لفظ د نجم باندے نو سورة نجم ئې شروع کړو په لفظ نجم باندې- (٤) سورة طور کښے اثبات د قيامت وو نو سورة نجم کښے نفی د شفاعت قهری اورد په الهه باطلو باندې- (٥) سورة طور کښے اعمال د مومن ذکر شول نو سورة نجم کښے اعمال دكافرو ذکر کوی- (٦) سورة طور اختتام شوے رو په تسلی نبیؑ ته نو

سورة نجم ئې شروعکړو په اثبات الرسالت باندې۔ (۷) مخکښې سورتونو کښې تخویف دنیوی وو په هغه هلاک شوو قومونو باندې نو سورة نجم کښې هم تخویف دنیوی دې په هغه هلاک شوو قومونو باندې۔ (۸) سورة طور اختتام شوے وو په عبادت د الله (ومن اللیل فسبح) نو سورة نجم اختتام هم په عبادت کوی (واعبدوا)۔ (۹) سورة طور کښې بیان د هغے صحیفے د موسیٰ وو نو سورة نجم کښې د صحیفو د موسیٰ و دابراهیمؑ بیان کوی ترقی ده۔

خلاصه د سورة نجم:-

سورت کښې رد د شرک اعتقادی دے۔ سورت دوه حصے دے اوله حصه کښې اتلس ایتونه دی پدې کښې اثبات د نبوت کوی او دویمه کښې رد د شرک اعتقادی دے۔ او رد دے په الهو د مشرکینو باندے یا عاجزی د مشرکینو د مددګارانو۔ لات منات ، عزی او هغه مددګاران چه که په اسمانونوکښې دی۔ او که په زمکو کښې دی۔ اسمانونو کښې لکه فرشتے او زمکو کښې لکه لات، منات او عزی۔

امتیازات د سورة نجم:-

(۱) سورت ممتاز دے په استاذ د پېغمبر باندې (علمه شدید الخ)۔ (۲) سورت ممتاز دے په بیان د (قاب قوسین) باندې۔ (۳) سورت ممتاز دے په بیان د سدرة المنتهی باندې۔ (٤) سورت ممتاز دې په نومونو د لات، منات او عزی باندې۔ (۵) سورت ممتاز دے پدې الفاظو چه (افمن هذاالحدیث تعجبون)۔ ایا ددې قران په اورېدو تاسو تعجب کوے او خاندئ او ژاړئ نه۔ (٦) سورت ممتاز دے په تفصیلی حال باندې د نبیؐ په

(۷) سورت ممتاز دے په (رب الشعری) (ستوری
معراج کښې۔ (۸) سورت ممتاز دې په (اضحک و ابکی و امات و احیی الخ) په
(۸) سورت ممتاز دې په (اضحک و ابکی و امات و احیی الخ)
(۹) سورت ممتاز دے په نه نیولو د وسوسو او خیا
صفاتو باندې۔ (۹) سورت ممتاز دے په پدې الفاظو چه (اذ انتم اجنة الخ)
۳۲۔ (۱۰) سورت ممتاز دے پدې الفاظو چه
سورت ممتاز دے په ورکولو د الله په دین کښې د یو شی او بیا
هغے له او یا سترے شی د هغے نه ۳٤۔ (۱۲) سورت ممتاز دے پدې
قیامت (ازفة الازفة)۔ (۱۳) سورت ممتاز دے په انتها د علم باندې۔
سورت ممتاز دے په لیدو د نبیؐ جبرئیل لره دوه کرته بره او بنک
شکل باندې۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة قمر مکیة نزلت بعد طارق نزولا (۳۷) ترتیباً (٤

ربط:۔

(۱) سورة نجم کښې شبهات د مشرکینو ذکر شوی وو او د
اعراض نو سورة قمر کښې حالت د مشرکینو ذکر کوی او نمونې د
لکه قوم عاد او قوم ثمود۔ (۲) سورة نجم کښې مختصر ذکر د
قومونو هلاک شوو اوشو ۵۲ نو سورة قمر کښې تفصیل د هغه قو
هلاک شوو کوی۔ (۳) سورة نجم کښې دلائل ذکر شوی وو نو سورة
کښې د هغے انجام ذکرکوی۔ (٤) سورة نجم اخر کښې ذکر کړل (
الازفة) نزدے شو قیامت نو سورة قمر اول کښې ذکر کوی چه (اقتر
الساعه ۱)۔ (۵) سورة نجم کښې ذکر کړل چه (فاعرض ۲۹) نو سورة

کښې واني چه (فتول عنهم ٦)۔ (٦) سورة نجم کښې رد د شرک وو نو سورة قمر کښې انجام د شرک ذکر کوی چه چا شرک کړے د هغه انجام د تباهي دے۔ (۷) سورة نجم کښې رد د شرک اعتقادی اوکړه نو سورة قمر کښې نفی د شرک فی البرکات ذکر کوی۔ (۸) سورة نجم کښې نبوت او رسالت بیان وو نو سورة قمر کښې تسلی ده نبیؐ ته۔ (۹) سورة نجم کښې رد د شرک او اثبات د نبوت ذکر شو نو سورة قمر کښې اثبات د قیامت باندې یو نمونه ذکر کوی۔

خلاصه د سورة قمر:۔

سورت کښې تخویف او نمونه د قیامت او انجام د شرک او ترغیب قران ته۔

امتیازات د سورة قمر:۔

(۱) سورت ممتاز دے په څلور ځله پدې الفاظو چه قران م اسان کړے دے (و لقد یسرنا القران)۔ (۲) سورت ممتاز دې په انشقاق القمر باندې په چودلو د سپوږمی باندې ۱ ۔ (۳) سورت ممتاز دے په دُعا د نوحؑ پدې الفاظو (فدعا ربه انی مغلوب فانتصر ۱۰)۔ (٤) سورت ممتاز دے چه خلق به راوځي د قبرونو نه په شان د ملخانو (کانهم جراد منتشر ۷)۔ (٥) سورت ممتاز دے په طوفان د نوحؑ په قوم باندې (بما منهمر) ۱۱ ۔ (٦) سورت ممتاز دے چه سورکړے وو مونږه نوحؑ په تختو او مېخونو باندې (ذات الواح و دسر ۱۳)۔ (۷) سورت ممتاز دے په بیان د قوم صالحؑ کښې چه هغوی ونیلی وو بل (هو کذاب اشر) ۲۵ ۔ (۸) سورت ممتاز دے په هغه تقسیمات د ابو باندې د اوښې او د نورو څاروو ۲۸ ۔ (۹) سورت ممتاز دے

....

Maktaba Tul Ishaat.com

چه اوګرځوو مونږ قوم د نوحؑ په شان د وبنو خوړلے شووو باندې (کچه ... (۳۱)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے چه د لوطؑ د قوم سترګے الله ړندے ... همواره کړے چه کله هغوی مطالبه د میلمنو دهغوی نه کړے ... (فطمسنا اعینهم ۳۷)۔ (۱۱) سورت ممتاز دے چه قیامت ډیر سخت ... تریخ دے ٤٦۔ (۱۲) سورت ممتاز دے چه هر شي مونږ پیدا کړے ... خپلے اندازے۔ (خلقنه بقدر ٤٩)۔ (۱۳) سورت ممتاز دے چه هر لوړ ... ډیر شے الله لیکلے دے په صحائفو د اعمالو کښے (کل صغیر الخ ٥٣) ... (۱٤) سورت ممتاز دے په وینا د هغه قوم په باره د نوحؑ کښے چه دے لیونے او شړلے شوے دے (مجنون وازدجر)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

(۵۵) ترتیباً (۹۷) نزولاً

سورة رحمٰن مدنية نزلت بعد رعد

ربط:-

(۱) سورة قمر ئې په نفی د شرک فی البرکات ختم کړے وو (انا کل شی خلقنه بقدر) نو سورة رحمٰن کښے دا مضمون ذکر کوی چه برکت اچوونکے الله دے اخر د رحمٰن کښے۔ (۲) سورة قمر کښے چه کومه مسئله ذکر شوه (خلقنه بقدر) نو سورة رحمٰن کښے په هغے ادله عقلیه ذکر کوی۔ (۳) سورة قمر کښے تخویف دنیوی ذکر شو د پاره د مجرمانو ... نو سورة رحمٰن کښے تخویف اخروی ذکر کوی د پاره د مجرمانو۔ (٤) څنګه چه سورة قمر اختتام کښے بشارت وو مومنانو متقیانو ته اجمالاً ... سورة رحمٰن اختتام کوی په بشارت متقیانو ته تفصیلاً۔ (۵) څنګه چه ...

سورة قمر ئې ختم کړے وو په بشارت سره نو سورة رحمٰن هم ختموی په بشارت سره۔ (٦) سورة قمر کښے عذاب د مجرمینو ذکر کړه نو رحمٰن کښے انعام په منکرینو ذکر کوی ۔ (۷) سورة قمر کښے د الله د قدرت یو کرشمه رحودله چه انشقاق القمر وو نو سورة رحمان کښے نورے کرشمې درب العزت ښائی۔ (۸) سورة قمر کښے ذکر کړی وو (یسحبون فی النار الخ۴۸) کفار به پړ مخې راښکلی شی په جهنم کښے نو سورة رحمٰن کښے وائی چه (فیوخذ بالنواصی والاقدام ۴۱)۔ (۹) سورة قمر کښے انشقاق القمر ذکر کړے وو دنیا کښے۱ چه سپوږمی اوشلیده نو سورة رحمٰن کښے انشقاق السماء ذکر کوی چه اسمان به اوچوی اخرت کښے (فاذا انشقت السماء ۳۷)۔ (۱۰) سورة قمر کښے اووئیل چه (ان المجرمین فی ضلل و سعر ۴۷) چه مجرمان به څنګه معلومیږی چه دا مجرمان دی نو سورة رحمٰن کښے وائی (یعرف المجرمون بسیمهم ۴۱)۔ (۱۱) سورة قمر کښے ذکر کړی وو چه کفار وائی (نحن جمیع منتصر ٤٤) نو سورة رحمٰن کښے وائی چه (فلا تنتصران) بدله به نشی اغستلے ۳۵۔

خلاصه د سورة الرحمٰن:-

نفی د شرک فی البرکات۔ او سورت درې رکوع دے۔ اوله رکوع کښے ادله۔ دویم رکوع کښے تخویف دریم رکوع کښے بشارت۔

امتیازات د سورة رحمان:-

(۱) سورت ممتاز دے په یو دېرش (۳۱) ځله په دې ایت (فبای الاء ربکما تکذبن)۔ (۲) سورت ممتاز دے پدې چه اسمان به تک تور شی۔ (۳) سورت ممتاز دے په نیولو د مجرمانو د تندی نه۔ (٤) سورت ممتاز

....

دے په داسې حورو د جنت چه نۀ به جن مسح کړې وي او نۀ انس په دنیا
خله (لم يطمثهن انس)- (۵) سورت ممتاز دے په بيان د ياقوت او
مرجان باندې- (٦) سورت ممتاز دے په شينوالى د باغونو د جنت درجه
د كورواني نه- (٧) سورت ممتاز دے په چينو د هغه فواره كوونكو
باندے- (عينن نضاختن)- (٨) سورت ممتاز دے په هغه حورو چه
(مقصورات فى الخيام) دى- (٩) سورت ممتاز دے پدې الفاظو سره چه
(متكئين على رفرف خضرا الخ)- (١٠) سورت ممتاز دے چه دانے خاوند
د بوسو او ډكلونو دى- (ذو العصف والريحان)-

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة واقعه مكية نزلت بعد طٰهٰ نزولا (٤٦) ترتيباً (٥٦)

ربط:-

(١) سورة رحمٰن كښې نفى د شرك فى البركات ذكر كړه (تبارك
اسم ربك) نو سورة واقعه تفريع ده په رحمٰن دوه خله ذكر كوى چه
(فسبح باسم ربك العظيم)- (٢) سورة رحمٰن كښې بشارت او تخويفات
ذكر شول نو سورة واقعه كښې مستحقين د بشارت او تخويف ذكر كوى.
(٣) سورة رحمٰن كښې تخويف او عذاب على المجرمين ذكر وو (يعرف
المجرمين ٤١) نو سورة واقعه كښې علت د عذاب ذكر كوى- (٤) سورة
رحمٰن كښې چه كوم مسائل ذكر وو ادله عقليه تخويف او بشارت نو
سورة واقعه كښې هغه مسائل ذكر كوى باالتفصيل په طريقے د لف نشر
غير مرتب سره- (٥) سورة رحمٰن اول كښې ترغيب وو قران كريم ته.

(الرحمن علم القران) نو سورة واقعه اخر کښې ترغیب دے قران کریم ته. (انه لقران کریم)- (٦) سورة رحمن کښې چه کوم تخویف او بشارت بیان شو سائل تپوس اوکړو چه دا به کله وی نو سورة واقعه کښې وائی- (اذاوقعت الواقعة ١)- (٧) سورة رحمن کښې یوه نخښه د قیامت ذکر کړه چه اسمان به اوچوی ٣٧ نو سوره واقعه کښې بله نخښه د قیامت ذکر کوی چه جرق به وهی زمکه (اذا رجت الارض رجا ٤)- (٨) سورة رحمن کښې ذکر کړل چه تکیا به لګوی په هغه تختونو باندې (متکئین علی فرش الخ ٥٤) نو سورة واقعه کښې وائی چه یو بل ته به مخامخ ناست وی (متکئین علیها متقبلین ١٦)- (٩) سورة رحمن کښې بیان د یاقوت او د مرجان اوکړه ٥٦ (کانهن الیاقوت والمرجان)- نو سورة واقعه کښې بل قسم حورے ملغلرے ذکر کوی چه (حور عین کامثال اللؤلؤ المکنون) ٢٣- (١٠) سورة رحمان کښې وائی چه (حور مقصورات فی الخیام ٧٢) نو سورة واقعه کښې ترقی ده (و حورعین) ٢٢- (١١) سورة رحمن کښې ذکر کړی وو چه (متکئین علی فرش ٥٤) نو سورة واقعه کښې ترقی ده چه علی (سرر موضونة) په تختونو به ناست وی ١٥-(١٢) سورة رحمان کښې ونیلی وو چه (یطوفون بینها و بین حمیم آن ٤٤) نو سورة واقعه کښې ذکر کوی (فی سموم وحمیم ٤٢)-

خلاصه د سورة واقعې :-

سورت کښې وخت د تخویف او د بشارت دے او سورة واقعه کښې تتمه د سورة الرحمان ده- سورت کښې بیان د درې قسمه ډلو دې السابقون السابقون اصحاب الشمال، اصحاب الیمین د هغوی درجے او

....

منازل او دوه خله دعوی ذکرکوی یو ۷۴ ایت کښې دویم ۹۶ کښې (ف
بااسم ربک العظیم)۔

امتیازات د سورة الواقعے:۔

(۱) سورت ممتاز دے په دریو قسمه خلقو باندې۔ (۲) سو
ممتاز دې چه بیان د هغه بیرو بې ازغو (فی سدر مخضود)۔ (۳) سو
ممتاز دے په کیلو جوختو۔ (٤) سورت ممتاز دے په هغه ارام ا
کښې۔ (وظلل ممدود)۔ (۵) سورت ممتاز دے په هغه اوبو همېشه رو
کښې (ماء مسکوب)۔ (٦) سورت ممتاز دے په (فرش مرفوعه) باند
(۷) سورت ممتاز دے په سُوری د لوګی دجهنم۔ (وظل من یحموم)۔ (
سورت ممتاز دے په هغه ګرمه هوا۔ په ګرمو اوبو کښې به وی اصح
الشمال یا جهنمیان۔ (فی سموم الخ)۔ (۹) سورت ممتاز دے په بیان
هغه سُوری چه نۀ به یخ وی او نۀ به د عزت وی (لا باردولا کریم)۔ (۱
سورت ممتاز دے په (علی الحنث العظیم) باندې۔ (۱۱) سورت مم
دے په هغه څښلو د اوبو د جهنمیانو په شان د هیم اوښ باندې (فشاربو
شرب الهیم ۵۵)۔ (۱۲) سورت ممتاز دے په کروندې باندې یعنی
(کرلو د فصل باندې) (افرء یتم ما تحزنون ۶۳)۔ (۱۳) سورت ممتاز د
چه الله وائی تاسو زرغونے کوی یا زه۔ په زرغونے د فصل۔ (ء انت
تزرعونه)۔ (۱٤) سورت ممتاز دے چه تاسو د شنیے وَنیے نه اُور بلوئ
زه۔ (افرء یتم النارالتی تورون)۔ (۱۵) سورت ممتاز دے چه تاسو د سپ
وریځے نه باران ورویٔ یا زه۔ (ء انتم انزلتموه ۶۹)۔ (۱٦) سورت مم
دے چه نۀ به مسح کوی دا قران مګر پاک خلق (لایمسه الا المطهرو

٧٩۔ (١٧) سورت ممتاز دے چه په دا سې بيان د قرآن تا سو سستي کوئ او زده کوئ نې نه ٨١۔ (١٨) سورت ممتاز دے په نه واپس کولو د روح مر کند ته (اذا بلغت الحلقوم)۔ (١٩) سورت ممتاز دے په روح و ريحان باندے چه دا به د مقربينو د پاره وی ٨٩۔ (٢٠) سورت ممتاز دے په خافضة او رافعة باندې چه ډېر قومونه به پورته کيږی او ډېر ه ښکته کيږی۔ (٢١) سورت ممتاز دے په سلام د اصحٰب اليمين باندے۔ (٢٢) سورت ممتاز دے په رجت الارض باندے۔ (٢٣) سورت ممتاز دے په بست الجبال باندې۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة حديد مدنية نزلت بعد زلزال نزولا (٩٤) ترتيباً (٥٧)

ربط:۔

(١) سورة واقعه کښې نفی د شرک فی البرکات وو نو سوره حديد کښې وائی مال خرچ کړه چه برکت درله مال کښې وا چووم۔ (٢) سورة واقعه کښې ذکر کړه چه (فسبح باسم ربک العظيم ٩٦) پاکی بيان کړه په ذات د رب خپل چه ډېر لوئې دے۔ نو سورة حديد کښې وائی چه تسبيح ورله خکه بيان کړه چه (سبح لله ما فی السموت والارض)۔ اسمانونو او زمکو والو ورله پاکی بيان کړے ده۔ (٣) سورة واقعه کښې مسئله بيان شوه نو دے لس سورتونو کښې انفاق او جهاد ذکر کوی۔ (٤) سورة رحمن او سورة واقعه کښې تخويفات او بشارات او لوستل نو سورة حديد کښې وائی چه نرم شه او مال او نفس قربان کړه دے بشاراتو د پاره۔ (٥) سورة ....

واقعه ني ختم كړه په تسبيح باندې نو سورة حديد ني شروع كړو په تسبيح
باندې۔ (۶) سورة واقعه كښې صيغه د امر ذكر كړه چه فسبح نو سورة
حديد كښې صيغه د ماضي راوړى چه پاكي بيان شوې وه نو ته ني هم بيان
كړه۔ (۷) سورة واقعه كښې نفي د شرك في البركات او دلائل په مسئلې
ذكر شول نو سورة حديد كښې مسئلې تائيد د پاره دوه مسئلې ذكر كړې
جهاد او انفاق۔ (۸) سورة واقعه كښې بياند جنتونو اوشو نو سورة حديد
كښې هغه اسباب او پلن والے د جنتونو ذكر كوى ۲۱ (سابقوا الى مغفرة
من ربكم)۔ (۹) سورة واقعه كښې خلور دلائل ذكر شول او په پنځم ځل
ني پرې مسئله تفريع كړه (فسبح باسم ربک العظيم ٦٤) نو سورة حديد
كښې هم هغه پنځه وجه ذكر كوى د انفاق فى سبيل الله۔ (۱۰) سورة واقعه
كښې بيان د مقربينو او اصحب اليمين اوكړه او د هغوى د مقاماتو نو
سورة حديد كښې وائي (بشركم اليوم الى ذالك الفوز العظيم) دا كاميابي
لويه ده ۱۲۔

خلاصه د سورة حديد:-

سورت كښې بيان د جهاد او انفاق دے۔ سورت دوه حصے دے اوله
حصه كښې ځليريشت (۲٤) ايتونه دى او پدې كښې بيان د انفاق في سبيل
الله دے بوجوه الخمسه۔ اول شپږ ايتونو كښې مسئله د توحيد او بيا
بوجوه خمسه اول دا مال ستا نه دے دا مال د الله دے۔ ته پرې الله قائم مقام
كړخولے ني۔ (وانفقوا مما جعلكم ۷) دويم الله ته پاتې كيږى ستا مال او
ته خو ترې نه ځې۔ (ومالكم الا تنفقوا فى سبيل الله ۱۰) دريم قرض ني
وركړه دا مال الله لره۔ (من ذالذى يقرض الله ۱۱) ځلورم حقيقت د مال

نه شي دے۔ (اعلموا انما الحيوة الدنيا ۲۰) پنځم دا چې مال ستا نه مصيبت نه شي لرې کولے ۲۲ (ما اصاب من مصيبة الخ)۔ دويمه حصه د سورت خلیرشتم ایت نه تر اخره پورې پدې کښې بیان د جهاد في سبيل الله او زجر دے متکاسلينو ته۔

امتيازات د سورة حديد:۔

(۱) سورت ممتاز دے په بيان د وجوه الخمسه د انفاق في سبيل الله۔ (۲) سورت ممتاز دے په وینا د منافقينو مؤمنانو ته چه انتظار اوکړئ مونږ ته چه مونږ ستاسو نه رڼا واخلو ۔ (انظرونا نقتبس من نوركم ۱۳)۔ (۳) سورت ممتاز دے په بیان د هغه ديوال په مابين د منافقانو او مؤمنانو کښې (فضرب بينهم بسور له باب ۱۳)۔ (٤) سورت ممتاز دے په بیان د هغه دروازے چه دننه طرفه به ئې د رحمت وی او بهر به ئې د عذاب وی۔ (۵) سورت ممتاز دے په بیان د حدید باندې۔ (وانزلنا الحديد فيه باس شديد)۔ (٦) سورت ممتاز دے په بيان د هغه پيرئ (رهبانيت) باندے چه دوی خان نه جوړه کړے وه او الله پرے نه وه مقرر کړے۔ (ورهبانية ابتدعوها ۲۷)۔ (۷) سورت ممتاز دے په بیان د کفلين يعني په دوچند اجر د الله باندے (يوتكم كفلين ۲۸)۔ (۹) سورت ممتاز دے چه اولاد انبياء دوه قسمه ؤ یا امتونه د انبياءً دوه قسمه شو ۲٦ (فمنهم مهتدا الخ)۔ (۹) سورت ممتاز دے چه چا د عيسیٰ تابعداری کړے وه نو د هغوی زړونو کښې ما نرمي او رحمت ګرځولے وو یا په تابعدارو د عيسیٰ په زړونو کښې مې نرمي او رحمت اچولے او ۲۷۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په تشبيه ورکولو د جنتونو د اسمانونو او زمکو سره په لفظ د کاف تشبيهي سره (و

جنته عرضها)۔ (١١) سورت ممتاز دے پدے چه نه دی برابر هغه څوک
چه مال ئي خرج کړو مخکښے د خورېدو د مسئلے د توحید نه او د جهاد نه ١٠ (لایستوی الخ)
نه او پس د خورېدو د مسئلے د توحید نه او د جهاد نه
(١٢) سورت ممتاز دے پدې څلورو صفاتو د الله په یو ایت کښے
(هو الاول والاخر والظاهر والباطن ٣)۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة مجادلة مدنية نزلت بعد المنافقون نزولا (١٠٥) ترتيباً (٥٨)

ربط:-

(١) سورة حدید کښے بیان د جهاد او انفاق وو نو سورة مجادله
کښے زجر دے د پاره د متکاسلینو۔ (٢) سورة حدید کښے صفات جلیله
ذکر کړی وو چه (یعلم ما یلج فی الارض ٤) الله تاسو سره دے په اعتبار
علم سره کوم ځائي چه ئي تاسو نو سورة مجادله کښے وائي چه تاسو
جرګې کوئ نو الله درسره دے وهو معهم۔ (٣) سورة حدید کښے ترغیب
وو انفاق ته نو سورة مجادله کښے ترغیب ورکوی تنظیم ته۔ (٤) سورة
حدید کښے ترغیب الی الانفاق وو نو سورة مجادله کښے ترغیب ورکوی
انفاق ته چه تاسو د امیر سرهجرګې کوئ نو څه صدقه پېش کړئ (اذا ناجیتم الرسول ١٢)۔ (٥) سورة حدید اخر کښے ذکر کړل چه فضل په
اختیار د الله کښے دے (و ان الفضل بیدالله ٢٩) نو سورة مجادله په اول
کښے د هغه د فضل یوه نمونه ذکر کړه چه هغه کفاره د ظهار ده دا د الله
فضل دے۔ (٦) سورة حدید کښے بیان د منافقانو کړے وو چه مال نه خرځ
....

کوی په لاره د الله کښې نو سورة مجادله کښې درې زواجر ورکوی منافقانو ته څکه چه مال نه خرج کوی او تنظیم کښې فساد اچوی۔ (۷) سورة حدید اول کښې مسئله د توحید ذکر کړے وو نو سورة مجادله اخر کښې هغه خلق ذکر کوی چه چا دا مسئله د توحید او منله او د هغوی درجے ذکر کوی (اولئک کتب فی قلوبهم الخ)۔ (۸) سورة حدید کښې یو خطاب وو مومنانو ته نو سورة مجادله کښې ترقی ده درې خطابات ذکر کوی مومنانو ته په لفظ د امنوا سره۔ (۹) سورة حدید کښې ذکر کړی وو چه چا د انبیاؤ تابعداری اوکړه نو هغوی کامیاب دی او په زړونو کښې ورله الله نرمی او رحمت کر خولے دے۔ (و جعلنا فی قلوب الذین الخ ۲۷) نو سورة مجادله کښې د هغه چا حالت ذکر کوی چه د انبیاؤ تابعداری ئې نه ده کړے او شیطان پسې روان وو نو هغه تاوانی دے (ان حزب الشیطن هم الخاسرون ۱۹)۔ (۱۰) سورة حدید ۲۰ کښې سپکاوے د مال او فخریے په مال او په اولاد ذکر کړے وو نو سورة مجادله کښې وائی چه ستا نه به هغه مال او اولاد څه عذاب لرے نه کړی نو ولے فخر کوے په مال باندې (لن تغنی عنهم اموالهم ولا اولادهم)۔

خلاصه د سورة مجادلے:-

سورة مجادله کښې رد د رسم باطل او درې زواجر په لفظ د الم سره هغه منافقینو ته چه هغه تنظیم کښې فساد اچوی او مال نه خرج کوی او درې قاعدے ذکر کوی مومنانو ته په لفظ د امنوا سره۔ اول غلطے جرگے مه کوئ خلاف د پیغمبر۔ دویم خپل ملگری ته ځائې ورکړئ (تفسحوا فی المجالس)۔ دریم چه کله خپل امیر سره خبې نو مخکښې صدقه پیش

کړه۔ (فقدموا بين يدى نجوکم صدقة)۔

امتیازات د سورة مجادلے:-

(۱) سورت ممتاز دے په کفارے د ظهار باندې۔ (۲) سورت ممتاز دے په درې زواجر و منافقینو ته په لفظ الم سره۔ (۳) سورت ممتاز دے چه خلاف د پېغمبر جرګے مکوئ۔ (٤) سورت ممتاز دے چه خپل ملګری له خائې ورکړئ۔ (٥) سورت ممتاز دے چه کله امیر سره خبې نو صدقه پېش کړئ جانی یا مالی۔ (٦) سورت ممتاز دے په اظهار د شکایت او د غم د هغے ښځے الله ته۔ (۷) سورت ممتاز دے په بحث کولو د هغه ښځے د نبیؐ سره په باره د ظهار کښے (تجادلک فی زوجها)۔ (۸) سورت ممتاز دے په ډلے د شیطان باندې۔ (۹) سورت ممتاز دے چه الله وائی زه او زما استاذی زورور دی په دلائلو سره (کتب الله لا غلبن الخ)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په لیکلو د ایمان په زړونو د مومنانو یعنی صحابو۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په درې قسمه کفارے د ظهار باندې۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة حشر مدنية نزلت بعد البينة نزولا (۱۰۱) ترتيباً (٥٩)

ربط:-

(۱) سورة مجادله کښے احوال د منافقانو ذکر شول چه هغه تنظیم کښے فساد اچوی نو سورة حشر کښے تخویف دنیوی ذکرکوی منافقانو ته۔ (۲) سورة مجادله کښے ذکر کړے وو چه (کتب الله لا غلبن انا ورسلی) چه زه او زما رسولان غالب دی په دلائلو سره ۲۱ نو سورة حشر اول

کښې ذکر کوی چه(فاتهم الله من حیث لم یحتسبوا) ۲- (۳) سورة مجادله کښې حال ذکر کړے وو د منافقانو د یهودو او دهغوی اوړېدل بعض ته نو سورة حشر کښې عدم فائده ده اوړېدو د منافقانو ذکر کوی لکه بنو نظیر ته ئې فائده ور نه کړه- (٤) سورة مجادله کښې دهغه چا حالت ذکر کړے وو چه هغوی د الله د کتاب او د پېغمبر خلاف کوی ۲۰ نو سورة حشر په اول کښې هم د هغه چا حالت ذکر کوی چه هغوی د الله او د پېغمبر خلاف کوی ٤- (٥) سورة مجادله په اخر کښې وئیلی وو چه ډله د الله کامیابه ده ۲۲ نو سورة حشر کښې د هغه کامیابۍ ډلے بیان کوی چه مهاجرینو ته ئې ځائې ورکړۀ او په خپل ځان ئې غوره کړۀ- ۹ (والذین تبوا الدار الخ)- (٦) سورة مجادله کښې زواجر وو منافقانو ته نو سورة حشر کښې حال د منافقانو ذکر کوی لکه بنو نظیر شو چه غداری ئې کړے وه- (۷) سورة مجادله ۲۱ کښې اووئیل چه(کتب الله لا غلبن الخ) نو سورة حشر کښې د هغې یو نمونه ذکر کوی چه یهود م تباه کړل زه غالب یم- (۸) سورة مجادله ۱۹ کښې وئیلی وو (استحوذ علیهم الشیطن) نو سورة حشر کښې د هغییو مثال ذکر کوی- (کمثل الشیطن اذ قال الخ ۱۲)- (۹) سورة مجادله کښې رد د رسم باطل وو یعنی د باطل رسم رد ئې اوکړو نو سورة حشر کښې اثبات د توحید کوی چه دا مسئله بیان کړه او رد د رسمونو کوه-

خلاصه د سورة حشر:-

سورة حشر کښې زجر دے هغه خلقو ته چه هغوی خلاف د رعدے کړے وو د نبیﷺ سره- لکه بنو نظیر شو او په اخر کښې مسئله د توحید ذکر

کوی۔

امتیازات د سورة حشر:-

(۱) سورت ممتاز دے په وتلو د اهل کتابو د خپلو بنګلو نه۔ (۲) سورت ممتاز دے په ورانولو د خپلو بنګلو په خپلو لاسونو باندې د اهل کتابو۔ (۳) سورت ممتاز دے په کټ کولو د لینة کجورے باندې۔ (٤) سورت ممتاز دے په دوه خله بیان د مال فی باندې۔ (۵) سورت ممتاز دے په دوه قسمه احکامو باندې یو اوامر بل نواهی۔ (وما اتکم الرسول فخذوه الخ)۔ (٦) سورت ممتاز دے په غوره کولو د انصارو او مهاجرینو لره۔ (۷) سورت ممتاز دے پدې بیان چه که قران په غر نازل شوے وی نو غر به هم ټوټے ټوټے شوے وو۔ (۸) سورت ممتاز دے په دعا غوختلو د هغے کسانو چه مخکښے تیر شوی دی۔ (ربنا اغفرلنا ولاخواننا الذین سبقونا بالایمان)۔ (۹) سورت ممتاز دے چه دا کفار جنګ نه کوی مګر په قلعه بندو کښے یا اخوا دیخوا کنځل کوی۔ (۱۰) سورت ممتاز دے پدې چه ته به ګمان کوے د ټولو چه دا یو جماعت دے او حالانکه هغوی به جدا جدا مخالف وی۔ (و قلوبهم شتی)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة ممتحنه مدنية نزلت بعد احزاب نزولاً (۹۱) ترتيباً (٦٠)

ربط:-

(۱) سورة حشر کښې بیان اوکړه چه چا کښې ایمان وی نو د کفارو سره به تعلق نه ساتی نو سورة ممتحنه کښې تنبیهه ورکوی چه تعلق هم ذکړی لیکن لین دین به ور سره هم نه کوی۔ (۲) سورة حشر کښې انجام د هغه خلقو بیان شوے وو چه د وعدے خلاف ئې کړے وو نو سورة ممتحنه کښې اصول بیانوی چه ددے اصولو پابند شئ چه د عذاب مستحق نه شئ۔ (۳) سورة حشر اخر کښې مسئله د توحید ذکر کړه (هوالله الذی الخ) نو سورة ممتحنه اول کښې وائی چه دا مسئله څوک نه منی نو هغه زما دشمن دے او زما دشمن په دوستئ مه نیسئ (لا تتخذوا عدوی ۱)۔ (٤) سورة حشر کښې دوستی د منافقانو ذکر شوه د اهل کتابو سره نو سورة ممتحنه کښې نهی د مومنانو په نیولو د دوستئ کفارو سره ددے د پاره چه مشابهت رانشی د منافقانو سره۔ (۵) سورة حشر کښې معاهدین د اهل کتابو ذکر شول نو سورة ممتحنه کښې معاهدین د مشرکینو ذکر کوی۔ (٦) سورة حشر کښې حالت د هغه چا ذکرکړه چه دوستی ئې کړے وه د کفارو سره نو سورة ممتحنه کښې تهدید ورکوی مومنانو ته چه د کفارو سره دوستی او لین دین مه ساتئ۔ (۷) سورة مجادله او سورة حشر کښې زجر وو مومنانو ته نو سورة ممتحنه کښې کامل مومنانو ته زجر دے چه د هغے نه وهم د دوستانے د کفارو

راځي۔ (۸) سورة حشر کښې ذکر کړی وو (وما نهکم عنه فانتهوا ۷) چه تاسو د څه نه منع کوی نو د هغې نه منع شئ۔ نو سورة ممتحنه کښې د نهي يو مثال ښائي چه (انما ينهکم الذين ۹) چه د دوستئ د کفارو نه منع شئ۔ (۹) سورة حشر کښې ذکر کړه چه ما اتاکم الرسول فخذوه چه پېغمبر څه بيانوی نو په هغې عمل کوے ۷ نو سورة ممتحنه کښې د هغه طريقې د يو پېغمبر بيان کوی چه (قد کانت لکم ٤) چه هغه بائيکاټ کړے وو دا يو طريقه د پېغمبر ده۔ (۱۰) سورة حشر کښې خطاب وو مومنانو ته ۱۸ نو سورة ممتحنه کښې ترقی ده خطاب نبیؐ ته او مومنانو ته هم دے (ياايهاالذين امنوا ۱ يا ايهاالنبی اذا جاء ک ۱۲)۔ (۱۱) سورة حشر کښې يو ځل خطاب وو مومنانو ته ۱۸ نو سورة ممتحنه کښې دوه ځله خطاب دے مومنانو ته ۱، ۱۳۔

خلاصه د سورة ممتحنې:-

بائيکاټ د کفارو سره او دوه قسمه مشرکين چه يو سره لين دين روا دے چه هغه معاهدين دی او دويم قسم مشرکين چه هغوی سره معامله او لين دين جائز نه دے هغه محاربين دی او زجر هغه چا ته چه دوستی کوی کفارو سره۔

امتيازات د سورة ممتحنې۔

(۱) سورت ممتاز دے په دوه قسمه کفارو باندے چه د يو قسم کفارو سره لين دين روا دے چه هغوی تاسو سره جنګ نه کوی ۸ او دويم قسم کفارو سره لين دين روا نه دے چه هغوی تاسو سره جنګ کوی ۹۔ (۲) سورت ممتاز دے په بيعت د نبیؐ د ښځو سره په هغه شپږو شرطونو سره

....

۱۲ (اذا جاء ک المومنات یبا یعنک الخ)۔ (۳) سورت ممتاز دے په امتحان اغستو د هغه ښځو مهاجرو نه او نه واپس کول د مومنو ښځو دارالکفر ته ۱۰۔ (٤) سورت ممتاز دے په بیعت د ښځو په دارالاسلام کښې۔ (۵) سورت ممتاز دے په همیشه دشمنئ او د بغض کولو سره تر دے پورے چه تاسو ایمان په الله راوړئ ٤ (وبیننا بینکم العداوة الخ)۔ (٦) سورت ممتاز دے په واقعه د حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة صف مدنية نزلت بعد تغابن نزولا (۱۰۹) ترتيباً (٦١)

ربط:-

(۱) سورة ممتحنه کښې تنبیهه وه مومنانو ته په تعلق د کفارو باندے نو سورة صف کښې تنبیهه ورکوی مومنانو ته چه ناکاره خبره مکوئ۔ (۲) سورة ممتحنه کښې زجر وو مومنانو ته په غلطو افعالو باندے نو صف کښې زجر دے مومنانو ته په غلطو اقوالو باندے۔ (۳) سورة ممتحنه کښې زجر وو مومنانو ته د اعلیٰ درجے په لین دین کولو د کفارو سره نو سورة صف کښې زجر دے د ادنی درجے مومنانو ته په دوستی کولو د کفارو سره۔ (٤) سورة ممتحنه ٤ کښې ذکر کړی وو چه کفارو سره به دوستی نه کوے (انا براء منکم) نو سورة صف ٤ کښې وائی چه جنګ او قتال اوکړئ د کفارو سره او کلک شئ (ان الله یحب الذین الخ)۔ (۵) سورة ممتحنه کښې خطاب وو مومنانو ته چه هغه قوم سره مه یو ځائي کیږئ چه د الله غصه ده په هغوی ۱۳ (لا تتولو قوما غضب الله الخ)

نو سورة صف كښې هم خطاب دے مومنانو ته۔ (٦) سورة ممتحنه كښې د دوو پېغمبرانو ذكر وو د ابراهيمؑ او د محمدﷺ نو سورة صف كښې ترقي ده د درې پېغمبرانو ذكر او بيان كوى د موسىٰؑ، د عيسىٰؑ او محمد صلى الله عليه وسلم۔

خلاصه د سورة صف:-

سورت كښې زجر دے مومنانو ته په ناكاره قول سره۔ داسې خبره ولې كوئ چه صبا پرې عمل نه كوئ۔ (يايها الذين امنوا لم تقولون مالا تفعلون ۲)۔ او ترغيب دے جهاد او انفاق ته او درې خطابات دى مومنانو ته په لفظ د (يايها الذين امنوا) سره۔

امتيازات د سورة صف:-

(۱) سورت ممتاز دے په يو نوم د نبيﷺ باندے چه د هغه نوم احمد دے (من بعدى اسمه احمد ٦)۔ (۲) سورت ممتاز دے چه فتح او نصرت د الله له طرف نه دے پدې الفاظو سره (نصر من الله و فتح قريب ۱۳)۔ (۳) سورت ممتاز دے په مينه كولو د الله هغه كسانو سره چه هغوى په ميدان جنگ كښې ولاړ وى كفارو ته په شان د ابادۍ مضبوطې۔ (كانهم بنيان مرصوص)۔ (٤) سورت ممتاز دے په بشارت وركولو د نبيﷺ په ژبه د عيسىٰؑ باندے۔ (و مبشرا برسول ٦)۔ (٥) سورت ممتاز دے په تجارت رائجه باندے په نزد الله چه هغه ايمان او جهاد دے د الله په دين كښې۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة جمعه مدنية نزلت بعد صف نزولا (۱۱۰) ترتيباً (۶۲)

ربط:-

(۱) سورة صف کښې ترغيب وو قتال ته نو سورة جمعه کښې تنبيهه ذکر کوی مومنانو ته چه دنيا ته اوړی او قتال نه کوی۔ (۲) سورة صف کښې ترغيب الى القتال وو نو سورة جمعه کښې ترغيب الى الصلوة دے (فاذا نودی)۔ (۳) سورة صف کښې صف للقتال ذکر شو نو سورة جمعه کښې صف للصلوة ذکر کوی۔ (۴) سورة صف ئې شروع کړے وو په تسبيح باندے نو سورة جمعه ئې هم شروع کړه په تسبيح باندے۔ (۵) سورة صف ئې شروع کړے وو په لفظ د ماضی باندے (سبح) نو سورة جمعه ئې شروع کړه په لفظ مضارع باندے چه (يسبح) دے او ماضی په مضارع مخکښې وی۔ (۶) سورة صف په اول کښې حالت د موسیٰؑ او د هغه د قوم ذکر کړه چه تکاليف ئې رسولی وو موسیٰؑ ته ۵ نو سورة جمعه کښې حال د محمدﷺ او غوره والے د هغه د امت ذکر کوی۔ تشريفاً لهم۔ د باره ددے چه فرق معلوم شی په دواړو کښې۔ (۷) سورة صف کښې بيان کړے وو په وينا د موسیٰؑ (و مبشرا برسول ۶) نو سورة جمعه کښې بيان کوی د هغه چا چه پرے زيرې ورکړو چه نبیﷺ دے (هوالذی ۲)۔ (۸) سورة صف ئې ختم کړے وو په حکم کولو په جهاد باندے (تجاهدون فی سبيل الله ۱۱) نو سورة جمعه اختتام ئې اوکړه په حکم کولو د نمونځ د جمعے باندے۔ (اذا نودی للصلوة ۹)۔ (۹) سورة صف کښې خطاب وو مومنانو

....

نو سورة جمعه کښې خطاب دے ته په غلط اقوالو باندې (لم تقولون ۲) نو سورة جمعه کښې خطاب دے اهل کتابو ته په مباهلے کولو سره۔ (یایها الذین هادوا ٦)۔ (۱۰) د سورة صف اول ایت اختتام په دوو نومونو د الله اوشو عزیز او حکیم نو سورة جمعه کښې ترقی ده د سورة جمعه اول ایت اختتام په څلورو نومونو دالله کوی۔ ملک، قدوس، عزیز، حکیم۔ (۱۱) د سورة صف اول ایت اختتام په عزیز او حکیم شوې وو نو د سورة جمعې د اول ایت اختتام هم په عزیز او حکیم کوی۔ (۱۲) سورة صف کښې بیان د تجارت کړے وو چه جهاد او انفاق اوکړه (هل ادلکم علی تجارة) ۱۰، ۱۱ نو سورة جمعه کښې هم بیان د تجارت کوی چه نمونځ د جمعې کوه ۱۱ (و اذا راوتجارة)۔ (۱۳) سورة جمعه څنګه چه ترتیباً پس د سورة صف نه دے نو نزولاً هم پس د سورة صف نه دے۔ (۱٤) سورة صف کښې ونیلی وو (لم تقولون ۲) نو سورة جمعه کښې د هغے یو مثال پېش کوی۔ (مثل الذین حملوا التوراة ٥)۔

خلاصه د سورة جمعې:-

سورت کښې ترغیب ورکوی انفاق ته۔ او رد په هغه خلقو چه دین پرېږدی او دنیا اخلی او ترغیب ورکوی قران ته او اتباع د پېغمبر ته۔

امتیازات د سورة جمعې:-

(۱) سورت ممتاز دے په بیان د نمونځ د جمعې باندې۔ (۲) سورت ممتاز دے په رالیږلو د پېغمبر باندې امیانو ته (۳) سورت ممتاز دے په دې چه چا په خپل علم عمل او نۀ کړو نو مثال ئې د خر دے۔ (٤) سورت ممتاز دے په طلب کولو د رزق حلال پس د نمونځ د جمعې نه۔ (٥)

....

سورت ممتاز دے په رالیږلو د پېغمبر بغیر د عربو نه پلدې الفاظو سره۔ (واخرین منهم ۳) یعنی عربو او عجمو ته۔ (٦) سورت ممتاز دے په پرېخودلو د لین دین پس د اذان د جمعې نه۔ (و ذروالبیع ۹)۔ (۷) سورت ممتاز دے په پرېخودلو د نبیؐ ولاړ په خطبه باندې په لیدلو د سامان د تجارت او د خوراک۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة منافقون مدنية نزلت بعد الحج نزولاً (۱۰٤) ترتيباً (٦٣)

ربط:-

(۱) سورة جمعه کښې ترغیب وو قران او انفاق ته نو سورة منافقون کښې حال د منافق بیانوی او زجر ورکوی منافق ته چه منافق نه قران ته راځی او نه جهاد ته ځی۔ (۲) سورة جمعه کښې اجمالی بیان وو په انفاق فی سبیل الله نو سورة منافقون کښې تفصیل کوی په انفاق فی سبیل الله۔ (و انفقوا مما رزقنکم الخ)۔ (۳) سورة جمعه کښې ترغیب وو انفاق ته نو سورة منافقون کښې زجر دے متکاسلینو د انفاق ته۔ (٤) سورة جمعه کښې بیان د حالت د مومنانو ذکر شو نو سورة منافقون کښې بیان د حالات د منافقانو کوی۔ (۵) سورة جمعه کښې ونیلی وو (فاسعوا الی ذکر الله ۹) نو سورة منافقون کښې هغه مضمون ذکر کوی باالترقی (لا تلهکم اموالکم ۹)۔ (٦) سورة جمعه کښې ترغیب ورکړے وو په انفاق باندے نو سورة منافقون کښې زجر دے په مال نه خرچ کولو باندے۔ (۷) سورة ....

جمعه کښې ناکاره حالت د ملا ذکر شو (حملوا لتوارة) نو سورة منافقون کښې ناکاره حالت د منافقیون ذکر کوی۔ (۸) سورة جمعه کښې بیان شو چه د جمعې خطبې ته حاضر یدل او دانفاق فی سبیل الله مسائل اوریدل نو سورة منافقون کښې د منافقانو د هغې خبرې بیان کوی چه د رسول الله ﷺ په ملګرو خرچ مکوئ او مومنانو ته ترغیب دے چه په خپله په خان خرچ کوے۔

خلاصه د سورة منافقون:-

سورت کښې زجر دے د پاره د منافقانو په عدم انفاق۔ او ترغیب دے مومنانو ته په انفاق۔ چه مال اولګوئ۔ او سورت کښې اوصاف د منافقینو ذکر کوی۔ (۱) چه بعض منافق انفاق نه کوی۔ (لاتنفقوا)۔ (۲) په دروغه قسمونه نه خوری۔ (نشهد)۔ (۳) کفر کوی۔ (٤) پدوی مهر وهلے شوے دے۔ (۵) د دوی جسمونه غټ دی (تعجبک اجسامهم)۔ (٦) سستی او اعراض کوی۔ (یصدون وهم مستکبرون)۔ (۷) جرګے د دوی په بخل دی۔ (لاتنفقوا علی من عند رسول الله الخ)۔

امتیازات د سورة منافقون:-

(۱) سورت ممتاز دے په هغه غټو جسمونو د منافقینو باندے (تعجبک اجسامهم ٤)۔ (۲) سورت ممتاز دے په هغه خوږو خبرو د منافقیون باندے ٤۔ (۳) سورت ممتاز دے په هغه لرګو دیوال ته تکیه شوو باندے۔ (کانهم خشب مسندة)۔ (٤) سورت ممتاز دے چه منافقان وائی چه خرچ مه کوئ د نبی ﷺ په ملګرو باندے تر دے چه هغوی ترې خواره شی ۷۔ (۵) سورت ممتاز دے په وینا د منافقیون چه اوباسو به

مونږه ذليلو لره ددے بهار نه چه مونږ عزتمند يو ۸۔ (٦) سورت ممتاز دے چه غافل نه کړی تاسو مالونه او اولاد د ذکر د الله نه ۹۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة تغابن مدنية نزلت بعد تحريم نزولا (۱۰۸) ترتيباً (٦٤)

ربط:-

(۱) سورة منافقون کښے ترغيب وو انفاق ته او زجر وو منافق ته په عدم انفاق نو تغابن کښے اصل مقاصد ذکر کوی چه هغه مقاصد اربعه دی د هغے دپاره جهاد او انفاق کيږی۔۔ (۲) سورة منافقون ۷ کښے وئيلی وو چه منافقان وائی چه مال مهٔ خرچ کوئ لا تنفقوا نو سورة تغابن کښے امر دے په انفاق باندے ١٦۔ (۳) سورة منافقون کښے حکم وو په انفاق باندے مومنانو ته (انفقوا ۱۰) نو سورة تغابن ١٦ کښے هم حکم دے په انفاق باندے (وانفقوا ١٦)۔ (٤) سورة منافقون ۹ کښے وئيلی وو چه غافل نه کړی تاسو لره مال او دولت د دين نه لاتلهکم الخ نو سورة تغابن کښے علت د هغے ذکر کوی۔ چه (انما اموالکم الخ ۱۵)۔ (٥) سورة منافقون کښے وئيلی وو چه خان او ساتئ د مينے ددے منافقانو نه (هم العدو ٤) نو سورة تغابن کښے ترقی ده چه خپل اولاد، ښځه او مال ډِوی نو (فاحذرهم) خان او ساتئ د زيات مينے د هغوی نه۔ (٦) سورة منافقون کښے حال د منافقانو ذکر کړه او بيا ئې حال د مومنانو ذکر کړے وو نو سورة تغابن کښے تقسيم د خلقو دے دوو قسمونو ته ۲۔ (۷) سورة منافقون کښے حث (تيزی) وه په انفاق فی سبيل الله باندے نو سورة تغابن کښے هم تيزی

ده۔

خلاصه د سورة تغابن:۔

سورة تغابن دوه حصې دے اوله حصه د اول نه تر ۱۰ پورې پلې کښې مقاصد اربعه ذکر کوی او دویمه حصه کښې امور منتظیمه د پاره د جهاد او انفاق۔

امتیازات د سورة تغابن:۔

(۱) سورت ممتاز دے په لفظ د یوم التغابن باندے۔ (۲) سورت ممتاز دے چه بعض اولاد او بعض ښځے دشمنان د سړی د پاره گرځی۔ (ان من ازواجکم ۱۴)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة طلاق مدنية نزلت بعد دهر نزولا (۹۹) ترتیباً (۶۵)

ربط:۔

(۱) سورة تغابن کښې ذکر کړل چه (ان من ازواجکم الخ) او کله دا دشمنی رسیږی طلاق ته نو سورة طلاق کښې مونږ ته احکام د طلاق او خودل او جدا کېدل د ښځو نه۔ (۲) سورة تغابن کښې ذکر کړی وو چه (و من یو من باالله و یعمل صالحاً ۹ یکفر عنه سیاته) نو سورة طلاق ۱۱ کښې هم دا ذکر کوی چه چا په مقاصد اربعو ایمان راوړو نو جنتونو به ورته ورکوم۔ (۳) سورة تغابن کښې ذکر کړل چه رښا م رالیږلے ده (والنور الذی انزلنا ۸) نو سورة طلاق کښې علت د قران د رالیږلو ذکر کوی (یخرج الذین امنوا و عملوا الصلحت من الظلمت الی النور ۱۱)۔ (۴)

سورة تغابن اختتام ئې کړے وو چه عالم په هر څۀ زۀ یم۔ (عالم الغیب والشهادة) نو سورة طلاق اختتام هم به عالم بکل شی هوالله کوی۔ (قد احاط بکل شی علما)۔ (۵) سورة تغابن کښې ذکر کړل چه چا انکار د مقاصد اربعو نه اوکړۀ نو دا همېشه د پاره جهنمیان دی ۱۰ نو سورة طلاق کښې ذکر کوی چه چا مقاصد اربعه اومنل نو همېشه د پاره به جنتونو کښې وی ۱۱۔ (٦) سورة تغابن کښې خطاب وو مومنانو ته ١٤ نو سورة طلاق کښې خطاب پېغمبر پاک ته دے ۱۔ (۷) سورة تغابن کښې وئیلی وو چه (فاتقوا الله ١٦) نو سورة طلاق کښې هم وائی چه څوک د الله نه یره کوی نو الله به خلاصې د هر غم نه ورکړی۔ او رزق به ورته ورکړی اسانه۲۔ (و من یتق الله الخ)۔ (۸) سورة تغابن کښې وئیلی وو (علی الله فلیتوکل المومنون ۱۳) نو سورة طلاق کښې هم وائی چه څوک په الله خان اوسپاری نو الله ورله کافیدے۔ (و من یتوکل علی الله فهو حسبه۳)۔

خلاصه د سورة طلاق:-

سورة طلاق تتمه ده د سورة تغابن یعنی په عکس د تغابن دے۔ سورت دوه حصې دے۔ اوله حصه تر ۷ پورې ده۔ په دې کښې بیان دے د أمورو د منتظمه د پاره د جهاد او انفاق او دوېمه حصه کښې مقاصد اربعه عالیه۔

امتیازات د سورة طلاق:-

(۱) سورت ممتاز دے په بیان د هغه قسمونو د عدتونو باندے۔ (۲) سورت ممتاز دے په اووه اقالیمو د زمکے باندے (والارض مثلهن الخ ۱۲)۔ (۳) سورت ممتاز دے چا چه خلاف د انبیاؤ اوکړۀ نو سزا به ورکړم سزا سخته او حساب اوکړم ورسره حسا سخت ۸۔

....

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة تحریم مدنیة نزلت بعد حجرات نزولا (۱۰۷) ترتیباً (۶۶)

ربط:-

(۱) د طلاق په اول کښې خطاب وو نبیؐ ته او د تحریم په اول کښې هم خطاب دے نبیؐ ته۔ (۲) سورة طلاق کښې بیان د عاموښځو د امت اوکړه نو سورة تحریم کښې بیان د ازواجو د نبیؐ یعنی د خاصو ښځو ذکر کوی۔ (۳) سورة طلاق کښې حسن معاشره د ښځو ذکرکړه نو سورة تحریم کښې بیان د هغه خبرو کوی چه صادر شوی دی د ازواجو د نبیؐ نه د پیغمبر په باره کښې تعلیماً لامة۔ (٤) سورة طلاق کښې وئیلی وو چه (لیخرج الذین امنوا ۱۱) نو سورة تحریم کښې وائی چه اخر کښې به د غه نور یعنی رڼا منډے وهی مخښکے د دوی نه (نورهم الخ ۸)۔ (۵) سورة طلاق کښې بیان د جهاد اوکړو نو سورة تحریم کښې بیان د امورو منتظم کوی۔ (٦) سورة طلاق کښې بعض داسې څیزونه ذکر کړل چه هغه د ممنوعاتو نه وو نو سورة تحریم کښې بعض داسې څیزونه ذکر کوی چه هغه د ممنوعاتو نه نه دی۔ (۷) سورة طلاق کښې دوه مسئلے ذکر کړے وے جهاد او انفاق نو سورة تحریم کښې هم د غه دوه مسئلے ذکر کوی او خلاصه د ماسبق په طریقے د لف نشر مرتب سره۔ (۸) سورة طلاق کښې بیان دحکم د طلاقو ذکر شو نو سورة تحریم کښې بیان د احکامو د ایلاء او د قسم ذکر کوی طلاق او ایلاء کښې تناسب دے۔ (۹) سورة طلاق کښې بیان د پیغمبر شوے وو اجمالاً نو سورة تحریم کښې تفصیلی بیان او

....

حالت د پیغمبر ذکر کوی۔ (۱۰) سورۃ طلاق کښې زیرے وو ۱۱ نو سورۃ تحریم کښې هم زیرے او بشارت دے ۸۔

خلاصه د سورۃ تحریم:۔

سورت تنویر دے په هغه نهو سورتونو باندے او سورت کښې ذکر کوی چه ډیره مینه مهٔ کوه ملګرو سره چه هغه سبب د نفرت اور ضیقت وګرځي او طریقه د امور منتظم۔

امتیازات د سورۃ تحریم:۔

(۱) سورت ممتاز دے په شهد د څکلو سره د نبیؐ۔ (۲) سورت ممتاز دے په بحث کولو د ازواجو د نبیؐ سره۔ (۳) سورت ممتاز دے په پاکۍ د فرشتو باندے پدې الفاظو سره چه (لایعصون الله ما امرهم ٦)۔ (٤) سورت ممتاز دے په هغه ګنهو صفاتو سره په ازواجو د نبیؐ کښې چه (مسلمت قانتت ٥)۔ (٥) سورت ممتاز دے په صالح المومنین سره۔ (٦) سورت ممتاز دے په توبة النصوح سره۔ (۷) سورت ممتاز دے په هغه څلور قسمه ښځو باندې دوه قسمه کافرے، دوه قسمه مومنانے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة ملک مکیة نزلت بعد الطور نزولاً (۷۷) ترتیباً (٦٧)

ربط:۔

(۱) سورۃ تحریم کښې ترغیب الی الانفاق وو نو سورۃ ملک کښې زالی انفاق اوکړه د الله په نوم ورکړه چه الله پکښې خیر او برکت واچوی۔

....

ذکر کړی وو (قوا انفسکم ٦) نو سورة ملک (۲) سورة تحریم کښې ذکر کړی ووَ (قوا انفسکم ٦) نو سورة ملک
کښې هغه خبره ذکر کوی نفی د شرک فی البرکات چه سړی بړے د
جهنم نه بچ کیږی۔ (۳) سورة تحریم کښې فعل د فرشتو ذکر کړے وو چه
د الله خلاف نه کوی (لا یعصون الله ٦) نو سورة ملک کښې قول د فرشتو
ذکر کوی چه کفارو ته به وائی (الم یاتکم نذیر ۸)۔ (٤) سورة تحریم
کښې وئیلی وو چه په کفارو سختی کوه ۹ نو سورة ملک کښې وائی چه
اخو کښې به ورسره هم سختی وی۔ (لهم عذاب جهنم ٦)۔ (٥) سورة
تحریم کښې ذکر کړی وو چه (انک علی کل شی قدیر ۸) نو د سورة
ملک اول ایت اختتام هم پدې الفاظو کوی چه (وهو علی کل شی قدیر)۔
(٦) سورة تحریم کښې بیان د رڼا کړے وو (اتمم لنا نورنا ۸) نو سورة
ملک کښې افسوس د هغه چا ذکر کوی چه هغه په رڼا کتاب باندے ځان
پوهه نه کړو (لو کنا نسمع اونعقل ۱۰)۔ (۷) سورة تحریم کښې اصلاح
معاشرے کوې نو ملک کښې اصلاح د عقیدے کوی۔ (۸) سورة تحریم
کښې د دوو قسمو ښځو بیان کړے وو یو قسم نافرمانے لکه د لوطؑ او نوحؑ
ښځے۔ او بل قسم فرمانبردارے لکه آسیه او مریم نو سورة ملک کښې
د دوو قسمو خلقو بیان کوی چه چا شرک فی البرکات کړې دے او په
قران ئې ځان نه دے پوهه کړے۔ (۹) سورة تحریم کښې ذکر کړی وو چه
کفار به د خپل کفر عذر پېش کوی چه کفارو ته به اووئیلے شی چه عذر نه
پېش کوئ نن تاسو ته سزا درکولے شی (لا تعتذرو الیوم ۷) نو سورة
ملک کښې د هغوی بل عذر پېش کوی قران نه اورېدل او ځان نه پوهول
په قران باندے او بیا به افسوس کوی (لوکنا نسمع او نعقل ۱۰)۔

....

خلاصه د سورة ملک:-

سورت کښې نفی د شرک فی البرکات او پدې باندې یوولس (۱۱) دلائل عقلیه ذکر کوی۔ او سبب د تلو جهنم ته قران نۀ اورېدل (لو کنا نسمع او نعقل ۱۰)۔

امتیازات د سورة ملک:-

(۱) سورت ممتاز دے په یوولس (۱۱) دلائلو سره په نفی د شرک فی البرکات۔ (۲) سورت ممتاز دے په تلو د جهنم ته د هغه چا چه قران ئې نه اورېدلو او نۀ زده کولو ۱۰۔ (۳) سورت ممتاز دے په اوبو چینه دارو (فمن یاتیکم بماء معین)۔ (٤) سورت ممتاز دے په راغونډولو د وزرو او په خورولو د مارغانو باندې۔ (صفت و یقبضن)۔ (۵) سورت ممتاز دے په اورېدلو د کفارو جهنم لره هنهدل ۷۔ (٦) سورت ممتاز دے په دوو دلائلو د ستورو باندې، تزئین او (رجو ما للشیاطین ۵)

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة قلم مکیة نزلت بعد علق نزولاً (۲) ترتیباً (٦۸)

ربط:-

(۱) سورة ملک کښې نفی د شرک فی البرکات ذکر کړۀ چه برکت اچوونکے په هر څیز کښې الله دے نو سورة قلم کښې حالت د هغه چا ذکر کوی چا چه برکت اچوونکے بل څوک گڼلے دے نو هغه تباه شوې دی۔ (۲) سورة ملک کښې نفی د شرک فی البرکات ذکر شوه نو سورة قلم کښې تحضیض فی التبلیغ کوی چه دا نفی د شرک فی البرکات ....

مسئله بیان کړه۔ (۳) سورة ملک کښې مسئله د توحید ذکر شوه او
سورة قلم کښې مسئله د رسالت ذکر کوی چه د توحید مسئله رهښتونې
ده۔ (٤) سورة ملک اخری ایت کښې وئیلی وو (ان اصبح ماءکم غورا
۳۰) تهدید وو مشرکینو ته په جور والي د اُوبو چه څوک شته چه بیاني
نزدے کړی نو سورة قلم کښې د هغے یو دلیل پیش کوی چه هغه باغ والا
د غیر الله منخته اوکړه نو الله تباه کړل۔ (۵) سورة ملک کښې اقرار د
کفارو بیان کړے وو (فاعترفوا بذنبهم) په اخرت کښې ۱۱ نو سورة قلم
کښې د کفارو اقرار ذکر کوی پهٔ دنیا کښې چه (یویلنا انا کنا طاغین ۳۱
یقیناً وو مونږ سرکش۔ (٦) سورة ملک کښې وئیلی وو (فستعلمون من
هو فی ضلل مبین ۲۹) پوهه به شئ تاسو چه څوک گمراه وو نو سورة
قلم کښې وائی چه رب ستا ښه پوهه دے په گمراهانو باندے (هو علم بمن
ضل الخ ۷)۔ (۷) سورة ملک کښې بیان کړے وو د کفارو چه نیکانو
خلقو ته ئې دروغجن وئیلی وو (قد جاء نا نذیر فکذبنا ۹) نو سورة قلم
کښې وائی چه د دروغجن مهٔ منئ۔ (فلا تطع المکذبین ۸)۔ (۸) سورة
ملک کښې وئیلی وو چه دا هغه عذاب دے چه تاسو غوختلو ۲۷ نو
سورة قلم کښې وائی (و قد کانوا یدعون الی السجود و هم سالمون ٤۳)
۔(۹) سورة ملک کښې کفارو مومنانو ته گمراهان وئیلی وو ۹ نو سورة
قلمکښې کفار او مشرکان ځان ته گمراهان وائی ۲٦۔ (۱۰) سورة ملک
کښې مسئله د نفی د شرک فی البرکات بیان کړه نو سورة قلم کښې لس
دفعات په هغه چا لګوی چه تا په د غه مسئله د نفی د شرک فی البرکات
کښې طعنې کوی او ښستوی۔ (۱۱) سورة ملک کښې یوولس (۱۱)
دلائل ذکر شول نو سورة قلم کښې لس دفعات ذکر کوی هغه چا ته چه تا

[بیا]ن کېږي سُستوی۔

خلاصه د سورة قلم:-

سورت کښې تحضیض في التبلیغ۔ او حالت د مشرکینو۔ او اثبات [ن]بوت۔ او لس دفعات هغه چاته چه تا بیان کښې سُستوی۔

امتیازات د سورة قلم:-

(۱) سورت ممتاز دے په ګواهي د قلم باندے۔ (۲) سورت ممتاز [د]ے په لسو دفعاتو په هغه چا چه تا مسئله کښې سستوی۔ (۳) سورت [مم]تاز دے په بیان د قصے د باغ والو چه شرک فعلي ئې کړے وو۔ (٤) [س]ورت ممتاز دے په منع کولو د فقیر په باغ باندے۔ (وغدو علی حرد [قاد]رین)۔ (۵) سورت ممتاز دے په نۀ وئیلو د استثناء باندے۔ (ولا [ی]ستثنون)۔ (٦) سورت ممتاز دے په ګرځېدلو د باغ په شان د تورے شپې (فاصبحت کالصریم)۔ (۷) سورت ممتاز دے په داغ ورکولو د خرطوم [با]ندے (سنسمه علی الخرطوم)۔ (۸) سورت ممتاز دے په لفظ د زنیم [با]ندے (بعد ذالک زنیم)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په لفظ عتل باندے (عتل بعد ذالک)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة حاقه مكية نزلت بعد ملک نزولا (۷۸) ترتیباً (٦۹)

ربط:-

(۱) سورة قلم کښې تخویف وو هغه مشرکینو ته چه هغوی برکت

اچوونکے غیر الله کښه او نذر نې د غیر الله په نوم پیش کړے وو نو سورة حاقه کښې تخویف دے مشرکینو د عقیدے نه (چه عقیده کښې شرک دے)۔ (۲) سورة قلم کښې تخویف دنیوی وو سورة حاقه کښې تخویف اخروی دے۔ (۳) سورة قلم کښې اجمال وو په بیان د قیامت نو سورة حاقه کښې تفصیل د قیامت او احوال د قیامت ذکر کوی۔ (٤) سورة قلم کښې تکذیب د قران ذکر کړے وو نو سورة حاقه کښې احوال او تکذیب د اممو ذکر کوی د انبیاؤ۔ (٥) د سورة قلم اخر کښې ترغیب الی القران وو نو سورة حاقه اخر کښې هم ترغیب الی القران دے۔ (٦) سورة قلم کښې وئیلی وو چه چا شرک کړے وو نو باغ ئې ورله تباه کړو نو سورة حاقه کښې وائی باغ نه بلکې کلې ئې ورله تباه کړے دے۔ (۷) سورة قلم کښې وئیلی وو (فستبصر و یبصرون ٥) نو سورة حاقه کښې وائی (و اما من اوتی کتابه بشماله) چه پوهه به شی چه کله عملنامه ورته په ګس لاس ملاؤ شی ۲۵۔ (۸) سورة قلم کښې وئیلی وو (فستبصر و یبصرون ٥) نو سورة حاقه کښې شهادت پدې پیش کوی (فلا اقسم ۳۸ الخ)۔ (۹) سورة قلم اخر کښې وئیلی وو چه قران پند او وعظ دے د پاره د خلقو (وما هو الا ذکر للعلمین) ۵۲ نو سورة حاقه اخر کښې وائی چه دا قران حق الیقین دے ۵۱۔ (۱۰) سورة قلم اخر کښې وئیلی وو چه دا قران وعظ او نصیحت دے د پاره د خلقو ۵۲ نو سورة حاقه کښې وائی چه بیا به قیامت کښې کافر افسوس کوی۔ پدې وعظ او نصیحت کتاب پسې (و انه لحسرة علی الکفرین ٥٠۔ (۱۱) سورة قلم کښې وئیلی وو چه (وما هو الا ذکر للعلمین ۵۲) نو سورة حاقه کښې وائی (وانه لتذکرة للمتقین ٤٨)۔

....

خلاصه د سورة حاقه:۔

تخویف اخروی او دریږ حالات په قیامت کښے او اثبات د رسالت۔

امتیازات د سورة حاقه:۔

(۱) سورت ممتاز دے په تخویف اخروی باندے تفصیلاً۔ (۲) سورت ممتاز دے په اتۀ قسمه فرشتو باندے (ویحمل عرش ربک الخ ۱۷)۔ (۳) سورت ممتاز دے چه فرشتیبه په اطرافو د اسمان کښے وی۔ (والملکعلی ارجائها)۔ (٤) سورت ممتاز دے په (سبعون ذراعا) باندے۔ (٥) سورت ممتاز دے په کټ کولو د زړهٔ رګ د نبیؐ که چرے ما باندے د خان نه خبرے کړے وے۔ (٦) سورت ممتاز دے په هغه عذاب باندے چه اووه شپې او اتۀ ورځے مقرر وو په عادیانو باندے۔ (سخرها علیهم سبع لیال و ثمنیة ایام)۔

بسم اللہ الرحمن الرحیم

سورة معارج مکیة نزلت بعد الحاقه نزولا (۷۹) ترتیباً (۷۰)

ربط:۔

(۱) سورة حاقه کښے تخویف اخروی ذکر شو نو سورة معارج کښے ذکر کوی چه (ماله من دافع) هغے لره به څوک دافع نه وی۔ (۲) سورة حاقه کښے اثبات د قیامت وو او بیان د فریقینو وو نو سورة معارج کښے هم اثبات د قیامت او بیان د فریقینو کوی۔ (۳) سورة حاقه کښے تقسیم د عملنامو وو نو سورة معارج کښے ترقی ده په هغے۔ (٤) سورة

....

حاقه کښې بیان د ملائکو وو (والملک علی ارجائها ۱۷) نو سورة معارج کښې بل قسم حالت د فرشتو چه هغه ختل دی بره ٤- (٥) سورة حاقه کښې انشقاق السماء ذکر کړه چه اسمان به او شليږی- (وانشقت السماء ۱٦) نو سورة معارج کښې بل حالت د اسمان ذکر کوی (یوم تکون السماء کالمهل ۸)- (٦) سورة حاقه کښې وئیلی وو (وحملت الارض الخ ١٤) نو سورة معارج کښې وائی (و تکون الجبال الخ ۹)- (۷) سورة حاقه کښې وئیلی وو (فلیس له الیوم الخ ۳۵) نو سورة معارج کښې به هغې ترقی (ولا یسئل ۱۰)- (۸) سورة حاقه کښې وئیلی وو (ولا یحض علی طعام المسکین) ۳٤ نو سورة معارج کښې وائی چه تېزوالی په طعام د مسکین نې ځکه نه کوو چه انسان ډېر حریص دے (ان الا نسان خلق هلوعا ۱۹)- (۹) سورة حاقه کښې وئیلی وو د الله نه څوک بچ کېدونکے نشته نو سورة معارج کښې وائی چه د الله د عذاب نه څوک په امن کېدونکے نشی (غیر مامون ۲۸) - (۱۰) سورة حاقه کښې وئیلی وو (فی جنة عالیة) په جنتونو اوچتو کښې به وی ۲۲ نو سورة معارج کښې وائی چه په جنتونو کښې به عزتمند کړے شی (وجنت مکرمون ۳۵)- (۱۱) سورة حاقه او سورة معارج دواړو سورتونو کښې په اخر کښې شهادت د الله ذکر کوی-

خلاصه د سورة معارج:-

سورت تنویر په ماسبقه باندے دے او زجر دے منکرینو د رسالت ته-

امتیازات د سورة معارج:-

(۱) سورت ممتاز دے په بیان د هغه ورځ چه پنځوس زره کاله به ....

ري- (۲) سورت ممتاز دے پدې بیان چه انسان پېدا دے حرص ناک-
(خلق هلوعا) ۱۹- (۳) سورت ممتاز دے په (نزاعة للشوی) بانديے چه
پوستکی د انسان به سیزی- (٤) سورت ممتاز دے په (الی نصب
يوفضون) چه دوی به په ورځ د قیامت داسې وی لکه نخښے ته چه منډے
وهونکی دی- (٥) سورت ممتاز دے په فدیه ورکولو د پاره د خلاصی د
خپل ځان- په ځامنو، په ښځه، په قبیلے او هرهغه چه څۀ چه په زمکه
کښے دی- نو خلاص به نه شی-

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة نوح مكية نزلت بعد النحل نزولا (۷۱) ترتيباً (۷۱)

د قران دا قاعده ده چه د توحید نه بغیر یو مضمون ذکر کړی
نو فوراً بیا د بل سورت په شروع کښے توحید ذکر کوی-

ربط:-

(۱) سورة حاقه او سورة معارج کښے مفصل تخویف ذکر شو نو
سورة نوح کښے هغه اهمه مسئله د توحید ذکر کوی چه هغه پرې نه دے-
(۲) سورة معارج کښے تخویف او بشارت ذکر شو نو سورة نوح کښے
وائی چه د غه تخویف هغه چالره دے چه د نوحؑ خلاف نې کړے وو او دا
خوشحالی او بشارات هغه چا لره دی چه د نوحؑ تابعداری نې کړېده- (۳)
سورة معارج کښے نفی د شرک فی البرکات او تخویف ذکر شو نو سورة
نوح کښے تسلی ده نوحؑ ته او هر مبلغ ته- (٤) سورة معارج اختتام شوے
او په تخویف اخروی نو سورة نوح کښے د هغے نمونه پېش کوی- (٥)

سورة معارج کښې تخويف اخروی په اثبات القيامت وو نو سورة نوح
کښې تخويف دنيوی دے۔ (٦) سورة معارج کښې وئيلی وو چه کفار د نبیٔ
نه تختېدونکی دی ٢٦ (فبلک مهطعين)۔ نو سورة نوح کښې وائی چه
(فلم يزدهم دعائی الا فرارا ٦)۔ (٧) سورة معارج کښې وئيلی وو (فی
جنت مکرمون ٢٥) چه په جنتونو کښې به عزتمند شی نو سورة نوح
کښې وائی چه دنيا کښې به ورله هم باغونه او جنتونه اوګرځوم ١٢۔ (٨)
معارج کښې وئيلی وو چه (علی ان نبدل خيرا منه) ٤١ چه د دوی په بدله
کښې به غوره خلق پيدا کړم نو سورة نوح کښې د هغے يو نمونه پيش
کوی چه د نوحؑ قوم م تباه کړے وو او د هغوی په بدله کښې م غوره خلق
پيدا کړل ١٣ (وقد خلقکم اطوارا)۔ (٩) سورة معارج کښې وئيلی وو (يوم
يخرجون من الاجداث ١٨) نو سورة نوح کښې هم وائی (ويخرجهم
اخراجا)۔ (١١) سورة معارج اخر کښې تخويف وو نو سورة نوح اول
کښې هم تخويف دے۔

خلاصه د سورة نوح:-

سورت کښې تحضيض فی التبليغ دے او د شرک اعتقادی دے او
دليل نقلی د نوح نه او نمونه د عذاب۔

امتيازات د سورة نوح:-

(١) سورت ممتاز دے پدے چه حضرت نوحؑ وائی چه ما دوی ته
ورځ او شپه دعوت ورکړے دے په طرف د توحيد ٥۔ (٢) سورت ممتاز
دے په هغه پنځو بزرګانو د قوم د نوحؑ چه د هغوی عبادت ئې کولو۔ ود،
سواع، يغوث، يعوق، نسر ٢٣۔ (٣) سورت ممتاز دے په بد دعائی د نوح
....

باندے۔ (رب لا تذر علی الارض من الکفرین دیارا ۲۶)۔ (٤) سورت ممتاز دے چه کله به نوحؑ بیان کولو نو قوم به ئې غوږونو کښې ګوتې ورکړے چه بیان وانورو ۷ (جعلوا اصابعهم)۔ (٥) سورت ممتاز دیپه فضیلت د استغفار باندے د پاره د هغه پنځو ځیزونو۔ (۷) سورت ممتاز دے په نافرمانئ د قوم د نوحؑ او تابعداری کولو د مالدارو۔ (انهم عصونی الخ ۲۱)۔ (۸) سورت ممتاز دے په پیدائش د مختلفو طریقو باندے (وقد خلقکم اطوارا ١٤)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة جن مكية نزلت بعد اعراف نزولا (٤٠) ترتيباً (۷۲)

ربط:-

(۱) سورة ملک او سورة قلم کښې رد د شرک فعلي وو نو سورة حاقه او سورة معارج کښې تخویف وو مفصل نو سورة نوح او سورة جن کښې رد د شرک اعتقادي کوی۔ (۲) سورة نوح کښې دلیل نقلي وو د نوحؑ نه نو سورة جن کښې دلیل نقلي دے د جناتو نه۔ (۳) سورة نوح کښې بیان د رسالت د نوحؑ ذکرکړۀ په تبلیغ باندے نو سورة جن کښې بیان د رسالت د محمدؐ کوی په تبلیغ باندے۔ (٤) سورة نوح کښې ایمان او استغفار سبب د فراخئ د رزق ګرځولے وو (یرسل السماء علیکم مدرارا ۱۱) نوسورة جن کښې سبب د فراخئ د رزق استقامت په دین او په ایمان باندے ګرځوی۔ (وان لواستقاموا الخ ١٦)۔ (٥) سورة نوح کښې

ذکر کړی وو (مما خطیئتهم اغرقوا الخ ۲۵) چه د نوحؑ تابعداری ئې او نه کړه نو غرق شو او تباه شو نو سورة جن کښې وائی چه چا د الله او د الله رسول پیغمبر خلاف کړے وے نو هغه به دننه کیږی جهنم ته (ومن یعص الله ورسوله ۲۳)۔ (٦) سورة نوح کښې وئیلي وو چه (و قد خلقکم اطوارا ۱٤) په مختلف طریقو الله تاسو پیدا کړی ئې نو سورة جن کښې وائی (کناطرائق قددا ۱۱) مونږه په مختلفو طریقو او مذهبونو باندے وو۔ (۷) سورة نوح کښې ذکر کړی وو (فلم یزدهم دعائی الا فرارا ٦) چه زما بیان نه زیاتوی دوی لره مګر تښتته نو سورة جن کښې وائی (ولن نعجزه هربا ۱۲) مونږ د الله نه په تښتته خلاصیدے نه شو۔ (۸) سورة نوح کښې وئیلیوو (فلم یجدوا لهم من دون الله انصارا ۲۵) نو سورة جن کښې هم وائی (ولن اجد من دونه ملتحدا ۲۲)۔ (۹) سورة نوح کښې د عبدالله بیان شوے وو نو سورة جن کښې وائی چه عبدالله کله بیان کوی نو خلق پرې راپنډ شی د پاره د وهلو۔ (یکونون علیه لبدا ۱۹)۔ (۱۰) سورة نوح کښې هغه مددګاران د انسانانو ذکر شول ود، سواع، یغوث، یعوق او نسر نو سورة جن کښې هغه مددګاران د جناتو ذکر کوی چه دوی به جنات را مدد کول۔

خلاصه د سورة جن:-

سورة جن کښې رد د شرک اعتقادی او ترغیب قران ته۔ او دلیل نقلي د جناتو نه او سورت کښې رددا شراک اربعو دے۔ شرک فی العلم، شرک فی الدعا، شرک فی التصرف، شرک فی العبادت۔

امتیازات د سورة جن:-

(۱) سورت ممتاز دے پدې چه جناتو اوورے چه مونږ نااشنا کتاب راوږلو- (انا سمعنا الخ۱)- (۲) سورت ممتاز دے په وینا د جناتو (لن نشرک ربنا احدا) ۲- (۳) سورت ممتاز دے په وینا دجناتو چه زمونږ بې رقوفانو په الله دروغ وئیلی وو- (یقول سفیهنا ٤)- (٤) سورت ممتاز دے په وینا د جناتو او اقرار د جناتو چه مونږ نه پوهیږو په علم غیب باندے- (انا لاندری) ۱۰- (۵) سورت ممتاز دے په وینا د جناتو چه مونږ کښے مختلف ډلے وی- ۱۱(کنا طرائق قددا)- (٦) سورت ممتاز دے پدې چه څوک مضبوط پاتې شو په لاره د توحید نوالله وائی چه ډیر رزق به ورله ورکړم- (لاسقینهم ماء غدقا ۱۷)- (۷) سورت ممتاز دے پدې چه جوماتونه جوړ شوی د الله عبادت دپاره نو پدې کښے غیرالله مه رامدد کوئ ۱۸ (وان المسجد لله الخ)- (۸) سورت ممتاز دے چه مبلغ باندے راپښ شي د پاره د رهلو یا د پاره د اوربدلو د قران (یکونون علیه لبدا ۱۹)- (۹) سورت ممتاز دے په وینا د پیغمبر چه (لا املک لکم) زه واک نه لرم تاسو د پاره د نفع او د ضرر۲۱- (۱۰)سورت ممتاز دے پدې چه مونږ به رسیدلو اسمان ته د نبوت نه مخکښے- او د نبوت نه پس مونږ منع شو- (ملئت حرسا شدید و شهبا۸)-

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة مزمل مكية نزلت بعد القلم نزولاً (٣) ترتيباً (٧٣)

ربط:-

(۱) مخکښې سورتونو کښې رد د شرک وو او اثبات د توحيد وو نو سورة مزمل کښې تحضيض فی التبليغ ورکوی۔ (۲) سورة جن کښې اثبات د رسالت او صداقت د نبوت او علامات د نبوت ذکر شول نو سورة مزمل کښې هم اثبات د رسالت ذکر کوی۔ (۳) سورة جن کښې ترغيب الى القران وو په واقعه د جناتو باندے نو سورة مزمل کښې هم ترغيب الى القران دے چه ته هم قران زده کړه او بيان ئې کړه۔ (٤) سورة جن کښې تکليف وو پيغمبر ته په دے مسئله (يکونون عليه لبدا) ۱۹ نو سورة مزمل کښې تسلی ده نبیؐ ته (واصبر الخ ۱۰)۔ (۵) سورة جن کښې صيغه د ماضی ذکر شوه (لما قام عبدالله) نو سورة مزمل کښې صيغه د امر ذکر کوی چه (قم الليل) پاځه د شپے۔ (٦) سورة جن ئې ختم کړے وو په ذکر الرسول نو سورة مزمل ئې شروع کړو په ذکر الرسولؐ۔ (۷) سورة جن کښې ذکر کړی وو (يهدی الى الرشد ۲) دا د هدايت کتاب دے نو سورة مزمل کښې وائی چه د پندونو کتاب دے (ان هذه تذکرة) يعنی سورة جن کښې يو نوم د قران ذکر شو او سورة مزمل کښې بل نوم د قران ذکر کوی۔ (۸) سورة جن کښې ذکر کړی وو (لن يجيرنی من الله احدا ۲۲) نو سورة مزمل کے وائی (فاتخذه وکيلا) ۹ د غه الله ذمه دار اونيسه چه پناه ورکوی۔ (۹) سورة جن کښې وئيلی وو (انا سمعنا قرانا عجبا ۱) نو سورة

مزمل کښې وائي دغه عجیب کتاب بیان کول دا لوئې بوج دے (انا سنلقي) ۵۔ (۱۰) سورة جن کښې وئیلي وو چه توحید سبب د فراخي د رزق دے ۱۶ (و ان لو ستقاموا الخ) نو سورة مزمل کښې وائي چه خلاف دپېغمبر دا سبب د عذاب دے (فعصی فرعون الرسول الخ ۱۶)۔ (۱۱) سورة جن کښې وئیلي وو چه چا اعراض د قران نه اوکړه نو الله به ئې سخت عذاب ته دننه کړي۔ (ومن یعرض عن ذکر ربه) الخ نو سورة مزمل کښې ترقي ده د هغه عذابونو بیان کوي۔ (ان لدینا انکالا وجحیما ۱۲ الخ)

خلاصه د سورة مزمل:-

سورت کښې ترغیب دے قران ته او یرولس (۱۱) اوامر دی او تقسیم د جماعت کوی دري قسمونو ته، معلمین، مجاهدین او خادمین۔ (فاقرء و واما تیسر من القران)۔ (واخرون یضر بون فی الارض۔ و اخرون یقاتلون فی سبیل الله)۔

امتیازات د سورة مزمل:-

(۱) سورت ممتاز دے په بیان د لفظ مزمل باندے۔ (یایها المزمل)۔ (۲) سورت ممتاز دے په تقسیماتو د اوقاتو باندے د پاره د قران او د دعوت۔ (۳) سورت ممتاز دے په دے چه گډو مونږه په تا باندے بوج ټرونو (انا سنلقي علیک قولا ثقیلا ۵)۔ (٤) سورت ممتاز دے په دې چه په ورځ کښې سړی د پاره شغل وی ډیر۔ (ان لک فی النهار سبحا طویلا ۷)۔ (۵) سورت ممتاز دے چه ځان د مخلوق نه په یو ځل اوشلوه او الله ته په مزه مزه رازه۔ (وتبتل الیه تبتیلا)۔ (٦) سورت ممتاز دے چه د قیامت داسې ورځ ده چه ماشومان به په هغې کښې بوډاګان شي (الولدان شیبا)۔

....

(۷) سورت ممتاز دے په درې قسمه ډلو باندے مدرسین، مجاهدینو او
خادمین۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة مدثر مكية نزلت بعد مزمل نزولا (٤) ترتيباً (٧٤)

ربط:-

(۱) سورة مزمل کښے تنظيم الاوقات او ترغیب وو قران ته او
سورة مدثر کښے تحضیض فی التبلیغ دے چه دا قران اورسوه۔ (۲) سورة
مزمل کښے تنظيم جوړ شو او خلق درې قسمه شو۔ مدرسین، (فاقرؤا
ماتیسر من القران)۔ او بعض مال گټونکی (خادمین) (و اخرون یضربون
فی الارض) مدافعین (مجاهدین) (واخرون يقاتلون في سبيل الله)، او
سورة مدثر کښے وائی چه (قم فانذر) پاځه او دا مسئله بیان کړه۔ (۳)
سورة مزمل کښے وئیلی وو چه (قم الليل) د شپے پاځه نو سورة مدثر
کښے وائی پاځه او خلق اویروه د عذابونو نه۔ (٤) سورة مزمل کښے
ترغیب الی القران وو۔ (فاقرؤا ما تیسر من القران) نو سورة مدثر کښے
ترغیب الی التبلیغ والدعوت دے۔ (٥) سورة مزمل اخر کښے وئیلی دی
(وما تقدموا لانفسکم الخ) نو سورة مدثر کښے د خیر تفصیل کوی
(یایهاالمدثر) اے د خیر خاونده۔ (٦) سورة مزمل کښے حال د معرضینو
د مخکښے امتونو ذکر کړے وو نو سورة مدثر کښے حال د معرضینو
ددے امت ذکر کوی۔ (۷) سورة مزمل چه کومے واقعے د پاره نازل شوے
وو نو سورة مدثر هم هغه واقعے د پاره نازل شو۔ (۸) د دواړو سورتونو
شروع او افتتاح په نداء باندے ده۔ (یاایها المزمل۔ یا یها المدثر)۔
سورة مزمل کښے امر وو په قیام اللیل باندے چه قم اللیل۔ او دا تکمله
......

...وذکر دے د نفس د نبیؐ په عبادت خاصه باندے نو سورة مدثر اول
...کښې هم شروع اوکړه په انزار باندے علیہ نه چه هغه تکمیل او پوره والے
...د پیغمبر په مورد خلقو نه۔ (۱۰) سورة مزمل کښې ونیلی وو چه
(واهجرهم هجرا جمیلا ۱۰) نو سورة مدثر کښې وائی (والرجز فاهجر ۵)۔
(۱۱) سورة مزمل کښې ونیلی وو (واصبر علی مایقولون ۱۰) نو سورة
مدثر کښې ترقی ده چه صبر په خالص د پاره د الله وی۔ (ولربک فاصبر)۔
(۱۲) سورة مزمل کښې ونیلی وو (ذرنی والمکذبین ۱۱) نو سورة مدثر
کښې ترقی ده (ذرنی و من خلقت وحیدا ۱۱)۔ (۱۳) سورة مزمل کښې
ونیلی وو (ان هذه تذکرة) دا قران تذکره ده ۱۹ نو سورة مدثر کښې وائی
چه ټوی د تذکرے نه ولے اعراض کوی۔ (فهم عن التذکرة معرضین ٤٩)۔

خلاصه د سورة مدثر:-

سورة مدثر کښې تحضیض علی التبلیغ او تسلی نبیؐ ته اووه اوامر
او اوصاف د معاندینو په لوستلو قران کښې او مثال دنبیؐ ورکوی۔
بیوزمی سره د پاره د تسلی (کلا والقمر الخ ۳۲، ٤۳)۔

امتیازات د سورة مدثر:-

(۱) سورت ممتاز دے په لفظ د مدثر باندے۔ (۲) سورت ممتاز
دے په بیان د (وثیابک فطهر) باندے ٤۔ (۳) سورت ممتاز دے چه خان
بهرته کړه د دړگاهونو نه۔ (٤) سورت ممتاز دے په هغه مقام په جهنم
کښې چه هغه صعود دے (سارهقه صعودا)۔ (٥) سورت ممتاز دے په
هغه اووه صفاتو د معاندینو باندے په وخت د لوستلو د قران کښې۔ فکر،
قدر، نظر، عبس، بسر، ادبر، استکبر ۱۸ تا ۲۲۔ (٦) سورت ممتاز دے په
شمیر د نولسو (۱۹) فرشتو باندے۔ (علیها تسعة عشر)۔ (۷) سورت
ممتاز دے چه د جهنمی هډوکی او غوښه به نه پریږدی اور د جهنم (لا

....

تبقي ولا تذر ۴۸)۔ (۸) سورت ممتاز دے چه څوک د قران نه اعراض
کوی د هغوی مثال په شان د خرو ترپدونکو دے۔ (کانهم حمر مستنفرة
۵۰)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة قيامة مكية نزلت بعد قارعه نزولا ۳۱ ترتيباً (۷۵)

ربط:-

(۱) سورة مدثر کښې تخويف وو د پاره د مجرمانو نو سورة قيامه کښې د هغې تخويف تفصيل کوی او اثبات د قيامت کوی۔ (۲) سورة مدثر کښې وئيلی وو چه قيامت نه منی خکه نه يريږی۔ (لايخافون الاخرة) نو قيامت کښې اثبات د قيامت کوی او په هغې دلائل بيانوی۔ (۳) سورة مدثر کښېهغه درې مقاصد ذکر شول اثبات د توحيد، اثبات د رسالت او صداقة القران نو سورة قيامه کښې هغه څلورم اصل بيانوی چه اثبات د قيامت او اخرت دے۔ (٤) سورة مدثر کښې زجر وو منکرينو د اخرت ته نو سورة قيامه کښېاثبات د اخرت او احوال د اخرت ذکر کوی او په هغې دلائل بيانوی۔ (۵) سورة مدثر کښې وئيلی وو چه کفار به وائی (لم نک من المصلين ۴۳) نو سورة قيامة کښې وائی چه ځان به ملامت کوی چه مونږه د الله تابعدار نه وو پوراً۔ (بالنفس اللوامه ۲)۔ (٦) سورة مدثر کښې وئيلی وو (کنانکذب بيوم الدين ٤٦) نو سورة قيامت کښې وائی چه تکذيب خو پرېږده کفار ددے گمان هم نه کوی چه بيا به الله راجمع کوی هډوکی د انسان، (ايحسب الانسان الن نجمع عظامه ۳)۔ (۷) سورة مدثر کښې وئيلی وو چه (لمن شاء منکم ان يتقدم اويتاخر ۳۷)

که څوک مخکښې کيږي نېکو ته او که څوک وروستو کيږي د نېکو نه نو قيامت کښې وائي (ينبؤا الانسان يو مئذ بما قدم واخر ۱۳)۔ (۸) سورة مدثر کښې وئيلي وو مالدار زما د ايتونو سره عناد کوي او استکبار کوي نو سورة قيامة کښې وائي چه عناد ځکه کوي چه ددې مالدارو دنيا سره مينه ده (بل تحبون العاجله ۲۰)۔ (۹) سورة مدثر کښې وئيلي وو چه کافر تندې او مخ ترش کړې وو د الله د کتاب د وجه نه (ثم عبس وبسر ۴۲) نو سورة قيامة کښې وائي چه قيامت کښې به هم ترش وي (وجوه يو مئذ باسره ۲٤)۔ (۱۰) سورة مدثر کښې يو حال د منکرينو د قيامت ذکر کړې وو چه د قران نه استکبار کوي نو سورة قيامة کښې ترقي ده څلور حالته ذکر کوي۔ (فلا صدق ولا صلي ولکن کذب و تولي)۔ (۱۱) سورة مدثر کښې بيان د قمر کړې وو چه په هغې حالات راځي(کلا والقمر) نو سورة قيامة کښې وائي چه د غه قمر به تور شي۔ (وخسف القمر ۸)۔

خلاصه د سورة قيامه:-

سورت کښې اثبات د قيامت او زجر منکرينو ته په اول د سورت کښې په اثبات د قيامت باندې شواهد دي۔

امتيازات د سورة قيامة:-

(۱) سورت ممتاز دې په هغه نفس لوامه باندې ۲۔ (۲) سورت ممتاز دې په برابر والي د بندونو د انساني باندې په قيامت کښې۔ (قلدرين علي ان نسوي بنا نه ٤)۔ (۳) سورت ممتاز دې په توربدلو د سپوږمي باندې۔ (وخسف القمر ۸)۔ (٤) سورت ممتاز دې په جمعه کېدلو د نمر او د سپوږمي کښې په راختلو د مغرب نه۔ (و جمعه الشمس والقمر ۹)۔ (۵)

....

سورت ممتاز دے په وینا د انسان چه وائی به په قیامت کښې۔ (این المفر)
۱۰۔ (٦) سورت ممتاز دے په جمع کولو د قران په سینه کښې او بیا په
لوستلو د قران په ژبه ستا (ان علینا جمعه و قرانه الخ)۔ (۷) سورت ممتاز
دے په وینا د هغه وفات کېدونکی باندے (و قیل من راق) (شته څوک دم
اچوونکے)۔ (۸) سورت ممتاز دے په علاماتو د مرګ باندے چه تاؤ به
شی پنډئ د بلے پنډئ نه۔ (والتفت الساق باالساق)۔ (۹) سورت ممتاز
دے په څلور ځله لفظ اولیٰ باندے په دوو ایتونو کښې۔ (اولیٰ لک فاولی
الخ ۳٤، ۳۵)۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة دهر مکیة بعد رحمٰن نزولا (۹۸) ترتیباً (۷٦)

ربط:۔

(۱) سورة قیامه کښې اثبات د قیامت اوشو نو سورة دهر کښې حالت د یو فرقې ذکر کوی چه مزدوری به ورکړم چا چه دنیا کښې کوشش کړے دے۔ (۲) سورة قیامه کښې اثبات د قیامت اوشو نو سورة دهر کښې وائی چه قیامت به راځی ځنګه به راځی لکه ته چه نشت وے او دنیا کښې شته شوے۔ نو دا رنګه قیامت به راځی (هل اتی علی الانسان حین الخ ۱)۔ (۳) سورة قیامه کښې حالات د هغه ناکاره خلقو ذکر کړل نو سورة دهر کښې حالات د هغه نېکانو خلقو ذکر کوی۔ (٤) سورة قیامه کښې بشارت وو اجمالا نو سورة دهر کښې بشارت دے تفصیلا۔ (۵) سورة قیامه کښې بیان کړے وو چه انسان د نطفے نه پېدا دے۔ (الم یک نطفة من

مي بمني ۳۷) نو سورة دهر کښي ترقي ده چه (انا خلقنا الانسان من نطفة
امشاج) د مخلوطے نطفے نه انسان پيدا دے۔ (٦) سورة قيامه ۲۰ کښې
رټيلي وو(کلا بل تحبون العاجلة) نو سورة دهر کښې ترقي ده (ان هولاء
يحبون العاجله الخ ۲۷)۔ (۷) سورة قيامه کښې بيان د قران کريم کړے وو
چه (فاذا قرانه فاتبع قرانه ۱۸) نو سورة دهر کښې وائي چه قران کريم
وعظ دے نو خکه ددے تابعداري اوکړه (ان هذا تذکره ۲۹)۔ (۸) سورة
قيامه کښې وئيلي وو چه کافر به درو غوالے او اعراض کوي د قران نه (فلا
صدق ولا صلي الخ ۳۲) نو سورة دهر کښې وائي چه کافرو لره مونږ
طوقونه تيار کړيدي ٤۔ (۹) سورة قيامه کښې ذکر کړل (ينبؤ الانسان
يومئذ بما قدم واخر ۱۳) نو سورة دهر کښې د انسان د اعمالو دبدلے بيان
کوي او د هغه د نعمتونو۔ (۱۰) سورة قيامه کښې ذکر کړه (وجوه يومئذ
الخ ۲۲) نو سورة دهر کښې په هغے ترقي ده۔ (و لقهم نضرة و سرورا
۱۱)۔

خلاصه د سورة دهر:-

سورت کښې اثبات القيامه بالتمثيل او بيان د لسو نعمتونو نيکانو د
پاره او بيا ترغيب قران ته او تسلي ده نبي ته۔

امتيازات د سورة دهر:-

(۱) سورت ممتاز دے په پيدا کولو د انسان د هغه نطفے نه چه ګډه وډه وي
(من نطفة امشاج) ۲۔ (۲) سورت ممتاز دے په خود لود انسان ته دوه
لارے۔ (اما شاکرا و اما کفورا ۳) (۳) سورت ممتاز دے په هغه کاسو
باندے د شرابو چه د هغے ګډون به د کافورو وي۔ (کان مزاجها کافورا
....

۵)۔ (٤) سورت ممتاز دے په هغه شیشو د سپینو زرو باندے (قواریر من فضة)۔ (۵) سورت ممتاز دے په هغه ګلاسونو د شیشو باندے۔ (واکواب کانت قواریر)۔ (٦) سورت ممتاز دے په څکلو د اوبو د هغه کاسونه چه هغے ګډون به د زنجبیلو وی۔ (کان مزاجها زنجبیلا)۔ (۷) سورت ممتاز دے په سلسبیل چینه باندے۔ ۱۸۔ (۸) سورت ممتاز دے په هغه ملغلرو شیندلو شوو باندے۔ (لؤلوا منثورا ۱۹)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة مرسلات مكية نزلت بعد همز نزولاً (۳۳) ترتیباً (۷۷)

ربط:-

(۱) هر کله چه سورة قیامة کښے بیان د قیامت اوشو نو سورة دهر کښے هم اثبات د قیامت اوشو بالتمثیل نو اوس سورة مرسلات کښے به زیات تمثیل سره امثله د عذاب او شواهد ذکر کوی۔ (۲) سورة دهر اخر کښے اوونیل (و الظالمین اعدلهم عذابا الیما) نو سورة مرسلات کښے بیان د ظالمانو کوی او د هغے نمونے د دنیا او اخرت ذکر کوی۔ (۳) سورة دهر کښے لس (۱۰) نعمتونه ذکر شو د پاره د نیکانو نو سورة مرسلات کښے لس زجرونه دی منکرینو ته په لفظ ویل سره۔ (٤) سورة دهر ختم شو په تخویف او بشارت باندے نو سورة مرسلات کښے د هغه تخویف او بشارت تفصیل کوی۔ (۵) سورة دهر کښے اوونیل (ان هذه تذکره) ۲۹ نو سورة مرسلات کښے وائی (فالملقیت ذکرا ۵)۔ (٦) سورة دهر کښے اوونیل (اناخلقنا الانسان من نطفة امشاج ۲) نو سورة مرسلات کښے به

هغې ترقي ده (الم نخلقکم من ماء مهين ۲۰)۔ (۷) سورة دهر کښې اوونیل (ان الابراراً يشربون من کاس، کا مزاجها کافوراه) نو سورة مرسلات کښې په هغې ترقي ده چه يوازې څکاک به نه وی بلکې خوراک به هم ورسره وی۔ (کلو واشربوا ۴۳)۔ (۸) سورة دهر کښې اوونیل (ودانية عليهم ظللها ۱٤) نو سورة مرسلات کښې ترقي ده چه (ان المتقين فى ظلل وعيون ٤١)۔ (۹) سورة دهر کښې بيان د سجدې وو الله ته (ومن الليل فاسجده له ۲٦) نو سورة مرسلات کښې بيان د رکوع کوی الله ته۔ (ارکعوا لا يرکعون)۔ (۱۰) سورة دهر کښې اوونیل (قواريرا من فضة قدروها تقديرا ۱٦) نو سورة مرسلات کښې ذکر کوی (فقدرنا فنعم القادرون ۲۳۔ (۱۱) سورة دهر کښې نمونه د قيامت ذکر شوه نو مرسلات کښې امثال د قيامت ذکر کوی۔

خلاصه د سورة مرسلات:-

سورت کښې پنځه شواهد وی په اثبات د قيامت او څلور احوال دی قبل القيامه۔ او سورت کښې تخويف دنيوی دے په حالت د مکذبينو سابقينو باندې او تخويف اخروی او دلائل عقليه دی په قدرت د الله باندې۔ او سورت کښې زجر دے د پاره د مکذبينو او معرضينو د قران ته۔ په لس خله لفظ ويل سره۔ په مقابله د لسو نعمتونو د مومنانو کښې۔

امتيازات د سورة مرسلات:-

(۱) سورت ممتاز دے په لس خله لفظ ويل سره۔ (۲) سورت ممتاز دے په پنځو شواهدو سره په اول کښې په دے الفاظو سره په بل سورت کښې نشته۔ (۳) سورت ممتاز دے د پاره د وخت ورکولو انبياؤ ته ....

د پاره دبیان (واذا الرسل اقتت)۔ (٤) سورت ممتاز دے پدې چه ژنکه کافي ده د ژوندو او مړو د پاره (الم نجعل الارض کفاتا الخ)۔ (٥) سورت ممتاز دے په هغه غرونو دنگو باندے۔ (وجعلنا فیها رواسي شمخت الخ)۔ (٦) سورت ممتاز دے په هغه دریو څانګو د اور باندے۔ (انطلقوا الی ظل ذی ثلث شعب الخ)۔ (٧) سورت ممتاز دے په هغه بڅرکو د جهنم باندے (یعنی سپرغی یا ذره د جهنم) (انها ترمی بشرر کاالقصر)۔ (٨) سورت ممتاز دے په بیان د هغه اوښانو زیړو باندے۔ (کانه جملت صفر)۔ (٩) سورت ممتاز دے پدے الفاظو باندے۔ (فاذا النجوم طمست)۔ کله چه ستوری بے نوره شي۔ (١٠) سورت ممتاز دے پدې الفاظو چه (واذالسماء فرجت)۔ کله چه اسمان لړے کړے شي یا جدا کړے شي۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة نباء مكية نزلت بعد المعارج نزولا (٨٠) ترتيباً (٧٨)

ربط:-

(١) هر کله چه سورة مرسلات کښې یوم الفصل ذکر شو نو سورة نباء کښې تفصیل د یوم الفصل کوی۔ (٢) سورة مرسلات کښې یو دلیل ذکر شو په اعتبار د خلق باندے نو سورة نباء کښې بل دلیل ذکر کوی په اعتبار د خلق باندے ٨ کښې باالترقي۔ (٣) سورة مرسلات کښې تخویف وو په اثبات د قیامت باندے نو سورة نباء کښې اثبات د قیامت او نفی د شفیع قهری ذکر کوی۔ (٤) په دواړو سورتونو کښې وصف د جنت او دنعمتونو دے متقیانو ته او د نارا و عذاب کفارو ته ذکر کوی۔ (٥) سورة

....

مرسلات کښې وئيلي وو (لای یوم اجلت لیوم الفصل الخ) نو سورة نباء کښې وائي چه وخت ئې مقرر دے۔ (ان یوم الفصل کان میقاتا)۔ (٦) په دوارو سورتونو کښې اثبات د قدرت د الله دے په بعث باندے۔ (٧) سورة مرسلات کښې ذکر کړه (الم نجعل الارض کفاتا احیاء و امواتا) نو سورة نباء ٦ کښې وائي (الم نجعل الارض مهدا)۔ (٨) سورة مرسلات کښې ذکر کړل (و جعلنا فیها رواسی شمخت ۲۷) نو سورة نباء کښې ترقي ده (والجبال اوتادا ۷)۔ (٩) سورة مرسلات کښې ذکر کړل کفارو ته به اووئيلے شي (انطلقوا الی ظل ذی ثلث شعب الخ ۳۱) نو سورة نباء کښې ترقي ده۔ (لا یذوقون فیها بردا ولا شرابا ۲٤)۔ (١٠) سورة مرسلات کښې ذکر کړل (واذالجبال نسفت ١٠) نو سورة نباء کښې ترقي ده (وسیرت الجبال فکانت سرابا ۲۰)۔ (١١) سورة مرسلات کښې ذکر کړل (ان المتقین فی ظلال وعیون ٤١) نو سورة نباء کښې ترقي ده۔ (ان للمتقین مفازا ۳۱)۔

خلاصه د سورة نباء:-

سورت کښې تفصیل د یوم الفصل۔ او هغه لس څیزونه چه دنیا کښې شریک وو په مابین د مالدار او د غریب کښې۔ او نفي دشفیع قهري۔

امتیازات د سورة نباء:-

(١) سورت ممتاز دے په هغه لس څیزونو باندے چه هغه شریک دي په مابین د مالدار او د غریب په دنیا کښې۔ (٢) سورت ممتاز دے په تفصیل د یوم الفصل باندے۔ (٣) سورت ممتاز دے په افسوس د کفارو ....

باندې قيامت کښې۔ (ياليتني کنت ترابا)۔ (٤) سورت ممتاز دے په وخت تبرولو د کفارو په جهنم کښې پدې الفاظو سره۔ (لثبين فيها احقابا)۔ (٥) سورت ممتاز دے په هغه باغونو کورو کورو باندې۔ (و جنت الفافا)۔ (٦) سورت ممتاز دے په کېدلو د باران د وريځو نه (و انزلنا من المعصرات الخ)۔ (٧) سورت ممتاز دے پدې الفاظو چه کفارو ته به سزا ملاوېږي پوره۔ (جزاء و فاقا)۔ (٨) سورت ممتاز دے په بيان د خوب چه دا سبب د راحت د بدن دے پدې الفاظو سره۔ (وجعلنا نومکم سباتا)۔ (٩) سورت ممتاز دے په هغه کاسو ډکو د شرابو په دې الفاظو چه (وكأسا دهاقا)۔ (١٠) سورت ممتاز دے پدې چه کرخولے مونږه شپه جامه۔ په دې الفاظو سره۔ (وجعلنا الليل لباسا)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة نازعات مكية نزلت بعد النباء نزولا (٨١) ترتيباً (٧٩)

ربط:-

(١) هر کله چه مخکښې سورتونو کښې اثبات د قيامت اوشو نو سورة نازعات کښې هم اثبات د قيامت دے په شهادت د فرشتو۔ (٢) سورة نباء کښې قرب د قيامت ذکر شو نو سورة نازعات کښې د هغے تفصيل کوی۔ (٣) سورة نباء کښې دلائل عقليه ذکر شو په اثبات د قيامت باندې نو سورة نازعات کښې هم ادله عقليه ذکر کوی په اثبات د قيامت باندې۔ (٤) سورة نباء کښې اوصاف المنکرين او تخويف مجرمانو ته ذکر شو نو سورة نازعات کښې هم اوصاف المنکرين او تخويف ذکر

کوی۔ (۵) سورة نباء کښې اثبات د قیامت اوشو نو سورة نازعات کښې
ېرنې د قیامت او تخویف دنیوی ذکر کوی۔ (۶) سورة نباء کښې
ذکر کوی (وبیننا فوقکم سبعاً شدادا ۱۲)۔ نو سورة نازعات کښې ترقی
ده (ءانتم اشد خلقا)۔ (۷) سورة نباء کښې وئیلی وو (و جعلنا اللیل لباس
۱۰) نو سورة نازعات کښې په هغې ترقی ده ۔ (واغطش لیلها واخرج
ضحها ۲۹)۔ (۸) سورة نباء کښې وئیلی وو (الم نجعل الارض مهدا ۶) نو
سورة نازعات کښې په هغې ترقی ده۔ (والارض بعد ذالک دحٰها ۳۰)۔
(۹) سورة نباء کښې ذکر کړی وو (وانزلنا من المعصرات ۱٤) نو سورة
نازعات کښې په هغې ترقی ده (اخرج منهاماء ها ومرعٰها ۳۱)۔ (۱۰)
سورة نباء کښې ذکر کړی وو (والجبال اوتادا ۷) نو سورة نازعات کښې په
هغې ترقی ده (والجبال ارساها ۳۲)۔ (۱۱) سورة نباء کښې د کافرو
افسوس ذکر کړے وو په قیامت کښې (یلیتنی کنت ترابا ٤٠) نو سورة
نازعات کښې وائی چه یوازے افسوس به نه کوے بلکې مخکښې عمل به
خان ته یادوی۔ (یوم یتذکرالانسان ماسعی ۳۵)۔ (۱۲) سورة نباء کښې
به ورکړه د عذاب نه په ورخ د قیامت کښې نو سورة نازعات کښې
شواهدات پېش کوی په بعث (پورته کېدو) باندے چه دا حق دے۔ (لاریب
فیه)۔

خلاصه د سورة نازعات:-

سورة نازعات کښې امثال ذکر کوی د قیامت او یو واقعه ذکر کوی
د یو متمرد سرکش چه الله په عذاب کښې اونیوو نودا رنګه متمر دین به
هم اونیسی په عذاب کښې یو ورخ او سزا د فرعون۔

امتیازات د سورة نازعات:-

(۱) سورت ممتاز دے په هغه پنځو شواهداتو باندے د فرشتو په اثبات د قیامت پدې الفاظو سره ۱، ۲۔ (۲) سورت ممتاز دے چه دا خلق به په هغه ظاهر میدان وی (فاذا هم بالساهرة)۔ (۳) سورت ممتاز دے چه ډیر زړونه به په ورځ د قیامت پریشان وی پدې الفاظو (قلوب یومئذ واجفة)۔ (٤) سورت ممتاز دے په وینا د کفارو چه ایا مونږ به دنیا ته بیا واپس کیږو (انا لمردون فی الحافرة)۔ (۵) سورت ممتاز دے په لفظ د فرعون باندے چه (انا ربکم الاعلیٰ)۔ (٦) سورت ممتاز دے په سزا د فرعون باندے په دنیا او اخرت کښے۔ (فاخذه الله نکال الاخرة والاولیٰ)۔ (۷) سورت ممتاز دے په بیان د خوړولو د زمکے باندے۔ (والارض بعد ذالک دحها)۔(۸) سورت ممتاز دے په بیان د (طامته الکبریٰ) باندے۔ (فاذا جاء ت الطامته الکبریٰ)۔ (۹) سورت ممتاز دے په دے چه پورته کړے م دے چت د اسمان۔ (رفع سمکها فسواها)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے چه جړق به اوومې زمکه نو وروسے به وی دے پسے بل جړق۔ (تتبعها الرادفة)۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة عبس مکیة نزلت بعد نجم نزولا (۲٤) ترتیباً (۸۰)

ربط:-

(۱) سورة نازعات کښے تخویف دنیوی او اخروی ذکر شو په اثبات د قیامت باندے نو عبس کښے تفصیل کوی د اثبات القیامه۔ (۲) سورة نازعات کښے تسلي وه نبيؐ ته (انما انت منذر من یخشها) نو سورة عبس

په اول کښې هم تسلي ده نبيؐ ته۔ (۳) سورة نازعات کښې ذکر کړې وو چه (وانتم اشد خلق ۲۷) نو سورة عبس کښې وائي (من نطفه ۱۹)۔ (٤) سورة نازعات کښې ذکر شول (متاعا لکم ولا نعامکم ۳۳) نو سورة عبس کښې هم دغه مضمون ذکر کوي (متاعا لکم ولانعامکم ۲۲)۔ (٥) سورة نازعات کښې ذکر کړې وو چه هغه لوئې مصيبت به راشي۔ (فاذا جاء ت الطامة الکبرىٰ ۳٤) نو سورة عبس کښې بل لوئې مصيبت ذکر کوي (فاذا جاء ت الصاخة ۳۳) ۔ (٦) سورة نازعات کښې اثبات د قيامت اوشو نو سورة عبس کښې تيزي على التبليغ ذکر کوي۔ (۷) سورة نازعات کښې ذکر کړې وو (اخرج منها ماء ها و مرعها ۳۱) نو سورة عبس کښې وائي (انا صببنا الماء صبا ۲۵)۔ (۸) سورة نازعات کښې بيان د جهنم اوکړه (فان الجحيم هي الماوى ۳۹) نو سورة عبس کښې د جهنميانو د مخونو بيان کوي۔ (وجوه يومئذ عليها غبرة ٤٠)۔ (۹) سورة نازعات کښې بيان د جنت اوشو(فان الجنة هي الماوىٰ) ٤١ نو سورة عبس کښې د جنتيانو د مخونو بيان کوي۔ (وجوه يومئذ مسفرة) ۳۸۔ (۱۰) سورة نازعات کښې ذکر کړې وو چه (انما انت منذر من يخشها) نو سورة عبس کښې د هغه چا حالت ذکر کوي چه د انزار نه ئې فائده وا غسته۔

خلاصه د سورة عبس:-

سورت کښې بيان دے د تحضيض على التبليغ۔ تيزي په بيان د مسئلې کښې او اشاره ده دے خبرے ته چه کوم شاګرد په انابت سره راشي نو توجه هغه ته ورکړه او بيا ترغيب الى القران۔

امتیازات د سورة عبس:-

(۱) سورت ممتاز دے په حض علی التبلیغ باندے-- (۲) سورت ممتاز دے په توجه کولو باندے هغه چا ته چه طلبګار د حق وی- (۳) سورت ممتاز دے په فوراً قبر ته دننه کولو باندے د مړی- (ثم اماته فاقبره ۲۱)- (٤) سورت ممتاز دے په حدائق غلبا باندے ۳۰- (۵) سورت ممتاز دے په تپخته کولو د یو انسان د بل انسان نه په قیامت کښے اګر که خپلوان وی- (یوم یفر المرء من اخیه الخ ۳۵)-

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة تکویر مکیة نزلت بعد لهب نزولا (۷) ترتیباً (۸۱)

ربط:-

(۱) سورة عبس کښے اثبات د قیامت وو نو سورة تکویر کښے هم اثبات د قیامت کوی- (۲) سورة عبس کښے ذکر شوی وو (اذا جاء ت الصاخة) نو سورة تکویر کښے د هغے تفصیل کوی- (۳) سورة عبس کښے اثبات القیامت وو نو سورة تکویر کښے ترغیب دے اعمال صالحو ته- (٤) سورة عبس او سورة تکویر دواړو سورتونو کښے تشریح د احوالو د ورځے د قیامت ذکر کوی- (۵) سورة عبس کښے ذکر کړی وو چه دا قران کریم (فی صحف مکرمة ۱۳) نو سورة تکویر کښے ترقی ده (انه لقول رسول کریم ۱۹)- (۶) سورة عبس کښے ذکر کړی وو (یوم یفر المرء من اخیه ۳٤) نو سورة تکویر کښے وائی (فاین تذهبون ۲۶)- (۷) سورة عبس کښے ذکر کړی وو چه دا قران تذکر ده یعنی نوم د قران

ذکر رو (انها تذکرة ۱۱) نو سورة تکویر کښې ترقي ده چه دا تذکره د پاره مومنانو ده (ان هوَ الا ذکر للعالمین ۲۷)۔ (۸) سورة عبس کښې بیان ونو د تبلیغ او د انسان د پیدائش۔ ګواه شو چه اخرت شته نو سورة تکویر کښې د اخرت تفصیل کوی۔ (۹) سورة عبس کښې ذکر د فرشتو ی وو (بایدی سفرة)۔ نو سورة تکویر کښې د یو مقربې فرشتې بیان وی او د هغې صفتونه بیانوی۔ (مطاع ثم امین)۔ (۱۰) سورة عبس کښې بیان اوشو چه د قیامت ورځ دو مره د هیبت ده چه خپل خپلوان به د یو بل لرے تختي۔ او هر انسان به خپل حال کښې مشغول وی۔ (یوم یفرالمرء من اخیه ۳٤) نو سورة تکویر کښې ترقي ده چه د قیامت ورځ د حساب کتاب نه پس به تاسو خپل خپل ځایونو ته ځی او همېشه به هغې کښې ی۔ (۱۱) سورة عبس کښې اثبات القیامت وو نو سورة تکویر کښې ائي چه قیامت به خکه راځي چه انسان به مخامخ کیږی خپل عمل سره ۱۔

خلاصه د سورة تکویر:-

سورت کښې دولس احوال د قیامت دی شپږ مخکښې د قیامت نه شپږ احوال په وخت د قیامت کښې یعنی چه کله قیامت واقع شی او لیل وحی او صداقت د قران دے۔

امتیازات د سورة التکویر:-

(۱) سورت ممتاز دے پدې چه کله نمرول کړے شی (اذالشمس کورت) ۱۔ (۲) سورت ممتاز دے پدې چه ستوری به بې نوره کړې شی۔ (اذا النجوم انکدرت ۲)۔ (۳) سورت ممتاز دے چه هغه قیمتي مال به

....

عطلت)۔ (٤) سورت ممتاز دے په بیکاره پرېښودلے شي۔ (و اذاالعشار عطلت)۔ (٥) سورت ممتاز دے په بلېدو د دریابونو باندے۔ (واذالبحار سجرت)۔ (و اذا النفوس زوجت یو ځائې کېدو د نفسونو د خپلو هم جنسو سره۔ (و اذا النفوس زوجت ۷)۔ (٦) سورت ممتاز دے په هغه ژوندۍ ښخه کړے شوے جینۍ باندے او په تپوس کولو د هغے نه په قیامت کښے۔ (واذا الموءودة سئلت ۸)۔ (۷) سورت ممتاز دے په خورېدو د عملنامو پدې الفاظو (و اذا الصحف نشرت ۱۰)۔ (۸) سورت ممتاز دے په رابښکلو د پوستکی د اسمان نه (و اذالسماء کشطت ۱۱)۔ (۹) سورت ممتاز دے په شواهداتو د ستورو باندے۔ (فلا اقسم بالخنس الخ ۱۵، ۱٦)۔ (۱۰) سورت ممتاز دے په شهادت د سبا باندے چه کله ساه واخلي۔ (والصبح اذا تنفس ۱۸)۔ (۱۱) سورت ممتاز دے په شهادت د شپے کله چه اخر ته شي ۱۷۔ (۱۲) سورت ممتاز دے په هغه ګنو صفاتو د جبرئیلؑ باندے۔ رسول کریم، مکین مطاع او امین دے دا ټول د جبرئیلؑ صفات دي۔ (انه لقول رسول کریم ۱۹ تا ۲۱)۔ (۱۳) سورت ممتاز دے پدې چه نه دے دا پېغمبر په بیان د وحی کښے بخیل (وما هو علی الغیب بضنین)۔ (۱٤) سورت ممتاز دے چه وینا د قران دا وینا د شیطان نه ده۔ (و ما هو بقول شیطن الرجیم)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة انفطار مكية نزلت بعد النازعات نزولا (۷۲) ترتيباً (۸۲)

ربط:-

(۱) سورة تکویر کښې ملاقات د انسان خپل عمل سره ذکر کړه (علمت نفس ما احضرت ۱٤) نو سورة انفطار کښې هم ملاقات د انسان د خپل سره ذکر کوی (علمت نفس ما قدمت و اخرت ٥)- (۲) سورة تکویر کښې دولس حالات ذکر کړی وو شپږ د فنا د عالم او شپږ چه کله قیامت واقع شی نو سورة انفطار کښې څلور نور حالات د فنا د عالم ذکر کوی- (۳) سورة تکویر کښې اثبات القیامة وو نو سورة انفطار کښې هم اثبات د قیامت کوی- (٤) سورة تکویر شروع شوے وو په هغه حالتونو چه په هغے سره فنا د عالم راځی نو سورة انفطار هم شروع کوی په هغه حالتونو چه هغے سره فنا د عالم راځی- (٥) سورة تکویر کښې ذکر کړی وو (و اذاالسماء انشقت ۱۱) نو سورة انفطار کښې ترقی ده (اذا السماء انفطرت ۱)- (٦) سورة تکویر کښې ذکر کړی وو واذالنجوم انکدرت ۲) نو سورة انفطار کښې وائی (و اذالکواکب انتثرت ۲)- (۷) سورة تکویر کښې ذکر کړی وو (واذا البحار سجرت) چه کله دریابونه بل کړے شی ٦ نو سورة انفطار کښې ترقی ده (و اذا البحار فجرت ۳)- (۸) سورة تکویر کښې ذکر کړی وو (و اذالنفوس زوجت ۷) نو سورة انفطار کښې ذکر کوی (و اذالقبور بعثرت ٤)- (۹) سورة تکویر کښې ذکر کړی وو چه جنت به نژدے کړے شی د پاره د مومنانو (واذالجنة ازلفت ۱۳) نو سورة انفطار

کښې وائی چه د غه جنت کښې به نېکانو ته نعمتونه ملاؤ شی۔ (ان الابرار لفی نعیم ۱۳)۔ (۱۰) سورة تکویر کښې ذکر کړیوو چه (فاین تذهبون ۲۶) نو سورة انفطار کښې ترقی ده (وما هم عنها بغائبین ۱۶)۔ (۱۱) سورة تکویر کښې ذکر کړی وو چه جبرئیل فرشته عزتمنده ده (انه لقول رسول کریم ۱۹) نو سورة انفطار کښې وائی چه په خپله عزت مند دے نو څکه فرشته ئې عزت منده کړه۔ (ما غرک بربک الکریم)۔ (۱۲) سورة تکویر کښې ذکر کړه چه (علمت نفس ما احضرت ١٤) نو سورة انفطار کښې وائی چه انسان د خپل عمل سره ملاؤ شی نو یو نفس به د بل نفس نه عذاب نه شی لرې کولے۔ (یوم لا تملک نفس لنفس شیئا ۱۹)۔ (۱۳) سورة تکویر کښې تفصیل د فنا د دنیا او اثبات القیامة اوشو نو سورة انفطار کښې د هغې خلاصه ذکر کوی۔ (١٤) سورة تکویر کښې ذکر کړی وو چه قیامت به راځی نو سورة انفطار کښې وائی چه قیامت راشی نو هغې د عذاب نه بیا نهٔ شی غائب کېدے۔ (۱۵) سورة تکویر کښې اثبات القیامة اوشو نو سورة انفطار کښې وائی چه خلاصولو والا بل څوک نشته بغیر د الله نه۔ (یوم لا تملک نفس لنفس شیاء والامر یومئذلله ۱۹)۔

خلاصه د سورة انفطار:-

سورة انفطار کښې خلاصه د ماسبقه ذکر کوی او سورت کښې نفی د شفاعت قهری۔ (لاتملک نفس لنفس شیئا ۱۹) او سورت کښې څلور نور احوال ذکر کوی د فنا د دنیا۔

امتیازات د سورة انفطار:-

(۱) سورت ممتاز دے په انفطار باندے۔ (اذا السماء انفطرت ۱)۔

(۲) سورت ممتاز دے په دوړېدلو د ستورو باندے (واذالكواكب انتثرت ۲)۔ (۳) سورت ممتاز دے په کراما کاتبین باندے۔ (٤) سورت ممتاز دے چه الله په خائسته جوړ کښے پیدا کړے او بیا ئې در کښے ترکیب یعنی جوړوالے راوستے (فی ایِّ صورة ۸)۔ (٥) سورت ممتاز دے پدے الفاظو چه یو نفس به د بل نفس نه عذاب لرے کولو اختیار نه لری (یوم لاتملک الخ ۱۹)۔ (٦) سورت ممتاز دے چه زما نه کفار قیامت کښے غائبیدے نه شی (وما هم عنها بغائبین ۱٦)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة مطففين مكية نزلت بعد عنكبوت نزولا (۸٦) ترتيباً (۸۳)

ربط:-

(۱) سورة انفطار کښے اثبات د قیامت وو په زجر او په بیان د حال المجرمین مع التخویف نو سورة مطففین کښے هم اثبات القیامت سره بیان د حال المجرمین مع التخویف والبشارت دے۔ (۲) سورة انفطار اخر کښے نفی د شفیع قهری وو ۱۹ نو سورة مطففین کښے زجر دے او ترغیب دے اعمال صالحو ته۔ چه عمل اوکړه انسانه۔ (۳) سورة انفطار کښے ذکر کړی وو (ان علیکم لحفظین ۱۰) نو سورة مطففین کښے وائی هغه لیکل چه فرشتے لیکی ۔ کرخولے به شی نتیجه د هغے علیین یا سجین کښے۔ (٤) سورة انفطار کښے ذکر کړی وو چه انسان کافر تکذیب کوی په قیامت۔ (کلا بل تکذبون باالدین ۹) نو سورة مطففین کښے ترقی ده (وما یکذب به الا کل معتداثیم ۱۲)۔ (٥) سورة انفطار کښے بیان د ابرابرو

کړے وو (ان الابرار لفی نعیم ۱۳) نو سورة مطففین کښے ترقی ده (ان الابرار لفی نعیم علی الارائک ینظرون ۲۲، ۲۳)۔ (۶) سورة انفطار کښے وئیلي وو (ان الابرار لفی نعیم) نو سورة مطففین کښے ترقی ده (ان کتاب الابرار لفی علیین)۔ (۷) سورة انفطار کښے بیان د فجارو کړے وو۔ (ان الفجار لفی جحیم ۱٤) نو سورة مطففین کښے ترقی ده (ان کتاب الفجار لفی سجین ۷)۔ (۹) سورة انفطار کښے وئیلي وو چه قیامت به راځی نو سورة مطففین کښے ترغیب دے اعمال صالحو ته او د هغے وضاحت بهیو مثال سره کوی۔ (۱۰) سورة انفطار کښے بیان د فرشتو کړے وو (کراما کاتبین ۱۱) نو سورة مطففین کښے وائی چه (یشهده المقربون)۔ دغه عزتمندے فرشتے به داخلیږی علیین ته۔ (۱۱) سورة انفطار کښے ذکر کړی وو چه تاسو د جهنم نه وتلے نه شئ او نه غائب کیدې شئ۔ (وما هم عنها بغائبین) نو سورة مطففین کښے ترقی ده خکه چه ستاسو نومونه درج شوی په رجسترو کښے۔

خلاصه د سورة مطففین:۔

سورت کښے ترغیب دے اعمال صالحو ته۔ او د هغے وضاحت کوی په یو مثال سره څنګه چه ته د دنیا څیزونه بے توله نهٔ اخلې نو دین ولې بے توله اخلئ او زجر دے معرضینو ته۔ او صاف د مکذبینو بشارت او تخویف۔

امتیازات د سورة مطففین:۔

(۱) سورت ممتاز دے په مطففین باندے۔ (ویل للمطففین ۱)۔ (۲) سورت ممتاز دے په (بل ران علی قلوبهم) باندے چه پهٔ زړهٔ نې زنګ

....

ذکولے شوې دے۔ (۳) سورت ممتاز دے چه عملنامے د نېکانو بندیګانو به عليين مقام کښې وی۔ (ان کتب الابرار لفی علیین ۱۸)۔ (٤) سورت ممتاز دے په عملنامو د فجارو (بدکارو) په سجین مقام کښې۔ (لفی سجین ۸)۔ (۵) سورت ممتاز دے چه دغه عليين مقام ته به هغه مقرب خلق حاضریږی۔ (یشهده المقربون ۲۱)۔ (٦) سورت ممتاز دے چه ذکولے به شی په دوی باندے د هغه شرابو خالصو نه (يسقون من رحيق مختوم ۲۵)۔ (۷) سورة ممتاز دے په تسنیم چینه باندے۔ (و مزاجه من تسنیم)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة انشقاق مكية نزلت بعد انفطار نزولا (۸۳) ترتیباً (۸٤)

ربط:-

(۱) سورة مطففين کښې ناکاره کارونو باندے یو مثال پېش کړے دے۔ ویل للمطففين ۱ نو سورة انشقاق کښې د نېکوکارونو ترغيب ورکوی۔ (انک کادح الخ)۔ (۲) سورة مطففين کښې ذکر کړی وو چه تاسو به د څه حیلے په وجه د خپلو مقاماتو نه نهٔ شئ وتلے نو سورة انشقاق کښې ترقی ده۔ (لترکبن طبقا عن طبق) چه تاسو به د جهنم نه نهٔ شئ وتلے او په تاسو به مختلف حالات راځی د عذابونو۔ (۳) سورة مطففين کښې اثبات القيامت وو نو سورة انشقاق کښې هم اثبات القيامت دے بالترقی۔ (٤) مخکښې سورتونو کښې دوه قسمه حالت د انسان د اعمالونو ذکر کړے وو سورة انفطار کښې ونيلی وو ستاسو عمل ليکلے
....

شي نو سورة مطففين كښې دويم حالت د اعمالو د انسان چه خپل مقام ته
به ځي عليين يا سجين ته۔ نو سورة انشقاق كښې دريم حالت ذكر كوي
چه د غه عملنامې به تقسيمېږي چاته په ښي لاس او چاته په كس لاس
كښې۔(٥) سورة مطففين كښې نفرت وو د اعمال سيئه نه نو سورة انشقاق
كښې ترغيب دے اعمال صالحو ته۔ (٦) سورة مطففين كښې ترغيب
اعمال صالحو ته نو سورة انشقاق كښې ترغيب دے اصل عقيدې ته
(٧) سورة مطففين كښې ذكر د كتب الحفظه شوې وو نو سورة انشقاق
كښې ذكر د عرض د هغې كوي په ورځے د قيامت كښې۔

خلاصه د سورة انشقاق:-

سورت كښې اثبات د قيامت، فنا د عالم او ترغيب وركوي اصل
عقيدې ته چه تاته به عمل صالح هله فائده دركړي چه تا كښې مسئله د
توحيد وي۔ او بيا احوال ذكر كوي د مومنانو او د هغوی د پاره بشارت او
بيا احوال ذكركوي د منكرينو او د هغوی د پاره يره۔

امتيازات د سورة انشقاق:-

(١) سورت ممتاز دے چه زمكه به هر شئ بهر او غورزوي او خالي
به شي۔ (والقت مافيها و تخلت ٤) ۔ (٢) سورت ممتاز دے په لفظ د
باندې ٦۔ (٣) سورت ممتاز دے چه ځي به جنتي خپلے بنګلے ته
خوشحاله ۔ (وينقلب الى اهله مسرورا ٩)۔ (٤) سورت ممتاز دے
شاهد باالشفق باندے۔ (فلا اقسم باالشفق ١٦)۔ (٥) سورت ممتاز دے
لاړ به شي تاسو د يو حال نه بل حال ته۔ (لتركبن طبقا عن طبق١٩)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة بروج مكية نزلت بعد شمس نزولا (۲۷) ترتيباً (۸۵)

ربط:-

(۱) سورة انشقاق کښې ترغیب وو اصل عقیدے ته نو سورة بروج کښې صحیح او د غلطے طریقے فرق ذکر کوی۔ (۲) سورة انشقاق کښې اثبات القیامت وو (بالادلة العقلیه) نو سورة بروج کښې هم د غه مضامین ذکر کوی چه توحید، رسالت، صداقة الکتاب او اثبات القیامت دے۔ (۳) سورة انشقاق اختتام شوے وو په ترغیب دنیوی او اخروی باندے نو سورة بروج کښې د هغے تفصیل کوی۔ (٤) دواړو سورتونو شروع په لفظ السماء باندے شوې ده۔ (٥) سورة انشقاق کښې ذکر کړی وو (الذین امنوا وعملوالصلحت الخ ۲۵) نو سورة بروج کښې ترقی ده۔ (ان الذین امنوا و عملوالصلحت لهم جنت تجری من تحتها الانهر۔ ذالک الفوزالکبیر ۱۱)۔ (٦) سورة انشقاق کښې درې شواهد پیش کړی وو په اثبات القیامت باندے۔ (فلا اقسم بالشفق ۱۸ واللیل وما وسق والقمر اذا تسق)۔ نو سورة بروج کښې هم درې شواهد پیش کوی په اثبات القیامة په اول د سورت ۱، ۲، ۳۔

خلاصه د سورة بروج:-

سورت کښې نمونے د باطل پرستو او انجام د هغوی چه هغوی حق پرستو ته تکلیف رسوی۔ او سورت کښې تخویف دے د پاره د منکرینو په عذاب د دنیا او اخرت سره او بشارت دے مومنانو ته۔ او دا سورت ......

....

خلاصه د ماسبقه سورت ده۔

امتیازات د سورة بروج:-

(۱) سورت ممتاز دے په واقعه د خندقونو د اُور۔ (قتل اصحب الاخدو)د ٤۔ (۲) سورت ممتاز دے په شاهد او مشهود باندے۔ (۳) سورت ممتاز دے په هغه تماشے کولو د باطل پرستو مومنانو ته۔ (٤) سورت ممتاز دے په ذوالعرش المجید باندے۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة طارق مکیة نزلت بعد بلد نزولاً (۳۷) ترتیباً (۸٦)

ربط:-

سورة بروج کښے په اثبات د قیامت باندے شواهد ذکر کړل او تخویف دینوی او اخروی او بیان د بشارت ئې کړے وو نو سورة طارق کښے وائی (فمهل الکفرین امهلهم رویدا) چه واضح دلائل بیان شو بیا ئې هم نه منی نو مهلت ورله ورکړه۔ (۲) سورة بروج کښے ذکر کړیوو (والسماء ذات البروج ۱) نو سورة طارق کښے وائی (والسماء ذات الرجع)۔ (۳) سورة بروج کښے ذکر کړی وو (انه هو یبدی و یعید ۱۳) نو سورة طارق کښے وائی (انه لقول فصل ۱۳)۔ (۵) سورة بروج کښے تکذیب د کفارو ذکر کړے وو په قران (بل الذین کفروا) نو سورة طارق کښے وصف د قران ذکر کوی (انه لقول فصل ۱۳)۔

خلاصه د سورة طارق:-

سورت کښې خلاصه د ماسبقه او مهلت د پاره د کفارو لپاره غوښتلے شوے
راصل پېدائش د انسان۔

امتیازات د سورة طارق:۔

(۱) سورت ممتاز دے په بیان د نجم الثاقب باندې ۳۔ (۲) سورت ممتاز دے چه انسان پیدا دے د هغه اوبو توپ وهونکو نه۔ (خلق من ماء دافق ٦)۔ (۳) سورت ممتاز دے چه دا اوبه راوخی د صلب او ترائب نه ۷۔ (٤) سورت ممتاز دے په اسمان چه خاوند د باران والا دے۔ (والسماء ذات الرجع ۱۱)۔ (٥) سورت ممتاز دے په هغه زمکو چودېدو باندې په دے الفاظو سره (والارض ذات الصدع ۱۲)۔ (٦) سورت ممتاز دے چه دا بیان د قران توقې نه دی۔ (وما هو بالهزل)۔ (۷) سورت ممتاز دے چه مهلت ورکړه مهلت لږ غوښتلے۔

بسم اللہ الرحمن الرحیم

سورة اعلیٰ مکیة نزلت بعد تکویر نزولا (۸) ترتیباً (۸۷)

ربط:۔

(۱) سورة طارق کښې خلق د انسان ذکر کړو نو سورة اعلیٰ کښې استکمال د انسان ذکر کوی۔ (۲) سورة طارق کښې اثبات د قیامت اوشو نو سورة اعلیٰ کښې دوه مضمونه ذکر کوی۔(مسئله التوحید، تزهید من الدنیا) (۳) سورة طارق کښې خلق د انسان ذکر کړے وو (خلق من ماء دافق ٦) نو سورة اعلیٰ کښې هم خلق الانسان ذکر کوی۔ (الذی خلق
....

فسویٰ ۲)۔ (٤) سورة طارق کښې خلق النبات ذکر کړے وو (والارض ذات الصدع ۱۲) نو سورة اعلیٰ کښې هم خلق النبات ذکر کوی پدې قول سره (الذی اخرج المرعٰی فجعله غثاء احویٰ ۵)۔ (۵) سورة طارق کښې وئیلی وو چه مهلت ورکړه کفارو لره ۱۷ نو سورة اعلیٰ کښې وائی مهلت ورکړه خکه چه جهنم ته به دننه کیږی ۱۲ - (٦) سورة طارق کښې ذکر کړی وو چه دا قران کریم قول واضح دے (انه لقول فصل ۱۳) نو سورة اعلیٰ کښې وائی چه په دغه قول واضح باندے پند ورکړه (فذکر ۹)۔ (۷) سورة طارق کښې ذکر کړی وو چه الله حافظ دے نو سورة اعلیٰ کښې ترقی ده چه یوازې حافظ نۀ دے بلکې خالق هم دے۔

خلاصه د سورة اعلیٰ:-

سورت کښې دوه مسئلے دی خالق لکل شی هوالله۔ (الذی خلق فسویٰ) عالم بکل شی هوالله۔ (انه یعلم الجهر وما یخفی ۷) او دوه نعمتونه دی (علم د قران به درکړم۔ (سنقرئک فلا تنسی ٦ او دویم ونیسرک للیسریٰ) جنت ته به دِ بوزم اسان۔

امتیازات د سورة اعلیٰ:-

(۱) سورت ممتاز دے په هغه دوو مسئلو باندے او د هغے مقابله کښې دوه نعمتونه (خالق ، عالم) او پدې دوو مسئلو باندے دوه نعمتونه تفریع کوی (علم د قران به درکړم، (سنقرئک فلا تنسی ٦) دویم نعمت جنت به درکړم۔ (و نیسرک للیسریٰ ۸)۔ (۲) سورت ممتاز دے په صحیفو د ابراهیمؑ او د موسیٰؑ ۱۹ - (۳) سورت ممتاز دے په غثاء احویٰ باندے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة غاشیه مکیة نزلت بعد ذاریات نزولاً (٦٧) ترتیباً (٨٨)

ربط :-

(١) سورة اعلیٰ کښې وئیلی وو چه دنیا ته غوره کړه (بل تؤثرون الحیوة الدنیا والاخرة خیروابقی ١٦) نو سورة غاشیه کښې انجام د هغه چا بیانی چه دنیا ئې غوره کړې وه۔ (٢) سورة اعلیٰ کښې ترغیب وو قران ته (فذکر ٩) نو سورة غاشیه کښې وائی چه ستا کار قران خودل دی (فذکر ٢١)۔ (٣) سورة اعلیٰ کښې بیان کړې وو چه (ویتجنبها الاشقیٰ ١١) نوسورة غاشیه کښې حالت د اشقی ذکر کوی چه کرمے اوبه به څکی۔ (٤) سورة اعلیٰ کښې دوه مسئلے ذکر کړې وے مسئلته التوحید، تزهید من الدنیا نو سورة غاشیه کښې ترقی ده دوره نورے مسئلے ذکر کوی ترغیب الی الاخره، تخویف او بشارت۔ (٥) سورة اعلیٰ کښې تخویف ذکر شول نو سورة غاشیه کښې تخویف او بشارت دواړه ذکر کوی۔ (٦) سورة اعلیٰ کښې بیان کړې وو د مومن او دکافر۔ دجنت او نار اجمالاً۔ نو سورة غاشیه کښې د هغې تفصیل کوی۔

خلاصه د سورة غاشیې :-

سورت کښې بیان دے د تخویف او د بشارت۔ او سورت کښې سخت حالت د دوزخی ذکر کوی۔ او خائسته حالت د مومنانو ذکر کوی۔ او د مومنانو د پاره دڅلورو درجو بیان کوی او ددے د پاره څور مثالونه۔

......

......

امتیازات د سورة غاشیې :-

(۱) سورت ممتاز دے په (عاملة الناصبه) باندے چه د کافر عمل بوباد دے ۳۔ (۲) سورت ممتاز دے په نه مړېدو د جهنمي او په نه خربېدو د جهنمي په هغه خوراک د جهنم باندے (لا یسمن ولا یغنی من جوع ۷)۔ (۳) سورت ممتاز دے چه جنتي به د خپل عمل نه او د عقیدے نه راضي وي (لسعیها راضیه ۹)۔ (٤) سورت ممتاز دے په هغه څلورو درجو دمو منانو باندے (سرر مرفوعة، اکواب موضوعة، نمارق مصفوفه، ذرابی مبثوثه ۱۳ تا ۱۵)۔ (۵) سورت ممتاز دے په هغه څلورو مثالونو باندے (ابل، سماء، جبال، الارض ۱۷)۔

بسم اللہ الرحمن الرحیم

سورة فجر مکیة نزلت بعد الیل نزولا (۱۰) ترتیباً (۸۹)

ربط:-

(۱) سورة غاشیه کښې انجام د اعمالو ذکر شو نو سورة فجر کښې ترغیب دے اعمال صالحوته۔ (۲) سورة غاشیه کښې ذکر د وجوه خاشعه او وجوه ناعمه اوشو (وجوه یومئذ خاشعه ۲ وجوه یومئذ ناعمه ۸) نو سورة فجر کښې ذکر د طائفو د مکذبینو دے هغه چه د هغوی وجوه به خاشعه وي او ذکر د طائفو د هغه کسانو چه د هغوی وجوه به ناعمه وي ۳ سورة غاشیه کښې تخویف او بشارت ذکر شو نو سورة فجر کښې ترغیب ورکوی په تضرع او خشوع سره په اوقاتو حسنو کښې چه دا

....

وختونه حاصل کړی - (٤) سورة غاشیه کښې امثال اربعه ذکر شو د
بشارت نو سورة فجر کښې تیزی ده په عبادت باندې په اوقات اربعو
حسنو کښې-

خلاصه د سورة فجر:-

سورت کښې سپکوالی د محبت د دنیا ا ترغیب دے اعمال
صالحو ته- او پدې شواهدات او واقعات په سپکوالی د دنیا د ثمودیانو د
عادیانو او فرعونیانو ذکر کوی-

امتیازات د سورة فجر:-

(۱) سورت ممتاز دے په (لیال عشر)- (۲) سورت ممتاز دے په
(والشفع والوتر) باندې- (۳) سورت ممتاز دے پدې الفاظو چه
(جابوا الصخر بالواد)- (٤) سورت ممتاز دے په راتلو د عذاب په یو خل
باندې په فرعون لعین- (٥) سورت ممتاز دے په خوراک د مړو د مال
ډیر سره ۱۹- (٦) سورت ممتاز دے په مینه کولو د مال سره مینه ډیره
۲۰- (۷) سورت ممتاز دے په ښکاره کېدو د رب او د فرشتو په قیامت
کښې (جاء ربک والملک صفا صفا)- (۸) سورت ممتاز دے په نفس
مطمئنه باندې- (۹) سورت ممتاز دے په افسوس کولو د انسان په خپل
ناکاره عمل باندې ۳٤- (۱۰) سورت ممتاز دے په حکم کولو هغه نیک
بنده ته چه دننه شه په بندیګانو زما کښې او جنت زما کښې-

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة بلد مكية بعد ق نزولاً (۳۵) ترتیباً (۹۰)

ربط:-

(۱) سورة فجر کښې حال د نفس مطمئنه ذکر کړو نو سورة بلد کښې هغه شئ ذکر کوی چه هغې سره اطمینان راځي- (۲) سورة فجر کښې اهانت د حب المال ذکر شو او زجر هغه چاته چه مینه کوی مال سره نو سورة بلد کښې زیات زجر دے هغه چاته چه خرچ کوی مال په غیرو مصارفو کښې- (۳) سورة فجر کښې حکم کړے وو په اکرام الیتیم او مسکین باندې نو سورة بلد کښې بدی بیانوی د هغه چا چه اکرام نه کوی ددې دواړو او عزت ئې نه کوی- (٤) سورة فجر کښې احوال د مکذبینو سابقینو بیان شو نو سورة بلد کښې احوال د معاندینو ددې امت ذکر کوی چه خلاف کوی د الله- (۵) سورة فجر کښې ترغیب وو اعمال صالحو ته په اوقات حسنو سره نو سورة بلد کښې زیادت کوی چه (لقد خلقنا الانسان فی کبد)- (٦) سورة فجر کښې بیان د هغه کفارو کړے وو نو سورة بلد کښې وائی دوی ته به اعمالنامې په کس لاس کښې ملاویږی-

خلاصه د سورة بلد:-

سورت کښې د کلی د اصلاح د پاره دری قوانین ذکر کوی- (۱) د کلی مشر به جفاکش او محنت کش وی او د هغې ماخذ ٤ کښې (لقد خلقنا الانسان فی کبد ٤)- (۲) د کلی مال به راجمع کیږی او په صحیح ځائې به ئې خرچ کوے- (فک رقبة ۱۳، ١٤)- (۳) تاپسې به خلق به د

راتی چه خان له ئې مال جمع کړو په هغې به صبر کوې (وتواصو باالصبر ۱۱)۔

امتیازات د سورة بلد:-

(۱) سورت ممتاز دے په شهادت د بلد باندے ۱ - (۲) سورت ممتاز دے په شهادت د والد او په ولد باندے ۳۔ (۳) سورت ممتاز دے فی کبد باندے چه مونږ پیدا کړے انسان د پاره د مشقت۔ (٤) سورت ممتاز دے په خرچ کولو د مال ډېر سره (اهلکت مالا لبدا ٦)۔ (٥) سورت ممتاز دے په عینین باندے۔ (٦) سورت ممتاز دے په یو ژبه او دوو شونډو باندے۔ (ولسانا و شفتین ٦)۔ (٧) سورت ممتاز دے په هغه دوو لارو باندے بدے الفاظو سره انسان ته (و هدینه النجدین ١٠)۔ (٨) سورت ممتاز دے په طعام ورکولو یتیم او مسکین ته په ورځ د لوږه کښې (فی یوم ذی مسغبة)۔ (٩) سورت ممتاز دے په اصحاب المیمنه او اصحب المشئمه باندے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة شمس مكية نزلت بعد قدر نزولا (٢٦) ترتيباً (٩١)

ربط:-

سورة بلد کښې بیان د دوو ډلو اوشو اصحاب المیمنه او اصحاب المشئمه نو شمس کښې د هغې تفصیل کوی۔ (۲) سورة بلد کښې زجر وو په افعال غیر مرضیه باندے نو سورة شمس کښې زجر دے په هغه عقیده غیر مرضیه باندے۔ (۳) سورة بلد ئې ختم کړے وو په احوالو د کفارو په ...

اخرت کښې نو سورة شمس ختموی په احوالو د کفارو په دنیا کښې۔

خلاصه د سورة شمس:-

سورت کښې فرق ښائی د صحیح او غلطې عقیدې چه کامیاب دې هغه سړي چه هغه ځان پاک کړو د شرک نه۔ (قد افلح من تزکی)۔ او تاوانی دې هغه څوک چه ځان ئې دننه کړو په شرک کښې و قد خاب من دسها۔ او سورت کښې رد دې په هغه خلقو چه نېکان نه دی او ځان دننه کوی په نېکانو کښې۔

امتیازات د سورة الشمس:-

(۱) سورت ممتاز دې چه کله نمر ډوب شی نو ورپسې نې سپوږمی۔ (۲) سورت ممتاز دې په خودلو انسان ته بدئ د هغه او نیکی د هغه۔ (فالهمها فجورها و تقواها ۸)۔ (۳) سورت ممتاز دې چا چه ځان دننه کړو په شرک او ګناهونو کښې نو هغه تاوانی شو ۱۰۔ سورت ممتاز دې په لیږلو د هغه بدبخت په زخمی کولو د اوښې سره۔ (اذا انبعث اشقها ۱۲)۔ (۵) سورت ممتاز دې پدې چه نه یریږی الله د بدلې د چانه (ولا یخاف عقبها ۱۵)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة الليل مكية نزلت بعد اعلىٰ نزولا (۹) ترتيباً (۹۲)

ربط:-

(۱) سورة شمس کښې تفرقه فی الاعتقاد ذکر شوه چه بلا پاکه ده۔ (قد افلح من زکها) او بله عقیده خبیثه ده (و قد خاب من دسها) سورة لیل کښې تفرقه فی الاعمال ذکرکوی۔ (۲) سورة شمس

کامیابی د هغه چا ذکر کړے وه چه نفس ئې د شرک او د ګناه نه پاک کړه او نقصان ئې د هغه چا ذکر کړے وو چه ځان ئې د شرک او ګناه نه پاک نه کړه نو سورة لیل کښې هغه شئ ذکر کوی چه په هغې سره کامیابی حاصلیږی۔ او هغه شئ ذکر کوی چه هغې سره نقصان حاصلیږی (یعنی دا سورت تفصیل د شمس دے)۔ (۳) سورة شمس کښې ذکر کړل (واللیل اذا یغشها ٤) نو سورة لیل اول کښې ذکر کوی (واللیل اذا یغشی ۱)۔ (٤) سورة شمس کښې ذکر کړه (والنهار اذا جلها ۳) نو سورة لیل کښې ترقی ده (والنهار اذا تجلی)۔ (۵) سورة شمس کښې ذکر کړی وو (فالهمها فجورها و تقواها ۸) نو سورة لیل کښې وائی (ان علینا للهدیٰ ۱۲)۔ مونږ باندې بیان د صحیح لارے دے۔

خلاصه د سورة اللیل:-

سورت کښې فرق دے په مابین د عمل مقبوله او غیر مقبوله کښې۔ او سورت کښې عمل د قبولیت د پاره درې شرطه ذکر کوے۔ اول اطاعت د الله او د پیغمبر۔ (فاما من اعطی) کښې دے ته اشاره ده۔ دویم شرط ځان بچ کول د شرک او بدعت نه او دے ته اشاره ده په (واتقیٰ) سره۔ دریم شرط چه چا کښې توحید وی هغې ته اشاره ده (فصدق بالحسنی) سره۔

امتیازات د سورة اللیل:-

(۱) سورت ممتاز دے په فرق په مابین د عمل مقبوله او غیر مقبوله کښې۔ (۲) سورت ممتاز دے په درې شرائطو د پاره د عمل د قبلیدو۔ (۳) سورت ممتاز دے په دریو وجهو د پاره د بدبختو خلقو (تکذیب، اعراض کول د حق نه، تخویف په اور سره۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة الضحٰی مکیة نزلت بعد فجر نزولاً (۱۱) ترتیباً (۹۳)

ربط:-

(۱) سورة لیل کښې حال د امت ذکر شو نو سورة ضحٰی کښې حال د نبیؐ ذکر کوی۔ (۲) سورة لیل کښې اوونیل (و سیجنبها الاتقی ۱۷) بیرته به شی د جهنم نه پرهیزګار۔ نو سورة ضحٰی کښې د سید الاتقیاء چه محمدؐ دے د هغه حال ذکر کوی۔ (۳) سورة لیل په اول کښې لیل ذکر نو نو سورة ضحٰی په اول کښې ضحٰی ذکر کوی یعنی اول تیارهٔ وه چه پیغمبر راغے نو بیا رڼا شوه۔ (٤) سورة لیل اول کښې ذکر وو (واللیل اذا یغشٰی ۱) نو سورة ضحٰی کښې الفاظ بدلوی (واللیل اذا سجٰی ۲)۔ (۵) سورة لیل کښې ذکر کړی وو (و ما یغنی عنه ماله اذا تردی ۱۱) نو سورة ضحٰی کښې وائی (ووجدک عائلا فاغنی)۔ (٦) سورة لیل کښې ترغیب وو امت ته او ختم ئې کړو په ولسوف یرضی باندے نو سورة ضحٰی کښې هم ترغیب دے امت ته او تسلی ده نبیؐ ته۔

خلاصه د سورة الضحٰی:-

سورت کښې تسلی ده نبیؐ ته باالشواهد۔ نبیؐ ته یو څو روځے وحی نه وه راغلے نو مشرکانو خندا کوله پیغمبر پوری چه ده سره د الله دشمنی ده نو الله د تسلئ د نبیؐ ته دا سورت راولیږهٔ (والضحٰی)۔ څنګه چه ورځ همېشه نه وه نو دا رنګه ستا وحی به همېشه نه وی او څنګه چه لیل تیاره عمر نه وی نو دا رنګه ستا بندش د وحی به هم ټول عمر نه وی یعنی ګاه

به رنا وی کله به شپه وی۔ نو کله به وحی وی او کله به نه وی۔ نو خفه کیږهٔ
شه.

امتیازات د سورة الضحٰی:۔

(۱) سورت ممتاز دے په ضحٰی باندے چه د نبیؐ د راتلو سره رنا
شوه ۱۔ (۲) سورت ممتاز دے چه ستا د پاره روستنی حالت بهتر دے د
ستا اول حالت نه۔ (وللاخرة خیرلک من الاولی ١٤)۔ (۳) سورت ممتاز
دے په یتیموالی د نبیؐ باندے (الم یجدک یتیما فاوی ٦)۔ (٤) سورت
ممتاز دے چه یتیم باندے غصه مهٔ کوه۔ (فلا تقهر ۹)۔ (۵) سورت ممتاز
دے چه غوختونکی د حاجت یا د دین هغه مه رټه۔ (اما السائل فلا تنهر
۱)۔ (٦) سورت ممتاز دے په تعبیر کولو د الله د کتاب نه په نعمت سره
(اما بنعمته ربک فحدث) نو بیان کوه د هغے ۱۱۔ (۷) سورت ممتاز
دے په صرف تسلی باندے نبیؐ ته پدې کښے صرف بیان د رسالت دے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة انشراح مكية نزلت بعد الضحٰی نزولا (۱۲) ترتیباً (۹٤)

ربط:۔

(۱) سورة ضحٰی کښے دفع د اعتراض وه د مشرکینو په نبیؐ باندے
او سورة انشراح کښے دفع د اعتراض ده د مشرکینو په امت باندے۔ (۲)
سورة ضحٰی کښے تسلی وه نبیؐ ته نو سورة انشراح کښے دفع د اعتراض
ده د مشرکینو نه۔ (۳) سورة ضحٰی کښے ذکر کړی وو (ووجدک ضالا
فهدی) نو سورة انشراح کښے بیان د انشراح الصدر کوی چه اول حیران

وي الله وائي ما ستا سينه كولاؤ كړه ۱ - (الم نشرح لک صدرک)- (٤) په سورة ضحی او سورة انشراح دواړو سورتونو کښې زیات بیان دے نبیؐ ته۔ (٥) سورة ضحی کښې تسلی نبیؐ ته نو سورة انشراح کښې تسلی د امت د نبیؐ ته۔

خلاصه د سورة انشراح:-

سورت انشراح کښې تسلی ده امت د رسولؐ ته۔ په بیان د دریو انعاماتو سره۔ خطاب نبیؐ ته او مراد ترینه امت دے۔ اول انعام ستا سینه م پرانسته قران ته۔ (الم نشرح لک صدر ک)۔ دویم انعام لرېکړه مونږ ستاسو شاه گانو نه هغه بوجونه سخت۔ (ووضعنا عنک وزر ک)۔ دریم ستاسو فضیلت او ذکر ئې اوچت کړے دے۔ (ورفعنا لک ذکر ک)۔

امتیازات د سورة انشراح:-

(۱) سورت ممتاز دے په لرے کولو د هغه بوجونو ستاسو د شاهگانو نه (ووضعنا عنک وزر ک)۔ (۲) سورت ممتاز دے په پورته کولو د درجے ستاسو۔ (۳) سورت ممتاز دے کله چه فارغ شئ د یو کار د دین نه نو بل کار د دین کوه۔ (فاذا فر غت فانصب)۔ (٤) سورت ممتاز دے په تکرار د دوو جملو باندے۔ (ان مع العسر یسرا)۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة التین مکیة نزلت بعد بروج نزولاً (۲۸) ترتیباً (۹۵)

ربط:-

(۱) سورت انشراح کښې تسلی ده نبیؐ ته او امت د نبیؐ ته نو سورة تین کښې اثبات د توحید او په هغے دلائل ذکر کوی۔ (۲) سورة انشراح ....

ئے اثبات د رسالت وو نو سورة التین کښےاثبات د توحید دے سره د
ئالو نه- (۳) سورة انشراح کښے صرف د یو پیغمبر بیان وو نو سورة
ن کښے ترقی ده د دریو پیغمبرانو بیان کوی-

خلاصه د سورة التین:-

سورت اول کښے درې دلائل نقلیه ذکر کوی د انبیاء سابقینو نه په
وی د توحید ابراهیمؑ، موسیٰؑ، عیسیٰؑ او دلیل وحی د نبیؐ نه او بیا دلیل
لی (لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم) او سورت کښے ترغیب
کوی اعمال صالحو ته چه اوکوره ستا مشرانو څه کړی دی-

امتیازات د سورة التین:-

(۱) سورت ممتاز دے په تین باندے- والتین ۱- (۲) سورت ممتاز
ی په اول د سورت کښے څلور شواهد ذکر کوی د انبیاؤ نه په مسئلے د
جید- (۳) سورت ممتاز دے په پیدا کولو د انسان په خائسته شکل
ے پدې الفاظو سره (فی احسن تقویم ٤)- (٤) سورت ممتاز دے په
لامین باندے چه دا کلے د امن دے-

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة علق مکیة اول ما نزلت نزولاً (۱) ترتیباً (۹٦)

ربط:-

(۱) سورة التین کښے دوه مسئلے ذکر شوے توحید او رسالت نو
رة علق کښے دریمه مسئله ذکر کوی چه صداقة القران دے- (۲) سورة
ن کښے مسئله د توحید ذکر شوه نو سورة علق کښے ترغیب ورکوی

قران ته۔ (۳) سورة التين کښې بيان د خلق الانسان ذکر شوی وو په اعتبار د علت صوری سره ظاهرا نو په سورة علق کښې خلق الانسان ذکر کوی په اعتبار د علت مادی سره چه هغه نطفه ده۔ (٤) سورة التين کښې خلق الانسان ذکر شو (فی احسن تقويم) نو په سورة علق کښې خلق الانسان ذکر کوی سره د احوالو د اخرت نه۔

خلاصه د سورة علق:-

سورت کښې بيان د مقاصدو اربعو عاليو دے۔ توحيد، رسالت، صداقت القران، ايمان بالاخرة۔

امتيازات د سورة علق:-

(۱) سورت ممتاز دے په اعتبار د نزول سره دا د ټولو نه مخکښې نازل شوے۔ (۲) سورت ممتاز دے په اول وحی د رسولو د قران۔ (اقرأ)۔ (۳) سورت ممتاز دے په عزتمند کولو د هغه چا چه هغه قران لولی (اقرأ وربک الاکرم)۔ (٤) سورت ممتاز دے چه خودل ئې کړی دی انسان ته په قلم باندے۔ (۵) سورت ممتاز دے چا چه قران اولوستو نو الله وائی ماته به نزدے شی۔ (واقترب)۔ (٦) سورت ممتاز دے په حکم کولو هغه سختو فرښتو د عذاب ته۔ (سندع الزبانيه ۱۸)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة قدر مكية نزلت بعد عبس نزولا (۲۵) ترتيباً (۹۷)

ربط:-

(۱) سورة علق کښې ترغيب وو قران ته نو په سورة قدر کښې عظمت د قران ذکر کوی۔ (۲) سورة علق کښې وئيلی وو چه (اقرأ

وربک الاکرم ۳) نو سورة قدر کښې د عزتمندئ یو مثال پېش کوی۔ (٤)
سورة علق کښې ترغیب وو قران ته نو سورة قدر کښې هم ترغیب دے
قران ته او تتمه د ماسبقه سورت کوی۔ (٤) سورة علق کښې امر باالقران
وو نبیؑ ته نو سورة قدر کښې نزول او بیان د فضل د قران دے۔ (انا انزلنه
فی لیلة القدر)۔

خلاصه د سورة قدر:-

سورة قدر کښې عظمت د قران کریم دے۔

امتیازات د سورة قدر:-

(۱) سورت ممتاز دے چه دے کښې صرف بیان د عظمت د قران
دے۔ (۲) سورت ممتاز دے په بیان دلیلة القدر باندے۔ (۳) سورت ممتاز
دے په فضیلت د لیلة القدر چه دا د زرو میاشتو نه بهتره ده۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة بينة مدنية نزلت بعد الطلاق نزولا (۱۰۰) ترتيباً (۹۸)

ربط:-

(۱) سورة قدر کښې مقاصد اربعه عالیه ذکر شو نو سورة بینه کښې
زجر او تخویف دے منکرینو ته د مقاصدو اربعو نه۔ (۲) سورة قدر کښې
ترغیب وو قران ته نو سورة بینه کښې ترقی ده ترغیب دے اتباع د پیغمبر
ته سره د ترغیب د قران کریم نه۔ (۳) سورة قدر کښې ترغیب ورکړو
قران کریم ته نو سورة بینه کښې علت د قران ذکر کوی چه اهل کتاب او
مشرکین نه جدا کیدل د شرک او کفر نه بغیر د قران کریم او پیغمبر نه۔

(٤) سورة قدر کښې عظمت د قران وو نو سورة بينه کښې وائی چه چا قران زده کړو او اتباع د پېغمبر ئې اوکړه نو (اولئک هم خيرالبريه ۷) او چا چه اتباع د پېغمبر او نه کړه او قران ئې زده نه کړو نو هغه (شرالبريه دی ٦)۔

خلاصه د سورة بينة:-

سورت بينه کښې امتنان (احسان) ذکر کوی په مخلوقاتو په رالېږلو د قران او د پېغمبر۔ او سورت کښې تخويف او بشارت دے۔

امتيازات د سورة بينه:-

(۱) سورت ممتاز دے په احسان د مخلوقاتو په رالېږلو د قران او د پېغمبر۔ (۲) سورت ممتاز دے چه اهل کتاب او مشرکين نهٔ جدا کېدل د کفر او شرک نه بغير د راتلو د پېغمبر او د قران نه۔ (لم يکن الذين کفروا ۱)۔ (۳) سورت ممتاز دے په هغه جماعت مضبوط بانديے چه هغه جماعت د انبياؤ دے۔ (فيها کتب قيمه ۳)۔ (٤) سورت ممتاز دے چه چا اتباع د پېغمبر او د قران اوکړه نو هغه بهتر په مخلوقاتو کښې دے (اولئک هم خيرالبريه)۔ (٥) سورت ممتاز دے چا چه خلاف اوکړو او کفر ئې اوکړو نو هغه بدترين (ناکاره) په خلقو کښې دے (اولئک هم شرالبريه ۲)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة زلزال مدنية نزلت بعد النساء نزولا (۹۳) ترتيباً (۹۹)

ربط:-

(۱) سورة بينه کښې جزا د کفارو او مومنانو ذکر شوه نو سورة

زلزال کښې وخت د جزا او علامات د جزا ذکر کوی۔ (۲) سورة بینه کښې ترغیب وو قران او اتباع د پیغمبر ته نو سورة زلزال کښې تخویف اخروی ذکر کوی منکرینو ته۔ (۳) هر کله چه مخکښې سورتونو کښې مقاصد ثلاثه ذکر شول نو سورة زلزال کښې څلورم مقصد ذکر کوی چه قیامت دے۔ (٤) سورة بینه کښې د اعمال صالحو بیان کړے وو (ان الذین امنوا و عملوا الصلحت ۷) نو سورة زلزال کښې ترقی ده د اعمال صالحو او د اعمال سیئو دواړو بیان کوی چه هر انسان به خپل عمل وینی که نیک وی او که بد وی۔

خلاصه د سورة زلزال:

سورة زلزال کښې صرف اثبات د قیامت دے او تخویف اخروی۔

امتیازات د سورة زلزال:-

(۱) سورت ممتاز دے په وخکلو د زمکے خپلے بوجونه لره پدې الفاظو سره (و اخرجت الارض اثقالها ۲)۔ (۲) سورت ممتاز دے په حکم کولو باندے د الله زمکے ته په بیان د اعمالو د انسانانو۔ (تحدث اخبارها ٤، ۵)۔ (۳) سورت ممتاز دے په هغه ذره د اعمالو که نیک وی او که بد وی هغه به وینی انسان۔ په دے الفاظو سره۔ (فمن یعمل مثقال ذرة الخ)۔ (٤) سورت ممتاز دے په واپس کېدو د خلقو د قبرونو نه میدان د قیامت ته په مختلفو حالاتو باندے۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة عادیات مکیة نزلت بعد العصر نزولا (١٤) ترتیباً (١٠٠)

ربط:-

(۱) سورة زلزال کښې تخویف ذکر کړو په اثبات د قیامت باندے نو

سورة عادیات کښې زجر دے بعد التخویف۔ (۲) سورة زلزال کښې ذکر کړے وو چه زمکه به خپل بوجونه یا پیټې رااوباسي۔ واخرجت الارض ۲ نو سورة عادیات کښې ترقي ده (اذا بعثر ما في القبور ۹)۔ (۳) سورة زلزال کښې جزا په نېکو او په بدو ذکر شوه نو سورة عادیات کښې وائي چه تیاری نه کوے اخرت د پاره او دنیا سره مینه کوے۔ (و انه لحب الخیر لشدید) دے۔

خلاصه د سورة عادیات:-

سورت کښې زجر دے او تیقظ دے انسان ته په یو مثال سره چه اوګوره انسانه چه اس د خپل مالک مجازی تابعدار دے په لېږو چنړو باندې۔ چه د هغه په تابعدارۍ کښې تموله ورخ منډه وهي او ته د خپل مالک حقیقي تابعدار نه شوے چه ته ئې پېدا کړے۔ تاله ئې رزق درکړے۔ او سورت کښې درې څیزونه دی مرض، سبب د مرض، علاج د مرض، مرض ئې دے ناشکری۔ (ان الانسان لربه لکنود)۔ سبب ئې دے مینه د مال۔ (انه لحب الخیر لشدید) او علاج ئې دے یادول قبرونه۔ (افلا یعلم اذا بعثر ما في القبور)۔

امتیازات د سورة عادیات:-

(۱) سورت ممتاز دے په درېو شواهداتو باندې د اسونو په اول د سورت کښې۔ (۲) سورت ممتاز دے په منډه وهلو د اسونو په پوزته کولو د ګردو غبار سره۔ (۳) سورت ممتاز دے په دننه کېدلو د اسونو په هغه مینځ د دشمن کښې (فوسطن به جمعا)۔ (٤) سورت ممتاز دے په حملے کولو د اسونو په دشمن باندې په وخت د سبا کښې۔ (٥) سورت ممتاز دے په منډه وهولو د اسونو په اُور ویستلو د خپلو بکرو نه (فالمغیرات)۔ (٦) سورت ممتاز دے پدې چه انسان د خپل رب ناشکره دے۔ (ان الانسان لربه لکنود)۔

••

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة قارعة مكية نزلت بعد قريش نزولاً (۳۰) ترتيباً (۱۰۱)

ربط:-

(۱) ذکر القارعة بعد العاديات كذكر الزلزال بعد البينه۔ (۲) سورة عاديات کښې زجر وو نو سورة قارعه کښې تخويف دے۔

خلاصه د سورة القارعه:-

سورت کښې تخويف اخروی دے پس د زجر نه او اثبات القيامة۔

امتيازات د سورة القارعه:-

(۱) سورت ممتاز دے په هغه پتنګانو خورو ورو کړے شوو باندے (كالفراش المبثوث)۔ (۲) سورت ممتاز دے په (كالعهن المنفوش) باندے۔ (۳) سورت ممتاز دے په (هاوية) باندے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة التكاثر مكية نزلت بعد الكوثر نزولاً (۱٦) ترتيباً (۱۰۲)

ربط:-

(۱) سورة قارعه کښې تخويف په اثبات القيامة ذکر شو نو سورة تکاثر کښې تزهيد من الدنيا او ترغيب الى الاخرة دے۔ (۲) سورة قارعه کښې ذکر کړی وو چه ځانې د دوزخی به هاويه وی نو سورة تکاثر کښې علت د هغه هاويے ذکر کوی۔ (الهكم التكاثر)۔

....

خلاصه د سورة التكاثر:-

سورة التكاثر كښې تزهيد من الدنيا او ترغيب الى الاخرة دے۔

امتيازات د سورة التكاثر:-

(۱) سورت ممتاز دے په غفلت د انسان په ډېر والی د مال سره د دين نه۔ (۲) سورت ممتاز دے په ملاقات کولو د قبرونو سره۔ (حتى زرتم المقابر)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة عصر مكية نزلت بعد انشراح نزولاً (۱۳) ترتيباً (۱۰۳)

ربط:-

(۱) سورة تكاثر كښې تزهيد من الدنيا او ترغيب الى الاخرة ذكر شو نو سورة عصر كښې ترغيب ورکوی اعمال صالحو ته۔ (۲) سورة تكاثر كښې اشتغال بالتفاخر و التكاثر ذكر کړے وو او هر هغه شئ چه انسان غافله کوی د اطاعت د الله نه نو سورة عصر كښې هغه اصول ذكر کوی چه انسان پرې خائسته کیږی او لهو ولعب نه پرې بچ کیږی۔

خلاصه د سورة العصر:-

سورت كښې ترغيب دے اعمال صالحو ته او د انسان د کامیابئ د پاره څلور اصول ذكر کوی (۱) صحيح عقيده (۲) صحيح عمل(۳) بيان د حق کول (٤) صبر

امتيازات د سورة العصر:-

(۱) سورت ممتاز دے په بيان ددے څلورو اصولو چه کوم خلاصه كښې ذكر شول۔ (۲) سورت ممتاز دے په شهادت د وخت د مازیگر چه د انسان زندگی په تاوان كښې ده۔ (والعصر ۱)۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة الهمز مكية نزلت بعد القيامة نزولا (۳۲) ترتيباً ۱۰٤)

ربط:-

(۱) سورة عصر کښې ترغیب وو اعمال صالحو ته نو سورة همزه کښې ترغیب دے د اعمال قبیحو نه۔ (۲) سورة عصر کښې ترغیب اعمال صالحو ته نو سورة همزه کښې تخویف دے د پاره د مال جمع کوونکو۔ (۳) سورة عصر کښې صفات مادحه حسنه ذکر شو نو سورة همزه کښې یره ورکوی چه ځان بچ کړی د هغه ناکاره صفاتو نه۔ (٤) سورة عصر کښې ذکر کړل چه ټول مخلوقات په تباهئ کښې دے مګر په چا چه الله رحم اوکړی نو هغه تاوان او تباهئ کښې نه دے نو سورة همزه کښې بعض صفات د اهل الضلال ذکر کوی۔

خلاصه د سورة الهمزة:-

سورة همزه کښې تزهید من الدنیا او زجر دے د پاره د محبت کوونکو د دنیا سره۔ او سورت کښې نمونه د باطل پرستو ده چه د حق پرستو عیب به لټوی او اشارے به ورته کوی۔

امتیازات د سورة الهمزة:-

(۱) سورت ممتاز دے په همزة باندے مخامخ عیب لګوونکے۔ (۲) سورت ممتاز دے په لمزه باندے پشی شا عیب لګوونکے۔ (۳) سورت ممتاز دے چه باطل پرست به او غورزولے شی په حطمه مقام

کښې۔ (٤) سورت ممتاز دے چه دا اور به حمله کوی په زړه د باطل پرستو باندې (تطلع علی الافئدة)۔ (٥) سورت ممتاز دے چه دا اور به بند کړے شوے وی په هغه ستنو اوږدو کښې۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة الفيل مكية نزلت بعد الكافرون نزولا (۱۹) ترتيباً (۱۰۵)

ربط:۔

(۱) سورة همزه کښې حال دهغه متمر د سرکش ذکر شو چه د مال په وجه سرکشي کوی د الله د احکامو نه نو سورة فیل کښې حال د هغه متمرد ذکرکوی چه هغه دنشے او د مال په وجه هغه مراکز د دین ختموی لکه ابرهه۔ (۲) سورة همز کښې زجر وو په جمع کولو د مال باندې نو سورة فیل کښې تخویف دنیوی ذکر کوی۔ (۳) سورة همزه کښې او صاف د طاغینو متمردینو ذکر شو نو سورة فیل کښې مثال د هغې ذکر کوی۔ چه الله په عذاب باندے اونیول په دنیا کښې۔ (٤) سورة همزه کښې ذکر کړل چه مال فائده نشي ورکولے د الله د عذاب نه نو سورة فیل کښې قائم شو دلیل په واقعه د اصحب الفیل باندې چه مال بچ نه کړل۔ (٥) سورة همزه کښې ذکر کړل چه غیبت به کوی د حق پرستو نو سورة فیل کښې وائی چه مرکز د دین ختموی۔

خلاصه د سورة فیل:۔

سورت کښې بیان د تخویف دنیوی او بله نخښه ذکر کوی د باطل پرستو چه مرکز د دین خرابوی او په هغې مثال پېش کوی د ابرهه۔ چه هغه

....

مرکز د توحید خرابوؤ الله ذلیل او رسوا کړو نو هر هغه څوک چه هغه مرکز د توحید ورانوی نو الله به ئې تباه کړی په شان د ابرهه باندې او الله دِ تباه کړی چه څوک مرکز د دین ورانوی۔

امتیازات د سورة الفیل:۔

(۱) سورت ممتاز دے په اصحب الفیل باندے۔ (۲) سورت ممتاز دے په رالیږلو د طوطه کوکو په ابرهه او د هغه پر لښکر (و ارسل علیهم طیرا ابابیل)۔ (۳) سورت ممتاز دے په کرخولو د دوی په شان د هغه کیا خوړلے شوے باندے۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة قریش مکیة نزلت بعد التین نزولا (۲۹) ترتیباً (۱۰۶)

ربط:۔

(۱) سورة فیل کښے زجر وو هغه متمرد بادشاه ته چه د نشے د وجه نه د شعائر الله بې عزتی کوله نو سورة قریش کښے زجر ورکوی چه د مینے د دنیا د پاره د شعائر الله بې عزتی کوی۔ (۲) په دواړو سورتونو کښے ذکر د نعمت د الله دے په مکے والوں باندے څکه چه فیل کښے دشمن تباه کېدل لکه ابرهه دا نعمت دے او قریش کښے بل نعمت دے چه مال گټل وو په امن باندے۔ (۳) سورة فیل کښے دویمه نخښه ذکر کړے وه د باطل پرستو نو سورة قریش کښے دریمه نخښه ذکر کوی د باطل پرستو۔

خلاصه د سورة قریش:۔

سورة قریش کښې تزهید من الدنیا چه دین او جماعت د دین پرهېزدی او مال د پاره سفرے کوی۔

امتیازات د سورة قریش:-

(۱) سورت ممتاز دے په بیان د قریشو باندے۔ (۲) سورت ممتاز دے په بیان د مینے د مال د قریشو سره ۔ (لایلاف قریش)۔ (۳)* سورت ممتاز دے په بیان د سفر کولو د قریشو په ژمی او په اوړی کښې مال د پاره۔ (رحلة الشاء والصیف)۔ (٤) سورت ممتاز دے په عبادت کولو د رب ددے کور باندے۔ (فلیعبدوا رب هذا البیت)۔ (٥) سورت ممتاز دے په طعام ورکولو قریشو ته په لوږه کښې۔ (الذی اطعمهم من جوع)۔ (٦) سورت ممتاز دے په امن ورکولو کښې د یرے نه قریشو ته۔ (وامنهم من خوف۷)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة ماعون مکیة نزلت بعد التکاثر نزولا (۱۷) ترتیبا (۱۰۷)

ربط:-

(۱) سورة قریش کښې زجر وو هغه محبت کوونکی د دنیا سره خکه چه دا مال کله سبب د سرکشئ گرځی نو سورة ماعون کښې هم زجر دے محبت کوونکی د دنیا سره ځکه چه محبت کونکی د دُنیا سره په یتیم او مظلوم باندے ظلم کوی۔ (۲) سورة قریش کښې ذکر کړل (اطعمهم من جوع) نو سورة ماعون کښې بدی او زم د هغه چا بیانوی چه تیزوالے نهٔ کوی په خوراک د مسکین باندے۔ (۳) سورة قریش کښې

ذکر کړل چه (فلیعبدوا رب هذا البیت) نو سورة ماعون کښې بدی د هغه چا بیانوی چه ناخبره وی د نمونځ نه ځکه (هم عن صلاتهم ساهون ٥) ځکه دا نمونځ هم عبادت دے۔ (٤) سورة قریش کښې نعمتونه د قریشو ذکرکړل خو دا قریش سره د نعمتونو نه انکار کوی په اخرت باندې نو سورة ماعون کښې تهدید او تخویف ورکوی قریشو ته په عذاب۔

خلاصه د سورة ماعون:-

سورت کښې بله نمونه د باطل پرستو ذکر کوی۔ چه په یتیم او مظلوم به ظلم او زیاتے کوی۔ او سورت کښې د مکذب فی الدین بو خو اوصاف ذکر کوی۔

امتیازات د سورة ماعون:-

(۱) سورت ممتاز دے په دیکه ورکولو کښې یتیم ته۔ (یدع الیتیم ۲)۔ (۲) سورت ممتاز دے په هلاکت د هغه نمونځ کوونکو چه هغوی د خپل نمونځ نه غافله دی۔ (فویل للمصلین)۔ (۳) سورت ممتاز دے په هلاکت د هغه نمونځ گزارو لره چه هغوی ریا کوی۔ (الذین هم یراء ون)۔ (٤) سورت ممتاز دے په منع کولو د معمولی شی یا منع کوی بیان د حق نه۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة الکوثر مکية نزلت بعد العاديات نزولا (۱۵) ترتيبا، (۱۰۸)

ربط:-

(۱) سورة ماعون کښې ناکاره صفات ذکر کړې وو د مکذب في الدين نو سورة کوثر کښې د هغې په مقابله کښې اوصاف حسنه ذکر کوی- (۲) مخکښې خلور سورتونو کښې هغه اوصاف د باطل پرستو ذکر شو نو دې خلور سورتونو کښې صفات حسنه د حق پرستو ذکر کوی- (۳) سورة ماعون کښې ذکر کړې وو چه دا مکذب في الدين ريا کوی (الذين هم يراء ون ٦) نو سورة کوثر کښې وائی چه خالص د الله د پاره عمل کوه فصل لربک وانحر ۲- (٤) سورة ماعون کښې اووئيل چه دا د دين دشمن دې نو سورة کوثر کښې د هغه د شکست طريقه ښائی ۳- (٥) سورة ماعون کښې ناکاره صفتونه ذکر کړل نو سورة کوثر کښې د نجات طريقه پېش کوی-

خلاصه د سورة الکوثر:-

الله ذکر کوی چه دوه څيزونه ماله راکړه يعني ما د پاره اوکړه يو عبادت بدنی بل عبادت مالی- نو دوه څيزونه به ددې په عوض کښې زه درکړم- يو به ډېر خير درکړم دويم دشمن به د تباه کړم-

امتيازات د سورة الکوثر:-

(۱) سورت ممتاز دې په بيان د ورکولو د کوثر باندې- (انا اعطينک الکوثر)- (۲) سورت ممتاز دې په عبادت کولو باندې بدنی

خاص الله لره (فصل لربک ۲)۔ (۳) سورت ممتاز دے په عبادت مالی خاص الله لره (وانحر)۔ په دے الفاظو سره ۔ (٤) سورت ممتاز دے په تباهئ د دشمن ستا باندے۔ (ان شانئک هوالابتر ۳)۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة کافرون مکية بعد الماعون نزولا (۱۸) ترتيباً (۱۰۹)

ربط:-

(۱) سورة کوثر کښے اوصاف المومنين ذکر شو نو سورة کافرون کښے بائيکاټ ذکر کوی کفارو سره۔ (۲) سورة کوثر کښے امر وو نبیؐ ته په عبادت نو سورة کافرون کښے وائی چه په هغه طريقه عبادت اوکړه چه الله وئيلے دہ۔ (۳) سورة کوثر کښے اووئيل چه ما تاته خير کثير درکړے دے چه قران دے نو سورة کافرون کښے وائی چه چا ددے قران بيان اوکړو نو هغه ته به اجر ورکړم او چا چه مخالفت اوکړو نو سزا به ورکړم۔ (لکم دينکم ولی دين)۔ (٤) سورة کوثر کښے ذکر د قران اوکړۀ چه دا خير کثير دے نو سورة کافرون کښے بائيکاټ پيښ کوی د منکرينو د قران نه۔

خلاصه د سورة کافرون:-

سورة کافرون کښے بائيکاټ دے د دشمنانو د الله سره۔ المقاطعة عن اعداء الله۔

امتيازات د سورة کافرون:-

(۱) سورت ممتاز دے پدې الفاظو چه (يايهالکفرون ۱)۔ (۲) سورت ممتاز دے چه زه ستاسو په طريقه عبادت نه کوم چه تاسو د نورو

مددګارانو عبادت کوئ۔ (لااعبد ماتعبدون)۔ (۳) سورت ممتاز دے په (لکم دینکم ولی دین)۔ چه ما د پاره زما د بیان بدله ده او تاسو د پاره د هغے د نه منلو سزا ده په دے الفاظو سره۔

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة النصر مدنية نزلت بعد التوبة نزولا (۱۱٤) ترتيباً (۱۱۰)

ربط:-

(۱) سورة کافرون کښے مقاطعه عن اعداء الله ذکر کړه نو سورة نصر کښے وائی چه امداد به د زه اوکړم۔ (۲) سورة کافرون کښے بائیکاټ د کفارو سره ذکر کړو نو سورة نصر کښے وائی چه کله تا بائیکاټ اوکړو نو زه به ستا ملګری زیات کړم۔ (یدخلون فی دین الله افواجا ۲)۔

خلاصه د سورة نصر:-

سورة نصر کښے بشارت دے مؤمنانو ته په نصرت او فتح سره چه تا بائیکاټ اوکړه نو زه به ستا ملګری زیات کړم۔

امتیازات د سورة النصر:-

(۱) سورت ممتاز دے چه دا د ټولو نه اخری نازل شوے دے په اعتبار د نزول سره۔ (۲) سورت ممتاز دے په دننه کېدو په دین د الله کښے ډلے ډلے ۲۔ په دے الفاظو سره۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة لهب مكية نزلت بعد الفاتحه نزولا (٦) ترتيباً (١١١)

ربط:-

(١) سورة نصر کښې وعده د بشارت او د نصرت ذکر شوه نو سورة لهب کښې نمونه د بشارت او د نصرت ذکر کوی۔ (٢) سورة نصر کښې اوچتوالې د دنيا چه نصرت او ثواب في الاخرة دے ذکر شو نو سورة لهب کښې انجام ذکر کوی د عاصی چه تاوانی دے په دنيا کښې او سزا د هغه ذکر کوی په اخرت کښې چه عذاب به ورلوه وی۔

خلاصه د سورة لهب:-

سورة اللهب کښې نمونه د امداد ذکر کوی۔ چه دشمن به دِ تباه کړم لکه څنګه چه مِ ابولهب تباه و برباد کړو۔

امتيازات د سورة اللهب:-

(١) سورت ممتاز دے په تباهئ د ابولهب باندے۔ (٢) سورت ممتاز دے په تباهئ د ښځے د ابولهب باندے۔ (٣) سورت ممتاز دے په سپک کار چه په ښځه به ئې د لرګو کار کولو يعنی په ښځه به ئې ګټه کوله او د پېغمبر خلاف ئې کولو نو دے کښې اشاره ده ذلت ته۔ (٤) سورت ممتاز دے چه ابولهب له مال او اولاد فائده ورنه کړه۔ (ما اغنى عنه ماله وما كسب الخ)۔



بسم الله الرحمن الرحيم

سورة الاخلاص مكية نزلت بعد الناس نزولا (۲۲) ترتيباً (۱۱۲)

ربط:-

(۱) سورة لهب کښې تباهي ذکر کړه چا چه خلاف کړے وو نو سورة اخلاص کښې هغه مسئله ذکر کوی چه چا او نه منله مسئله د توحيد نو هغه تباه دے۔ (۲) سورة لهب کښې ذکر کړل چه مال ورته څۀ فائده ورنه کړه نو سورة اخلاص کښې ذکر کوی چه دا مسئله د توحيد پکښې نه وه نو څکه ئې فائده ور نۀ کړه۔

خلاصه د سورة اخلاص:-

سورة الاخلاص کښې صرف اثبات د توحيد دے يعنې د الله د يووالي مسئله ذکر ده۔

امتيازات د سورة الاخلاص:-

(۱) سورت ممتاز دے په صرف اثبات د توحيد باندے۔ (۲) سورت ممتاز دے په پنځو صفاتو باندے چه درې صفات سلبيه دی او دوه ثبوتي دی۔ (۳) سورت ممتاز دے په لفظ د (الصمد) باندے۔ (٤) سورت ممتاز دے چه الله سره څوک برابر نشته پدے الفاظو سره چه (كفوا احد ٥)۔ (٥) سورت ممتاز دے په دے الفاظو سره چه (لم يلد ولم يولد) دے۔

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة فلق مكية نزلت بعد الفيل نزولا (۲۰) ترتيباً (۱۱۳)

ربط:-

(۱) سورة اخلاص كښې خزانه د توحيد ذكر شوه نو سورة فلق كښې دې خزانې د پاره طريقه بنائي- (۲) سورة اخلاص كښې پنځه صفتونه د الله ذكر كړل نو سورة فلق كښې څلور مستعاذ منه او يو مستعاذ به ذكر كوى- (۳) سورة اخلاص كښې اوونيل چه (الله الصمد ۲) نو سورة فلق كښې وائي چه د هغه رب په پناه كښې خان راوله چه هغه صمد دے- (٤) سورة اخلاص كښې پنځه صفتونه د الله ذكر كړل نو سورة فلق كښې بل صفت ذكر كوى چه هغه رب الفلق دے-

خلاصه د سورة الفلق:-

سورت كښې د توحيد خزانې د پاره د حفاظت طريقه بنائي-

امتيازات د سورة الفلق:-

(۱) سورت ممتاز دے په څلور مستعاذ منه باندې چه د هغې نه پناه غوختے شي چه هغه شرونه دي- (۲) سورت ممتاز دے د پاره د علاج د سحر- (۳) سورت ممتاز دے په بيان د حسد باندې په دے الفاظو سره- (و من شر حاسد اذا حسد)-

بسم الله الرحمن الرحيم

سورة الناس مكية نزلت بعد الفلق نزولا (٢١) ترتيباً (١١٤)

ربط:-

(١) سورة فلق کښې مستعاذ منه څلور ذکر شو نو سورة الناس کښې مستعاذ منه يو ذکر کوی- (٢) سورة فلق کښې مستعاذ به يو ذکر شو نو سورة الناس کښې مستعاذ به درې ذکر کوی ځکه چه دا ډېر قوی دے- (٣) سورة فلق کښې د الله يو صفت ذکر شو چه رب دے نو سورة الناس کښې درې صفات ذکر کوی (رب، ملک، اله)- (٤) سورة الفلق کښې د شيطان انسی نه پناه ذکر شوه نو سورة الناس کښې د شيطان جنی نه پناه ذکر کوی- (٥) سورة الفلق کښې حفاظت د نسخه جان وو نو سورة الناس کښې حفاظت د نسخه ايمان ذکر کوی-

خلاصه د سورة الناس:-

سورت کښې د انسان درې حالته ذکر کوی- (١) ماشوموالې (٢) ځوانی (٣) بوډاوالے-

امتيازات د سورة الناس:-

(١) سورت ممتاز دے په درې ځله مستعاذ به (چه پناه غوختے شی په هغے سره) چه هغه الله دے- (٢) سوورت ممتاز دے په درې حالتونو د انسان باندے- د ماشوموالی، ځوانی او بوډاتوب-

تمت باالخير

....